ګوربت

دویم کال، دریمه او څلورمه ګڼه، ۸۰ _ ۱۳۷۹ (سلواغه ـ غوایی)، ۲۰۰۱م کال فبروري ـ مي، پرله پسې ګڼه نهمه او لسمه

ګور و اور و پېښور درې واړه یو دي

له غوث خیبري سره مرکه

د بتانو هنګامه

مونږ اتلان وو، که خبر جوړوونکي؟

گوربت

The Gorbat
Bimonthly
Cultural Organization

گوربت

د گوربت فرهنګي ټولنې دوه میاشتنۍ خپرونه

دویم کال، دریمه او څلورمه ګڼه، پرله پسې نهمه او لسمه ګڼه، ۸۰ - ۱۳۷۹ل کال سلواغه - غوایی - لړم، ۲۰۰۱ کال جنوري - مي

نیولیک

سرلیک	مخ
- تل به دا افغانستان وي	۱
- د بتانو هنګامه	۳
- په افغانستان کې د بنوالی د ودې په اړه...	۸
- د وریځو تر پلو لاندې یو ستوری	۱۲
- د سردار محمد داود په جمهوري دوره کې...	۱۶
- موږ اتلان وو، که خبر جوړوونکي؟	۱۸
- یو سپین ستونزې او نابلده لامبوزن	۲۱
- توري په تله کې	۲۲
- ګور و اور و پېښور درې واړه یو دي	۲۶
- میخي لیکدود او پښتانه	۲۸
- د افغانستان د ستونزو د اوارېدو لار په...	۳۱
- شکور ګلونه	۴۰
- ګور کیندونکی	۴۲
- په ایرو کې پلونه	۴۵
- د شکرې ناروغي	۴۶
- په لنډیو کې د پښتني ښځو انځور	۴۷
- سیند په کوزه کې	۴۹
- د ګوربت سندریزه ډالۍ	۵۱
- د ګوربت الوتل د هسک په لور	۵۴
- د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې یوه یادونه او...	۵۵
- د کمکیانو ګوربت	۵۶
- د نړۍ په زړه پورې معلومات	۶۴
- کور او پخلنځی	۶۵
- د ژوندلیک لیکنې اصول او لارې	۶۶
- د الهیاتو فلسفه	۶۷
- د هوښیارۍ څلي یې ونړول	۶۸
- مېړني دي چې یادېږي	۷۰
- خوبپوهنه	۷۶
- زه او ته چې هم احوال د زړونو سره نه وایو	۷۸
- مننه او کور ودانی	۸۰

گوربت فرهنګي ټولنه

د امتیاز خاوند : ګوربت فرهنګي ټولنه

گوربت دوه میاشتینۍ خپرونه

مسوول مدیر : حفیظ الله غبنتلي

مرستیال : احمد ویس وردګ

د کونکې ډلې تر څارنې لاندې

پته: پېښور:
Gorbat
G.P.O Box # 388
Peshawar – Pakistan
http://www.gorbat.faithweb.com
E-mail: - gorbatco@yahoo.com

اروپا:
Dr. Amanullah
108 Upper Clapton Road
London E5 9 JY
England

استرالیا:
Shirsha Ghairat
52 Victoria Dirve
Thomas Town 3074
Vic Australia
Tel: (03) 94644890
E-mail: hasankhail@hotmail.com

امریکا:
Latif J. Babi
331 Beach 31 Street
For Rochaway Apt. # (2B)
NY 11691
USA

د ګډون کلنۍ بیه:

افغانستان ۸۰۰۰۰ افغانۍ.
پاکستان : ۲۵۰ روپۍ.
نوراسیایي هېوادونه: ۴۵ امریکایي ډالره.
اروپا : ۵۰ امریکایي ډالره.
امریکا او استرالیا : ۵۵ امریکایي ډالره.
د یوې ګڼې بیه : ۲۵ روپۍ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ



سرليکنه:

PROPERTY OF ACKU

"تل به دا افغانستان وي"

ګوربت د خپل عمر پر دغه پیر د لومړي ځل لپاره له خپلو ګرانو مینه سره والو لړ په ځند مخ کېږي، هغـه هـم د هغو ځو لاملونو له مخې چې دلته يې په ګوته کوو.

اټکل څلور کاله مخکې مو د ګوربت لپاره لومړني کارونه پيل کړل، په دغه لړ کـې کارونـه ډېر ورو ورو روان وو، په روان مطبوعاتي بهير کې د ګوربت ځرک نه لـګېده، خـو د ۱۳۷۸ل کـال د وري پـه لومړۍ ورځ مـو د چـارو د انسجام او تنظيم لپاره يو لړ جدي چارې پيل کړې، له ناظرو لاربښوونکيو او مشرانو سره مو مشورې وکړې، تګلاره مو جوړه کړه او د تګلار په چوکاټ کې مو د لاربښودې جرګه ګې په لاربښوونه خپل کارونه پر مـخ بيـول. د ګوربـت د مشرتابه لپاره مو ځينې نومونه غوره کړل او هغه مو اړونده مينه والو ته د غوراوي لپاره ولېږل، له هغو ځنې يوه هـم نه ځان انتخاب کړ او نه يې هم بل چا ته رايه ورکړه، لاربښودې شورا د ښاغلي ډاکټر امان الله هغو ليکونو له مخـې چې په دغه زماني واټن کې يې تر لاسه کړل، پرېکړه وکړه چې ډاکټر امان الله به د ټولنې د مشرتابه په تـوګه غـوره شي، له همدغه مهاله د ګوربت وزرونه وغوړېدل او تر دغه دمه چې ګوربت فرهنګي ټولنې څه کارونه کړي او يا يې په راتلونکي کې کوي د ګوربت د مشر ډاکټر امان الله هڅې او منډې د ستايلو وړ وې او دي، ځکه افغان مطبوعاتو او پښتو ادب ته يې غوره چوپړ وکړ او لا په دغه خدمت کې لګيا دی.

ګوربتوال هېواد او ملت ته له هر ډول تبعيض پرته په پراخ تنډي او ښه نيت کار کوي، د خير ښېګڼې کارونه پـر مخ بيايي او په دغه لړ کې چې ګوربت فرهنګي ټولنې څومره ژمنې کړې، د هغو د بيا تازه کولو يادون کوو.

خو دا چې په راتلونکي کې ګوربت فرهنګي ټولنه له ستونزو سره مخ نه شي او ګوربـت لـه ځنـډ او ځنډ پرتـه وزرونه وغوړوي او د خير ښېګڼې کارونه منظم او منسجم شي، نو د يوې مشورتي جرګه ګې جوړولو تابيـا مـو وکـړه، چې نومونه يې په دې ډول په ګوته کوو:

ښاغلی ډاکټرعبدالصمد حامد، ښاغلی ډاکټر محمد حسن کاکړ، ښاغلی محمد آصف وردګ ښاغلی ډاکټر امـان الله، ښاغلی استاد سعدالدين شپون، ښاغلی استاد زرجان بها، ښاغلی استاد اسد بها، ښاغلی ډاکټر محمـد اعظم سيستاني، ښاغلی استاد عبدالجليل وجدي، ښاغلی ډاکټر حبيب الله تږی، ښاغلی استاد حبيب الله رفيع، ښاغلی شهرت ننګيـال، ښاغلی استاد ډاکټر محمد اکبر، ښاغلی محمد ګل وطنپال دياني او ښاغلی ډاکټر جاويد وردګ.

په ګوربت فرهنګي ټولنه کې د دغه بدلون راوستلو لومړنی موخه دا ده چې په بهر کې د مېشتو پوهانو اړیکي له هېوادوالو سره ټینګ شي او مېشت هېوادوال د دوی له تجربـو او پوهې ګټه واخلـي، په ټولیزه توګه بهرمېشـت هېوادوال د افغاني فرهنګ په غوړېدا کې برخه واخلي، د ګوربت درون مالي بار د یوه کس لـه اوږو لـرې شـي، نـو ګوندې په دې توګه وکړای شو د چارو په لا ښه نظم او ښه انسجام کې بریالي شو.

دویم لامل:

د بتانو په پلمه د افغانستان د تاریخي آثارو او لرغوني فرهنګ د له منځه وړل یو داسې هېښوونکی کار و چې موږ ته هم د نورو هېوادوالو په څېر ښاییدل چې تر ټولو لومړی د دغو آثارو د خوندي ساتلو لپاره هڅې او منډې وکړو، چې دا هم د تش لاسی له امله له تاسې سره د مخامخېدو د ځنډ یو بل لامل شو.

څرګنده ده چې د تاریخ په اوږدو کې زموږ د ګران هېواد افغانستان د تاریخ د مسخه کولو او داغي کولـو لپـاره وخت پر وخت کورنیو او باندینیو دښمنانو خپلې خولې توپې کړي، خو له سکندر، چنګېز، انګرېز نه تر روسانو پورې هر یوه ته لوی خدایﷻ همدلته د عبرت درس ورکړی او ورته یې ښودلي دي چې د سر له پاسه سر دی.

له باندینیو دښمنانو سربېره ځینو کورنیو وګړیو په شعوري او ناشعوري ډول د پردیو په اشاره د خپـل تـاریخ پـه مسخه کولو او داغي کولو کې هم بې خوبی ګاللې او لاسونه یې په کې ټناکي کړي دي.

د ساري په توګه همدا اوسمهال ځینې داسې ډېرې خېرونې شته چې د افغانانو تر منځ د نفاق او درځ جوړولـو هڅې کوي، دوی د افغان پر ځای افغانستانی لیکي، په دغه توګه ځینې په یـو ډول او ځینـې پـه بـل ډول زمـوږ د تاریخ د مسخه کولو هڅه کوي او د افغانستان دښمنان د کورنیو ګوداګیـانو پـه وسیله د ګران افغانستان د تباهـی پروسه پر مخ بیایي.

د تاریخي آثارو او مجسمو په ورانولو نه یوازې دا چې تاریخ له منځه ځي، بلکې د دغسې چارو په تر سـره کولـو په نړۍ کې خورو ورو مسلمانانو ته ستونزې را زېږېږي، ښایي په یاد ولرو چې د ټولې نړۍ مسلمانان د یوه وجود بـنه لري او لکه په وجود کې چې یوه ګوته په درد شي نو ټول بدن ورسره کړېږي؛ ځکه نو له هغه څه نه چې فتنه، شـر او نورو مسلمانانو ته خطر ترې پیداکوي باید پرهېز وشي.

د تاریخي آثارو او مجسمو په ورانو نه یوازې دا چې زموږ له هېوادوالو څخه د تاریخ هغه پاڼې ورکې کېږي چې د خپل ځان او دین په اړه په کې څه وګوري او ولولي، بلکې د عبرت او درس هغه آثار هم له منځه ځي چې ښایي له دغسې آثارو څخه تر لاسه کړای شي.

زموږ ګران هېواد افغانستان له ابده له داسې سترو فاجعو سره مخ شوی، بدبینان ورته تل په کمـین کـې ناسـت دي، خو لوی خدایﷻ د همدوی لپاره دغه ځمکه او اتل ولـس د ازمېینـت ډګر ګرځولی، نـو ځکـه لـه دې ټولـو ناخوالو سره بیا هم هیله لرو:

څو چې دا ځمکه او اسمان وي
تـــــل به دا افغانستان وي.

په مینه او ادب
اداره

د بتانو هنګامه

استاد حبیب الله رفیع

بت تراش ګوري مهذب دور کښې
د خپل شهکار، د خپل هنر کودړي
"سلیم بنګښ"

په افغانستان کې د طالبانو له خواد تاریخي آثارو او بودایي بتانو او مجسمو ورانولو یوه نړیواله هنګامه راولاړه کړه، د عملونو او عکس العملونو درنې څپې یې راپورته کړې او راز- راز تبصرې یې



وزیږولې.

مور دلته غواړو چې په ډېر لنډیز په دې موضوعاتو وغږېږو: بودا څوک و؟ بودایي دین څه ارزښتونه درلودل؟ بودایي دین افغانستان ته څنګه راغی؟ د ګندهارا هنر څه ځانګړنې لري؟ ددې مجسمو تاریخي ارزښتونه، طالبانو دا بتان ولې مات کړل؟ انګېزه یې دیني وه که سیاسي؟ آیا دوی د دې بتانو د ماتولو حق درلود؟ زموږ ملي شتمنیو ته په تېرو ۲۳ کلونو کې اوښتي زیانونه جبیره کېدای شي؟ نړۍ د یوه اتل ملت د منځه تللو ننداره کوي!

بودا څوک و؟ او دده دین څه ارزښتونه درلودل؟

د حضرت عیسی علی نبینا وعلیه السلام تر زیږېدو څه د پاسه پنځه سوه کاله وړاندې (له نن نه دوه نیم زره کاله پخوا) د هند په شمال کې د همالیا د دنګو غرونو په لمنو کې د بنارس له ښارنه د سل میلو واټن د یوه محلي واکمن په شاهي ماڼۍ کې چې د کورنۍ نوم یې ګوتمه و یو ماشوم وزیږېد او د سید ـنه نوم یې پرې کېښېښود.

پاچا هیله درلوده چې یوازینی زوی یې په راتلونکي کې "تولواکمن" (امپراتور) شي او پر ټول هند واکمني ولري. خو نجومیانو دده د زیږېدو پر وخت پاچا ته ویلي وو چې زوی به یې په ځوانۍ کې له کوره وتښتي خو که ښه پالنه او څارنه یې وشي نو بیا کېدای شي چې د هند تولواکمن ترې جوړ شي.

پاچا امر کړی و چې زوی یې داسې وپالل شي او داسې وساتل شي چې غم، بدبختي او فلاکت په سترګو ونه ویني، ددې کار لپاره یې ښکلي، غښتلي او تندرست ځوانان، نجونې او غلامان او خدمتګاران ترې راتاو کړي وو او له دوی سره به یې ژوند کاوه، کله به له کوره بهر ووت نو بیا د پاچا امر دا و چې د لارې له سر نه یې زاړه، رنځور او هسکیرلي خلك لرې کړای شي او د بدمرغۍ منظرې ونه ویني. خو ځوان شهزاده له هماغه لومړي سره روڼ فکر او حساسه اروا درلوده هرڅه ته به یې په ځیر او غور کتل او د هرڅه په باب به یې پوښتنې کولې او معلومات به یې ترلاسه کول او په دې سبب دی له ناروغۍ، بدمرغۍ او مرګ څخه بې خبره ساتل کېده.

خو خدایي اراده بل شان وه، هغه غوښتل چې د خلکو لارښود او رهنما شي او همدا و چې له پرله پسې پېښو او صحنو سره یې مخامخ او د خپل تاکلي تقدیر په لاره یې روان کړ.

ځوان شهزاده چې یوه ورځ له خپلو ځوانو ملګرو سره راوتلی و، د لارې پر غاړه یې یو کمزوری بوډا ولید، له خپل ملګه نه یې وپوښتل: دا څه دي؟ هغه ورته وویل: دا یو بوډا دی چې د ژوند وروستۍ شپې ورځې سرته رسوي او له دې سره دی یوه شو چې د ځوانۍ پای زړبودي ده. بله ورځ یې یو ناروغ او ناتوان سړی ولید چې دردونو ډېر بدحالت ته رسولی و او پوه شو چې انسان له څومره مصیبتونو او غمونو سره مخامخ کېدای شي. په درېیمه ورځ یې مړی ولید چې قبر ته یې روان کړی و او ورته څرګنده شوه چې د ژوند پای مرګ دی. دې درېو ننداړو ځوان شهزاده ډېر مضطرب او ناآرامه کړ او وېره ورته پیدا شوه چې زه به هم ناروغ کېږم، بوډا کېږم او مرم به او په دې توګه د ناز او

د یوه سواره مجسمه چې د یونان رومي دول په لومړۍ میلادي پېړۍ کې جوړه شوې وه د موندلو ځای یې بکرام و، په کابل موزیم کې خوندي وه، اوس معلومه نه ده چې ماته شوه او که لوټ؟

نعمت د بې خبرۍ او د عیش و عشرت ژوند پرې تریخ شو او ډاډ او اطمینان یې له لاسه ورکړ خو په څلورمه صحنه کې یې یو مرتاض راهب ولید چې زعفراني کمیس یې اغوستی او ډېر ډاډه او خاطر جمع تر یوه

ونه لاندې ناسته دی، شهزاده يې د اوسپنکښې



د باميانو کوچنی بت تر ړنګولو وروسته

(مقناطيس) غوندې خان ته ورجذب کړ، ورغی، خبرې يې ورسره وکړې او هغه د ضمير د ډاډ او آرامۍ ترلاسه کولو لپاره لارښوونه ورته وکړه چې انسان بايد له ناروغۍ، زړبودۍ او مړينې څخه ونه وېرېږي او د معنوي ډاډ په غېږه کې ژوند وکړي. شهزاده له همدې ورځې نه اراده وکړه چې شاهي ماڼۍ پرېږدي او د حقيقي نيکمرغۍ لپاره د بې کورۍ او دربدرۍ په لاره د زړه ډاډ او اطمينان ته ځان ورسوي.

شهزاده چې په ناز او نعمت کې لوی شوی و، ښکلې ځواني، توري زلفې او وريښمينې جامې يې درلودې په بل حال شو. پلار يې د حال بدلولو لپاره د ښکلو نڅاګرو نجونو يوه لويه ډله ورته راوغوښته او د طرب مجلس يې ورته جوړ کړ، نجونې دومره ورته وګډېدې چې بې هوښه او په خوب ويدې شوې خو دی په يوه خاص حالت کې ناست و، له ځايه پاڅېد، تر ټولو ويدو نجونو ورتېر شو، د خپلې مېرمنې د خونې ور يې پرانيست پر خپله ښځه او ماشوم يې د وروستي ځل لپاره سترګې خوږې کړې او بې له دې چې څه ووايي د شپې په کراره شومه کې له کوره راووت او پر خپل سپين اس سوور او له خپل يوه نوکر سره د بېديا په لور روان شو، هلته يې خپلې ښکلې زلفې وتراشلې، زوړ کميس يې واغوست، د اس ملونې يې نوکر ته ورکړه او د بېرته تلو امر يې ورته وکړ، دی يکې يوازې د ځنګلونو په زړه کې ننووت د دروېزګرو له يوې ډلې سره چې له کورونو نه به يې ډوډۍ راټولوله ملګری شو، د ليرې ليرې ځايونو دورې يې وکړې او پوره شپږ کاله د واقعي نجات او رښتينې نېکمرغۍ په لټه کې سرګردان او هر لورته روان و.

ګوتمه لومړی له دوو تنو برهمنانو سره چې د يوه غره په غار کې يې ژوند کاوه ملګری شو چې معنوي درسونه تري زده کړي، د برهمني دين فکري زده کړې يې ترې وکړې او د جوګيانو تمرينونه يې زده کړل او دوی د خپل سلوک اته ګوني اصول ورورښودل، خو دې زده کړو او تمرينونو د ده ناارامه روح آرام او قانع نه کړای شو او چې پوه شو برهمنيزم دی د نېکبختی پړاو ته نه شي رسولی نو د يوه واړه کلي ترځنګ په يوه واړه ځنګل کې چې د رڼو اوبو ويالې په کې روانه وه تر ونو لاندې کښېناست او پوره پنځه کاله يې درانه روحي تمرينونه وکړل تر دې چې وجود يې تش هډوکي پاتې شو ځکه ده عقيده درلوده څومره چې جسم تر فشار لاندې راځي همدومره اروا او فکر او نظر پياوړی کېږي، لوږو او مشقتونو ډېر کمزوری او ډنګر کړ خو بيا هم هغې رڼا ته چې غوښته يې ونه رسېد.

بېرته يې د خپل کمزوري شوي بدن د پياوړي کولو لپاره د دروېزې کاسه واخيسته او هغه برهمنان چې ورسره ملګري شوي وو، بد يې پرې ووېل او دی يې يوازې پرېښود. ده د شپږو کلونو په اوږدو کې د روحانيت هغه دواړې لارې چې هغه وخت په هند کې وې: يوه يې د فکر او نظر او بله يې د زهد او رياضت وه وازمويلې خو بيا هم هغه څه ته چې غوښتل يې ونه رسېد له دې سره هم نا امېده نه شو او خپل لټون ته يې دوام ورکړ، البته دا وخت د ده د تفکر قوه ډېره پياوړې شوې او د فکر ژوروته رسېدلی و.

ګوتمه د خپل لټون په لړ کې دا وخت د بوداګيا په نامه يوې سيمې ته ورسېد، يوې ګوښې ته ننووت او تر يوه ونه لاندې کښېناست هلته مراقبه شو او د تفکر نړۍ ته يې پناه يوړه او پرېکړه يې وکړه چې د لمر څرک او الهام تر وخته به همدلته کښېني او همدلته وُ چې دا شراق ورونه ورته پرانستل شول او د انساني ارزښتونو لارې چارې ورته روښانه شوې، ده ته دلته انسان په نوې بڼه ښکاره شو او د انسان د پيدايښت هدفونه ورته روښانه شول او همدا وو چې دې دين ته يې د علم ونه يا بودهي نوم ورکړ او د ده نوم بودا شو يعني د علم په رڼا روښانه شو. او بيا يې اراده وکړه چې له ګوښهناستي نه د خلکو منځ ته ورشي او هغوی ټول د نور او معرفت لورته راوبولي، دی تر هر څه وړاندې د بنارس ښارته نژدې د غزالانو باغ ته چې له ده نه مرور شوي برهمنان په کې وو راستون شو هغوی پټېيلي وه چې هر کلی به نه ورکوي خو کله چې ورته راورسېد داسې معنوي اغېز يې ترلاسه کړی وُ چې برهمنان يې بې اختياره درناوی کولو ته پاڅېدل او همدلته ده خپله بلنه او دعوت پيل کړ او برهمنانو ته يې ووېل: په دې نړۍ کې هر څه دوه اړخونه او دوه لوري لري او يو سالک بايد له دواړو اړخونو نه ځان وژغوري مثلاً له عيش، نوش او شهوت نه ډک ژوند

هم ناوړه او د غندنې وړ دی او د کړاوونو، رنځ او رياضت ژوند هم ناوړه او بد دی نو ځکه ښايي يو سالک او حقپال انسان له دې دواړو افراط او تفريط نه ځان وژغوري او منځنی ټکی چې حقيقي عدالت دی ترلاسه کړي چې په دې ټکي کې د معرفت رڼا ښکاري او د پوهې، نېکمرغۍ، هوسايي او اشراق غمې په کې ځلېږي او نيروانه (خدايي ځواک) ته سړی رسېږي. دې برهمنانو ايمان پرې راووړ او بيا يې د بودايي دين بنسټونه کښېښودل او د هند په شمال کې يې په پراخه پيمانه خلک خپلې لارې ته راوبلل. د بېلابېلو طبقو

خصوصاً د اشرافو له ډلې نه کسان پرې راټول شول چې تر شپېتو تنو واوښتل، د ده په دعوت کې د هند طبقاتي ژوند چې یو ناوړه او غیر انساني وېش ؤ لغو کېده او پیروان یې د "کاست" له سیستم نه راوتل. ډېر خلك پرې راټول شول تر دې چې دین یې تر لیرې لیرې خور شو چې بیایې خپل ځینې راهبان د خلکو د راښللو او د دیرونو د جوړولو لپاره لیرې لیرې ځایونو ته واستول. په وچ موسم کې به دی او شاګردان یې په دعوت او تبلیغ پسې تلل او په باراني موسم کې به په خپلو دیرونو کې راټولېدل، مراقبه کېدل به، زده کړې به یې کولې او د یو بل خدمت به یې کاوه. دوی اوسپنیز قواعد او آداب درلودل، دوی به ژړې جامې اغوستې د سر او ږیرې وېښته به یې خرېیل او د ګدایی کاسه به یې ګرځوله، په ټاکلي وخت کې به آرامېدل او په مراقبه، تفکر او د تصدیق د کلمې په ویلو به مشغول وو او هر بودایي به هره ورځ تکراروله: "زه بودا ته ځان رسوم او زه پر حق شریعت ایمان راوړم او د دیر په غېږه کې هوسا کېږم!"

بودا خپل دین پر اتو بنسټونو: سپېڅلې عقیده، پاکه اراده، سپېڅلې خبره، سپېڅلي کړه، سپېڅلي خواړه، سپېڅلې هڅه، سپېڅلې پاملرنه او سپېڅلي ځار ودرولی و او ویل یې هر څوك چې پر دې اتو اصولو ولاړ وي له قیدونو نه ووزي او خپل فکر یوه ټاکلي ټکي ته چې د خواهشونو له لومې نه بېخي د خلاصېدلو مکان دی متمرکز کړي نو بیا څلور نور مقامونه هم شاته کوي چې هغه:

۱- د رښتیا او حقیقت د پېژندنې په لاره کې بحث.

۲- د حقایقو د پوهېدنې په برخه کې فکر کول.

۳- ژور تفکر او سکون.

۴- بشپړ توازن او سکون چې "نروانه" یعنې فنا ده.

ده خپلو پیروانو ته لازمه ګڼله چې دا لاندې لس اخلاقي قوانین هم رعایت کړي:

۱- د ځناورو له ببڅایه کولو څخه ډډه کول.

۲- د هغه مال له لګولو څخه چې ورکړی شوی نه وي ځان ساتل.

۳- له بدلمنۍ او بې عصمتۍ نه پرهېز کول.

۴- له دروه او فرېب نه ځان ژغورل.

۵- له مستۍ او شراب څښنې څخه څنګ کول.

۶- له ډېرو خوړو او نس پرسۍ (شکم پروري) نه - په ځانګړې ډول تر غرمې وروسته - ډډه کول.

۷- د نڅا، مستو سندرو او لهوولهب له ننداري نه سترګې پټول.

۸- له سینګار، پسوللو او عطرونو څخه ځان ساتل.

۹- په پستو بسترو کې نه ویدېدل.

۱۰- د پیسو او مال له منلو څخه پرهېز کول.

او که چا به له پورتنیو ګناهونو څخه کومه ګناه وکړه مکلف ؤ چې د بودایي راهبانو په دوه میاشتنۍ غونډه کې په خپله ګناه اعتراف او پښېماني وکړي.

بودا لومړی اجازه نه ورکوله چې ښځمنې یې د ګروهمنو او پیروانو ډلې ته راشي خو د ښځو د پرله پسې غوښتنو له مخې یې اجازه ورکړه چې ښځو ته دې ځانګړي بودایي دېپرونه جوړ او عبادت دې پکې وکړي. څکه دی وېرېده که ښځې د ده له پیروانو سره ګډې واوسي کېدای شي دین ته یې زیان واوړي.

بودا پوره پنځه څلوېښت کاله په وعظ، ښوونه، روژنه او د دیرونو په پالنه تېر کړل او بیا د بنارس شمال ختیځ ته د یوه سفر په ترڅ کې تر لنډې ناروغۍ وروسته مړ شو.

په دې ترتیب بودا خپل د انسانیت په غوښتنو او روحي سپېڅلتیا ولاړ دین داسې وخت نړۍ ته وړاندې کړ چې د خدای استازي عیسی علی نبینا وعلیه السلام لا نړۍ ته نه و راغلی او د اسلام د سپېڅلي دین راتلو ته لا یوه زریزه پاتې وه. همدا د بودا انساني او هغه غوښتنې وې چې په زیاتو الهي ادیانو کې هم ستایل شوې او امرل شوې دي نو له دې کبله ځینې محققین بودا هم د پیغمبرانو په ډله کې شمېري او شخصیت ته یې درناوی کوي.

د بودا تر مړینې وروسته ورو، ورو د ده په دین کې بدلونونه راغلل خصوصاً په عوامو کې بودا د خدای د وجود ښکارندوی او څرګندوی وګڼل شو او ده ته یې عبادت پیل کړ خو خواصو یوازې د ده تعلیمات او فلسفي افکار تعقیب او د خپلې ژوند لارې مشال کړل.

د بودا دین په ټول هند او څېرمه هېوادونو حتی د آسیا په تقریباً ټوله قاره کې خپور شو، خلکو یې د زړه په مینه لاړښوونې ومنلې او ده ته پردین وګروهېدل. په دې توګه هغه بودا چې پلار یې غوښتل د هند د خلکو پر سرونو ستر واکمن شي په بله بڼه پر هند او له هند نه بهر سیمو کې د اوسېدونکو خلکو پر زړونو ستړواکمن شو او د مادي ستړواکۍ پرځای یې د معنوي ستړواکۍ بنه غوره او د څو کلونو پرځای یې د پېړیو پېړیو د واکمنۍ خواك تر لاسه کړ.

د بودا دین افغانستان ته څنګه راغی؟

د لرغوني افغانستان اوسېدونکو له لرغونو



بودا د تدریس پر مهال. دیوالي نقاشي - د ککرک له یوه عبادت ځای څخه لاس ته راغلې وه، ۳ میلادي پېړۍ یې ښودله، په بامیان کې موندل شوې وه، په کابل موزیم کې خوندي وه، چې اوس یې درک نه شته

زمانو څخه دین او دیني ګروهې درلودې او پر ویدي او برهمني عقیدو سربېره یې د زردشتي دین "د ښه ویلو، ښه منلو او ښه کولو" د انساني اصولو په غېږه کې ژوند کړی و او د لوی خدای په وحدانیت او د آخرت په ورځ یې پخه عقیده او ګروهه درلوده.

تر میلاد پنځه سوه کاله وړاندې پر افغانستان باندې پارسي هخامنشیانو د تیري په کولو سره د افغانستان سوله ییزه فضا ګډه وډه کړه او له همدې لارې یې د هند پراخې سیمې لاندې کړې او د داریوش په دوره کې هخامنشي ستړواکي له یونانه تر هند پورې غوړېدلې وه خو تر میلاد څه باندې درې سوه کاله وړاندې له یونان نه د سکندر په راولاړېدلو سره هخامنشي ستړواکۍ د یوناني ستړواکۍ بڼه غوره او هخامنشیانو سقوط وکړ. سکندر له درنو لښکرو سره د لرغوني افغانستان سیمو ته راورسېد، څلور کاله یې په افغانستان کې وینې توې کړې او د افغانستان تر نیولو وروسته د هند نیمې وچې ته ورواوښت او تر میلاد وړاندې په ۳۲۳ کال کې د سکندر تر مړینې وروسته یونانیانو د سکندر ستړواکي په ورو- ورو برخو ووېشله چې له دې سره کمزوري شول او ډېر ژر یې سقوط وکړ او د هند نیمه وچه یې له لاسه ووتله چې له دې پېښو سره متصل په هند کې د "موریا" کورنۍ لویه واکمنې جوړه شوه چې د افغانستان

شرقي سيمو ته هم راورسېدل او په دې کورنۍ کې د اشوکاله پاچا کېدلو سره د افغانستان ګڼې سيمې هم د موريا تر واکمنۍ لاندې راغلې. اشوکا لومړی ډېر خونړی پاچا و چې د خپلو فتوحاتو په لړ کې يې په بنګال کې سل زره کسان ووژل او يو سل او پنځوس

د باميان ستره مجسمه چې د نړۍ له لويو عجايبو څخه وه، چې د طالبانو تر لومړي بريد وروسته دغه تاريخي نښه له خاورو سره برابره شوه

زره يې بنديان کړل او تر سل زرو زيات کسان له لوږې مړه شول، دې پېښو يې ضمير ته ټکان ورکړ او ناڅاپه يې د بودا د سولې او سلام دين ته تمايل پيدا شو، پر دې دين وګروهېد او له وينې تويولو نه يې لاس واخيست نور نو دده فتوحات د وسلو پرځای د بودايي مبلغينو په وسيله پرمخ تلل او خلك يې دې انساني دين او فلسفې ته رابلل. د افغانستان اوسېدونکي چې د پرديو يرغلونو او بې رحمانه وژنو ډېر زيات خوړولي او د خپل مقاومت د روحيې له مخې وژلي او زيانولي وو له مرګونو او جنګونو نه د خلاصون په خاطر دې دين ته متمايل شول او سره له دې چې د موريا د کورنۍ سياسي سلطه ډېره اوږده نه وه خو دوی دا دين په اخلاص ومانه او مخلصانه خدمتونه يې ورته وکړل او زرکاله په دې هېواد کې يو مسلط دين و چې له ټکسلا تر کندهاره او بيا تر بلخه خلك پرې ګروهېدلي وو.

بوداياڼو د خپل دين د تعميل او عبادت لپاره په افغانستان کې د ديرونو، ستوپو او د بودا، بوديستوا او نورو د مجسمو په جوړولو لاس پورې کړ، چې دې مذهبي فعاليتونو د ګندهارا هنر وزېږاوه او افغاني هنرمندانو د بودايي دين نخښې، علامې او مجسمې په خاص مهارت جوړې کړې او په يوه خاص سبك او ذوق يې بودايي آثار او مجسمې رامنځ ته کړل چې له هندي هنر سره يې ژور توپيرونه درلودل او په دې توګه بودايي دين په افغانستان کې د ګندهارا د نوي هنري مکتب د رامنځ ته کېدلو باعث شو او له ټکسلا تر کندهاره او بيا له کابل تر بلخه په زرګونو راز-راز بودايي آثار او مجسمې د دې هېواد د اوسېدونکو په لاس جوړ شول.

په افغانستان کې د اشوکا په ژوند تر ميلاد دوه نيم سوه کاله وړاندې د بودايي آثارو او مجسمو د جوړېدلو کار پيل شو او افغانستان ته يې د اسلام د سپېڅلي دين د راتلو تر وخته دوام وکړ. او بودايي دين د هېواد په غرنيو سيمو کې هېواد ته د اسلام تر راتلو وروسته هم تر دوو درېو سوو کلونو پورې پاتې وو.

د بودايي دين د خورېدو په توله حوزه کې په زرګونو بودايي ستوپې، ديرونه او مجسمې جوړ شول چې لوی-لوی مرکزونه يې په صوابۍ، مردان، هډه، کاپيسا، بګرام، غزني، کندهار او نورو ځايونو کې وو او خصوصاً د بودا دوې لويې مجسمې چې په ټوله نړۍ کې ډېرې لويې مجسمې وې په باميانو کې جوړې شوې وې چې د نړۍ له ګوټ-ګوټ نه به بودايي زايران ورته راتلل او د هغې په خوا کې به يې خپل مذهبي مراسم ترسره کول. دا مجسمې چې يوه يې ۵۳ او بله يې ۳۵ متره وې د نړۍ له عجايباتو څخه شمېرلې کېدې، ۳۵ متريزه مجسمه د دريمې ميلادي پېړۍ په اوږدو کې يعني له نن نه اتلس سوه کاله مخکې او ۵۳ متري مجسمه يې بيا په څلورمه تر پنځمې پېړۍ پورې جوړه شوې وه.

افغانستان ته د اسلام د سپېڅلي دين له راتلو سره دې مجسمو او نورو ټولو بودايي آثارو عبادي او مذهبي ارزښت، بنه او سپېڅلتيا له لاسه ورکړه، عبادت نه ورته کېده او د جهالت د دورې د عبرت د آثارو په توګه ولاړې وې او د بودايي زايرانو پرځای نړيوال سياحان ورته راتلل او دا مجسمې او تاريخي-هنري آثار به يې په غور او دقت کتل او تر دې وروسته هم هېڅوخت ددې وېره نه وه چې د افغانستان هغه مومن ملت چې دې هېواد ته يې د اسلام تر راتلو وروسته د اسلام د خپرونې او د اسلام د ساتنې لپاره تقريباً په هره پېړۍ کې قرباني ورکړې او په مليارډونو سرونه يې له اسلام نه قربان کړي، بېرته د دې مجسمو عبادت وکړي، نو ځکه دا بتان نه بلکې بې ضرره مجسمې وې چې د خلکو د عبرت لپاره ولاړې وې او د دې ترڅنګ يې د تاريخ او هنر له اړخه ډېر زيات ارزښت درلود، دومره زيات ارزښت چې په نړۍ کې يې سيال او ساری نه و.

همدا راز د ګندهارا هنر هم تشه مذهبي او ديني بنه نه درلوده بلکې د يوه داسې ملت د استعدادونو ښکارندوی دی چې زرګونه کلونه وړاندې يې ځپانده هنر دنيا ته وړاندې کړ او هغې دنيا ته يې چې ډېرو اوسېدونکو يې وابنه او انسانان خوړل او د وحشت په غېږه کې يې ژوند کاوه د انسانيت او انساني ارزښتونو درسونه ورکول.

په هرحال د دومره اوږده داستان له ليکلو نه زموږ مطلب دا و چې وښيو بودايي دين په خپل وخت کې يو انساني دين او د دې دين نه رازېږېدلي هنري آثار او مجسمې زموږ تاريخي، کلتوري او هنري شتمني وه چې په افغانستان کې يې د اسلام د روښانه دين تر راتلو وروسته هېڅ راز ضرر او زموږ د مسلمان ملت ديانت ته خطر نه درلود او زموږ دا ملي شتمني د ټول ملت ميراث و او حکومتونه مکلف وو چې دا وساتي او خوندي يې کړي لکه چې پخوانيو حکومتونو څه ناڅه لاس هم پرې وهلی او ترميمونه يې په کې کړي وو خو د ماتولو او له منځه وړلو حق يې يوه حکومت هم نه درلود ځکه حکومتونه ډېر عارضي دي او ملتونه دايمي نو د ملت شتمني يو امانت دی چې يو حکومت يې بايد بل حکومت ته سلامته پرېږدي اما متاسفانه موږ ته په دې تېرو درويشتو کلونو کې د پرديو په لاسونو جوړو شويو حکومتونو هېڅ هم راپرېنښودل، د تره کي، امين، ببرك او نجيب کمونستي حکومتونو ځان ته حق ورکاوه چې د کمونيزم د پلي کولو لپاره زموږ ديني مقدسات په بې رحمۍ له منځه يوسي او ځان د افغانستان واکدار او مالك وښيي، دوی پر قدرت باندې د قابض کېدو له لومړۍ ورځې نه د راډيو افغانستان ګڼ ديني پروګرامونه له نشرياتو نه وغورځول، د ښوونځيو په نصاب کې يې دينيات لږ او ډېر لږ کړل، جوماتونه يې ونړول، اسلامي کتابونه يې وسوځول، د کورونو او عقيدو تفتيش يې وکړ او په لسهاو زره مسلمان او هېوادپال افغانان يې په زندانونو او پوليګونونو کې شهيدان کړل او د قانوني اکټونو په کولو سره يې ځان ته حق ورکړ چې د هېواد د اسلامي او ملي کلتور ديوالونه ونړوي، په دوی پسې هغه مجاهدين چې ديارلس کاله د کمونيزم او الحاد په مقابل کې جنګېدلي وو او دعوه يې کوله چې في سبيل الله جهاد کوي د ځوکۍ او قدرت لپاره له يوې

خوا له کمونستانو سره مله او له بلې خوا د يوه او بل هېواد له قوماندو، ژمنو او وعدو سره هېواد ته ننوتل او د فابريکو، موسسو، دفترونو، موزيمونو او کتابخانو په لوټولو او حتی سوځولو سره يې د

د يوه وېرور نيمه تنه، د يونان د هنري آثارو يوه نښه وه، چې په هډه کې موندل شوې وه، په کابل موزيم کې خوندي وه.

افغانستان د ملي اسلامي او کمونستي شتمنيو ډېر څه له منځه يوړل او د هېواد د ملي او اسلامي کلتور يوه بله برخه ديوالونه يې رانسکور کړل، په دوی پسې دريمه ډله د طالبانو د اسلامي تحريك وُ چې ظاهراً يې اکټونه ملي او اسلامي وو خو د افغانستان تر اسلام وړاندې کلتوري آثارو په بې رحمانه له منځه وړلو سره يې هغه ټولې خبرې ثابتې کړې چې دوی هم د بل په خوله کار کوي او لکه څنګه چې د دوی اسلافو د افغانستان د ملي کلتور بېلابېل ديوالونه رانړولي وو، دوی يې پاتې ديوالونه راونړول او په دې کار سره يې نه يوازې دا چې هېواد ته ملي زيان واړاوه بلکې د دې بې ضرره بتانو په ماتولو سره يې اسلام ته هم ژور زيان واړاوه او دې کار وښوده چې د بتانو ماتول د "اسلامي سياست" له مخې نه بلکې د "سياسي اسلام" په حکم شوي دي. څکه ددې تاريخي آثارو د ړنګولو په باب د دوی اسلامي توجيهات ډېر ضعيف او کمزوري وو حتی په اسلام آباد کې د طالبانو سفير ملا عبدالسلام ضعيف په صراحت وويل چې دا کار يې د نړيوالو بنديزونو په وړاندې د عکس العمل په توګه کړی دی، دوی دوه څله وړاندې د امارت په فرمان د افغانستان خلکو او نړيوالو ته ډاډ ورکړی و چې د افغانستان تاريخي آثار او مجسمې به ساتي او صراحت يې کړی و څرنګه چې دې بتانو ته عبادت نه کېږي نو څکه د اسلام له نظره ضرر نه لري خو د ماتولو په باب يې فرمان بيا ډېر جدي اعلان شو او له لومړي سره ورسره وويل شول چې دا کار د جيدو علماو په فتوی شوی، فرمان نه بدلېدونکی او حتماً عملي کېدونکی دی، دې جدي حکم ښوده چې دوی د ختو او ګټو د بتانو د ماتولو پرځای د يوه ژوندي بت جوړول غواړي خصوصاً چې دايې هم ورسره غوټه کړه چې زموږ هر امر او فرمان د دين او د خدای حکم دی او څوك چې اعتراض پرې لري په ايمان کې يې خلل دی سره له دې چې دوی يې د ماتولو لپاره صريح دلايل رانه وړای شول خو د نه ماتولو په باب يې صريح احکام وو چې يو يې هم د پاك خدای هغه مبارك ارشاد دی چې فرمايي:

"ولا تسبوا الذين يدعون من دون الله فيسبوا الله عدوا بغير علم كذالك زينا لكل امه عملهم ثم الی ربهم مرجعهم فينبئهم بما كانو يعملون°"

ژباړه: **"هغو (معبودانو) ته چې مشرکان يې پرته له خدايه عبادت کوي، ښکنځل مه کوئ، نه چې دوی په ناحقه سره بې له پوهې خدای ته ښکنځل وکړي، همدا راز موږ هرامت ته د دوی عمل ښايسته کړی دی او بيا د دوی ټولو ورتګ د دوی خدای ته دی او (خدای به) دوی د دوی د اعمالو په حقيقت باندې خبر کړي."**

په دې مبارك آيت کې د دې لپاره چې "الله" جل جلاله ته مشرکان ښکنځل ونه کړي د دوی د باطلو او برحالو معبودانو ښکنځل هم منع شوي ماتول خو يې پرځای پرېږده او دليل يې دا دی چې خدای هرچاته خپل عمل خوږ کړی او خدای به دوی خدای ته تر ورتګ وروسته د خپلو اعمالو په حقيقت خبروي او په دې توګه د دوی سزا او عقوبت په لوی خدای پورې اړه لري.

نو د داسې يوه قرآني صراحت په بنا د داسې بې ضرره مجسمو ورانول چې افغانستان ته د اسلام د سپېڅلي دين تر راتلو وروسته بيا هېڅا عبادت نه دی ورته کړی او تشې تاريخي نخښې او هنري نمونې دي او د افغانستان د مومن ملت په ډاډ د دې ويره هم نشته چې تر ابدالابده يې دې څوك عبادت وکړي، په خپله يو پاروونکی عمل دی او په لوی لاس د دې مجسمو په ماتولو هندوان او بودايان راوپارول شول چې پاك قرآن ته اورواچوي، جوماتونو ته د خوګ غوښې وروغورځوي او په برما کې تر پنځو سوو (۵۰۰) تنو زيات مسلمانان شهيدان، يو نيم زر تنه ټپيان او ښځې او ماشومان يې له ځانو سره بوزي او په دې توګه دا بې ضرره بتان چې اوولس- اتلس سوه کاله دلته ولاړ وو په لوی لاس اسلام او مسلمانانو ته د ضرر سبب وګرځوي.

اسلامي سياست هېڅکله يوه مسلمان ته د داسې حتمي خطر په ليدو د داسې خطرناك عمل د ترسره کولو اجازه نه ورکوي نو ثابته ده چې دوی دا کار د اسلامي سياست په بنا نه بلکې د سياسي اسلام په حکم کړی او هدف يې په کې دا و چې په هند او بودايي هېوادونو کې د هندو او مسلمان شخړې راولاړې او په هند کې مذهبي جنايات وشي او استقرار يې له منځه ولاړ شي او هم افغانستان هم د تاريخي آثارو په نړېدلو سره يو بې تاريخه او بې هويته هېواد وګرځي. زه ددې بتانو د ماتولو بله توجيه نه وينم او اسلام ته ددې رسېدلي زيان عاملين هم د هندوانو او بودايانو تر څنګ طالبان او د دوی فتوی ورکوونکي دي.

پر دې سربېره دا مجسمې د هېواد ملي شتمني وه، ملي امانت و، دوی ته ملت سپارلی نه و، بلکې په زور يې ترلاسه کړی و نو څکه په ملي امانت کې د لاس وهلو صلاحيت حکومتونو ته يوازې او يوازې د ملت له لارې او د ملت د نمايندګانو په وسيله ورکول کېدای شي هغه هم له دې کبله چې حکومتونه عبوري او زودګذره وي يوازې د ملي شتمنيو د ساتلو او يا عادلانه وېشلو او يا د هغوی د ودې او پرمخ بېولو واك لري، د هغه د ورانولو او له منځه وړلو واك په هېڅ ډول ورته حاصل نه دی نو دا چې د افغانستان د تاريخي آثار ويجاړ کړي دا حق يې نه درلود.

د تېرو ۲۳ کلونو په اوږدو کې هېواد ته ټول اوښتي زيانونه د پردو په لمسون او د ملي مسووليت د نه احساسولو له امله شوي او په دې لړ کې زموږ د هېواد مادي او معنوي، ملي او کلتوري شتمنی په داسې ډول له منځه تللې چې په هېڅ ډول يې جبيره ممکنه نه ده او ډېره دردوونکې دا ده چې نړی نه يوازې دا چې د دې تباهيو ننداره کوي بلکې د دې ټولو تباهيو په شا کې ولاړ او د هغوی د عاملينو محرکين دي خو بيا هم کله کله د تمساح اوښکې تويوي او له موږ سره خواخوږي ښيي او هغه د خوشال بابا خبره:

هم مې ووژني پخپله هم پر ما باندې ژړا کا
څه ښه يار دی، ښه يې مينه، وژل هسې، شيون هسې

په افغانستان کې د بڼوالۍ د ودې په اړه لاربښوونې

لیکوال: اروابناد ډاکټر عبدالوکیل
ژباړه: اداره

لومړی- ګیلاس:

الف - خواږه ګیلاس:

خواږه ګیلاس د افغانستان په ډېرو برخو کې په ښه ډول وده کوي او په ټولیز (عمومي) ډول ښه بازار لري. په هغو سیمو کې چې دا مېوه په بریالي ډول وده کوي باید د دودولو او ودې لپاره یې هم وړ هڅې وشي.

اوس مهال ګڼ شمېر بڼوالان د ګیلاس نیالګیو د کېنولو او تکثیر په برخه کې لېوالتیا ښیي. خو له بده مرغه د نیالولو لپاره وړ پیوندي نیالګي نه لرو. پر دې بنسټ باید د پیوندي نیالګیو تکثیر او روزنه ډېره شي او بڼوال دې کار ته وهڅول شي.

همدارنګه NGOs ته دې هم لاربښوونه وشي چې ددې ډول نیالګیو تکثیر او دودونې ته ډېره پاملرنه وکړي. ان که په کورنیو تولیداتو زموږ اړتیا خروبه نه شي نو په داسې شرایطو کې بیا ښایي د اړتیا وړ نیالګي له نورو ځایونو لکه د ایران له مشهد څخه راوارد او پر بڼوالو وپلورل شي. دا کار دې تر هغه وخته دوام ومومي چې کورني تولیدات ډېر شي او د بڼوالو اړتیاوې بشپړې کړای شي.

ګیلاس تر نورو مېوو د ژمي د سړو پر وړاندې لږ مقاومت لري. نو ځکه باید ددې مېوې د نیالګیو لپاره د ځمکې اوچته برخه وټاکل شي او په ژورو سیمو کې دې د هغو له نیالولو څخه د امکان تر بریده ډډه وشي. خو که چېرې مناسبه سیمه او هلته ددې نیالګیو نیالولو ته اړتیا پېښېده نو په لومړیو دوو یا درېیو کلونو کې دې دا نیالګی د سړو او یخ په وخت کې په بوسو یا وچو واښو پټ شي ځکه تر درېیو کلونو وروسته دا نیالګی ښه مقاومت پیدا کوي او وروسته یې پوښلو ته اړتیا نه پېښېږي.

د ګیلاس تجارتي باغونه باید تر خپله وسه مارکیټونو ته نژدې جوړ شي او د بنسټیز تولید لپاره باید له (مهالب) تخم څخه استفاده وشي. د مهالب تخم ډېرې ونې په وردګو، لوګر، غزني او ارزګان کې شته چې له دوی څخه په وړ اندازه تخمونه لاس ته راتلی شي. که ډېرو تخمونو ته اړتیا پېښه شوه غوره لار یې دا ده چې په کوټه کې له فیض الله خان څخه د هغو په اړه پوښتنه وشي. نوموړی مهالب خالص تخمونه درکوي. مهمه دا ده چې د سپتمبر په لومړیو کې فرمایش ورکړل شي. ډېر تخم تولیدوونکي خالص تخمونه نه لري او معمولا د تخم نامطلوب ډولونه راټولوي او د مهالب تخم په نامه یې پلوري.

[کولای شئ له فیض الله خان څخه مرسته غواړئ د فیض الله خان د کور د ټیلیفون نومره (۸۵۹۸-۸۲-۰۸۱)] ده.

له FAO موسسې څخه هم که په رسمي ډول غوښتنه وشي کولای شي دا تخم له بهر څخه راولېږدوي دا ډول غوښتنې باید د جون یا جولای په میاشت کې موسسې ته وسپارل شي.

هغه افغانان چې ایران ته ځي راځي کولای شي دا تخم له ایران څخه راوړي. یو له هغو کسانو چې دا کار کولای شي په تهران کې د امیر خان ورور میرزا حسین دی چې په تهران کې یې تلیفون نمومره ۰۹۸۲۱۳۷۴۴۵۵۹ ده او په قلعهء شاده کې یې خپلوان دا دي: حاجي اسدالله خان او په مکروریان کې صادق خان (د پولیسو پخوانی مامور) میرزا حسین کولای شي له (کراج) څخه دا تخمونه په ارزانه او اسانه ډول راونیسي او راویې لېږي. فیض الله خان په کوټه کې دی. باید د وږي (سنبلې) په میاشت کې ورته وویل شي.

ب- تروه ګیلاس (الوبالو):

تروه ګیلاس (الوبالو) د خوږو ګیلاسو په پرتله په پراخو اقلیمي شرایطو کې وده کوي او همدا ډول د خوږو ګیلاس په پرتله د یخنۍ پر وړاندې ډېر مقاومت لري. په هغه ځای کې چې خواږه ګیلاس له یخنۍ څخه زیانمنېږي الوبالو په کې وده کولای شي.

د الوبالو ارزښت تر ګیلاس لږ دی، خو جوس (شربت) یې چې په کاغذي ډبیو کې بندېږي په هند او پاکستان کې ډېر مینه وال لري. د افغانستان حکومت، ملګري ملتونه او نور سازمانونه چې د پراخو باغونو جوړولو ته لېواله دي د الوبالو شربت جوړونې فابریکو پر تاسیس دې لاس پورې کړي او دې کار ته دې د قدر په سترګه وګوري.

ارزګان ولایت چې د الوبالو او ګیلاس ودې ته غوره ځای دی د الوبالو د شربت جوړونې فابریکو ته هم وړ سیمه ده، ځکه د ځای او لارې واټن په پام کې نیولو سره بازار ته تازه ګیلاس په خوندي ډول نه شي لېږدول کېدی.

دویم- کښتې (وچ زردالو):

د تجارتي او اقتصادي ارزښت له مخې وچ زردالو (کښتې) ځانګړي او لومړی درجه ارزښت لري، چې نه یوازې ګاونډیو هېوادونو ته بلکې د نړۍ ډېرو نورو هېوادونو ته لېږدول کېدای شي.

څرنګه چې وچ زردالو تر ګیلاس او نورو مېوو پراخ بازار لري، نو دا وچه مېوه کولای شي د هېواد په عمومي اقتصاد کې ان تر ګیلاس غوره او عمده رول ولوبوي. اوس مهال چې په دې برخه کې لویه ستونزه شته د یو متحد الشکل زردالو نشتوالی دی، چې تر وچولو وروسته اروپایي هېوادونو، جاپان او نورو ته ولېږدول شي. اوس یوازې (امیري) زردالو په پراخ ډول تولیدېږي او دا هغه ډول دي چې عموما د تازه مېوې په ډول کارول کېږي او د تازه مېوې په توګه ښه بازار لري. امیري زردالو سپین رنګ لري او ډېر خواږه دي نو ځکه اروپایانو او د اروپا بازار ته د منلو وړ نه دي. حال دا چې که وچ زردالو د نړۍ مارکیټونو ته وړاندې کېږي ښایي هغه ژېړ رنګ ولري. که په افغانستان کې امیري زردالو له خپله اندوله ډېر تولید شي، کېدی شي وچ شوي هغه یې د منځني ختیځ هېوادونو ته

صادر شي

نو د زردالو د وچولو لپاره دا ارزښتمنه خبره ده چې غوره ډولونه يې وپېژنو او بيا هغه تکثير او دود کړو. تر دې مهال د زردالو پينځه لاندينې ډولونه پېژندل شوي. دا ددې لپاره تشخيص شوي چې په لنډ وخت کې تکثير او په غوره خايونو او باغونو کې يې پر زېږلو لاس پورې شي. دا ډول باغونه (هغه چې زردالو يې کښتې کېږي) دې په هغو خايونو کې جوړ شي چې لرې پرتې سيمې وي لکه د هزاره جاتو درې، د ارزګان لوړې برخې، نورستان، باميان او په دې ډول نورو کې.

د هغو پينځو پېژندل شويو زردالوانو ډولونه دا دي:

١- ساقي ډوله
٢- اشتقي ګل باغ
٣- بيد مشك
۴- کوريه
۵- شکرپاره

د زردالو وچولو لپاره جاغوري، باميان، نورستان، زابل او ارزګان غوره سيمې دي. زابل او ارزګان ولايتونه شکرپاره زردالو چې په هندوستان کې ښه بازار لري توليدوي. نو دا زردالو بايد په همدې ولايتونو کې وروزل شي او بنوالتو ته دې د هغو باغونو د جوړولو په برخه کې چې کښتني يې ښه مارکيټ لري لازمي لارښووني وشي. که ممکنه وي اروند کسان دې هند ته ولېږل شي چې د شکرپارې وچ زردالو په اړه معلومات ترلاسه کړي. که په دې برخه کې ستونزې يا نيمګرتياوې وي لومړى بايد هغه وموميٰ او بيا دې د هغو په له منځه وړلو کې غوځ ګام پورته کړي او که کومه خزنده يا ناروغي د مېوې ځرنګوالي ته زيان ورسوي له FAO موسسې سره دې په تماس کې شي او له دې موسسې څخه دې غوښتنه وکړي چې د دې ستونزې د غوځولو لپاره يو متخصص ورولېږي چې لومړى شخص ستونزې وڅېړي او په دې اړه باغوانانو ته سمې لارښوونې وکړي.

د پورتنيو يادو شويو ډولونو د دودولو او تکثيرولو لپاره غوره دا ده چې د شکرپارې، ساقي او اشتقي ګلباغ ډولونه زيات په پام کې ونيول شي او د کوريه او بيد مشك ډولونه لږ په پام کې ونيول شي

په بېل کې به د شکرپارې ۲۵٪، د اشتقي ۲۵٪، د کارېا (کوريه) ۱۲.۵٪ او د بيدمشك ۱۲.۵٪ مساعد وي، دا به تر هغه وخته په پام کې وي چې په مارکيټ کې د مېوې ارزښت وټاکل شي او له دغو څخه يو يا دوه په لومړي کتار کې ودرېږي.

د پورتنيو ډولونو د وچولو په برخه کې بايد د سلفر له استعمال او تعامل څخه پرته لازمي تجربې په پام کې ونيول شي.

کښتي بايد د خاورو او دوړو نه لرې په پاك خاى کې جوړې شي، چې دا ځرګنده شي کوم ډول کښتې د سلفر له تطبيق کولو پرته ښکلې رنګ ساتلى شي. ان که د هغو کښتو د رنګ په پرتله چې د سلفر په واسطه وچې شوې وي، ښکلې نه وي بيا يې هم په نړيوال مارکيټ کې ارزښت لوړ دى، ياني د هغو کښتو بيه ډېره لوړه ده چې له کيمياوي موادو پرته په طبيعي ډول وچې شوې وي چې له دې ارزښت سره به په نړيوال بازار کې خپل سيال هم ونه لري.

دربيم - بادام:

د افغانستان بادام په نړيوال مارکيټ کې په نيمه بيه پلورل کېږي او دا له دې امله چې زموږ په هېواد کې بنوالان وچ نيالګي نيالوي او په نتيجه کې هره ونه يو بېل ډول مېوه رامنځ ته کوي چې د ځنګ له ونې سره يې مېوه توپير لري او دا د دې سبب کېږي چې د يوه بڼ تول حاصل د بېلابېلو ډولو يوه ګډوله (مخلوط مرکب) دى، نو خکه په نړيوال مارکيټ کې د منلو وړ نه دي. سره له دې چې د افغانستان د بادامو او نورو مېوو خوند د نړۍ له نورو هېوادونو څخه ډېر غوره والى لري.

زموږ په هېواد کې يوازينى خاى چې هلته بنوالان پيوندي نيالګي چوخوي، هغه خلم او تاشقرغان دي. يو ډول بادام چې په هغو سيمو کې توليدېږي په هند کې ډېر ښه مارکيټ لري او د اورېدوه له قراره همدغه ياد شوي بادام د ځانګړي خوند له مخې ان امريکا ته هم لېږدول کېږي.

موږ په ۱۹۹۲ کال کې د نن پېريل ډولو بادامو پيوندي نيالګي وارد کړل، همدغسې يو بل ډول مو هم د کاريل په نامه د القاح کولو لپاره راوړل. ياد شوي ډولونه دود او تکثير شول او يو شمېر باغونه مو په کندهار او زابل کې جوړ کړل، چې اوس په حاصل راغلي. سره له دې چې باغونه له نن پېريل څخه جوړ شوي خو له بده مرغه بادام يې هغه ځرنګوالى نه لري لکه په پرمخ تللېو هېوادونو کې يې چې نن پېريل لري. زموږ په هېواد کې ددغو بادامو مغز کوچنى او چملك وي، زما په اند ددې لامل دا دى چې زموږ په هېواد کې ونې هغسې په اعظمي توګه نه تغذيه کېږي او نه تربيه کېږي. لکه په نورو هېوادونو کې چې خومره د تربيې او تغذيې غمخورې کېږي. د ساري په ډول زموږ په هېواد کې:

١- د بادامو ونو ته کيمياوي کود نه ورکول کېږي، که چېرې يې ورهم کړي ډېر لږ يې ورکوي

٢- تر هر ډول ونې لاندې نور محصولات کري لکه غنم، جوار او نور...

٣- ان که چېرې تر ونو لاندې نور محصولات ونه کري د ګياوو او نورو وښو د مخنيوي لپاره څه کار نه کوي چې البته دغه ګياوې او بېکاره واښه هغه په نشت شمېر غذايي توکي چې په خاورو کې شته راکاږي او د ونو لپاره څه نه پاتې کېږي.

د بادام بڼ د حالاتو د ښه والي او د لوړې کچې د حاصل د لاسته راوړلو لپاره ښايي لاندې لارې چارې په پام کې ونيول شي:

١- ګياوې او بېکاره واښه بايد په بشپړه توګه کنټرول شي، دغه کار د تراکتور او د خوې (خشياوې) د سامانونو په وسيله کولاى شو او يا هم د رونداپ (د بېکاره ګياوو او وښو ضد درمل) استعمالولى شو.

٢- په پوره اندازه بايد کيمياوي کود ځمکې ته ورکړل شي. لازمه اندازه کيمياوي سره ١,۵ کيلو يوريا ده او هر يوې ونې ته چې په حاصل راغلې وي بايد ورکړل شي او ښايي ۴×۶ متره ساحه په بر کې ونيسي دغه اندازه يوريا سره بايد په کال کې دوه يا درې خله ونې ته ورکړل شي نه يو ځل.

FAO پر نن پېريل او کاريل سربېره دوه ډوله نور بادام هم له اروپا څخه وارد کړي، چې يو ته يې فريدول Feradol او بل ته يې فرنيس (Ferrenis) وايي.

ښايي دغه دوه ډوله بادام هم د نن پېريل تر څنګ تکثير او دود شي، خکه د معلوماتو له مخې دغه ډولونه هم ښه صفتونه لري او حاصل يې زيات وي، خو ددغو بادامو پوست د نن پېريل په پرتله پېرږ دى نو خکه د هند مارکيټ لپاره چې له پوستکي سره بادام خوښوي ډېر ښه دي. څنګه چې نن پېريل بادام له پوتکي سره ښه نه ښکاري نو خکه تل له پوتکي پرته بازار ته وړل کېږي.

يو بل ډول چې ښايي تکثير شي هغه د تاشقرغان ستاربايي بادام دي، دغه بادام په هند او پاکستان کې ډېر زيات شهرت لري او ان د امريکا متحده ايالاتو خينو برخو ته هم صادرېږي، حال دا چې د امريکا متحده ايالات د نړۍ ټولو برخو ته بادام صادروي، په عمومي ډول خلك د ستاربايي بادامو خوند خوښوي.

نن پېريل او د بادامو هغه ټول ډولونه چې په افغانستان کې اېښوول کېږي د هغو بادامو په پرتله چې د ټولې نړۍ له بېلابېلو برخو څخه لاس ته راغي خوندور دي.

ستاربايي بادام په لږ ډول د ځمې د يخنۍ په وړاندې حساس وي چې ښايي په لوړو او يخو سيمو کې به د وده وړ وده و نه کړي

خلورم - انګور:

ښايي انګور له هغو غوره مېوو څخه وي چې په افغانستان کې توليدېږي او د انګورو تر باغونو لاندې شوې سيمه د نورو هر ډول مېوې د بڼ په پرتله زياته ده.

په ټوليزه توګه زموږ په هېواد کې هغسې

کشمشي انګور نه تولیدېږي چې له تامسن انګورو سره یو شان وي، د دغو انګورو لږ اندازه د شمالي پښتونخوا، جنوبي پښتونخوا، پنجاب او کراچي په مارکیټونو کې د تازه خوړلو لپاره پلورل کېږي خو په لویه کچه له دغو انګورو څخه وچکي (ممیز) جوړېږي چې د اروپا مارکېټ او ان امریکا ته صادرېږي.

خو له بده مرغه پر افغانستان د روسانو تېري او مداخلې د وچکو تولید او صادرول یې زیانمن کړل او د وچکو پاکولو او درجه بندي کولو تولې فابریکې ویجاړې شوې او د دغې وچې مېوې سوداګر له افغانستان څخه وتښتېدل او په دې ډول افغاني تولیداتو بهرني مارکیټونه له لاسه ورکړل.

څنګه چې د افغاني ممیزو ځرنګوالی ډېر اوچت دی نو کېدای شي د تولیدولو شرایط او ارونده دستګاوې جوړې او فعالې شي، افغاني وچکي به په ډېر چټکتیا په نړیوال مارکیټ کې خپل ځای ونیسي.

تراوسه په هېواد کې کشمشي انګور (بې دانې تامسن) د بڼوالو په وسیله تولیدېږي، دغه د انګورو هغه یوازېنی ډول دی چې د صادرولو وړ وچکي ترې جوړېدای شي. کوم خانګړی ډول انګور چې یوازې تازه خوړل کېږي زموږ په هېواد کې نه تولیدېږي.

Afghanistan Development Association ADA موسسې مخکې له مخکې هغه انګور چې یوازې تازه خوړل کېږي افغانستان ته راوړي دي، چې د مارکیټ لپاره ډېرې ښې خانګړتیاوې لري او همدارنګه له یوه ځای څخه بل ځای ته د وړلو راوړلو ډېره ښه وړتیا لري. بېدانه فلیم او ریډګلوب دوه ډوله نور انګور دي چې خلک یې ډېر خوښوي او بل ډول سره رنګي تاشکندي بې دانه انګور دي، دغه انګور د ممیز جوړولو لپاره ډېر ښه دي چې ممیز یې لوی او نور رنګ لري، د دغه ډول انګورو او دې ته ورته نورو انګورو نسل باید تکثیر شي او د نندارې لپاره باید تونې ترې جوړې شي، یانې په انګرېزي اصطلاح Exh ib ition باید ورته جوړ شي چې بڼوال او په ارونده مارکیټونو کې یې په اړه خلک معلومات ترلاسه کړي.

کندهار د انګورو د تولید لپاره ډېر ښه او مناسب ولایت دی، خو کاله وړاندې د هغه ځای د مامور لپاره چې د ودولو او تکثیرولو مسوولیت یې په غاړه لاره د همدغو وارد شویو انګورو نمونې ورکړل شوې وې، خو د وړ او مناسبې غمخورۍ، د نشتوالي او بې پروایۍ له مخې تراوسه له هغه څخه د قناعت وړ نتیجه نه ده ترلاسه شوې، هیله ده چې په راتلونکي کې مسول کسان د دغو انګورو ښه پالنه وکړي او له دغو نویو ډولونو څخه په لازمه اندازه انګور تولید کړي، مارکیټ ته یې ولېږدوي او خلکو ته یې ورووېړني.

کله چې دغه انګور په مارکېټ کې خلک خوښ کړي او بڼوالان ترې د قناعت وړ عواید ترلاسه کړي بیا نو بڼوالان پخپله او له سرباري هڅونې پرته د دغو انګورو د تکثیر لپاره ګټور او عملي ګام پورته کوي.

د تاکونو په ابښودلو کې د چیلي جوړولو سیستم د جوبي جوړولو د سیستم په پرتله د کابل او کندهار په سیمو کې زیات ګټور دي او کولای شو په دې ډول له یوه تاك څخه زیاته مېوه ترلاسه کړو. د چیلي جوړولو دغه سیستم باید د متخصصینو له خوا بڼوالانو ته وښودل شي او په هغو ګټو او ښېګڼو دې یې پوه کړي چې د جوبي جوړولو په پرتله یې لري، البته وروسته بیا بڼوال له خپل قضاوت او پرېکړې څخه کار اخیستی شي او هغه سیستم چې د دوی په ګټه وي په راتلونکي کې به له هغه څخه کار اخلي.

بنایي په هغو سیمو کې هم د چیلي جوړولو سیستم وښودل شي چې د تودخې درجه یې په کافي اندازه لوړه وي او په ژمي کې (د خاورې په وسیله) د تاك پټولو اړتیا نه پېښېږي، لکه د کوهدامن، د کابل شمال، د لوګر نرخ، مقر او داسې نورو سیمو کې چې همدغو سیمو په خبر وي.

د خاکسترك ناروغي (Medew) په هغو ټولو سیمو کې چې هلته انګور کېږي شته ده، دغه ناروغي د مېوې په څومره والي (کمیت) او ځرنګوالی (کیفیت) ډېر منفي اغېز لري. سلفر پاشل ددغې ناروغۍ د مخنیوي لپاره یو غوره اقدام دی، خو ډېر لږ شمېر بڼوالان دغه تطبیقوي. سوداګر باید وهڅول شي چې د پوډر پاشي ماشینونه او د سلفر پوډر هېواد ته راوړي. بڼوالان هم باید د سلفر د تطبیقولو او کارولو په برخه کې وروزل شي، چې وکولای شي د انګورو د ودې د دورې په اوږدوالي کې د انګورو خپل بڼ سلفر پاشي کړي. البته په هغو سیمو کې چې د هوا نم (رطوبت) زیات وي سلفر پاشۍ ته زیاته اړتیا پېښېږي. د سلفر پاشۍ ترتیب او طریقه به په یوه بل بحث کې توضیح شي.

که چېرې د هغو انګورو ډولونه چې تازه خوړل کېږي او په تېره بیا د هغو انګورو ډولونه چې پره مو یاد کړل زموږ په هېواد کې بریالي تجارتي محصولات ورته کړي او په هغه صورت کې چې د بڼوالانو په وسیله د چیلي سیستم تطبیق نه شي او همدا ډول د خاکستر ناروغۍ په بشپړ ډول کنټرول نه شي نو بیا دغه مهال به د ترویج او ودولو ګمارل شوي او موظف کسان ملامت وي، نه تکنالوجي. دغه واقعیت په کندهار کې چې هلته د انګورو حاصل ډېر غوره دی صدق کوي.

د ترویج او تکثیر د چارو مسول کسان باید د هېواد په بېلابېلو برخو کې د انګورو نور ډولونه پیدا کړي له دغو ډولونو څخه یې ځینې ډېر ښه ځرنګوالی لري او کولای شي په مارکیټ کې ډېر ښه او په زړه پورې ارزښت ومومي. خو په دې شرط چې تولیدات یې په بشپړه توګه زیات شي. اوس باغداران د انګورو د بېلابېلو ډولونو کچه ډېره ټیټه ساتي او په دغه برخه کې یې دایره ډېره کوچنې ده. دوی فکر کوي چې دا د ممیز جوړولو لپاره مناسب نه دي خو دا د انګورو په مارکېټ ډېر بد اغېز کوي. د ساري په ډول په مزار شریف کې یو ډول انګور چې د عاقلي په نامه یادېږي- ډېر ژر پخېږي او هغه مهال په مارکېټ کې هېڅ انګور نه وي، دغه انګور باید تکثیر شي او له دغو نه باید نمایشي قطعې جوړې شي او په نورو ځایونو کې دې هم د پخېدو طریقه وڅېړل شي.

یو بل ډول انګور چې دا هم په مزار شریف کې شته او د طایفي په نامه یادېږي او د تلې (میزان) په وروستیو کې، پخېږي په ژمي کې د ذخیره کولو او ساتلو (په کوټه کې د انګورو د وېیو د ځړولو په وسیله) ډېره ښه وړتیا لري.

کندهار د انګورو د ټولو ډولونو (د هغو ډولونو په ګډون چې ډېر ژر یا ډېر وروسته پخېږي) لپاره ډېر ښه په زړه پورې شرایط لري. همدا ډول د چیلي جوړولو سیستم او د خاکسترك ناروغي کنټرول په ډېره ښه توګه ترسره کېدای شي. خو له بده مرغه د ارونده موظفینو اجراآت په کندهار کې ډېر مایوسوونکي دي. زه له مامورینو او موظفینو څخه هیله لرم چې په راتلونکي کې د خپلو دندو په ترسره کولو کې د مسولیت د خدای، خلکو او هېواد په وړاندې احساس وکړي او خپلو دندو ته جدي پاملرنه وکړي.

موږ کولای شو د انګورو ځینې ډولونه په یخو او سړو زېرمتونو (ذخیرخانو) یا په هغو ګودامونو کې چې د ناکلې تودوخې له مخې کنټرولېږي: ډېر وخت لپاره وساتو او تر هغه وخته پورې وساتو چې فصل یې پای ته رسېدلی وي او په مارکیټ کې نور انګور نه وي، بیا نو دغه ذخیره شوي انګور د ښې ګټې لپاره مارکیټ ته راېستلی شو. په اوس وخت کې چې کله د منې ساړه پیل شي او انګور نور په تاك کې نه شي پاتې کېدای نو سم له لاسه د انګورو بیه لوړېږي او په چټکتیا سره تازه انګور پلورل کېږي او خلاصېږي.

د انګورو ذخیره کول د هغه موسم لپاره چې په مارکیټ کې نور انګور نه وي پاتې نو د انګورو د خرڅلاو د مارکېټ مهال اوږدېږي او په دې ډول بڼوالانو او د انګورو سوداګرو ته زیاته ګټه رسېږي. په دغه وسیله نه یوازې دا چې بڼوالان ګټه کوي بلکې خلکو ته هم ګټه رسېږي او د ډېر وخت لپاره تازه

انګور خوري چې صحت ته یې ګټه رسوي.

ځمکني توت (توت زمیني)

ځمکني توت د افغانستان په ډېرو سیمو کې تولیدېدای شي، افغانستان د ځمکنیو توتو خوند د نورو هېوادونو په پرتله خوندور او لوړ دي، دغه واقعیت ددې مانا لري چې زموږ هېواد د ځمکنیو توتانو د تولید لپاره طبیعي غوره والی لري.

ځمکني توت د نورو مېوو په پرتله د ځمکې د هر یوه واحد لپاره زیاتو کار کوونکو ته اړتیا لري. له همدې امله یې بیه د نورو مېوو په پرتله لوړه ده. په افغانستان کې وزګار کارګر ډېر دي او د ځمکنیو توتانو په کرونده کې د کار پیدا کېدل به د دوی د خوشالۍ سبب شي.

زیاتې د Non government organization (NGO) یانې ناحکومتي موسسې په افغانستان کې د مېوه لرونکیو نیالګیو په ترویج او تکثیر کې د پام وړ هڅې کوي. له بله اړخه بڼوالان هغه محصولاتو په کرلو لاس پورې کوي چې په ځمکه کې د تازه کېښول شوي نیالګیو ته لنډ ګټه لري دوی زیات هغه محصولات تر ونو لاندې کري چې ځمکې او ونو ته زیان لري د ساري په ډول غنم او جوار او نور چې د ځمکې غذاییت او نم په چټکتیا سره راکاږي او نیالګي د خوړو له لږوالي او تشتوالي سره مخ کوي او دا د مېوې د لږوالي لامل کېږي.

که څه هم تر تازه نیال شویو مېوه لرونکو ونو لاندې د هېڅ شي نه کرل په افغانستان کې د منلو وړ نه دي، نو ځکه د ځمکنیو توتانو کرل چې د ریښو غځولو سیستم یې تر نورو لږ نیالګیو ته ضرر رسوي او عاید یې تر نورو محصولاتو ډېر زیات دی د نورو په پرتله یې کرل غوره والی لري.

په اوسنیو شرایطو کې د هغه سیمو په استثنا چې دغه مېوه په لږ اندازه تولیدوي او د لېږد وګړیو د کو سیمو ته نژدې موقعیت لري تازه ځمکني توت په هېواد کې دننه او یا له هېواده بهر مارکېټ نه لري.

خو کولای شو چې د ماشین الاتو په وسیله ځمکني توت وچ کړو، یا یې شیره وکاږو او د لازمو مرحلو تر تېرولو وروسته یې په ډبیو کې د عصارې (Concentrate) په بڼه جوړ کړو او بهرنیو هېوادونو ته یې صادر کړو. وچ ځمکني توت په لویدیځو مارکیټونو کې لیدل شوي او د ځمکنیو توتو عصاره په شریخ او ځینو نورو خوراکونو کې د ګډولو لپاره کارول کېږي.

په افغانستان کې به د ځمکنیو توتانو د تولید پروګرام او د وچولو او عصارې جوړولو لپاره به یې د فابریکې تاسیسول غوره او ګټور کار وي.

د دغه هدف د ځېړلو لپاره په لومړي ګام کې په کار دې چې تکړه کارپوه (متخصص) د ملګرو ملتو یا نورو موسسو له لارې راوبلل شي او وګومارل شي چې موضوع وڅېړي او خپل نظر څرګند کړي.

متاسفانه له هغو موسسو سره چې دافغانستان د بیارغونې په باره کې برخه اخلي، د پېژندنې او تخصیص هغه لازم جرات نه شته چې د دغو ډول یادو شویو اساسي پروګرامونو لپاره کار دي. په اوس وخت کې څرګنده ده چې د تش لاسو او فقیرو افغانانو د ژوند په کچه دغه کوچنی او په نشت پروژې به هېڅ ګټه ونه لري چې اوس د موسسو له خوا جوړېږي.

که څه هم ددغه هدف لپاره د یوې فابریکې جوړول په ظاهري توګه داسې انګېرل کېږي چې زیات لګښت به وغواړي، خو په حقیقت کې داسې نه ده، ځکه کولای شو چې د دغه پروګرام لپاره د اړتیا وړ ماشینونه له شل زرو څخه نیولې تر څلوېښت زرو ډالرو پورې برابر او خپل هېواد ته ولېږدوو او عمومي لګښت به یې له ټولو اسانتیاوو او وسایلو سره یوازې یو لك ډالرو ته اوچت شي.

که چېرې یاده شوې دستګاه له پلان سره سم بریالۍ وي کولای شو هغه پر مینه والو سوداګر وپلورو. د پنځوسو زرو یا یو لك ډالرو لګښت به د ځمکنیو توتانو په تولید او صادرولو کې د افغانانو پر اقتصاد ډېر ښه اغېز وکړي.

یوه متخصص بڼوال (هارټیکلچریست Horticuturalist) ته اړتیا چې نړیواله سوداګري ولري

زموږ ګران هېواد افغانستان په نړۍ کې د طبیعي غوره والي او برترۍ له مخې د ښو مېوو په تولید کې ډېر بختور دی. په ۱۹۷۹ کال کې پر افغانستان د روسانو له یرغل مخکې په نړیوال مارکېټ کې د افغانستان مېوو د قدر وړ ارزښت درلود. اوس د مناسبو تدبیرونو پر بنسټ کولای شو هغه ځای بیا ترلاسه کړو، خو ددې لپاره چې بڼوالانو ته د غوره ډولو په انتخابولو د ونو په تربیه او تولید کې ور لارښوونې وشي، حتمي او لازمي ده چې لږ تر لږه د بڼوالۍ یو تکړه کارپوه (متخصص) کس ولرو. چې د دوو شویو مېوو د بېلابېلو ډولونو او نړیوال مارکیټ ته د وړاندې کولو لپاره د پراخو نړیوالو معلوماتو څښتن وي.

څرنګه چې له اقتصادي اړخه وړ ده چې مارکیټ ته د صادرولو په غرض د مېوو ټول تولیدات باید اخیستونکي پیدا کړي. نو ځکه همدا مارکیټونه دي چې د مېوو په ډولونو او د تولید په کچه کې غوره او غوښ رول لري.

اوس مهال یو داسې کارپوه بڼوال چې بشپړه نړیواله تجربه ولري او په هېواد کې بڼوالو ته د عملي لارښوونې او روزنې مینه ولري نه شته، نو زما په عقیده لازمه ده چې یو بهرنی کارپوه ددغه مقصد لپاره په کار وګومارل شي یا له هغو موسسو سره چې د بڼوالۍ په وده، لارښوونو او مشورو بوختې وي یو تړون لاسلیک شي

یو له دغه ډول کارپوهانو څخه چې په ۱۹۹۸ کال کې یې له FAO سره تړون کاوه، تصادفاً راسره ولیدل، دغه کارپوه Lavid dooln نومې نوموړي سره له دې چې په بڼوالۍ کې بشپړې تجربې لري د افغانستان د بڼوالۍ په چارو کې پوه او تجربه هم لري. غوره دا ده چې نوموړی شخص استخدام شي غیر حکومتي او نورو ټولو موسسو چې د بڼوالۍ له چارو سره سروکار لري لارښوونې او مشورې ورکړي. که چېرې نوموړی شخص د نړیوال مارکیټ په اړه بشپړ معلومات ونه لري نو ددې د خسماني لپاره کېدای شي یو کوچنی تړون له High Value Horticulturale of Landon سره لاسلیك شي. دغه موسسه په لندن کې ده چې له DAI سره یې څه موده مخکې تړون لاسلیك کړی و او په افغانستان کې یې د بڼوالۍ په اړه یو مفصل راپور ترتیب کړ. نوموړې موسسې په سوات کې هم د بڼوالۍ په اړه برخه لرله.

همدغې موسسې په هندوستان کې هم له یو لړ پروژو سره کار کړی او اوس هم کار کوي، هندوستان د نوموړې موسسې له مشورو او لارښوونو څخه ډېره ګټه پورته کړې ده.

یوه بله موسسه چې دا هم په انګلستان کې ده د Appropriat Technology په نامه یادېږي دا هم بنایي د مشورو په کار کې مناسبه وي.

څنګه چې د یوې غیر حکومتي موسسې لپاره دا ګرانه تمامېږي، زیات لګښت غواړي او نه شي کولای چې یو متخصص استخدام کړي یا له یوې موسسې سره تړون لاسلیك کړي، نو غوره دا ده چې ټولې ناحکومتي موسسې NGO's چې په افغانستان کې د بڼوالۍ د ودې په برخه کې کار کوي په ګډه سره یو کارپوه سړی استخدام کړي او له هغه څخه د اړتیا پر مهال په ګډه سره استفاده وشي. بنایي ددې امکان هم موجود وي چې دغسې یو کارپوه سړی د FAO له خوا استخدام او وګومارل شي چې د افغانستان بڼوالانو ته لارښوونې وکړي.

زما په اند غوره به دا وي هغه څوك چې ددغه کار لپاره استخدامېږي، باید د راتلونکې بڼوالۍ د ودې د اهدافو د ټاکلو لپاره تړې لارښوونې وغوښتل شي او تر کومه برید چې ګټور ګڼل کېږي له هغه څخه استفاده وشي. بنایي ووایم چې زما نظر او اند په افغانستان کې تر څلوېښتو کلونو زیاتو تجربو پر بنسټ ولاړ دی.

عبدالحمید وردګ، لندن

د وریځو تر پلو لاندې یو ستوری

پر موږ لازمه ده چې د خپلو اتلانو یاد ژوندی وساتو چې په دې توګه خپل تنکي ځوانان او راتلونکی نسل دې ته وهڅوو. چې د خپلو اتلانو پر پله پل کېږدي. د دې اتلانو له ډلې څخه یو هم شهید کپتان فیض محمد دی، چې د هېرې په کړلېچونو کې پروت او له موږ څخه مانیجن (ګیله من) دی او داسې وایي: پښتنو لیکوالو! زه مو ولې هېر کړی یم؟ زما ګناه څه ده، چې نوم مې نه اخلئ؟ ما خو ښایسته کابل نه دی وران کړی، ما خو بې ګناه ماشومان او خویندې میندې په وینو کې نه دي لت پت کړي، ما خو د احمدشاه ابدالي توره او پګړۍ نه دي پلورلي، ما خو د ګران هېواد لرغوني آثار نه دي لوټلي، ما خو په توغندیو زیارتونه، جوماتونه او کلي نه دي ویشتلي، زه خو له دښمن سره تېر په تېر جنګېدلی یم، نو تاسې ولې زه هېر کړی یم؟"

ما "لیکونکي" د شهید فیض محمد ګیله په سترګو واخیسته دا دی د هغه کړه وړه راسپړم او ګوربت ته یې استوم.

غازي او شهید فیض محمد په تیزین کلي د عبدالصمد خان په کور کې سترګې پرانستې وې، عبدالصمد خان د غازي وزیر محمد اکبر خان تر څنګ د انګرېزانو په لومړي یرغل کې جنګېدلی، چې بیا یې د شهادت خواږه په برخه شول. دا مهال فیض محمد لس کلن و او د پلار کړه وړه یې له نژدې څارل، ان چې د پلار په ژوند یې له ټوپک سره لوبې کولې او نښه ویشتل یې ښه زده کړي وو.

د امیر شیر علي خان په وروستیو کلونو کې فیض محمد د علي مسجد په کلا "تانه" کې لوی افسر و. کله چې د انګرېزانو غوږونو ته د وزیر محمد اکبر خان د توري شرنګ ورسېد په دویم ځل یې د سر لوري افغانستان د نیولو لپاره غابښ تېره کړل او له ډېرو غونډو وروسته یې پرېکړه وکړه چې جنرال چمبرلین له ډېرو عسکرو، توپ او توپخانې سره چې شمېر یې تر زرو کسو ډېر و، د تورخم له لارې افغانستان ته واستوي. هماغه وو چې دا د سفارت په نامه هیئت د جمرود په کلا کې ځای ونیو، چې لږ څه مخکې د لوږ غره په څوکه د علي مسجد کلا ورته ښکارېده. چمبرلین ته تر دې مخکې اجنټانو خبر ورکړی و، چې امیر شیر علي خان خپل یو نژدې ملګری چې رسمي نوم یې میر آخور او د انګرېزانو کلک مخالف دی علي مسجد ته را استولی، نو څکه یې له خپل سیاسي ملګري کاونیاري سره همغږې شو چې تر ټولو به دا ښه وي چې مخکې له مخکې د علي مسجد له قوماندان فیض محمد سره وکتل شي. هماغه وو چې کاونیاري د اپریدیو د مشرانو په ګډون د علي مسجد په لور وخوځېد او فیض محمد ته یې خپل استازی واستاوه، چې موږ له تا سره خبرې غواړو. فیض محمد څرګنده کړه چې تاسې نور مخته مه راځئ! د خبرو لپاره زه درځم.

د ۱۸۷۸ کال د سپتمبر په ۲۱ نېټه د علي مسجد د کلا په لمن کې چې په ښنو ځنګلو او ښایسته بوټیو چاپېره وه سره کېناستل. مخکې له دې چې خبرې پیل شي کاونیاري یو شین ډکی راوشکاوه غوښتل یې چې خولې ته یې کړي. فیض محمد هغه ورته واخیست، تر خپلو پښو لاندې یې وغورځاوه، کاونیاري یوازې دومره وویل: څه وشول؟ فیض محمد ورته وویل: په دې به بیا وروسته پوه شې.

کاونیاري خپلې خبرې پیل کړې: لویې برتانیې چمبرلین خپل سفیر د امیر حضور ته استولی، هغه له تا پوښتي چې موږ کولی شو له ستونزو پرته په خیبر واوړو؟

فیض محمد ورته وویل: زه به له امیر صاحب نه وپوښتم چې څه امر کوي. خو کاونیاري خپله دا خبر چې "موږ د دوستۍ په نیت راغلي یو هرو مرو به په خیبر اوړو" بیا بیا کوله.

د فیض محمد له غوسې ډک غبرګون دا و، چې زه هم په ښه نیت راغلم کنه تاسو دلته نه شوای راتلی. بل دا چې میجر کمناریه! زه تا له پخوا ډېر ښه پېژنم، دوستي داسې وي چې د اعلیحضرت په رعیت کې نفاق واچوي؟ دوستي داسې وي چې رعیت یې په پیسو واخلې؟

دلته کاونیاري او ملګریو یې یو بل ته وکتل او بیا ستانه شول. لږ څه وروسته فیض محمد ور ناري کړې چې ستا هغه د شنه ډکي پوښتنه یې غبرګونه پاته شوه. هغه شین بوټی چې تا خولې ته کاوه افغانان یې د خره زهر بولي چې انسانان هم وژني خو د افغانستان خره هغه نه خوري نو ماته له مرګه بچ کړې هیله ده چې اوس به مې وپېژنې.

له دې وروسته چمبرلین له خپلو ملګریو سره په نیت سر پېښور ته په شا شو.

د ۱۸۷۸ کال په نوامبر کې انګرېزانو بیا په سر لوري افغانستان د یرغل پلان جوړ کړ او د جنرال براون په مشرۍ یې په عصري وسلو سمبال یو لوی لښکر چې د ډېرش میله توپونو په مرسته بدرګه کېده، بیاهم د جمرود کلا ته واستاوه او لومړی موخه یې د علي مسجد کلا وه چې له هغه ځایه چمبرلین د کابل له تګ نه د فیض محمد له پلوه په شا شوی و.

د انګرېزانو یرغلیز ځواک داسې جوړ او ځای په ځای شوی و.

د علي مسجد د لارې په اوږدو کې لاړښوونکیو خانونه کلا ته نږدې کړي وو چې د پنجاب د غرني ځواک د کشف له سرنېرو څخه وو، په هغوی پسې ۱۱ غونډ، بیا د بنګال ۶ نومره پلي غونډ. ورپسې د فیروز پور د ګیرو روسکانو ۱۴ پلي غونډ پروت و، له هغوی لږ څه بهرته د پنجاب د غرنیو ځواکونو ۱۹ او ۲۵ غونډ ورپسې د نیپال جز و تام او تر ټولو وروسته د انګرېزانو خالص ۱۷ جنګي غونډ ځای درلود.

د دې قوتونو تر مخ مخابرچیان، استحکام چیان، ماین اېښودونکي روان وو او د توپچیانو تمبوان هم تر سترګو کېدل. د نوامبر په ۲۰ / ۲۱ شپه یې پر علي مسجد یرغل پیل کړ او د علي مسجد زړو توپونو هم پر انګرېزانو درانه ګوزارونه وکړل. د دښمن ډېر شمېر افسران، خورد ضابطان او سربازان ووژل شول. جګړه شپه او ورځ توده وه. کله چې انګرېزانو خپل مړي او ټپیان ټول کړل د علي مسجد په کلا یې د توپونو د ګولیو اور بل کړ او کلا یې ورانوله، همداراز په شپه کې یې هره خوا اورونه بل کړل، چې افغان مبارزین د تیارې نه په ګټه اخیستو ونه تښتي او ژوندي یې

ونیسي. لمرخرك د انګرېزانو لازښوونکي کلا ته ورد ننه شول. ګوري چې څو سوي توپونه، تش کارتوس، سوېي کمپلې او لرګي پراته دي. نور هېڅ نه شته. بوازې دکلا تر شاېې یو زخمي بوډا وموند چې په وینو سور پروت دی او یو توپك یې تینګ په لاس کې نیولی. زخمي مجاهد یې سیاسي افسر ته ورووست چې د خپلو پوښتنو غبرګون ورته واخلي. سیاسي افسر اول په پښتو بیا په دري وپوښتل چې ته څوك یې؟ بوډا په خپل لرزېدلي غږ ورته وویل: ته څو زموږ په ژبه خبرې کولای شې. څو غبرګون به له چا واورې؟ انګرېز یې غوږ ته ورنږدې شو، ته څوك یې؟ زه د امیر شیر علي خان سرباز احمد، محمد، عمر یم. ستا چې هر څه زړه غواړي نوم راباندې کېږده.

بیا یې تري وپوښتل نور سربازان چېرې دي؟ هغوی په خپله مخه لاړل. تاسو غوښتل چې موږ ونیسې څو موږ د خپل وطن په لارو بلد یو.

ولې وتښتېدل؟

زموږ ګولۍ او کارتوس خلاص شول. فیض محمد امر وکړ چې توپونه وسېزئ توپك مو درسره واخلئ! موږ بیا هم جنګېږو. ته بې ولې دلته پرېښودې؟ زه خو هسې مرم نو ولې یې له ځان سره کشولم. تو چې مرې توپك دې څه کاوه؟ دا توپك ما ولجه کړی پرون یې ماته ښه خدمت وکړ.

دا مهال بوډا یو ځل بیا خدای(ج) یاد کړ او دسترګو په رپ یې د انګرېز خنجر چې ترځنګ یې خوړند و، واخیست او په سینه کې یې ورښخ کړ. دلته لارښوونکي ور ودانګل. افغان مجاهد یې څو برچې وواهه او پر ځمکه یې پرېیوست.

د لومړی ورځې په خبرو کې څه ناخه ستونزې وې، ترون لاسلیك نه شو. یعقوب خان د خپل استوګنځي په لور وخوځېد. کاونیاري هم تر یوه ځایه ملګرتیا ورسره وکړه. دلته یې په فیض محمد سترګې ولګېدې. ورته یې ویل څوك نه شي کولای چې زړ دې وپېژني. د پښې دې چېرته ده؟ دا کورتۍ او لونګۍ څه معنی لري؟

څنګه چې د کاونیاري خبرو د پېغور بڼه لرله. د فیض محمد غبرګون هم ډېر سوړ و. ورته وې ویل ما په علي مسجد کې وکړی شول د خپلو پلرونو په څېر مقاومت وکړم؟ علي مسجد څو اوس ستاسو په لاس کې دی. نو عسکري جامې ولې واغوندم؟ بیا نو کاونیاري ورته وویل چې نه غواړې په ګندمك کې زما استوګنځی ووینې؟ فیض محمد ورلنډه کړه چې "نه ده" کله چې استوګنځي ته ورسېدل. کاونیاري خبرې پیل کړې چې زموږ او یعقوب خان تر مینځ خبره یوه شوه. جنګ ختم شو اوس تاته د دوستۍ لاس در اوږدوم. امیر محمد یعقوب خان زموږ خبروته غوږ ږدي. زه کولای شم ورته ووایم چې ستاسو په څېر جنګي افسر ته لوړ منصب درکړي.

د فیض محمد ورروستی غبرګون دا و. چې زموږ او تاسې تر مینځ دوستي نه شي کېدی، امیر که ستاسو خبروته غوږ ږدي هغو ته به هم نور خدمت ونه کړم ځکه چې زه دلته نږدې په تیزین کې زېږېدلی یم کله چې تاسو په خپل اول یرغل کې غوښتل زموږ په اوږه سپاره شي زما پلار صمدخان له دوو ورونو سره د وزیر محمد اکبرخان تر څنګ ستاسو جنګ ته در ودانګل. چې بیا شهیدان شول، څو زه یې د جنګ تاوده ډګر ته له ځان سره بونه تلم. څو ما له هماغه مهال نه ستاسو کړه وړه څارل او انګلیسي ژبه موهم زده کړه په دې هم پوهېږم چې تاسو ډېر زور لرئ، څو موږ له خپلې خاورې دفاع کوو، چې تاسو زموږ خاوره تر پښو لاندې کوئ جنګ به دوام لري. دلته کاونیاري په ډېره غوسه ورته وویل: "چې ستا سره دا خیال دی نو بیا ولې راتلې؟" زموږ او امیر خبرې څو په دوستۍ ولاړې دي!"

فیض محمد ورته وویل زه یو سرباز یم څنګه چې په دې ځایونو کې ښه بلد یم، ماته دي نورشاخان امر کړی چې په سفر کې ګډون وکړم. که چېرې ستا دا خبر رښتیا وي چې امیر تاسو سره دوستانه خبرې کوي زموږ جنګ به د داسې امیر ملاتړ ونه کړي.

کاونیاري خپله غوسه وزغمله ورته یې وویل اوس لږ څه ستا په خیال پوه شوم. زما ورروستۍ پوښتنه دا ده چې تا په علي مسجد کې ولې له مرګ نه وژغورلم؟

فیض محمد ورته وویل موږ مسلمانان تقدیر ته غاړه ږدو، هغه مهال ما ویتېیله چې داسې تصادفي مرګ له تا سره نه ښایي "مانا دا چې ستا مرګ په سپین ډګر ښه دی نه په زهرو"

ګوډ بای.

بله ورځ چې له یعقوب خان سره مستوفي حبیب الله خان وردګ او سپهسالار داود شاخان هم ملګري وو د کاونیاري لومړی خبره دا وه:

اعلیحضرته! که څه هم چې موږ انګرېزان د شکایت عادت نه لرو. هر څوك چې بد راسره وکړي پخپله سزا ورکوو. تېره ورځ کپتان فیض محمد نه بوازې ماته سپکې سپورې وکړې ان چې امیر ته یې هم بې احترامي وکړه، نور داسې خلك د منلو وړ نه دي. له عسکرۍ نه دې ګوښه او محاکمه شي.

یعقوب خان ورته وویل فیض محمد یو زړور افسر و. لږ څه مخکې یې خپل د تقاعد غوښتنلیك داود شاخان ته وړاندې کړی او ویاته کړې یې ده چې تر څو ژوندی وم له دښمن سره به جنګېږم. نور نو فیض محمد د تل لپاره له دې ځایه لاړ.

کله چې فیض محمد خان له امیر یعقوب خان نه لاس واخیست، پر خپل اس "باز" سپور او د تیزین خواته یې مخه کړه، په فکرونو او خیالونو کې ډوب و، ځکه له یوې خوا د کاونیاري او یعقوب خان وېره ورسره وه او له بل پلوه د وطن د آزادۍ غم اخیستی و،

نه پوهېده چې کومه خوا لاړشي او څه خاورې په سر باد کړي، څو باز یې په خپل سر روان و. ناڅاپه دا هیله ورته پیدا شوه چې سردار ایوب خان هرڅه لري او په وطن مین دی. دا به ښه وي چې ژر تر ژره د یعقوب خان له کړو خبر شي، ځکه چې هغه د دوست محمد خان لمسی او د غښتلي وزیر اکبرخان د تره زوی دی د دې کار مخه به ونیسي.

دا وخت اس درېدلی و، فیض محمد یوه خوا بله خوا سترګې وغړولې، په خپل باز یې غږ کړ چې جګدلك ته دې راوړم، اوس دلته په شمال کې کار نه لرو تیزین ته روان یو. ته به وایې چې باز د فیض محمد په خبرو پوه شو، کیڼ لور ته وګرځېد. چې د لمر ډوبېدو سره سم خپل زېږنځای "تیزین" ته ورسېد. خپل یوازینی ۱۲ کلن زوی "غفور" یې له ځان سره ونیو د خپلې مور لیدو ته روان شو. د غفور مور په یوه خاورین لوښي کې لږ څه پې او یوه د جوارو روټه ورته راوړه. فیض محمد ورته وویل د خوړو وخت نه شته زه او غفور لږ څه وروسته په اوږده سفر روان یو. د غفور مور په کراره تر ژبه لاندې وویل غفور هم؟ بیا نو فیض محمد د خپلو دوو لورانو مخونه چې په خواږه خوب ویدې وې ښکول کړل، خپلې مور پلو ته چې د دیواله ترڅنګ په یوه شکېدلې کټ او وړین لمڅي پرته وه او د تېلو څراغ ورته لګېده ورغی، غږ یې پرې وکړ ادکې السلام علیکم! څنګه یې؟

زوی جانه عمر مې خوړلی، نور مې د روغتیا پوښتنه مه کوه! شکر چې تا ژوندی وینم.

ادکې دعا دې غواړم خدای پامانۍ ته راغلی یم! زه او غفور لږ څه وروسته لرې ځای ته روان یو.

غفور؟ څو ځلې یې تکرار کړه. غفور هم؟ بیایې لاس په لاس ومو‌ښل. غاښ یې وچیچل او د تېلو د څراغ رڼا هم تته شوه. دیوالونه تیاره شول. فیض محمد ورته وویل چې موږ تنګ وخت راغلی، بایده دې چې له غفور نه یو جګړن او په وطن مین ځوان جوړ شي. مور یې په ټول توان خپله ژړا وزغمله. ویې ویل هغه وخت مې نه هېرېږي چې صمدخان خوار ګوتې ته له ځان سره بوتلې او بیا د تل لپاره لاړ. فیض محمد د مور په لاسو ورپرېووت، مور یې په سر لاس راکېښ او داسې یې ورته وکښل تابه ویل چې د روح او زړه پلې یې ورسره وشکېده. ورته وویل زویه زېره دې په داخو مباشتو کې سپینه شوې، زما عمر تېر دی دا به مو ورروستۍ لیدل وي د پلار غیرت دې له لاسه مه ورکوه، څو غفور لاکوچنی دی خپل نظر پرې ساته.

ګېنته وروسته چې لا تیاره وه دوه سواره "پلار او زوی" له تیزین څخه ووتل. داسې جامې یې واغوستې چې چا نه شو پېژندلای. د خوړو دکې توبرې یې په شا ترلې وې په داسې لار روان شول چې کابل یې د امیر او انګرېزانو له وېرې بېرته پرېښود، په کچه لارو یې خانونه ارغند ته ورسول. بیا یې د هزارجات له لارې

هرات پلو ته مخ کړ. څکه دا لار د غزني، کلات او کندهار د لارې په پرتله نږدې وه او فیض محمد بیړني تګ کاوه، چې ایوب خان ژر تر ژره د انګرېزانو او یعقوب خان له پرېکړې خبر کړي. د هزاره جات په لار کې لوړې ژورې کندوکپرې ډېرې او فیض محمد ته نا آشنا وې. بیاهم په لسمه ورځ د هریرود شاوخوا ته ورسېدل، چې لږ څه وړاندې بادګاه ته نږدې د زړو کلاګانو دېوالونه تر سترګو کېدل، چې د هغه ځای د خلکو په وینا دلته د غوریانو پایتخت و، چې وروسته بیا د غزنویانو له لوري تارو مار شو. بیا نو تیزینیانو وکړې شول خانونه آهنګرانو ته ورسوي. تر هغه وروسته یې د هرات د کرنې په خمکو او باغونو سترګې روښانه شوې او د هرات تنګو کوڅو ته ور دننه شول. غفور له ډېرې ستړیا نږدې و چې خپل توان له لاسه ورکړي. په یوه کاروان سرای کې یې خان ونیو. غفور په یوه زاړه لمخې پرېووت او خوب یوړ. فیض محمد خپل لاس او مخ ومینځل، بیا د فکرونو او سوچونو په نیلي سپور شو.

فیض تر لږ آرام وروسته یوازې د هرات په تنګو کوڅو کې روان و، چې یوه برېتور افسر په اوږه وواهه او په درانه غږ یې ورته وویل چې لعنت په شیطان. لکه چې خدای پاک زموږ غږ واورېد. فیض محمد چې سترګې وروا رولې ویې پېژاند، چې د ده پخوانی د علي مسجد ملګری "مراد حلیم" دی. مراد حلیم ورته وویل ما اول ونه پېژندلې، تا له ځانه څه جوړ کړي؟ زه او ته دواړه چې د کپتانۍ رتبه مو لرله سره بېل شوو، خو زما په خیال چې له تا نه یې منصب اخیستی؟ فیض محمد د خپل راتګ لامل ښکاره کړ او ټوله کیسه یې ورته وکړه.

بله ورځ دواړو د هرات په جامع جوماټ کې سره ولیدل، تر لمانځه وروسته د ایوب خان د لیدو لپاره بالاحصار ته لاړل، چې هلته نظامي تطبیقات کېدل. مراد حلیم د سترګو په رپولو په تور اس سپور خوان ور وښود، چې دا سردار محمد ایوب خان دی. لږ څه وروسته د سربازانو شور او زوږ پورته شو او د تعلیم میدان ته یې ور ودانګل. په لاسو کې یې لرګي او چاکوګان ښکارېدل، ناري یې وهلې چې مړ دې وي حسین علي د غونډ قوماندان. ایوب خان د سترګو په رپ کې خان ور ورساوه، په لوړ غږ یې وپوښتل چې څه شوي؟

یوه سرباز په قهر وویل: تا ته څه ووایم سرداره! موږ نور حسین علي نه غواړو، تنخا نه راکوي، وسله خرڅوي، په سربازانو خپل کور جوړوي. ایوب خان وعده ورکړه چې زه به دا خبر وڅېړم، که رښتیا وه - لرې به یې کړم. دا مهال چې فیض محمد سترګې په سردار ایوب خان کې ښخې کړې وې په لوړ غږ یې ناري کړې چې سردار صاحب پام چې ویې وهلې. ګورې چې یوه ډنګر سرباز د تورې ګوزار پرې وکړ خو سردار خان ترې بچ کړ. سرباز یې ونیو لاس یې تر شا ور وتړل نورو سربازانو غوښتل چې سر یې پرې کړي خو سردار وویل چې نور کار مه پې لرئ، بندي یې کړئ. بیا یې له فیض محمد څخه وپوښتل ته څوک یې چې له مرګه نه دې وژغورلم؟ د دې پوښتنې غبرګون مراد حلیم ورکړ چې سردار صاحب دا زما پخوانی دوست دی له لرې ځای نه راغلی ستا سره ډېر ضروري کار لري. ایوب خان ورته وویل چې ډېر ښه بیا راشئ.

له دې وروسته مراد حلیم او تیزینوال لومړی ګازرګاه ته ورغلل، د یوولسمې پېړۍ د لوی متصوف خواجه عبدالله انصار صاحب مزار ته یې د دعا لاس پورته کړل. بیایې د خدای بښلي امیر دوست محمد خان آرامګاه ته چې څو کاله مخکې په هرات کې وفات شوی و، دعا وکړه.

ماښام خوا نه ایوب خان ته ورغلل، کله چې سره ګوښې شول، د انګرېزانو او یعقوب خان د جوړ جاړي کیسه یې ورته وکړه. ایوب خان د فیض محمد د خبرې په اورېدو وغورځېد، په ډېره غوسه یې ورته وویل: که دې نن سهار له مرګه نه وی ژغورلی اوس به مې ستا او د مراد حلیم سرونه پرې کړي وو. ته پوهېږې چې چا را استولي یئ؟ چې د وروڼو تر مینځ د کینې او کرکې اور بل کړئ. دلته مراد حلیم خبرې پیل کړې چې د فیض محمد پلار د انګرېزانو په لومړي جنګ کې شهید شوی او خپله فیض محمد ستا د پلار وفادار ملګری و. له ډېرو خبرو وروسته فیض محمد وویل چې وخت کم دی ما دلته ایسار کړه نفر واستوه که زما خبر دروغ شوه ومې وژنه که نه وطن د مور حیثیت لري له خرڅولو نه دې وژغورل شي.

ایوب خان امر وکړ چې فیض محمد او غفور وساتئ؛ زه یعقوب خان ته لیک استوم. فیض محمد مننه ترې وکړه، زیاته یې کړه چې سردار صاحب هغه د سرباز حمله تصادفي نه وه د ځان خیال دې ساته! سردار هم د دې خبرې په اورېدو مننه وکړه ویې ویل چې سهار دې ماته ژوند راوباښه خو اوس دې بېرته رانه واخیست.

فیض محمد او غفور به له ایوب خان سره پرېږدو بېرته به ګندمک ته لاړشو.

کله چې انګرېزانو د ګندمک تړون تر لاسه کړ، یعقوب خان له خپلو ملګرو سره د کابل په لور وخوځېد، کاونیاري د هغوی نمانځنه د توپونو په ډزو وکړه، بیا یې په ډېره بېړه خپل وفادار اجنت "جمدار جلال الدین" ته چې په ځېټه افغان و، لارښوونه وکړه: ته یوځل بیا افغان شه او خپلې افغاني جامې واغونده. د یعقوب خان په ډله کې ورګډ شه. خلک ډېر دې څوک دې نه پېژني کلداري هم ډېرې درسره واخله، وګوره چې یعقوب خان څه کوي او د خلکو او سربازانو بدلون او غبرګون څه دي.

(جلال الدین د افغان انګلیس په لومړي جګړه کې د جلال آباد له سیمې نه د دوو کالو په عمر یوه پنجابي افسر یرغمل بوولی و، چې بیا یې نظامي تربیت ورکړ لوی اجنت یې ترې جوړ کړ).

جلال الدین تر ټاکلي وخت ډېر وروسته ګندمک ته ستون او د کمناري مخې ته یې داسې راپور کېښود:

"د ګندمک د تړون خبر په ټول کابل کې خپور او خلکو به ویل چې وطن مو انګرېزانو ونیو، یعقوب خان وطن خرڅ کړ. کابل ته کمناري راځي، په موږ حکومت کوي. یعقوب خان له بالاحصار څخه د باندې نه شي وتی. داهم ویل کېدل چې جنرال محمد جان په غزني کې د جنګ تابیا نیسي. ملا مشک عالم ورسره دی او د یوه فراري کپتان فیض محمد په لټه کې دی، بل دا چې د هرات نه یو لیک یعقوب خان ته راورسېد، ما د یوه تجار په مرسته چې سوغاتونه مې ورکړي وو معلومات ترلاسه کړل چې ایوب خان ورته لیکلي چې له انګرېزانو سره تړون لاسلیک نه کړې، زه د مرستې لپاره سربازان در استوم. دلته کاونیاري له ځایه پاڅېد، وې پوښتل د یعقوب خان غبرګون څه و؟

یعقوب خان هم هرات ته لیک واستاوه، خو ایوب خان ته نه بلکې خپلې مور ته یې ولیکل چې زوی دې "ایوب خان" نوی خوان شوی د تاج او تخت خوبونهویني که یې وخت راغی ښه سزا به ورکړم د تاج پر ځای به ټکری وریه سر کړم. د دې خبرې په اورېدو کاونیاري ته ساه ورغله تندی یې وغوړېده وویل چې ما همدا غوښتل- ډېره مننه.

د ۱۸۷۹ کال د جولای په ۲۴ نېټه کاونیاري د انګرېزانو د فوق العاده او مختار وزیر په دنده کابل ته ورسېد او په بالاحصار کې یې د امیر محمد یعقوب خان د استوګنځي ترڅنګ ځای ونیو. بیا هم جلال الدین څو ورځې وروسته کاونیاري ته راپور ورکړ چې په کابل کې حالات خراب دي خلک د فیض محمد په هکله خبرې کوي چې په شمال کې مبارزین راغونډوي او د ملامشک عالم خبرې کېږي. دلته کاونیاري چې بیا یې دفیض محمد نوم تر غوږ شو جلال الدین ته په قهر شو چې زه د دې خیالي کپتان او د عقل څخه پلي ملا په هکله معلومات لرم خو زما په خیال د محمد جان په نامه کوم جنرال پاڅېدلی.

د ۱۸۷۹ کال د سپتامبر په میاشت کې د حرب (جنګ) وزارت مخ ته په سلهاوو سرتېري راغونډ وو او هر یوه چاقو، لښر او لرګي په لاس کې درلودل، د انګرېزانو او امیر پر ضد یې خبرې کولې. دا مهال په اس سواره دوه جنرالان را ورسېدل، چې مخکې یې سپهسالار داود شاخان او بل د هغه تر شاه روان و. دلته یوه سرباز چې په دې ډله کې یې ګډون نه درلود، له یوه بل سرباز نه وپوښتل چې دا وروستی جنرال څوک دی؟ هغه له ده څخه وپوښتل چې ته څوک یې؟ ما خو مخکې له دې دلته نه یې لیدلی؟ زه هم تا غوندې سرباز یم، له هرات نه راغلی یم ډېره دې سپینه کړې،

خو جنرال کریم خان نه پېژني اوس موږ ته تنخوا راکوي. دلته څو تنو سرباز انو په داود شاه خان برغل وکړ اس يې وتريېد په څمکه ولوېد سربازان پرې ورټول شول چې تنخوا نه راکوي وطن يې خرڅ کو وژنو يې. هماغه وو چې هراتي سرباز د خاورو په يوه ځلي پورته شو په لوړ غږ يې وويل چې وروړنو اوس د دې وخت نه دی، زموږ او ستاسو لومړی دنده دا ده چې انګرېزان وباسو او وطن آزاد کړو، له دوی سره به بيا وروسته حساب وکړو. هماغه وو چې داود شاه خان له ځمکې پاڅېد او هراتي سرباز ته خير شو، بيا يې جنرال کريم خان ته وويل چې که دا هماغه يې درکه فيض محمد ته وي خدای پاك دې ماته جزا راکړي.

بلـه ورځ بيـا د بالاحصـار تـر څنګ سـربازان، دهقانـان، تجاران او ملـي مبـارزين راټول شـوي وو. غوبنتـل يـې چې پـه بالاحصـار ور وخېږي، دا مـهال کاونياري د خپل استوګنځي له تيرکيڼ څخه يو سرباز ولېد چـې پـه دېوال ورختلی او نـورو سـربازانو تـه لارښوونه کوي چې دده په استوګنځي ور وخېږي. ويې پېژاند چې فيض محمد دی- ډټويك ور يې پرې وکړ په لاس ولګېد او ټپکتـه ولـوېد. هماغـه پـاڅون و چـې کاونياري له خپلو ملګرو سره ووژل شو، چې د هغـه د مرګ او د انګرېزانو د وروستي برغل کيسـه د ګوريت د ۶ ګڼې په ۲۸ مخکې د ګرانو لوسـتونکيو مخې تـه پرته ده.

وروسته بيا د ۱۸۸۰ کال په مې کې فيض محمد بېرته هرات ته ورسېد مراد حليم يې هرکلی وکړ، ورته يې وويل چې غفور ډېر درېسي خپه شوی موږ هم دا هيله له لاسه ورکړې وه، چې له تا سره به مو بيا ليدنه وشي. مراد حليم او فيض محمد د ايوب خان ليدو ته ورغلل ايوب خـان پـه فيـض محمـد غږ وکړ چې د کرنيلي يونيفورم واغونده بيا راشه. فيض محمد وويل سردار صاحب زه هسې يو سرباز يم کرنيل نه يم. ايوب خان ور غبرګه کړه چې تېزينيه زه تېروتی نه يم دا رتبه مو ستا ور ګټلې ده.

دا مهال وزير عصمت الله خواجه، مراد حليم او يو بل مشر سرې چې خولې يې پر وروځو اېښې وه ناست وو. ايوب خـان خبرې پيـل کـړې، چـې کرنيـل فـيض محمد خانه له سفر نه دې له ځان سره څه راوړل؟

فيـض محمـد وويـل چـې شـمال پلـو تـه سـردار عبدالرحمن خان راغلی له انګرېزانو سره د جنګ خبرې کوي. خو داسې نه ده خلك تېرباسي او ځان ساتي. ايوب خان ومنله، چې پـه رښتيا همداسې ده. فيـض محمد وويل: ما وراندېز ورتـه وکـړ چـې يـوځای بـه پـه دښمن برغل پيل کړو، خو ويې نه منله. سردار محمد ايـوب خان بيا وپوښت د انګرېزانو حالت څنګه و؟

زما په خيال د عبدالرحمن خان لوبې انګرېزان چې له کابل نه يې د تېښتې تابيا نيوله پر پښو ودرول، څکه هغوی وېرېدل څنګه چې د وزير محمد اکبر خان په جګړه کې تبا شوي وو، بيا به هم ټول ووژل شو، خو له بده مرغه له عبدالرحمن خان سره يې لاړ جوړه کړې خپل تالي څټي يې د والياتو په توګه ټاکلي دي.

دلتـه وزيـر عصـمت الله خواجـه وپوښـتل چـې انګرېزانو په کندهار کې تر ټولو ښه لوبه پيل کړې؟

فيـض محمـد وويـل چـې همداسـې ده، د سـردار صاحب نژدې خپلوانو نه يې يو پهلوان د کندهار والي ټاکلی څه چې انګرېزان ورته وايي په هماغه لاړ څي. ايوب خان دا هم ومنله زياته يې کړه چې هغه زما تره دی زموږ کورنۍ يې د "احمق ملايم" په نامه يادوه.

له دې خبرو وروسته ايوب خان څرګنده کړه چې انګرېزانو زموږ ډېره خاوره تر پښو لاندې کړې، موږ هم سربازان راغونډ کړي او روزلي مو دي، چې وکړلای شو خپل وطن آزاد کړو، همدا راز امين الله خان هم د سـربازانو دوه غونـډه لـه ميمنـې څخـه د ځان سـره راوستي "هغه سرې چې خولې يې پر وروځو پرته وه امين الله خان و.

ايوب خان خپلو خبرو ته دوام ورکړ، وې ويل چې اوس د دې وخت را رسېدلی چې د لښکر لپاره دندې او مشران او د خپل برغل موخه وټاکو.

مراد حليم وويل چې په کابل حمله کوو. فيض محمد ور غبرګه کړه چې په کابل حمله د پولاو خوړل نه دي په تش لاس څه نه شي کېدای. ايوب خان وپوښتل چې ستا خيال څه دی؟ فيـض محمد وويـل چې د اوس لپاره پـه کابل حمله زموږ په ګټه نه ده، څکه چـې لاړ ډېره اوږده اوکټو کېږه ده، زموږ توپونه، سربازان او ملي مبارزين په ټاکلي وخت نه شي رسېدلی، ټول به تباه شي. ښه به دا وي چې لومړی برغل پـه کندهار وشي، کله چې کندهار زموږ لاس ته راشي نو انګرېزان د کابل نه په تېښته دي.

کله چې د دې غونډې له پلوه په کندهار برغل ومنل شو. سردار ايوب خان د مخکښې (پيش قراول) غونډ مشر کرنيل فيـض محمـد او د هغـه ترڅنـګ د اکمالاتي غونډ مشر مراد حليم وټاکل د نورو قوټونو او ميمنې د قواوو مشري ايوب خان او امين الله خان په غاړه واخيسته.

له دې ټاکنو وروسته ايوب خان ټينګار وکړ چې زموږ تګلاره دې ډېره پټه وساتل شي، ان چې داسې خبرونه دې تيت شي چې زموږ مخه تهران، سيستان، مزار شريف، کابل، غزني او کندهار ته ده، چې دښمن د دې غوټې په خلاصون بوخت پاتې شي. او بل دا چې څو کسه دې د ملنګ، سوداګر او مساپر په جامو کې کندهار ته ځان ورسوي، چې د کندهار د والي سربازان زموږ پلو ته وهڅوي چې دا د امين الله خان دنده ده.

د ۱۲۹۷ هجري کال د رجب د مياشتې په لومړۍ نېټه چې د ۱۸۸۰ کال د جون له ۹ نېټې سره سمون خوري د هرات لښکر د کندهار پـه لـور وخوځېدل. د جولای پر ۱۷ نـېټه د فـيض محمـد غونډ ګرشـك تـه ورسـېد او د انګرېزانو لـوا د هېلمنـد نـه د ميونـد او کشك نخود لورته وخوځېده.

د جولای په ۲۱ نېټه په ميوند کې له دواړو لوريو د توپونو اوسپکو وسلو اور بل شو، چې بيا وروسته د انګرېزانو قوټونو پرمختګ او مجاهدين په شاتګ ته اړ شول. ناڅاپه د يوې غونډۍ په څوکه يوې پښتنې نجلۍ خپل پړونی وخوځاوه، په لوړ او سوخوونکي غږ يـې د لنـډۍ پـه ويلـو پيـل وکـړ، دا لنـډۍ نـه وې بوخونده تـوان او غـيرت و، چـې مبارزينوتـه يـې ور وبانښه او جنګ لـه سره پـه افغـاني زړورتيـا پيـل او د انګرېزانو د ماتې سبب وګرځېد چـې پـه اس سـورو جنګياليو غليمـان مختـه واچـول چې پـه تېښتـه يـې خانونه کندهار ته ورسول.

دا مهال په وطن مينو جنګياليو د خپلو شهيدانو او ټپيانو په ټولولو پيل وکړ ګوري چې سردار ايـوب خـان او غفـور د شـهيد فـيض محمـد سـرته ولاړ او اوښکې توېوي. مراد حليم غفـور پـه غېږ کې ونيـو او سردار ايوب خـان امـر وکـړ چـې د غـازي او شـهيد فيض محمـد جنـازه د ميونـد د غونـډۍ پـه څوکـه خاوروته وسپارئ او د انګرېزانو بيرغونـه چې ده راټول کړي وو د مزار د پښو پلو ته يې وارتېروئ.

ايـوب خان خپلې خبرې اوږدې کړې او ويې ويـل چې موږ خپـل شـهيد کرنيـل فـيض محمـد او نـور شهيدان په درنښت خاوروته سپارو، زموږ خلك به د دې اتلانو مېړانه تل په ياد ساتي. غفـور تـه يـې داد ورکړ، که له ما سره پاتې کېږې د کورنۍ يو غړی به مو وې.

له دې وروسته ايوب خان لـه يوه خوان مجاهد نـه وپوښتل چې دا نجلۍ څوك وه، چې د لنډۍ پـه اورولو يې غازيانو ته نوې ساه وروبښله؟ مجاهد څرګنـده کړه چې دا ملالۍ د کشك نخود د يوه آهنګر لور ده، بـل مجاهد غوښتنه وکړه چې دا ډېره په مېړانه وجنګېده د نارينه شهيدانو ترڅنګ يـې خاورو تـه سپارو خـو د هغې لنډۍ لـه مانـه هېره شوه ايوب خـان ووېـل چـې لنډۍ ما واورېده تل ترتله به زما په ياد وي:

که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدای ږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه
ته په ميوند کې ځان شهيد کړه
زه به سور شال ستا په زيارت وغوړومه

هماغـه وه چـې شهيده ملالـی هـم د شـهيد فيـض محمد او نورو شـهيدانو تـر څنـګه خاوروتـه وسـپارل شوه.

انالله و انا اليه راجعون

خو له بده مرغه د مبارزينو درستې کارنامې او سرښندنې سردار عبدالرحمن خان په خپل راتـګ پـه سين لاهو او له خاورو سره خاورې کړې.

يادښت: په دغه ليکنه کې د "شـيپورهای پيـروزی ميوند" څخه استفاده شوې ده.

د سردار محمد داود په جمهوري دوره کې د ښځمنو ښوونې او روزنې عمومي وضعه

محقق ساهره شریف

د سردار محمد داود د جمهوریت دوره چې د ۱۳۵۲ کال د سرطان په ۲۶ نېټه اعلان شوه، تر ۱۳۵۷ پورې یې دوام وکړ. که څه هم د حکومت د طرز له بدلون سره د افغانستان سیاسي څېرې په ظاهره بدلې شوې خو په ماهیت کې د هېواد سیاسي ژوند بیا هم د یوې کورنۍ په لاس کې پرېوت.

کله چې په هېواد کې د شاهي نظام تر رانسکورولو وروسته سردار محمد داود د جمهوریت د موسس په توګه د (افغانستان خلکو ته خطاب) تر عنوان لاندې تاریخي وینا وکړه او د هغې په ترڅ کې یې خپل داخلي او خارجي سیاست اعلان کړ او همدارنګه د افغاني ښځو په اړه یې هم خپل ټولنیز او فرهنګي سیاست په لاندې ډول څرګند کړ: "جمهوري دولت به د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ژوندانه په ټولو برخو کې له نارینه وو سره د افغاني ښځو د برابروالي او حقوقو د تامین په خاطر د لازمو شرایطو برابرولو ته اقدام وکړي. دولت به ټولو ماشومانو- نجونو او هلکانو ته د دولتي ښوونځیو د زیاتوالي او پراختیا له لارې لومړنۍ عمومي او وړیا زده کړې تامین کړي همدارنګه به د عملي کادرونو د روزنې په خاطر د منځنیو او عالي زده کړو زمینې برابرې شي. دولت به د مملکت د مالي حالت د توان له مخې زېږنتونونه، روزنځي او وړکتونونه د میندو او ماشومانو د حمایې او د نوي نسل د سالمې ودې او روزنې لپاره جوړ کاندي."

دغه راز جمهور رئیس د مور د ورځې په ویاړ د یوه پیغام په ترڅ کې د ښوونې او روزنې په برخه کې د میندو او ښځو ونډې داسې څرګندې کړې: "د هېواد د ارتیاوو او د خلکو د ملي او عمومي دندو له غوښتنو سره سم د وطن د اولادونو په روزنه کې د میندو زیاته پاملرنه هغه ستر مسوولیت دی چې میندې یې له خپل عصر او زمان سره سم د اولادونو د روزنې په برخه کې لري."

باید ووایم، چې د جمهور رئیس دغو څرګندونو په راوروسته کې د جمهوري نظام د ۱۳۵۵ کال په اساسي قانون کې قانوني بڼه پیدا کړه. لکه چې د ښځو د ټولنیزو حقوقو په باب د اساسي قانون په ۲۷ ماده کې داسې راغلي دي: "افغانستان ټول خلک، ښځې دي او که نارینه بې له تبعیض او امتیازه د قانون په وړاندې یو شان حقونه او وجیبې لري."

په زړه پورې خو لا دا ده، چې د همدغه قانون د مسودې د څېړنې په کمیسیون کې د هېواد دوو متورو ښځو عالیه حفیظ او فاطمې کیفي هم غړیتوب درلود. د دغه قانون په ۱۰ ماده کې د ښځینه زده کړې په باب راغلي: "د خلکو د خدمت لپاره په اجباري توګه د لومړنیو ښوونو تامین او په وړیا توګه د علمي او فني کادرونو د روزنې او بشپړتیا په منظور د ثانوي، عمومي، مسلکي او عالي زده کړو پراختیا او پرمختیا." که څه هم په ۱۰ ماده کې د ښځو کلمه په څرګنده توګه نه ده راغلې. خو روزنې کلمې او مفهومونه عام دي او ددې مانا ورکوي چې د زده کړې په کړنه کې ښځو او نارینه وو یو شان حقوق لرل.

د یوه هېواد په ښوونه او روزنه کې مثبت بدلون راوستل د مملکت د نورو فعالیتونو په بدلون او چټکتیا کې لومړنۍ بنسټ او شرط دی، ځکه چې ښوونه او روزنه په خپل ذات کې یوازې د یوه هدف په توګه نه، بلکې د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا د وسیلې په توګه هم پېژندل کېږي. له همدې امله د وخت جمهوري دولت د ښوونې او روزنې په ډګر کې د ریفورم بنسټ کېښود چې د هېواد اقتصادي ټولنیزه او فرهنګي پرمختیا ګړندۍ کړي. لکه چې په خپله د وخت رئیس جمهور د دغه ریفورم هدف داسې څرګند کړ: "هدف عمده آن بهتر ساختن کیفیت و کمیت عرفاني، تامین توازن در بین قوای بشري فعال کشور و نیازمندي واقعي آن در رشته های مختلف اقتصادي، اجتماعي و مساعد ساختن زمینه کسب سواد برای همه مردم میباشد."

ښاغلي اختر محمد د یوې مقالې په ترڅ کې د نوموړي ریفورم د ارتیا او موخې په هکله

لیکي: "د معارف په پخواني سیستم کې د هېوادوالو ډېر زیات تمایل د عمومي زده کړو خوا ته اوښتی وچې د استخدام او بشري قواوو د ضیاع او د ټولنې له اړتیاوو سره سم یې په اختصاصي څانګو کې د فني او مسلکي پرسونل د نه موجودیت لویه ستونزه منځ ته راوړې وه، خو د نبکه مرغه د معارف ریفورم د استونزه حل کوي".

څرنګه چې د ښځمنو ښوونه او روزنه د معارف برخه وه، نو ځکه د دغه ریفورم تابع ګڼل کېده او د هغه تر تېغې اغېزې لاندې راغله. په معارف کې د ریفورم عمده ټکي عبارت وو له:

الف- ماشومانو ته تر ښوونځي مخکې د ښوونې او روزنې د زمینې برابرول.

ب- د هېواد او ټولنې له اړتیاوو سره سم د مسلکي او حرفه یي ښوونځیو پراختیا.

ج- د عملي پروګرامونو د اغېزمن تحقیق او زده کړې د بهیر د سم کنټرول او څارنې په منظور د ښوونې او روزنې او د لوړو مسلکي زده کړو وزارتونو بېلول.

د- د ښوونځیو جوړښت له (٦+٣+٣) څخه (٨+٤) ته بدل شو، یانې د لومړنۍ دورې زده کړې اته کاله او ثانوي زده کړې څلور کاله وټاکل شوې. چې د دې ښوونځیو عمده ځانګړتیاوې په لاندې ډول وې:

۱ - له لومړي ټولګي نه تر درېیم ټولګي پورې اصول صنفي وو او زده کوونکیو به له ازموینې پرته ارتقا کوله.

۲ - د فزیک، کیمیا او بیولوژي مضمونونه د یو مضمون (ساینس) په توګه په اوومو او اتمو ټولګیو کې تدریسېدل او یوه ازموینه ترې اخیستل کېده.

۳ - نهم ټولګی د چمتوالي ټولګی و، د دې ټولګي له سرته رسولو څخه وروسته زده کوونکي د ورتیا له مخې پر دوو څانګو (ساینس او اجتماعیاتو) وېشل کېدل او له دولسم ټولګي نه تر خلاصېدو پورې به یې له دغو دوو څانګو څخه یوه پر مخ وړله. د ساینس څانګې زده کوونکي د کانکور ازموینې له تېرولو وروسته د ساینس، طب، انجنیري... او د اجتماعیاتو فارغان د ادبیاتو او بشري علومو، د ښوونې او روزنې، حقوق... په پوهنځیو کې شاملېدل.

۴ - د لومړنۍ دورې (اتم ټولګي) په پای کې له زده کوونکو څخه د کانکور ازموینه اخیستل کېده. ددې ازموینې هدف دا و، چې زده کوونکي د عالي، مسلکي او تخنیکي زده کړو د سرته رسولو لپاره د هغوی د ورتیاوو له مخې ووېشل شي. کوم زده کوونکي چې د کانکور په ازموینه کې پاتې شول هغه وخت د ښوونې او روزنې وزارت ونه کړای شول چې هغوی ته مسلکي ښوونځي او ځانګړي کورسونه پرانیزي او له همدې امله پورته زده کوونکي بې سرنوشته پاتې شول. همدا ډول د ساینس او اجتماعیاتو څانګو د تدریس لپاره د علمي معیارونو له مخې بېلابېل پروګرامونه او کتابونه چمتو نه شول، نو ځکه د ساینس او اجتماعیاتو څانګې یوازې په نوم وې.

اسلام الدین مسلم د ریفورم د ناکامۍ علتونه پر ۱۳۵۵ کال د خپلې یوې مقالې په ترڅ کې داسې بیانوي: "په ښوونځیو کې د حرفه یي زده کړې لپاره د ټاکلي پروګرام د درسي کتابونو، فني او مسلکي ښوونکو او د عملي کار د لوازمو او وسایلو نشتوالی د معارف په حرفه یي برخه کې د بنیادي ریفورم خنډ وګرځېدل. لکه چې وویل شول په ۴- ۶-۵- ۶ ټولګیو کې د حرفه یي زده کړې د ناکامۍ له عواملو څخه یو هم د کاري وسایلو کموالی و، ښوونکو به چې هرڅه تدریسول او یا به یې سرته رسول زده کوونکو ورڅخه څه نه شوای زده کولی له همدې امله وچې د ښوونځیو امرانو د تجارۍ حرفه یوازې او یوازې د مېز او چوکۍ په جوړولو کې محدودوله او په یوه غیر علمي تدریس یې اکتفا کوله. که څه هم چې د معارف ریفورم په ریالي توګه عملي نه شو، خو له خانه سره یې یو شمېر بدلونونه درلودل په دغو بدلونونو کې د لومړنۍ اته کلنې دورې او د ثانوي څلور کلنې دورې جوړول، د ساینس او اجتماعیاتو پر دوو څانګو وېشل، له اتمو ټولګیو نه د ازموینې اخیستل د یو شمېر نویو ښوونځیو او د درسي پروګرامونو جوړول شامل وو.

جمهوري دولت په ۱۳۵۴ کال د بدني روزنې موسسه تاسیس کړه، چې لومړی خل (۱۲۰) نجونې او هلکان په کې شامل شول. په ملالۍ لیسه کې د معارف د نوي ریفورم له مخې د خارجي ژبې (فرانسوي) تدریس له شپږم ټولګي څخه پیل شو او همدارنګه پر ۱۳۵۵ کال د جمهوریت په مسلکي لیسه کې ۶۴۳ نجونې او (۴۵) ښځینه ښوونکې په ښوونه او روزنه لګیا وې او له اتمو ټولګیو نه یې د الماني او انګرېزي ژبې تدریس پیل شو. خو د پکتیا ولایت د عبدالحی ګردېزي په لیسه کې لاتر دې وخته هم یو شمېر نجونو له خپلو وروڼو سره یوځای زده کړې کولې. پر ۱۳۵۶ کال د دغې لیسې په اداره کې د نجونو لپاره په جلا توګه د ۱۱-۱۲ ټولګیو یوه، یوه څانګه جوړه شوه. د میرمنو ټولنې په مسلکي لیسه کې د معارف د ریفورم پر بنسټ درسي پروګرام او تعلیمي نصاب د تدبیر منزل، ساینس او اجتماعیات په نظر کې نیولو سره پلې شو او رشته بندي د زده کوونکو له استعدادونو سره سمې وشوې. د لومړي خل لپاره د ۱۳۵۴ کال په جدي کې د ننګرهار او لغمان د قابلګۍ او نرس له ښوونځي نه لومړۍ ښځینه فارغې د روغتیا وزیر ته ورووپېژندل شوې. همدارنګه د پوهنې وزارت پر ۱۳۵۵ کال د معارف د ریفورم په رڼا کې له بې سوادۍ سره د مبارزې د پلان پر بنسټ وکولای شول، چې د ښځو د زده کړو لپاره (۵۲) کورسونه جوړ کړي او د همدې هدف لپاره (۳۰) مختلف کتابونه او (۲۵) رسالې چاپ کړي.

دلته د یوې خبرې یادونه غواړم او هغه دا چې نجونو له لومړي نه تر شپږم ټولګي پورې او د لوړو زده کړو په دوره کې له هلکانو سره یوځای او په ګډه زده کړې پرمخ بیولې، یوازې له ۷-۱۲ ټولګي پورې سره جلا او په بېلابېلو ښوونځیو کې زده کړې کولې او د معارف د یوه عمومي پروګرام تابع وو، د دولسم ټولګي د فارغېدو او د کانکور له بریالۍ ازموینې وروسته نجونې او هلکان ټول یوځای د هېواد په عالي موسسو کې شاملېدل او د فارغېدو سندونه یې ترلاسه کول. د بېلګې په توګه پر ۱۳۵۵ کال د ښوونکو د روزنې موسسو له ۱۴ - ۱۵ ټولګیو څخه ۱۳۱۸ محصلین فارغ شول، چې (۲۷۶) یې نجونې وې. دغه راز د کابل پوهنتون د احصایې له مخې پر ۱۳۵۵ کال د کانکور ازموینې له تېرونې وروسته (۴۶۶) نجونې د هېواد له ولایاتو څخه او ۴۸۱ نجونې د کابل له لیسو څخه د ساینس او اجتماعیاتو په څانګو کې په کابل پوهنتون، د ښوونکو په موسسو، عامه روغتیا، د زراعت په عالي موسسو او د صنعت د ادارې په انستیتوت کې شاملې شوې او خپلو وروڼو سره یې څنګ په څنګ خپلو لوړو زده کړو ته په بېلابېلو څانګو کې دوام ورکړ.

ددې لپاره چې د عنوان سره سم خپل هدف وڅېړو، نو ان شاء الله په راتلونکې کې به د نوموړې دورې د ښوونې او روزنې په هدفونو، تعلیمي نصاب، اصول او میتود، سازمان او وسایلو باندې مفصلې خبرې وکړو.

استاد عبدالجلیل وجدي

د خبر او نظر نړۍ

موږ اتلان وو، که خبر جوړوونکي؟

له روسانو سره د جهاد په موده کې هر مجاهد افغان فکر کاوه چې له دین، وطن او خپلې ملي آزادۍ څخه د دفاع ډېر لوی رسالت په غاړه لري او یو خل بیا د نورو ملتونو له غاړو څخه د غلامۍ د زنځیرونو د ماتولو په لویه مبارزه کې د مخکښۍ ویاړ ترلاسه کوي، نو ځکه هر یوه ته خپل خان اتل او قهرمان ښکارېده. خو د نړۍ نورو ډول ډول تولنیزو ګروپونو په هغوی ځیني نور ښه یا بد نومونه ایښودل. د نړیوالو لویو خبري آژانسونو له نظره زموږ د هغه وخت تکړه، تر خان او مال تېر مجاهدین تر هرڅه زیات، خبر جوړوونکي (Newsmakers) یا داسې مولدین وو چې تولیدات (خبرونه) یې په تودو بازارونو کې لاس په لاس ګرځېدل. خو ګټه یې د نورو وه.

په ۱۹۸۲م کال کې، هغه وخت چې زموږ جهاد یوې ډېرې تودې مرحلې ته رسېدلی و، پینځو لویو بین المللي خبري آژانسونو (اسوشیېټډ پرس، یونایټډ پرس، رویټر، فرانسپرس او تاس) چې د نړیو صنعتي او تجارتي کمپنیو د اتحاد (Cartels) پوړ ته ختلي وو، د نړۍ په بېلابېلو برخو کې له (۵۰۰) څخه زیاتې نمایندګۍ لرلې. دغو د خبرونو په کاراوبار اخته ادارو په نړۍ کې د (۴۳۱۹) خبریالانو یا نمایندګانو یو لښکر خپور کړی و.

په قلمونو، مایکروفونونو او تلویزیوني کامرو باندې دغه مجهز پوځ د جګړو په تودو ډګرونو کې هم د چریکانو څنګه نیولی و او هره ورځ به یې (۱۷) میلیونه وییونه یا لفظونه لیکل، چاپول او یا به یې په الکترونیکو څپو کې فضا ته سپارل، چې بیا به د نړۍ د خلکو سترګو او غوږونو ته رسول کېدل.

د هغو ډېرو ژورنالستانو په جمله کې چې د افغانستان د حالاتو په باره کې یې ډېر مهم او دراماتیك خبرونه لیکل د نیویارك ټایمز ورځپاڼې خبریال په خاصه توګه د یادونې وړ دی. دغه ۶۲ کلن ژورنالیست په افغانستان کې داسې له تکلیفونو او خطرونو ډك سفرونه کړي دي چې خوانو ژورنالیستانو یې جرات نه شو کولای. ده خپلې ورځپاڼې ته د تازه تازه خبرونو له مخابره کولو نه علاوه د افغانستان د حالاتو په باره کې داسې زیات، په زړه پورې او دراماتیك حالات راتول کړي دي چې لیکوالو ته د ښو فلمي سناریو او رومانونو لیکلو موضوعات په لاس ورکوي. ده خپل دا معلومات د (افغانانو تر مینځ) (Among the Afghans) په نسبتاً پنډ کتاب کې راتول کړي او چاپ کړي دي.

نورو تکړه ژورنالیستانو د بېلابېلو هېوادونو د پوځي مشاورینو او د جاسوسي موسسو د کارکوونکو په څېر غوښتل چې د مجاهدینو په صفونو او کتارونو کې ملګري پیدا کړي. له همدغه امله د جهاد ځینو وتلیو قوماندانانو ته د سپکو او درنو وسلو تر څنګ، د تلویزیون حساسې کامرې هم له یو شمېر کسیټونو سره یوځای ورکول کېدلې.

ځینو تنظیمونو په جهاد کې، د خپلو فعالیتونو د پوره انعکاس لپاره هڅه کوله چې خارجي ژورنالیستان ونازوي چې د دوی په ګټه زیات تبلیغات وکړي. خو ژورنالیستانو د خپلو خپلو مقصدونو لپاره کار کاوه. ویل کېدل (غاړه دې د راوي پنده وي) چې یو تنظیم خاص د دې لپاره چې چریکي عملیات یې د دوی له خوښې سره سم د نړۍ په لویو تلویزیوني شبکو کې انعکاس ومومي نو یې په پکتیا کې بې وخته او بې ضرورته یوه ناڅاپي جګړه پیل کړه. په دې جګړه کې هغه اکتونه یا اکشنونه ډېر وو، چې فلم اخیستونکي زیات خوشاله کولای شي. البته دې ناڅاپي جګړې په ګردېز کې د پوځیانو یوې چونۍ ته سخت زیانونه ورسول خو څرنګه چې مجاهدینو تعرضي حالت درلود نو د دوی تلفات د دښمن د پوځیانو په نسبت زښته زیات وو.

د خبرونو برابرول او وېش (یا عرضه) یو نړیوال کاروبار یا بېزنس دی. لکه څنګه چې د شرق او غرب جنوب او شمال تر مینځ سیاسي سیالۍ شته، هماغسې اقتصادي سیالۍ روانې دي چې د خبرونو د ورکړې راکړې په کاروبار کې هم دا دواړه ډوله سیالۍ موجودې وې او دي.

په اسلامي دنیا کې د تونس د اطلاعاتو

که دا منو چې علم یو طاقت دی، نو دا به هم ضرور منو کوم ملت چې پوهنه زېږوونکي اطلاعات یې په کنترول کې وي، هغه یو ډېر پیاوړی ملت بلل کېدای شي. په دې حساب کمپیوټر او مصنوعي سپوږمیو لوېدیزو هېوادونو ته یو خاص طاقت ښنلی دی. اوس کمپیوټر خپل خان د ټلیفون له لینونو سره نښلولی دی په دې توګه یې د نړیوالو ډېرې خولې ستاسې غوږونو ته او ډېرې صحنې یې ستاسې سترګو ته او که انټرنېټ په نظر کې ونیسو نو کمپیوټرونو خپل پټ او ښکاره نري نري تارونه د انسانانو د عصبي سیستم له بې شمېر نریو نریو رشتو سره تړلي دي. چې دغه تړون او پیوستون د ژورنالیزم په دنیا کې یوه بله پدیده او یوه بله اصطلاح (Cyber Journalism) را پیدا کړې ده.

یو وزیر ښاغلی مصطفی مسرودي د اطلاعاتو په ساحه کې د شرق او غرب بیا د شمال او جنوب تر مینځ په یوه وېروونکې ناانډولۍ پوهېدلی دی. ده لیکلي دي چې د نړۍ په سلو کې اتیا خبرونه د لویو لویدیځو آژانسونو له خوا تولېږي. دا ناانډولي ښېله دا ښیي چې د نړۍ خبرونه د غربیانو د انحصار په منګول کې ورغلي دي. په داسې ډول چې د نړۍ له ځلورو څخه درې برخې خلک د دغو خبري لویو کمپنیو یا کارټلونو په مقابل کې د دفاع وړ دفاعي وسیلې نه لري. د تونس د اطلاعاتو وزیر په وینا د ۱۹۸۲ کال په شاوخوا کې، په سلو کې ۳۵ وروسته پاتې یا پر مختیایي هېوادونو د تلویزیون سټېشنونه، نه درلودل. نو په یوه لویه سیالۍ کې پاتې راغلي وو.

میډیا، نامتو نړیوالې موسسې "یونسکو" ته د اتومي انرژۍ په څېر یو غښت تعمیري او هم تخریبي طاقت په نظر ورغلی دی. دوو تنو څېړونکو رابرټ ایل. سټېون او ریچارد. آر. کول په دې باره کې د یونسکو اندېښنې څرګلې دي او په دې باره کې یې د یونسکو د څو غونډو نتیجې تر ارزیابۍ لاندې نیولې دي. دوی لیکلي چې غرب د دوو لویو ذریعو په مرسته د خبر نړۍ تر خپل کنټرول او نفوذ لاندې راوستلې ده. یوه ذریعه یې د خبر د وړاندې کولو (عرضې) کامیاب سیستم دی، چې د لویو لویدیځو خبري آژانسونو خدمتونه یې د منلو او ستاینې وړ ګرځولي دي. بله ذریعه یې هغه تخنیکي آسانتیاوې دي چې غرب یې په سیالۍ کې له نورو څخه مخکې کړی دی.

په ۱۹۷۱م کال کې اسوشیېټډ پریس د یو اټکل له مخه ولیکل چې له امریکې څخه د باندې هم یو بلیون خلک د همدغه لوی خبري آژانس له خوا برابر شوي خبرونه لولي او یا یې اوري، همدارنګه د ویس نیوز (Vis news) موسسه چې په ۱۹۷۵م کال کې رویټر او بي. بي. سي په ګډه جوړه کړې ده، د یوې ادعا له مخې د نړۍ د ټولو تلویزیونو لپاره خبري فلمونه برابروي، یعنې دا چې د نړۍ ټول تلویزیونونه اړ کېږي چې د هغې لږ یا ډېر مستند خبري فلمونه واخلي او خپاره یې کړي. په دې توګه غربي اطلاعاتي په تېره انګرېزي- امریکایي موسسو (Englo-American Organizations) د خبرونو د بهیر بندونه او وېالې جوړې کړې او هغه یې په خپل انحصار کې راوستلې دي.

دې حالاتو لویدیزې نړۍ په تېره د امریکې لپاره، په نورو هېوادو کې د فرهنګي نفوذ لپاره امکانات ډېر کړي دي. د برتانیې یو لنګویسټ (ژبپوهاند) جارج ستېنر فکر کوي چې د سبا نړیواله ژبه همدا اوس زېږېدلې ده او هغه امریکایي انګرېزي ژبه ده چې ټول نوي اجتماعي فرهنګي او اقتصادي ارزښتونه به بیان کړي.

که دا منو چې علم یو طاقت دی، نو دا به هم ضرور منو کوم ملت چې پوهنه زېږوونکي اطلاعات یې په کنټرول کې وي، هغه یو ډېر پیاوړی ملت بلل کېدای شي. په دې حساب کمپیوټر او مصنوعي سپوږمیو لویدیزو هېوادونو ته یو خاص طاقت ښښلی دی. اوس کمپیوټر خپل خان د ټلیفون له لینونو سره نښلولی دی په دې توګه یې د نړیوالو ډېرې خولسې ستاسې غوږونو ته او ډېرې صحنې یې ستاسې سترګو ته او که انټرنېټ په نظر کې ونیسو نو کمپیوټرونو خپل پټ او ښکاره نري نري تارونه د انسانانو د عصبي سیستم له بې شمېر نریو نریو رشتو سره نښلي دي. چې دغه تړون او پیوستون د ژورنالیزم په دنیا کې یوه بله پدیده او یوه بله اصطلاح (Cyber Journalism) را پیدا کړې ده.

د مصنوعي سپوږمیو له لارې د اطلاعاتو بارانونو او توپانونو او د انټرنېټ له لارې د پروپاګندو او خبرونو هجوم د دریېمې نړۍ د هېوادونو د ملي حاکمیت پولې ورانې کړې دي او د نړۍ د دې برخې د ملتونو او خلکو د اسرارو د خوندي ساتلو امکانات له منځه تللي او دا دی د دوی په ډېرو خصوصي حالاتو او مسائلو باندې هم تجارتونه روان دي. لویدیزه میډیا چې د دریېمې نړۍ په فضا کې یې معلوم او نامعلوم جالونه غوړولي دي، د نړۍ د دې برخې د هېوادونو د ژوندانه بد بد اړخونه ښیي او په مثبتو کارونو او خویونو یې سترګې پټوي.

د کالیفورنیا د پوهنتون یو استاد هربرټ سکیلر او دده نور ملګري چې له غرب نه اوښتي کاږه نظریات لري، فکر کوي چې لویدیز د ډله ییزې مفاهمې وسایل، غربي کلچر او د اطلاعاتو سیستمونه یې چې په نوره نړۍ باندې کوم نفوذ لري هغه د نوي کلچري امپریالیزم مختلف اړخونه دي چې په ۱۹ پېړۍ کې د اروپایي کلاسیک امپریالیزم او له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د امریکې د سیاسي او نظامي لوړتیا غوښتنې ځای

نیسي.

نو "د اطلاعاتو د آزاد بهیر" په باره کې لویدیزه نظریه د غرب د فرهنګي واکمنۍ معنی هم لري.

یو برتانوي ټولنپوهاند ټون ستهال چې د معتدل نظر خاوند دی، خبرونو او هم پاپ موسیقي او کلچر ته د تجارتي مالونو په سترګه ګوري او وایي چې په دریېمه نړۍ کې داسې هېوادونه هم شته چې لویدیزه ولسواکي په خپل قد او اندام برابره نه بولي خو بي. بي. سي ته غوږ نیول یا د نیویارک ټایمز لوستل ورته ډېر اهمیت لري.

هوا له غرب څخه د اطلاعاتو د آزاد باد چلېدل، په خپل بهیر کې د لیرو پرتو قارو کلچري ټوکي که زموږ خوښ وي او که نه، د خلو خخلو په څېر یا د نظر فریبه شیانو په بڼه ورسره راوړي. زموږ د خلکو اکثریت غربي کلچر نه خوښوي، خو د مجبوریت له مخه، غربي راډیوګانو ته غوږ نیسي او هغه کسان چې په خارجي ژبو پوهېږي د دوی ورخپاڼې لولي. په دې توګه، زره نازره د غربي کلچر په مخ د خپلو زړونو او دماغونو ورونه پرانیزي. دا هغه ټکی دی چې د شرق په تېره بیا د اسلامي نړۍ پوهان، سیاست پوهان او ژورنالیستان فکر کولو او تصمیم نیولو ته رابولي.

لویدیز ژورنالیستان ټل دا لاپې شاپې کوي چې د دوی د خبرونو لیکلو ستایل مسلکي دی او د وړاندې کولو طریقه یې غوره ده او ادعا کوي چې په خبرونو کې د حقایقو انډول ساتي.

نړیوالې علمي موسسې هم، پخوا د اطلاعاتو نوي نړیوال نظام ته د غرب په سترګو کتل، خو د اطلاعاتو په ساحه کې یې د داسې یو نظام غوښتنه کوله چې خبرونه هم په کې د اقتصادي سرچینو په څېر، د عادلانه وېش اساس ولري. دې نړیوالې موسسې د خبرونو د تهیې او وېش د سیستم په اړه ځلور کنفرانسونه جوړ کړي دي. دلته یې دوه، ددې موضوع په اړه، د یادونې وړ دي چې یو یې د پاریس کنفرانس او بل یې د بلګراد کنفرانس دی.

د پاریس په کنفرانس کې چې په ۱۹۷۸ کې جوړ شوی و، د مطبوعاتو د آزادۍ د اصل په تصویبولو سره د اطلاعاتو په اړه د غرب عنعنوي ارزښتونه تایید کړل شول. داسې چې د غربي میډیا ځینو استعماري اړخونو ته هېڅ ګوته ونه نیول شوه. خو په بلګراد کې د یونسکو د یو بل لوی کنفرانس د پرېکړې په محتوی کې یو بدلون راغی. په دې پرېکړه کې چې په ۱۹۸۰م کې وشوه د "آزاد" تر څنګ د "متوازن" قید هم ولګول شو. همدغه د متوازن قید دی چې اطلاعات له پروپاګنډي حالت څخه وباسي. په دې توګه د "اطلاعاتو آزاد او متوازن نړیوال بهیر" په باره کې د یونسکو د لوی مدیر وړاندیز یا تجویز ته "هوکې" وویل شو. د اطلاعاتو د آزاد او انډولیز بهیر هدف ته د رسېدو لپاره یو کمیسیون چې د کمیسیون د مشر

ملك برید (Mac Brid) په نوم یادېږي وټاکل شو. کمیسیون ډېره هڅه وکړه چې د ډله ییزي مفاهمې په باره کې ډول ډول نظریې یا فلسفې یوه له بله سره پخلا کړي. د کمیسیون رپوټ چې د "یوه نړۍ او ډېر غږونه" په نامه خپور شو، په رنګ او خوند کې خو ښه و، مګر په یونسکو کې د راغونډو شویو هیئتونو لوړه او تنده یې پوره نه شوه ماتولای. سره له دې هم د بلګراد کنفرانس په یونسکو کې دننه د یو انستیټیوټ بنسټ کېښود. دا انستیټیوټ کار دا و چې د ډله ییزې مفاهمې د موسساتو تر مینځ هماهنګي راولي. او د اطلاعاتو د آزاد او متوازن بهیر مخه د یونسکو د موخې په لوري سمه کړي. خو د ګټو او هدفونو ټکر دغه هم آهنګي روغه او رښتیا پرې نښودله او سیاسي موضوعاتو د بلګراد فیصلې بشپړې کامیابۍ ته پرې نښودلې او د اطلاعاتو په برابرونه او وېشنه باندې د لویدیزې نړۍ په کنترول کې د کمښت نښې نښانې نه لیدلې کېږي.

تر دې ځایه پورې به محترمو لوستونکو ته دا اندازه لګېدلې وي چې د اطلاعاتو آزاد بهیر د ډېرو نورو تجارتي فعالیتونو په توګه د لویدیزې نړۍ د ګټو وټو د سیالیو په بهیر کې روان و. افغانستان هم د سیالیو د دغه بهیر په څنډه کې پاتې شوی نه و، بهیر زموږ په هېواد کې د بربوکۍ په څېر دوراني حرکتونه راپیدا کړي وو. دا داسې یو توپان و چې د پښتنو دوړې زموږ سترګو ته ځکه خو د میډیا شورماشور او د مطبوعاتو شنل شویو پانو او تورو موږ د خپل هېواد د پښتنو له اصلي ماهیت څخه خبرولی نه شوای.

د کمیت په لحاظ زموږ په هېواد کې د میډیا سیالي ډېره په مخ کې روانه شوه. د جهاد په لسیزه کې د هغې چاپي او برېښنایي پدیدو ډېره ګړندۍ وده کړې وه یوازې په لسو کلونو کې د نویو راوتلو جریدو او مجلو شمېر له (۳۰۰) څخه زیات شو. د افغانستان پخوانیو مطبوعاتو چې (۱۳۲) کلونو اوږده لاره وهلې وه د جهاد د لسیزې خپرونو هغه په لسو کلونو کې راننده کړ، بلکې ګامونه یې تر دې هم چابك وو.

همدې سیالیو د تلویزیون په ساحه کې هم ډېر ښېړنې او ګړندي ګامونه زموږ د سترګو په وړاندې تېر کړل. د سیالۍ انګېزه وه چې جاپان ته د ثور د کودتا نه دمخه، افغانستان ته یوه ډېره ماډرنه تلویزیوني دستګاه چې هغه وخت یې په سیمه کې ساری نه درلود، بښلې وه.

هغه وخت په اروپا کې د "اېرووژن" او په سوسیالیستي کمپ کې د "انټرووژن" په نومونو د پراخو تلویزیوني شبکو شتوالی په جاپان باندې د سیالۍ تبه راوستلې وه او هڅه یې کوله چې د "ایژیا وژن" په نامه د آسیا د جنوب او جنوب شرق لپاره یوه پراخه تلویزیوني شبکه وغځوي چې په افغانستان کې د یوې ماډرنې دستګاه موجودیت له دې هدف سره ښه مرسته کولای شوه. بله خبره دا ده چې که د تلویزیون سېټونه نه وي، نو د تلویزیون دستګاه بې اغېزې یوه تخنیکي پدیده ګرځي. نو خلك مجبور دي چې له خپلې دستګاه څخه د استفادې کولو لپاره تلویزیونونه واخلي، په دې صورت کې د جاپان د تلویزیوني سېټونو د خرڅلاو لپاره ښه بازار پیدا کېږي، همدا سبب دی چې جاپان وکولای شول په افغانستان کې د تلویزیون د دستګاه په جوړېدو سره زموږ هېواد ته ډېر زیات تلویزیوني سېټونه راوارد کړي.

په کابل کې د "شمشاد" په نامه د شوروي اتحاد له خوا د یوې لویې او ډېرې مجهزې دستګاه په جوړېدو سره شوروي هم په دې سیالۍ کې ډېر وړاندې ګامونه واخیستل. لکه چې د دې لړ مضامینو په یوه بله برخه کې یې هم یادونه شوې ده. د شمشاد دستګاه کولای شول چې د ایران او پاکستان په سرحدي سیمو کې د دغو هېوادونو د تلویزیوني خپرونو مخه ونیسي او په مقابل کې یې د کابل د تلویزیون خپرونې د نړۍ ډېرو لیرو پرتو هېوادونو ته ورسوي.

په هر حال د جهاد په لسیزه کې افغانستان ته د ډله ییزې مفاهمې د وسیلو ډېر ګړندی راتګ او زموږ په هېواد کې د چاپي او برقي خپرونو ډېربښت په سیمه او نړۍ کې لویې هنګامې جوړې کړې وې. هره ورځ به په میلیونونو ویېونه یا کلمات، ډول ډول تصویرونه او غږونه د جنګ او جګړو د ګولیو په څېر تبادله کېدل خو اغېزې یې، زموږ لپاره په غوږو لوښیو د اوبو د رغړېدو نه زیاتې نه وې. دې ټولو پېښو او له هغو سره اړوندو خپرونو په عمده توګه دوه شیان موږ ته ښښلي وو هغه دا وو چې موږ خپل خانونه قهرمانان بلل او نورو راته د خبر جوړوونکو په نظر کتل.

> **که دا منو چې علم یو طاقت دی، نو دا به هم ضرور منو کوم ملت چې پوهنه زېږوونکي اطلاعات یې په کنترول کې وي، هغه یو ډېر پیاوړی ملت بلل کېدای شي. په دې حساب کمپیوټر او مصنوعي سپوږمیو لویدیزو هېوادونو ته یو خاص طاقت بښلی دی. اوس کمپیوټر خپل ځان د تلیفون له لینونو سره نښلولی دی په دې توګه یې د نړیوالو ډېرې خولې ستاسې غوږونو ته او ډېرې صحنې یې ستاسې سترګو ته او که انټرنېټ په نظر کې ونیسو نو کمپیوټرونو خپل پټ او ښکاره نړې نړې تارونه د انسانانو د عصبي سیستم له بې شمېر نړیو نړیو رشتو سره تړلي دي چې دغه تړون او پیوستون د ژورنالیزم په دنیا کې یوه بله پدیده او یوه بله اصطلاح (Cyber Journalism) را پیدا کړې ده.**

Notes

1- Foreign news flow and the UNESCO debatle A Paper preserded to meeting of the international studies association Los Angeles march 1980. By Robert L. Stevenson and Rechard Rccole.

2- The media are American, Columbia university. 1977

3- the coining universal languid "Atlas" world prose Review, October 1979.

4- Computer systems: power for whom and for what? Journal of comunication PP. 28. 185- 93. (1978) Quoting Harvard university.

5- Mass communication and American Empire by Herbest Schiller (Boston: Becan press, 1971)

۶- د ډله ییزې مفاهمې د مقالو په مجموعه کې د پوهاند هاله او شهرت ننګیال مقالې.

سپين غر

يو سين ستونزې او نابلده لامبوزن

د افغانستان دننه او د هغه په شاوخوا کې منځ ته راغلې پرمختياوې او وروستي واقعيتونه ددې ښکارندوی دي چې هېواد مو په رښتيا ډېرې ستونزمنې او تاريخي شېبې يو پر بل پسې تېروي او د سترو پېښو په نامعلومو ګرځوبونو (ګردابونو) کې د ژغورنې لامبو وهي.

منځ ته راغلې حالت او ستونزې که له يوې خوا د نړيوالو او سيمه ييزو شرايطو زېږنده او پايله ده، له بلې خوا د "نابلده لامبوزنو" پړه هم په کې خپل تاکلی ځای او رول لري.

لکه چې څرګنده ده، طالب چارواکو چې ليا تر اوسه په هېواد کې د پوره امن د راوستلو او مرکزي دولت د ټينګولو پر دندو په بشپړه توګه نه دي بريالي شوي، په خپلو بې سارو تېروتنو او ناسنجول شوو ګامونو يې هېواد له بېلابېلو بهرنيو ګواښونو او لانسوهنو سره مخامخ کړی دی:

۱- د هېواد د نويو واکمنو د تېروتنو په لړ کې يوه د عربي ښمن بن لادن ساتل او د هغه بې ارتيا نازول دي، چې له دې امله زموږ هېواد له بده مرغه د تروريست ساتونکو دولتونو په ډله کې راغی. طالبانو پر خپل دې کار نه يوازې زموږ خاوره د امريکا د توغنديو او دول دول بهرنيو بريدونو او نيوکو ډګر وګرځوله، بلکې له خپل دوست هېواد سعودي عربستان سره د خپلې په رسميت پېژندنې لاس ته راوړنه يې هم وبايلله.

۲- بله خبره د طالب واکمنو له خوا زموږ په خاوره کې د کشمير او نورو پاکستان او ... پلوه باغيانو لپاره د تروريستي روزنې د پنډغالو (کمپونو) جوړولو ته د اجازې ورکول دي، چې په دې توګه دوی نه يوازې زموږ هېواد د تروريستانو د روزنې پر اډې اړوي، بلکې هند او څينو نورو دولتونو ته د لاسوهنو لپاره پلمې هم په لاس ورکوي.

۳- طالبانو ته د افغانستان د واکمنو په توګه په کار نه ده چې په خپلو احساساتي او ناسنجول شوو کړنو د هېواد ملي ګټې او ملي امنيت د ګاونډيانو له خوا د ګواښ او خطر موخه وګرځوي. په دې اړه د طالبانو هغه تېروتنه په تېره د يادونې وړ ده چې له ايران سره د ژور تاوتريخوالي سبب شوه. که د نړيوالې ټولنې او څينو نورو هېوادونو سياسي زور او منځګړيتوب نه وای، اوس به مو جګړه ځپلی هېواد د پرديو په لمسون د يوې بلې خونړۍ جګړې ډګر وای.

دا سمه ده چې ايراني واکمن په افغانستان کې د وروستيو پرمختياوو د ليدلو سترګې نه لري او نه هم موږ د هېواد په کورنيو چارو کې د هغوی پوځي، سياسي لاسوهنې له چا نه پټې دي. آن تر دې چې له سيمې نه د ځينو راستنو شوو افغانانو او ايرانيانو په وينا هغه هېواد همدا اوس هم د افغانستان پولو ته څېرمه پر خپلو پوځونو برسېره ګڼ شمېر افغاني اجيران را پنډ کړي، چې زموږ د هېواد پر خلاف د بېلو بېلو ناوړه موخو لپاره ورڅخه ګټه واخلي.

خو د دې ټولو ټکو له په پام نيولو سره سره، د هېواد روان سياسي، پوځي حالت او ملي کړکېچ، هغه هم په داسې شرايطو کې چې له شانه د ګوزار کوونکو خطر ليا په بشپړه توګه له منځه نه دی تللی او په افغانستان کې ملي، مرکزي دولت ټينګښت نه دی موندلی. له افغان واکمنو څخه د دې غوښتنه کوي چې له خپلو ګاونډيانو سره په چلند او اړيکو کې ډېر ورانديې ليدونکي او حساس اوسي او هغو ته د ټېرې او لاسوهنو لپاره پلمې په لاس ورنه کړي.

زما په اند په هېواد کې د ښځو له حقوقو نه پر سرغړونو او نورو معلومو نيمګړتياوو سربېره پورتنۍ تېروتنې يو له هغو لاملونو څخه وې او دي چې د طالبانو اسلامي امارت يې په نړيواله کچه د په رسميت نه پېژندل کېدو په برخه کې په خپل بهرنۍ سياست کې پاتې راوست.

۴- د ډېرې حيرانتيا ځای دی چې طالبانو، په داسې حال کې چې په افغانستان کې د مرکزي دولت د بيا راژوندي کولو ادعا لري، پخپله يې په وروسته پاتې ګڼ توکميزه هېوادونو کې د مرکزي دولتونو د جوړښت د نورمونو پر خلاف په هېواد کې د واک او سياسي اداري دوه مرکزونه جوړ کړي دي.

دې کار سربېره پر دې چې همدا نن يې د خلکو لپاره اداري او کړنيزې (اجراييوي) ستونزې رامنځ ته کړي، سبا يې هم تياره او له اندېښنې نه ډکه ښکاري. څکه د هېواد نامعلوم حالات کېدای شي پر داسې ناداوړمن لورې وده وکړي، چې دا دارې په يوه مرکزي کې "سخت دريځه" او په بل دا کې يې "منځلارې" پښې ټينګې او نوو سرلوبو او تريکنيو ته لاره اواره کړي. سربېره پردې، د دې کار يو بل اندېښناک اړخ دا هم دی چې له نورو قامونو پرته پخپله په پښتنو کې هم د مرکزيت او سنټراليزم روحيه کمزورې کوي او هغوی پر جلا جلا ټغرونو باندې پر کېناستو او راټولېدو روږدي کوي. (ښايي د دې کار يوه پټه موخه به دا هم وي چې د افغانانو پام ورو ورو او په نامانوسه توګه د هغوی له تاريخي ژمنې پلازمېنې نه بلې خواته واړوي.)

۵- سربېره پردې زموږ ځينې ګاونډيان په لوی لاس هڅه کوي او طالب چارواکي دې ته لمسوي چې په ټول هېواد او په تېره د هغه په ځينو مهمو او حساسو سرحدي ولايتونو کې د زده کړې او اقتصادي، کلتوري ودې او پرمختيا مخه ونيسي او هغه له خپلو سرحدي سيمو نه څو غلې وروسته وساتي. څرګنده ده چې دا کار د هېواد د ودې له هغې ستراتيژيکې کړنلارې سره بشپړ اختلاف او توپير لري چې د افغانستان ملي دولتونو يې د تېرې نيمې پېړۍ په ترڅ کې پر پلې کولو ځانګړې ټينګار کاوه.

زما په ليد دغه تېروتنې او بې غوری له دې امله ليا د ډېرې اندېښنې وړ دي، چې د افغانستان اوسني "اميران" د خپلو نه منې او په خپله له دوبيدو نه د هېواد د ژغورنې په لار کې ليا له يوه سين ستونزو سره مخ دي.

د مقاومت مطبوعاتو ته انتقادي کتنه



توري په تله کې

شهرت ننګيال

لکه دمخه مو چې وويل تنظيمي مطبوعات د حزب او جمعيت د مهالنيو خپرونو (شهادت- مجاهد) په نومونو راڅرګند شوي- دغه دواړه تنظيمونه له فکري او ايډيولوژيك اړخه د يوه غورځنګ بېلې شوې ولې دي. چې نه سليقوي او ذوقي توپيرونو پرته يې د يوه شعار او ګډې سياسي او فکري کرښې له مخې د سوچه اسلامي مبارزې او اسلامي انقلاب د راوستو ادعا کوله دوی د اخوان المسلمين د نړيوال غورځنګ په ليکه د مبارزې انقلابي سنګر تود ساته، ځکه خو په افغانستان کې د اخوانيانو په نامه پېژندل کېږي- د دواړو ډلو په مطبوعاتو کې د نړيوال اخوانيت د فکري ليکې اغېزې ليدل کېږي، د اخوان المسلمين د بنسټګرو. مخکښانو او نوميالیو د آثارو او ليکنو ژباړه د دغو مطبوعاتو جوت لوری ګڼل کېده او په ادبي او مطبوعاتي فعاليتونو کې يې ددغه سياسي جريان (سياسي اسلام) انقلابي اصطلاحات. تکيې او مفاهيم کارول او د پورتنيو مشاهيرو د آثارو او ليکنو ژباړه يې مغز متفکر ګڼل کېده.

بې له دې چې ددغو نوميالیو د مبارزې شرايط او حالات د هغه وخت سياسي، اقتصادي او ټولنيز مناسبات او د هغه ټولنې ارزښتي او عنعنوي جوړښت د افغانانو د مزاج. روحياتو. ملي او دوديزې ځانګړنې، سيمه ييز موقعيت او ملي جوړښت په پام کې ونيول شي داسې يې انګيرله چې دغو نوميالیو چې د مصر، لبنان. سورېې. ايران او پاکستان، د سياسي حالاتو، ټولنيزو مناسباتو او روحيې له مخې څه ويلي او وړاندې کړې هغه د کاڼي کرښه ده- په افغانستان او افغانانو هم د تطبيق وړ دي. تر دې چې که د بحث پر وخت به چا په غلطه هم د دغو مشاهيرو وينا لېږد (نقل قول) او ماخذ ورکړ چا ورسره مخالفت نه شو کولای.

درې کاله دمخه د جماعت اسلامي مشر قاضي حسين احمد په ډاګه وويل: موږ "جماعت" د مولانا مودودي له خوا په جوړ شوي چوکاټ کې نه شو پسې رولی- وخت او شرايط بدلون مومي، د مولانا مودودي ليکنې او ويناوې د کاڼي کرښې نه دي. ان چې د مودودي په ژوند هم مولينا ګوهر الرحمن دده پر ليکنو او نظرياتو نيوکه کړې وه د دغو نوميالیو له آثارو او نظرياتو د ګټې اخيستو خبره پر ځای، خو له يوې مخې د هغو کاپي او د خپلې ټولنې ولس او مبارزې لپاره د يوازيني مرجع په توګه پېژندل او وړاندې کول پرځيل ځای يوه ستره تېروتنه ده چې اوس يې بېلابېل ابعاد سړي ته نور هم ځرګند يدلای شي

د دې خبرې يو بل مثال سړی له ويش نه مخکې د هندوستان په اړه راوړی شي، په هندوستان کې ګاندي جي د آزادۍ مبارزه په عدم تشدد اعلان کړه. دوی د انګرېزي مالونو د نه پېرنې او کارونې خوځښت پيل کړ او د خشونت او تشدد لاره يې وغندله.

پاچا خان چې د ګاندي له نژدې ملګرو او د کانګرس له فعالو او مخکښو مشرانو څخه و او د عدم تشدد د شعار او فلسفې تبليغ او پلويونی ګڼل کېده، دی ونه توانېده په پښتونخوا کې مبارزين او آزادي غوښتونکي دعدم تشدد پاليسي او فلسفې منلو ته اړ کړي. له همدې ځايه وه چې په پښتونخوا کې د بابړې او کيسه خوانۍ په څېر ډېرې داسې پېښې رامنځ ته شوې چې د عدم تشدد له پاليسي او فلسفې سره يې اړخ نه لګاوه په لنډو ټکو د عدم تشدد پاليسي او فلسفه د هندي ټولنې د ذهني، فکري او ټولنيز جوړښت او دوديزو ارزښتونو له مخې د تطبيق وړ وه، چې د پښتنو په اړه د هغوی د ملي او فکري ځانګړنو له مخې له ناکامۍ سره مخامخ شوه.

خو د هغه وخت ذهنيت داسې و چې د دغو شخصيتونو آثار او نظريات په ټوله معنا سپېڅلي منلي، د تطبيق او تقليد وړ دي.

ددغو مشاهيرو يو زيات شمېر آثار چې په فارسي ترجمه او په ايران کې خپاره شوي وو له سره چاپ شول- تر دې چې ځينې آثار چې د پښتونخوا په لهجه سره ژباړل شوي وو په معياري او دافغانستان په پښتو وژباړل شول.

ددغسې آثارو ژباړه او خپراوی د هغه مهال د ذهنيت له مخې د جهاد تقوی او تحريکي اخلاص پاخه اسناد ګڼل کېدل. د دغسې آثارو د ژباړې له لارې ليکوال د رابطه العالم اسلامي، دارالافتا او داسې نورو ادارو له امتيازي معاشونو او لورېينو برخمن کېدل

ځينې ليکوال چې د وخت او حالاتو په نبض يې سر خلاص و، د دغسې آثارو په ژباړنه نه دا چې له ډېرو تورونو او پېغورونو يې ځانونه خلاص کړ، بلکې له واکمنو سره يې د تقرب دريځ هم غښتلی کړای شو.

داسې نور ډېر مثالونه شته چې د مصر، سورېې. لبنان او نورو عربي او اسلامي هېوادونو د اخوان المسلمين ګوند د مخکښانو سياسي او نظرياتي آثارو د خوانانو په ليکو او ذهنونو کې د فکري او نظرياتي کشمکش ځينې رابوړنه کړې. دغه آثار، د هغو مطالعه او پر ليکنو يې استدلال او استناد د روښنفکرۍ او سياسي بصيرت د ثبوت په توګه کارېدل- پر دغو آثارو دومره تکيه کېده چې د يوه موج په توګه يې زموږ د خوانانو د خيال او فکر بېړۍ توپاني کړې وه.

خو د ديني زدکړې په اړه د فقهې، احاديثو او نورو بنوونيزه کتابونو د ژباړې په اړه چې له ديني احکامو او شريعت نه د ځوانانو په بنوونه او روزنه ترې ګټه واخيستل شي کوم ګام پورته نه شو. د ژباړې لړۍ يوازې د سياسي اسلامي کتابونو تر کچې وه، د ساري په توګه د معتبرو تفسيرونو او احاديثو د کتابونو کومه ژباړه رامنځې ته نه شوه. د فقهې او بنوونيزه ديني کتابونو لړۍ ونه غځېده له ډېرو مالي امکاناتو سره د افغانستان د ملي

تاریخ او ملي ویاړنو خواته پاملرنه ونه شوه. د افغانستان، افغان او نورو تاریخي پېښو په اړه کوم څېړنیز اثر خپور نه شو. ددغه وخت په آثارو کې د افغانستان په تېرو واکمنو بې توپیره د روسي او پیرنګي د لاس پوځیتوب تورونه ولګول شول او له جهاد نه دمخه، د هېواد تاریخ او تاریخي ارزښتونه د تعصب تر دوړو او لوخړو لاندې پټ کړای شول. د ساري په توګه د اووګوني اتحاد د اوج او موج په شپو ورځو کې په "وحدت اسلامي" کې د علامه اقبال (ملت افغان در آن پیکر دل است" شعر، خطاط داسې لیکلې وو چې افغان یې د ملت له پاسه کېښلی و که څه هم د علامه اقبال هغه مشهور شعر د یوې څلوریزې په بڼه بشپړ چاپ شوی خو مطبوعاتي چارواکو د دغه حساسیت له مخې چې څوك یې "افغان ملت" ونه لولي خپرونه مصادره کړه.

په دې توګه په لوی لاس په ولس کې د ملي روحیې او احساس د خپلو او کمزوري کولو هڅه پیل شوه. دغې خبرې نژدې د یوه شعار بڼه غوره کړې وه، چې اسلام پولې او سرحدونه نه پېژني او نه یې مني- په داسې حال کې چې اسلامي عقیده پولې او سرحدونه نه مني د نورو اسلامي هېوادونو تر منځ پولې او د هغوی ملي ګټې داسې واقعیتونه دي چې هېڅوك ترې سترګې نه شي پټولی.

دغو تبلیغاتو زموږ په خوانانو کې د ملي احساس او شعور د غوړېدو په مخه کې یو ډب رامنځ ته کړ- په بهرنیو اړخونو او فکري کړښو پوري یې فکري او ذهني مزي وپېیل شول.

هېڅ تنظیم د پریمانه امکاناتو سره سره داسې اثر خپور نه کړ چې د هېواد له تاریخي پېښو، ملي ارزښتونو او افغاني خانګړنو د خلونې او څېړنې په رڼا کې کښل شوی وي.

پر دیني او شرعي احکامو د پوهېدو په برخه کې لکه دمخه مو چې اشاره وکړه یوازې له سیاسي اړخه لیکل شوي آثارو او لیکنو زیاړې خپرېدې، د دیني احکامو د زده کړې او د نبوي احادیثو او فقهي مسایلو په اړه د یادونې وړ آثار خپاره نه شول.

له همدې خایه ده هغه کتاب چې پر ۱۳۵۱ل کال په کابل کې د "سه صد احادیث" تر سرلیك لاندې د اطلاعات او کلتور وزارت د دیني خپرونو د څانګې له خوا خپور شوی و، څو څو واره د اړتیا له مخې د کتابپلورونکو له خوا له سره چاپ شو، همدارنګه کابلي تفسیر هم څو څو واره د کتابونو سوداګرو چاپ کړ، خو د تنظیمونو فرهنګي او مطبوعاتي ادارو ونه شو کړای د احادیثو د ژباړې پر دغه پروژه نور کار وکړي او د زرو حدیثونو یا له دې زیات شمېر احادیثو کچې ته یې لوړ کړي. د مجددي او ګیلاني تنظیمونو یوازې د کوزنیو او طریقت په اړه یو دوه کتابونه خپاره ګړل. ددې په څنګ کې یوه بله فکري لیکه د ایراني پوهانو، لکه شریعتي، مطهري او نور د آثارو، سیاسي دریځونو او فکري خانګړنو په چورلیځ څرخېده، ددغو دراماییي توګه پراخه شوه. کوټر یې د فعالیت مرکزي هسته وه، چې ډېر ژر یې هلته جوړې ښځې او ــ وړې

له ډېرو مالي امکاناتو سره د افغانستان د ملي تاریخ او ملي ویاړنو خواته پاملرنه ونه شوه. د افغانستان، افغان او نورو تاریخي پېښو په اړه کوم څېړنیز اثر خپور نه شو. ددغه وخت په آثارو کې د افغانستان په تېرو واکمنو بې توپیره د روسي او پیرنګي د لاس پوځیتوب تورونه ولګول شول او له جهاد نه دمخه، د هېواد تاریخ او تاریخي ارزښتونه د تعصب تر دوړو او لوخړو لاندې پټ کړای شول. د ساري په توګه د اووګوني اتحاد د اوج او موج په شپو ورځو کې په "وحدت اسلامي" کې د علامه اقبال (ملت افغان در آن پیکر دل است" شعر، خطاط داسې لیکلي وو چې افغان یې د ملت له پاسه کېښلی و که څه هم د علامه اقبال هغه مشهور شعر د یوې څلوریزې په بڼه بشپړ چاپ شوی خو مطبوعاتي چارواکو د دغه حساسیت له مخې چې څوك یې "افغان ملت" ونه لولي خپرونه مصادره کړه.

آثارو د دودونې لپاره خانګړې حلقې رامنځ ته شوې، آثار او لیکنې یې په پښتو واړولې ددغو مشاهیرو د مبارزاتي او سیاسي دریځ تقلید د یوه موج په توګه رامخې ته شو او د دغې ډول کتابونو مطالعه او ګرځول لکه یو موډ په خوانانو کې وغزېد.

یوه بله خانګړې ډله هم راووتله چې د سلفیت یا په عام تعبیر د وهابیانو په نامه پېژندل کېدل، چې خپرونې او فعالیتونه یې ددغه مذهبي سوج ښکارندوی ګڼل کېدل.

ددغه ایدیولوژۍ پلیوني لومړی په وړوکې کچه راڅرګند شول او د مولوي غلام الله په مشرۍ یې خپل موجودیت اعلان کړ، خو د فعالیت ساحه یې ډېره محدوده وه. زمرك عابد چې د (المسلمون) په نامه یو جریده یې له جمعیت نه تر وتلو وروسته خپروله او د طنز په بڼه یې د جمعیت د خینو چارواکو په اړه انتقادي لیکنې خپرولې له څو ګڼو وروسته له دغه ډلې سره یو خای او د هغې د خپرنیز ارګان وګرځېد.

خو ډېر ژر د دوی ترمنځ یو لړ ناندرۍ او ترینګنۍ رامنځ ته او ډ انشعابونو بڼه یې خپله کړه، چې ورسره یې فعالیتونه هم په ټپه ودرېدل.

خو کله چې د اووه ګوني اتحاد له رنګېدو سره مرحوم مولوي جمیل الرحمن له حزب اسلامي نه په وتو ددغې ډلې مشرې پر غاړه واخیسته، د سلفیت تحریك په لږ وخت کې خورا زیات وغوړېد. څرنګه چې مرحوم مولوي جمیل الرحمن له سعودي نه پریمانه مالي مرستې ترلاسه کولې، نو د دوی د فعالیت ساحه په شوې؛ له همدې خایه وه چې د حکمتیار اسلامي حزب ورسره د سخت مخالفت په پوله ودرېد

دغه ډلې لومړی د دعوت په نوم د یوې جریدې خپراوی پیل کړ، چې خطاطي او په آفست خپرېده. خو له څه موده وروسته یې پر همدغه نامه د یوې میاشتنۍ مجلې خپراوي ته لاس اوږد کړ. دغه مجله په غوره کچه، صحافت او رنګین کاغذ تراوسه خپرېږي

ددغه مجلې موضوعات زیاتره د سلفیت د عقیدې د تبلیغ او خلونې په اړه دي په مجله کې د ساکښو تصویرونه نه خپرېږي، خو نور تصویرونه یې هم په دوتنه او هم دننه سرې لیدلای شي. دوی په اردو او عربي هم مجلې خپرې کړې چې اوس یې د خپراوي لړۍ درېدلې ده.

دعوت مجله سوچه تبلیغاتي مجله ده. له نورو پرمختیاوو او نړیوالو سیاسي بدلونونو او ژورنالستیکي معیارونو له اړخه دومره بدایه نه ده.

د جهاد په وختونو کې خینو عربي موسسو هم خپرنیز فعالیتونه لرل. په دې کې "لجنه الدعوه" او "مکتب الخدمات" د خانګړې یادونې وړ دي. دغه خپرونې هم زیاتره د فکري او عقیدتي خانګرتیاوو له مخې رامنځ ته شوې. عبدا[illegible]ام چې د فلسطین یو مبارز و، له جهاد نه دمخه عادي ژوند درلود. چې د اسلام آباد په اسلامي پوهنتون کې استاد و خو له جهاد سره د ده د ملاتړ او پیوستون له امله ډېر ژر وځلېد او د مرستو بهیر یې خان ته رامات کړ. ده د مکتب الخدمات په نوم یوه اداره جوړه کړه چې له

خانګړو تنظیمونو او افرادو سره یې مالي او لوژستیکي مرستې کولې. له لوړ دفتر نه یې د الجهاد په نوم عربي میاشتنۍ مجله هم خپروله د جهاد په اړه یې یو کتاب "ایت الرحمن فی جهاد الافغان" په نوم، کښلی او ګڼ نور کتابونه یې خپاره کړي، چې پښتو او دري ژبو ته ژباړل شوي دي، د دغو کتابونو لړۍ د کتاب مجاهد تر سرلیک لاندې خپرېده، خو ټولنې ته یې لاره پیدا نه شوه کړای او لوستونکي یې ونه موندل.

عبدالله عزام په ۱۳۶۸ لمریز کال په پېښور کې د بم په چاودنه کې له دوو زامنو سره ووژل شو، ورسره یې په دفتر کې هم اختلافات رامنځ ته شول او په دوو برخو ووېشل شو.

لجنه الدعوه هم د کتابونو یو لړۍ لرله، چې د اسلامي تعلیماتو تر سرلیک لاندې د دغو کتابونو پښتو او دري ژباړه خپرېده. دا ټول کتابونه وړیا وېشل کېدل خو لوستونکي یې ښایي له ګوتو په شمېر کسانو زیات نه وي

د دغو کتابونو زیاته برخه هغه آثار ګڼل کېږي چې له فکري او عقیدوي اړخه د خانګړو تمایلاتو څرګندوی بلل کېږي.

د شهادت خپرنیزه پالیسي له نورو زیاته ځرګانې او ټاکلې وه. فکر، کرښې او سیاسي دریځ یې د وطن د آزادۍ له غورځنګ نه د یوه سیاسي جریان سیاسي مبارزې ته ډېر نژدې معلومېده. د لویدیز او لویدیز مېشتو افغانانو او کرېو په تېره پخواني پاچا پر خلاف یې یو لړ احساساتي لیکنې خپرولې، د شعار پله په کې نوره هم درنه وه حزب او افراد یې د اسلامي انقلاب د رښتینو لاریانو، مدافعینو او مجاهدینو په توګه معرفي کول، انعطاف او سازش یې تاوره او ناپیلتوب یې خیانت ګڼه. د مبارزاتي اصالت ادعا یې د خپرونو تومنه ګڼل کېده د انحصار پالیسي پرې واکمنه وه.

خو مجاهد جریدې سره له دې چې د همدغسې یوې فکري کرښې پلیونې ګڼل کېده. په خپرونو کې پېښو او پرمختیاوو ته په نسبتاً پراخ نظر کتل. د مقاومت له نورو ډلو سره یې د مخالفت روحیه دومره پیاوړې نه وه.

د حرکت انقلاب اسلامي هدایه الاسلام، د ملي محاذ "محاذ" جریدې او مجلې، د نجات ملي جبهې په خپرونو کې کوم ټاکلی فکري پیلتوب نه درلود، خو پرشکل او محتوا یې د تکرار او کلیشې خپسه ناسته

وه او د معیار او کیفیت خوا یې له هغو نورو کمزورې وه او کوم ټاکلی خپرني مهال ته یې خپرونې برابرې نه شوې کړای.

د ملي مسائلو په اړه د ټولو دریځ نژدې سره ورته او ګونګ و. دغه ډول لیکنې او خپرونې خو پر ځای پرېږده چې دغو موضوعاتو ته اشاره هم د هغه مهال د مطبوعاتي حاکمیت په وړاندې جرم او ګناه ګڼل کېده، تنظیم، د تنظیم مشر د خپرونو تر ټولو ارزښتناک خبرې توکي ګڼل کېدل، په همدغې تنګه دایره او محدودو چوکاټونو کې پر مطبوعاتو د نیم ژواندي فعالیت د مرحوم استاد الفت په وینا سترګې یې مه پرانیزئ کوم ښکلی مخ به ووینئ پرې مین به شئ. برخلیک تپل شوی و، د تنظیم د مشر له وړاندیزونو، طرحو او کړنو دفاع د دغو خپرونو بنسټیزه موخه ګرځېدلې وه. که به کوم تنظیم له اتحاد نه ووت، یا به یې د اتحاد په اړه خپله مخالفانه پالیسي څرګنده کړه مطبوعاتو به یې دفاع او ننګې ته راودانګل- د تنظیم د مشر د کړنو پر حقانیت به یې خوله خلاصه کړه، د هغه د طرحو په اړه به یې د اغېزمنتوب او ضرورت دلایل کتار کړل. د مرکو برخه هم زیاتره پر هغو قوماندانانو او شخصیتونو ډکېده چې سل په سلو کې د تنظیم له پالیسي، کړنو او جوړښت نه ملاتړ وکړي او د افغانستان د ملکیت سند د تنظیم د رهبر لپاره جعل کړي.

د مقاومت په تنظیمي مطبوعاتو کې حزب خپل خپرنیز ارګان "شهادت" د اوونیزې او په وروستیو کې

په دې توګه د مقاومت په مطبوعاتو کې د تنظیمي خپرونو مخکښتیا تر ډېره د نویو پرمختیاوو او نوښتونو د خپلولو مخه ونیوه او د مطبوعاتو غاړې ته یې د انحصار او اختناق د زبندۍ په اچولو سره د مطبوعاتي خوځښت مخه ډب کړه.

د ورځپاڼې کچې ته لوړ کړ. که سړی یې له ګوندي او سختې پالیسۍ، انحصار او سیاسي دریځ له ټرینګلتیا تېر شي، شهادت د تنظیمي مطبوعاتو په کچه له ټولو فعال، خوځنده او په وروستیو کې معیاري حیثیت خپل کړ. دغه ورځپاڼې د ښاغلي محمد نذیر بشارت د چلونې پر مهال د یو لړ آزادیو خوا ته هم په ښه جرات او زړورتیا ګام واخیست، چې د ورځپاڼې پر معیار او تیراژ یې هم غوره او مثبت اغېز وکړ. د مقاومت په مطبوعاتو کې محمد امین فروتن د نوښت او د بهرنیو مطبوعاتو له تجربو نه د ګټورې لاس ته راوړنې او پرځای ستفادې مخکښ رول درلود. دده د خپلو هڅو او تجربو نوښتونو له شهادت نه پیل او په کوټر کې نه برسالې پلې کړل، چې نورو خپرونو هم دغه نوښتونه خپل او په عملي برخو کې تعقیب کړل، له همدې سره د هغه ... د چوکاټي ژورنالیزم پر ځای د نویو هڅو، تجربو او نوښتونو پانګه راواوښته

د اووګوني اتحاد تر انحلال وروسته عصمت قانع د جمعیت د جنوب لویدیزې حوزې د خپرني ارګان په توګه "جهاد پلوشه" میاشتنۍ مجله خپره کړه، چې ډېر برخه یې ادبي لیکنو نیولې وه او تر ډېره د تنظیم له پالیسۍ خپلواکه وه. دغه مجله یو کال خپره شوه، چې د مقاومت د ادبیاتو په خلونه کې یې اغېزمن رول ترسره کړ.

د مقاومت مطبوعات د افغانستان د ربړې د سیاسي حل په اړه تر پایه کوم مناسب کمپاین رامنځ ته نه شو کړای او په دې اړه یې تعبیرونو تحلیلونو او تفسیرونو بېلابېل دریځونه لرل. د ربړې د سیاسي حل د رښتیني تصویر په وړاندې کولو کې پاتې راغلل. له همدې خایه وه چې نه یوازې د مقاومت د اصولي او رښتیني نمایندګۍ پروسه ورسره کمزورې شوه، بلکې ونه توانېدل د ژنیو تړون د څو کلنو خبرو په اوږدو کې له کورنیو واقعیتونو، سیمه ییزو پرمختیاوو او نړیوالو بدلونونو کوم روښانه تصویر خلکو ته وړاندې او د هغې په رڼا کې واقعیتونو ته د دخیلو اړخونو د پام اړولو په لار کې ګام واخلي. په دې توګه ولس ته د دغو مطبوعاتو له لارې کومه لارښوونه او دا زمینه ترلاسه نه شوه چې په خپلو سیاسي او ټولنیزو پرمختیاوو او سیاسي بدلونونو کې د وخت غوښتنو او د حالاتو نزاکت ته مخه کړي، ویې ارخوې او د خپلو سیاسي ارتیاوو بهیر ورسره برابر او د جګړې تر ځنګ د یوې سیاسي لوبې لپاره هم د حالاتو په پرمختیا کې ونډه ولري.

د منځلارو تنظیمونو خپرونې که په فکري او ایډیولوژیکو چوکاټونو کې دومره نه وې ښکېل شوې، خو د نشراتي تسلسل نشتوالي او د تنظیم، د تنظیم مشر او د کورنۍ غړو یې د فعالیت تناوونه په خپلو لاسونو کې اخیستي وو. د محتوی له اړخه یې خبري او تحلیلي اړخ کمزوری او ادبي برخه یې له نویو نښتیو

بې برخې وه.

په دې توګه د مقاومت په مطبوعاتو کې د تنظیمي خپرونو مخکښتیا تر ډېره د نویو پرمختیاوو او نوښتونو د خپلولو مخه ونیوه او د مطبوعاتو غاړې ته یې د انحصار او اختناق د زېندۍ په اچولو سره د مطبوعاتي خوځښت مخه ډب کړه.

ددې یو لامل دا و چې تنظیمونه د کوربه هېواد په لاړو دومره لامده شوي وو چې د مضر احتیاط په رنځ یې اخته کړي وو، دغې اندېښنې چې د کوربه هېواد یا نورو اړخونو له غوښتنو سره ټکر ونه ګڼل شي او د دوی اړیکې او نږدېوالي زیانمن نه کړي د دریځونو په څرګندتیا کې پته خوله بهتري ګڼله. د تنظیمونو د تعدد او سکه ناسکه اندېښنې کوربه هېواد ته دا فرصت او چانس ورکړی و چې خپل عزایم او موخې په اسانۍ وتپلي شي او د مقاومت تنظیمي خپرونې له نویو پرمختیاوو او نوښتونو بې برخې او تکرار او کلیشې خواته واړوي.؟

ددې بو لامل دا و چې تنظیمونه د کوربه هېواد په لاړو دومره لامده شوي وو چې د مضر احتیاط په رنځ یې اخته کړي وو، دغې اندېښنې چې د کوربه هېواد یا نورو اړخونو له غوښتنو سره ټکر ونه ګڼل شي او د دوی اړیکې او نږدېوالي زیانمن نه کړي د دریځونو په څرګندتیا کې پته خوله بهتري ګڼله. د تنظیمونو د تعدد او سکه ناسکه اندېښنې کوربه هېواد ته دا فرصت او چانس ورکړی و چې خپل عزایم او موخې په اسانۍ وتپلي شي او د مقاومت تنظیمي خپرونې له نویو پرمختیاوو او نوښتونو بې برخې او تکرار او کلیشې خواته واړوي.؟

لکه څرنګه چې د شوروي اتحاد پر ژوند د یوې توکې یادونه کېږي چې یو خل په دواړو سترګو یوه رانده له خوا دا خبره شوې وه چې "پراودا" ورځپانه هره ورځ لولي د "پراودا" چلوونکو دا خپل بری ګاڼه، چې ورځپانې داسې معیار خپل کړی چې ړوند یې هم لوستی شي، خو کله چې له هغه رانده پوښتنه وشوه ده یې ویل: زه پوهېږم چې "پراودا" څه خپروي هماغه د کمونست ګوند د بریاوو خبرونه او د حکومتي چارواکو تکراري وینا وې او پیغامونه چې بېګا راډیو خبرې کړې وې.

د مقاومت تنظیمي مطبوعات هم تر یوې کچې دغه ستونزه لرله او لوستونکي له مخکې په دې پوهېده چې خپرونې ورته څه راغونډ کړي دي.

دلته د هغو تنظیمي خپرونو یادونه کوو چې د مقاومت په بهیر کې خپرې شوې دي.

حزب اسلامي

شهادت (مرکزي نشراتي ارګان جریده- ورځپانه)، شهادت (امریکا)، شهادت (اردو)، شهادت جوانان، خواهر شهید (کابل ګستتنر)، البدر (هالند)، افغانستان در آیینه مطبوعات (فرانسه)، افغانستان فی اسبوع (فرانسه)، افغان مجاهدین (استرالیا)، افق (پېښور)، الهام (فرانسه)، بامداد (پېښور)، البیان (کوټه)، پیام زن مسلمان (مجله - پېښور)، پیروزي (تهران)، تکبیر (امریکا)، جهاد (ګستتنر کابل)، جهاد اسلامي (پېښور د کابل مرکزي جبهه)، راه حق (تهران)، رسالت (اسلام آباد)، رستاخیز اسلامي (المان)، در سایه اسلام (آلمان)، سپاهیان اسلام- ګستتنر (کابل)، سراج المنیر (پاکستان)، سیمای شهید- مجله (پېښور)، سیمای مجاهد (ګستتنر- کندز)، شاهد (پېښور- د بدخشان نمایندګي)، شاهد (آلمان)، شفق (مجله- پېښور)، شفق (امریکا)، شورا (آلمان)، شهید (امریکا)، شهید پیغام (امریکا)، الصبح (آلمان)، صف (آلمان)، الفلاح (آسترالیا)، ګواه (آلمان)، لوای جهاد (پېښور)، ماهنامه مجاهدین (انګریزي- پېښور)، مبارزه افغان (فرانسه)، معارف اسلامي (پېښور)، مقاومت (پېښور)، الموقف (مجله- عربي)، المومنات (فرانسه)، میثاق ایثار (تهران)، بنزد حق (د بدخشان نمایندګي- پېښور)، ندای جهاد (د فراه ولایت نمایندګي- پېښور)، نساء (پېښور)، وارث شهید (امریکا)، وحدت (آلمان)، هجرت (آلمان)، هفته نامه مجاهدین- انګریزي (پېښور).

جمعیت

مجاهد (پېښور)، ارمان مجاهد (پېښور)، اخبار جهان (آلمان)، انقلاب اسلامي افغانستان (تهران)، اخبار جهاد (امریکا)، اسلام ږغ (پېښور)، امهات المومنین (پېښور)، بشارت (هرات)، پیام آزادي (پېښور- د پروان نمایندګي)، پیام افغانستان (تهران)، پیام بلخ (ایران)، پیام مجاهد (د بدخشان نمایندګي - پېښور)، سنګر توحید (ایران)، ثاقب ګستتنر، جمعیت (اردو- پېښور)، جهاد پلوشه (مجله - پېښور)، جهاد غږ (پېښور- د ننګرهار نمایندګي)، دانشجو (ایران)، راه حسین (پېښور- د هزارجات څانګه)، راهیان سحر (پېښور د فاریاب نمایندګي)، راهیان نور (ایران)، رهروان سمیه (تهران)، سپیده جهاد (فرانسه)، سیمای مجاهد (د کندز نمایندګي - پېښور)، شهید زیری - مجله (پېښور)، صدای اسلام- پېښور (روسي)، صوت الجهاد (مجله - عربي - پېښور)، فتح (پېښور)، فروغ انقلاب (ګستتنر - هرات)، کابل (پېښور- د کابل نمایندګي)، کاروان جهاد (پېښور - د بدخشان نمایندګي)، لوای اسلام (پېښور)، مرصد جهاد (پېښور- د سمنګان نمایندګي)، المجاهدون مجله (عربي- پېښور)، مشعل (مجله - اردو - پېښور) میثاق خون - مجله (پېښور)، ندای جمعیت (پېښور)، ندای خواهران مسلمان تهران، ندای مجاهد (امریکا)، نیروی ایمان - کوټه، د مجاهد پیمان (ګستتنر - وردګ).

جبهه ملي نجات

افغانستان (ډنمارک)، پیام وحدت (پاکستان)، پیام عروه الوثقی - مجله - پېښور، جبهه آزادي (پېښور- انګریزي)، جهاد- پېښور، راستګویان (پېښور)، د مجاهد ږغ پاڼه (آلمان)، ندای اسلام (پېښور)، جبهه رهای بخش (پېښور)، جبهه نجات ملی (پېښور).

محاذ ملي

مجاهد (پېښور)، محاذ - مجله (پېښور)، محاذ (اردو)، محاذ (انګریزي)، افغانستان (عربي)، الوطن الاسلامي (عربي).

اسلامي حزب (خالص)

النور (پېښور) الهجره والجهاد (آلمان).

حرکت انقلاب اسلامي

ارشاد (پېښور)، بشارت (پېښور)، حقیقه الاسلام (پېښور)، هدایه الاسلام (پېښور)، صدی المجاهد (عربي- پېښور)، ایثار (پېښور).

اتحاد اسلامي

اتحاد اسلامي (پېښور)، البنیان مرصوص (عربي- اردو- پېښور)- پیام مجاهد (پېښور)، جهاد راستین (مجله پېښور)، جهاد (امریکا)- حق یا حرکت (مجله- پېښور)، صدای جهاد (پېښور)، دانشجویان مسلمان (پېښور)، ندای حق (امریکا).

افغانان د ستونزو په گرداب کې

"گور او اور او پېښور درې واړه يو دي"

د جلوزو کېمپ که د کربلا دښته

د ناصرباغ مهاجر د "پاڼ" او "پړانګ" ترمنځ

زموږ صوفي شاعر عبدالرحمن بابا له نن نه اټكل درې نیمې پېړۍ مخكې د حاكمانو له لاسه سر ټكولی او په واز كومې یې ویلي دي:

په سبب د ظالمانو حاكمانو
گور و اور و پېښور درې واړه يو دي

د ژمي په موسم كې د جلوزي كېمپ د پلاستيكي خيمو يوه څنډه

له پیله د افغانانو برخلیك همداسې دی یا باندنیو یرغلگرو د سر په كاسه كې اوبه وركړې او یا هم خپلو حاكمانو. دا درې ویشت كاله زموږ هېوادوال د حاكمانو له لاسه كډه پر سر د ځمكې پر مخ لكه د اوبو څڅكي تاوېږي، ځمكه پرې سور اور گرځېدلې د څو شېبو لپاره یې هم ارام ژوند نه دی كړی.

له تېر كال راهیسې د وچكالۍ او جگړې له امله په لكونو افغانان د خپل كور و كلي پرېښودو ته اړ شوي دي، له غور، زابل او بادغیس څخه هرات ته وكوچېدل هلته یې په یوه كېمپ كې واړول، لاچې لومړنۍ مرستې ورته رسېدلې په سلگونو ماشومانو، ښځو او سپینږیرو د ناروغیو او د موسم د هوا د بدلون له امله خپل ژوند له لاسه وركړ.

د كوچېدو او هجرت دغه لړۍ پسې وغځېده، له كندوز، تخار، بدخشان او د هېواد له مركزي سیمو، كابل او لوگر نه هم په زرگونو خلك وكوچېدل د پېښور په شمشتو جلوزۍ كمپ كې یې د یوې مړۍ ډوډۍ او ارام پسې هیله واړول.

شمشتو د افغان مهاجرو یو لوی كېمپ دی چې د پېښور شرق ته پروت دی، د تېر یوه كال راهسې دغه كمپ ته په زرگونو مهاجر راغلي چې د ژوند حالات یې ډېر خراب دي.

پر شمشتو كمپ سربېره یو بل كمپ جلوزیو دی، جلوزۍ د پېښور ښار په ختیزه خوا كې یوه وچه او سوزوونكې دښته ده، په دغه دښته كې كلونه مخكې هغه وخت چې روسانو پر افغانستان یرغل كړی و، افغان مهاجرو یو كېمپ جوړ كړی و. د مهاجرینو د دغه زاړه كېمپ لمر خاته لوري ته د دغې وچې دښتې په یوه څنډه كې هغو افغانانو اړولي چې د ۲۰۰۰ كال د د اكتوبر راهسې یې خپل كوروته د جگړې او وچكالۍ له امله پرېښي دي.

په دغو دواړو نویو كېمپونو كې اټكل څوارلس زره كورنۍ ژوند كوي، چې د وگړو سرشمېر یې اویا زرو ته رسېږي.

د جلوزۍ كمپ اوسېدونكي له سختو ستونزو سره مخ دي، په لومړیو اوونیو كې چې سخت ساړه او یخ و، د لومړیو مرستو او سرپناه نه لرلو له امله په سلگونو ماشومان د سړو او یخ له امله مړه شول. ډېر یې د راز راز ناروغیو له امله معیوب شول، د سیمې واكمنو مرسته كوونكې نه پرېښودل چې دغو مهاجرو ته لومړنۍ مرستې وركړي، ځكه دوی غوښتل چې د دغه مهاجرو په وسیله ډېرې نړیوالې مرستې راجلب كړي او د خان چاره هم ورسره وكړي.

د ۲۰۰۱ كال د فبرورۍ په وروستیو لسیزه كې د جلوزو نوي كېمپ ته لاړم، له لرې مو چې دا كمپ كاته، نو شنه او سپین شیان تر سترگو كېدل، چې كېمپ ته ورسېدم، داسې برېښېدل لكه یوه لویه هدیره، مهاجر په موږ د مرستو وېشونكو گومان وكړ، په موټر لكه لېښكر راتول شول، خو كله چې وپوهېدل دا د مرستو وېشونكي نه دي، نو بیا هر یوه چیغې وهلې چې د خدای لپاره زموږ حال وگورئ.

د جلوزو دغه كېمپ د پلاستيكي خيمو نه جوړ شوی، په یوې كوچنۍ خیمه كې یوې پینځه كسیزې یا شپږ كسیزې كورنۍ اړولې، كه څوك یې له نږدې وگوري نو په لومړي نظر

سملاسي باور نه شي کولای چې یوه پينځه کسيزه کورنۍ به په دغه کوچنۍ پلاستيکي خيمه کې

ژوند کوي.

عبدالله چې له تخار نه يې هجرت کړی داسې راته وويل: موږ په کور کې اته کسه يو، په دغه دوو وړو پلاستيکي خيمو کې اوسو، موږ زيات مشکلات لرو، اوبه‌نه شته، د شپې مو ډېر يخ کېږي او سخت باد لګېږي، له موږ سره چا مرسته نه ده کړې، ما له ژونده لاس مينځلي دي، دا مرګ موږ ونو چې را روان دی.

بناغلی عبدالله هغه وخت راتـه خپلې ستونزې په ګوته کولې چې د پېښور موسم يخ او سوړ وځو چې ګرمي شوه حالات نور هم پسې خراب شول، د مې په دويمه لسيزه کې په يوه ورځ کې ۱۵ کسان له ګرمۍ نه مړه شول. په منځني ډول په دغه کېمپ کې هره ورځ يو انسان خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

غلام علي راته د مې پر ۱۶مه داسې وويل: از براى خدا! اى چى حال است، از جنگ و خشكسالى گريختيم و اينجه ازترس مرگ امدم، ولى ما بدبخت استم اونجه از جنگ و خشكسالى ميمرديم و اينجه از گرمى و گرسنگى.

د غلام علي سترګې له اوښکو ډکې وې، په زړغوني غږ يې خبرې کولې. دغه مهال ګرمۍ ډېر زور نيولی و، په يوه سوزوونکي دښته کې د پلاستيکي خيمې سيوري ته ناست وو. د کېمپ په يوه ګوښه کې د رخت خيني خيمې هم تر سترګو کېدې.

د مارچ په نهمه نېټه يو سخت توپان ولګېد، ددغه کېمپ ټولې خيمې يې يوړې، دومره دوړې شوې چې په څلور او پينځه مترو کې يو کس بل نه شو ليدای. د کور هغه څه لوښي او کوچني سامانو هم دغه توپان له ځان سره يوړل.

د توپان له کرارېدو سره د کېمپ اوسېدونکي رنځې سترګې، نسيغ وچ کلك لکه لکنه ولاړ وو داسې لکه د هديرې د بيرغونو لښتې چې جنډې په پوري ځوړندې نه وي. سړی داسې انګېري چې دغه د ژونديو انسانانو هديره ده.

په دغه دښته کې د دې کېمپ له شپږو مياشتو زيات وخت تېرېږي، خو لاتر اوسه په بنسټيزه توګه له لومړنيو مرستو هم بې برخې دي، د اوړي په دغه سوزوونکي ګرمۍ کې چې په لسګونو ماشومانو خپل ژوند له لاسه ورکوي، ناروغۍ په کې زياتې شوې او په منځنی ډول هره ورځ له دغه کمپ نه يوه جنازه پاڅېږي.

د نړيوالو خيريه ټولنو د څېړنو له مخې اوس په نړۍ کې د مهاجرو ۳۰ سلنه افغانان جوړوي، چې ډېر يې په سختو حالاتو کې ژوند کوي، په دغو مهاجرو کې د هېواد دننه هغه بې ځايه شوي مهاجر نه دي شامل چې په هرات، ننګرهار، مزار شريف او خوست کې ژوند کوي. په هېواد کې دننه د بې ځايه شويو هېوادوالو د ژوند حالات لا ډېر خورونکي دي او د يوې سترې فاجعې تر بريده رسېدلي دي.

د دغو ډېرشو فيصدو څخه يوازې د پېښور په شاوخوا کې د جلوزو زوړ کېمپ، د شمشتو کېمپ، د کچه ګړي کېمپ، دناصرباغ کېمپ، د خراسان کېمپ، د هريپور کېمپ، د متنا کېمپ، د زاخېلو کېمپ او نور کېمپونو دي، چې اوس د ناصر باغ کېمپ د مهاجر ژوند له سخت ګواښ سره مخ دي، پاکستاني واکمنو د دې کېمپ اوسېدونکيو ته د جون ۲۰ نېټه ټبودلې چې دغه کېمپ به خالي کوي.

پرته له دې چې په پېښور کې د افغان مهاجرو کمشنرۍ، د افغانانو غم د UNCR له خوا وکړي، پاکستاني واکمنو د ناصر باغ په څېر دغسې نور کېمپونه هم وران کړي. په کوهاټ کې يې د روان کال په فبروري کې د کنګول لومړی، نومړه کمپ له بېخه ونړولوه او ۲۳۰ کورنۍ يې د سر له سيوري بې برخې کړې، د دغه کمپ اوسېدونکيو ويل چې موږ د دې وس نه لرو چې بيا په بل ځای کې د ځان لپاره سرپناه جوړه کړو. دوی له اوښکو په ډکو سترګو ويل چې له موږ سره نه د مهاجرو نړيوالې ټولنې او نه هم کومې بلې خيريې موسسې مرسته کړې.

ګڼ مهاجر د يوه مرکزي حکومت د نشتوالي او د جګړو له امله نه شي کولی چې هېواد ته ستانه شي، هلته د کر کيلې ځمکې شنډې دي او د کسب او کار اسانتيا نه شته. نو څکه ورځ په ورځ خلك له هېواده وځي.

د ناصرباغ کېمپ يوه اوسېدونکي راتـه داسې وويل:

نوم مې سور ګل دی، د ننګرهار د سرخ رود يم، دلته په بورډ کې په رېړه باندې کله مېوه او کله سبزي خرڅوم، ښه ده مزدوري په کې جوړېږي، خو اوس اوازه ده او وايي چې موږ له دغه کېمپ نه شړي، نو که موږ له دغه ځايه وشړي او بل ځای

هم راته را نه کړي، نو بيا به څيني خلك خپل ځانونه ووژني، څکه دلته په دغه کېمپ کې د خلکو وضع ډېره خرابه ده.

موږ دلته په دې اميد اوسو چې وطن ته مو ارامي راشي، کله چې ارامي راشي بيا دلته څه کوو! بيا خو نو خپله خو چې څوك راته و نه وايي به خپله ځو.

اوس د ناصر باغ کمپ مهاجر د پاڼ او پرانګ تر منځ دوی دوی هېڅ نه پوهېږي چې څه وکړي. ●

میخي لیکدود او پښتانه

محمد پرویش شاهین- سوات

خدایزده چې پښتنو ته په دې وروستي زریزه کې څه چل وشو، چې په علمي، ادبي او فرهنګي بڼه یې هغه نوم، شهرت، شوق، مینه او پوهه دومره ځلنده پاتې نه شوه، څومره چې یې په تېرو نورو زریزو کې پاتې شوې وه او بیا چې د تېرې زریزې وروستي پینځه سوه کاله پیلېدل، نو دې لا بنه په قامي توګه څه بې سواده، بې ادبه او بې کیله کیدلو، او خبره د شلمې پېړۍ د سره پورې دې ته ورسېده چې:

اول د باغ مالیاره زه ومه

اوس د شبلنو خوا کې ډکي تولمه

خو څه، په تاریخ کې دا له ډېرو قامونو سره شوې ده- او کېږي به، چې پروني استاد، نن شاګرد وي او هغه هم څه بې پروا او څه نیم ژوبله ځوندې شاګرد وي؛ او کله داسې هم وشي او شوې ده، چې دغه شاګرد له استاد نه ډېر مخکې لاړ شي.

د تېرو پینځه زرو کالو په تاریخي بهیر کې د نړۍ کوم یو داسې هنر، فن او کار دی، چې په هغې کې د پښتون برخه جوته نه ده. که هغه لیک لوست دی، انځورګري ده، موسیقي ده، سیکه سازي ده، کرکیله ده، شاه زوري ده، وطنپالنه او ساتنه ده، تجارت دی، اقتصاد دی. د درنګونو خېته څېرل دي او که د مالدارۍ اوښان جوپې جوپې کول دي، ژبې زده کول دي او که ښودل دي، ترجماني کول دي او که بدرګه کول دي، لرې لرې هېوادونو ته تلل دي او که د لرې هېوادونو خلك خصمانه کول دي، د بل ملګرتیا کول دي او که بل د ځان ملګری کول دي، مذهب خپلول دي او که بل له ورکول دي، په خپل کلتوري قالین کې د بل تارونه لګول دي او که بل ته خپل کلتور ورکول دي. خپله پښتو راتینګول دي او که د خپلې درنې پښتو له لمنې بل رالاندې کول دي.

د ډېر ډېر کلتورونه، ژبې او لیکدودونه ورته له بهره هم راغلل. خو ددې خاورې په خپل کلتور کې دومره شتمني وه، دومره ژور یې درلود، د زغملو او خای کولو کاسه یې دومره ارته بېرته وه، چې دغه هرڅه یې په خپل دغه خم کې داسې رنګ کړل او رنګ څه چې داسې یې ورك کړل چې اوس پرې هغه څوك هم نه پوهېږي. د چا چې دا وو. اوس یې هغه له دې څخه بېرته چې اخلي، نو په خپل هغه میراثه- نه، د دوی د لګېدلي مهر په میراثه اخلي.

دوی که نړۍ ته څه ورکړي دي او یا نړیوالو دلته څه پرېښي او بایللي دي نو په څه؟ په دې چې دوی هم تکړه، تیار او فعاله او ورسره یې د تاتوبي جغرافیه هم د شتمنۍ، تجارتي لارو چارو وړ وه، افرادي قوت توانا مضبوط او صادق و. پوهه او شعور یې بیدار و. بې لوزې او درغلي یې نه زده، د چا اعتماد او اعتبار یې نه خوړ، هره ژبه یې په خوله وه او په هر لاره یې لوی ننګونه کول. دغه وجه وه چې نړیوالې قافلې به په امان او په ډکه منګول خپل مرام ته رسېدلې. دغه وجه وه چې د بلخ نه یې "ور له ام البلاد" د کویټې نه یې ور له ګومل، د پېښور نه یې ور له خیبر، د غزنې نه یې ور له بولان او د سوات نه یې ور له قراقرم جوړ کړي و. د کومې په سوب (سبب) چې دلته د عراق، مصر، شام ترکیې، یونان، هند، چین او ترکستان سوداګر، اسونه او اوښان مالونه، خوراکونه، رېښم، سره او سپین او نور بلا، بلا اقتصادي پنګې او شتمني په دلو، دلو په خروارونو، خروارونو او په امبارونو امبارونو پرتې وې. هم دلته په ړومبي ځل د نړۍ شفاهي او ولسي ادب یو له بل سره غاړه غړۍ شول. قامونو او ولسونو یو بل وپېژندل. د یو بل ژبې، لیکدودونه، سندرې، کیسې او داستانونه او رواجونه یې له ځان، ځان سره یوړل. د یو بل د تاریخ، جغرافیې، لارو ګودرو اخلاقیاتو، ښو او بدو خصلتونو، زور، شور او شتمنیو نه خبر شول او هم په دې خاوره په اول ځل د ګلوبل ویلېج (نړیوال کلي) په مانا او مفهوم پوه شول.

د هم دغې تجارت، لین- دین او راشه درشه په سوب د افغانستان ډېر شیان لکه لاجبر، تېمان، لرګي، اوښان او د موسیقۍ چنګ او داسې ډېر بلا شیان د عراق په اثار قدیمه کې موندلي شوي دي.

د انسان په غوره ایجاداتو کې د لیك هنر تر ټولو لوی ایجاد ګڼلی شي. ځکه چې د دې په سوب او برکت د انسان تاریخ، ژوند ژواك او هرڅه چې پرې تېر شوي وو، هغه خوندي کړی شول او د مخکې ترقۍ او ودې لپاره یوه لویه لاړ پرانیستل شوه. خدای؟ بنه پوهېږي چې بنیادم غریب به د لیك میدان ته د څومره مودې له کړاو او زیار څخه وروسته رارسېدلی وي. خو عالمان وایي چې انځورګري د بنیادم، لیك اړخ ته ړومبی قدم ګڼلی شي. انځورګري وه، نښې نښانې وې، کرښې مربې وې چې دغه بنیادم یې لیکدود ته ورساوه. په دغه شکلونو، انځورګریو، کرښو مربېو او نښو نښانو کې د پښتنو څمکه ځان ته یو جوت مقام لري.

خو تر دې دمه پورې چې څومره څېړنه شوې، نو دا باقاعده لیکدود، ټولو نړۍ د عراقیانو، د سومیریانو ایجاد او ښښنه ګڼي. هغوی هم له دغې انځورګرۍ او د کرښو شکلونو څخه، دغه ړومبی لیکدود ته چې په کینو فارم یا په میخي خط شهرت لري، رسېدلي دي، چې دغه بیا له دوی څخه د نړۍ ډېرو ملکونو او قامونو خپل کړی. نوې نوې تجربې یې ورکې کړې او نننی سم- دم خط ته یې رارسولی دی، چې په دې لړ کې د فونیقیانو غړی د هرچا نه هسکه ده ځکه چې دغه خلك که د نور څه کار، کسب او هنر خلك وو او که نه، خو د تجارت په کسب کې یې په ټوله نړۍ کې خپل ساری نه لیده او جازونه او بېړۍ یې د سمندر په سینه لکه د الوتکو تللې او له ټولې نړۍ سره یې تجارتي تړون و. نه په وچه او نه په لمده- خو هم دغه تجارت ته یې کار ویلی و او هم د دغې هنر استادان ګڼلی شول. هم د دوی په لاس، نړۍ ته په تجارتي لین دین کې دغه لیك دود، چې دوی په کې د خپلې اسانتیا لپاره پوره بدلون راوستی و ورسېدل. هغه! دومره وه چې دوی د واول یا حروف علت په چل نه و قادر، خو کله چې دوی دغه لیك دود تر یونان ورساوه، نو یونانیانو د خپلې ژبې د اړتیا په سوب په ړومبي ځل په دې کې د حروف علت زیاتی وکړ او یو مکمل لیك دود یې رامنځ ته کړ.

راځو خپل غرض او مدعا ته او هغه دا چې په نازبینه پښتونخوا کې د لیکدود څه چل وشو؟ عالمان دا خبره مني او کوي یې او کړې یې ده، چې پښتني خاورې ته په اول ځل ارامي، لیکدود، رارسېدلی دی، چې داریوش د خپل تجارتي او محصولاتي غرض لپاره دلته پیل کړی و. خو زه خپله له عالمانو سره په ډېر احترام، اختلاف لرم، ځکه چې زموږ په لاس کې د ارامي ډبرلیکونو داسې کوټلې شهادت شته دی، چې د داریوش نه دوه، درې سوه کاله پخوانی دی.

دویمه دا چې په پښتونخوا کې ډېر داسې ډبرلیکونه موندل شوي دي، چې نن هم په موزیمونو کې موجود دي او د نړۍ د لویو لویو عالمانو د کوښښ او زیار له پاسه هم نه دي پاځولی شوي شوی او کله یې چې هغه نا امیده کړي او ستړي کړي دي او څه په سر او بېخ یې نه دي پوهېدلي. نو بیا یې د نامعلوم او ناپېژندل شویو (Unknown) په نامه پرځای پرېښي دي.

دریيمـه دا چـې د نـړۍ لـوی ژبپـوه او ګرامـر لیکونکي پاني نی په خپل ګرامر اشټ ادهیالي کې د څلورشپېتو نورو قواعدلرونکو نوموړه اخيستي دي او په ډېرو زړو لیکدودونو کې یې د ایونا (یوناني) خط یادون کړی دی، خو د آرامي ذکر یې نه دی کړی. زه خپله له دې نه دلته دا مطلب اخيستل غواړم، چې لکه څرنګه چې دغه عالمان آرامي لیک، د یوناني لیک نه زوړ او مخکینـی ګڼي، زه یـې د ارامـي نـه زوړ او پخوانی ګڼم. دغه حال د میخي خط هم دی، چې د عالمانو دا خیال دی چې دا هم د پښتنو خمکې تـه د هخامنشیانو په سوب راغلی دي. زه ددې لـه داسي منلو نه هم ډډه کوم، څکه چې یو خو میخي لیک، د ایرانیانو خپل ایجاد نه دی. د عراق او اشور له خاورې څخه یې خپل کړی دی. دویمه دا چې د پښتنو او سومیریانو، اشوریانو او زړو یونانیانو په منځ کې د تجارت، سیاست او جنګ جګړې میدان تبه تود و. د اشوریانو ملکې سومیرا پر پښتونخوا حملـه کړې او ناکامیابـه، ببرتـه ستنه شـوې وه، د یونـان باشـویا هرکولیس دلته حمله کړې او بې مقصده او نامراده تللی و. سایرس دلته حمله کړې او هم دلته وژل شوی و او دا تولې د لـوی سکندر د وختونو نـه ډېرې پخوانۍ خبرې او مـودې وې. نـو کـه میخي لیـك پښتنو د عراقیانو، فونیقیـانو، اشوریانو او د باشـو د وخت د یونانیانو څخه خپل کړی وي او یا د دوی خـاورې تـه راوړی شوی وي، نو موږ یې خامخا په هخامنشیانو پورې ځنګه او ولې وتړو، هغوی خو ځان ته په دې لړ کې د کندو خمبي خاوندان نه بلکې بیاج ګري دي.

غته وجه دا لکه څرنګه چې د پښتون پاني نی، وخت او زمانه په متفق ډول او سند نـه ده معلومـه، نو هم دغه شان د هغه د لیکونو لیکدود هم نه دی معلوم. عالمان ترې د ځان خلاصولو لپاره دومـره وایـي چـې سنسـکرتي لیکدود و. نو مطلب دا چې د پښتنو خاوره په ډېر لرغونو وختونـو کې د لیکـدود خمکـه وه او د لیك لوست خمکه وه، یوازې پانیني خط او ګرامر هند کبیر ته نـه دی ورکړی. بلکې ورسره یې ادبي ژبـه هم ورکړې ده او تر تولو نه لویه خبره دا چې له پاني نی نـه مخکې خو د ارياوو د ژبې نوم هم نه و. دا خو په اول ځل پښتنون دي له د سنسـکريت نوم ورکړ.

له دې سره دا هم په نظر کې ساتل په کار دي، چې دا دعوی اوس هیڅ اساس او بنیاد نه لري، چې دغه دغه ژبـه لـه سنسـکريت څخه وتې ده او سنسـکريت د ژبو مور ده. نه- نه، سنسکرت د ژبو مور نه لور یې ده. څکه چې دغه ژبه د پښتنو په وطن کې سازه کړی شوې ده. خورې ورې ژبې په شتمن ډول موجـودې وې، خو ادبي او علمي بڼه یې د پاني نی په لاس د سنسـکريت په نامه ومونده او دا هرڅه د پښتنو په خاوره یو خپل پښتون عالم کړي دي او لکه د خرېړو یې نوې ژبه نه ده راټوکولې، خو خورې ورې لهجې او ژبـګوټې یـوې

معیاري لیکنې او ادبي ژبې ته برابرې کړې دي. دغه وجه ده چې دغې سنسکريت کې د پښتو لویه برخه ده. څکه چې دا د پښتو په خاوره یو پښتون دا کار کړی دی، نـو پـه دغـه سنسـکريت کـې بـه پـه شـعوري يـا لاشعوري ډول چې د سازوونکي خپله ژبه وه لويـه برخـه وي. معلومه او باوري خبره ده، چې د پنجاب، سند او هند کبیر لـه تولو ژبو څخه ورکې پښتو زیاته موندل کېږي. مطلب په څه اندازه او په څه یقین دا شو چې سنسکريت لـه پښتو څخه وتلې ده. نـه، چې پښتـو د سنسـکريت څخه وتلې ده.

خبره مو د نړۍ د رومبني لیك او لیکدود میخي راپه مخه کړې وه، نو که دا لیك دود په هـره زمانـه کې او د کوم چا، د هر یو په لاس چې د پښتنو خاورې تـه رارسـبدلی وي، خـو پـه یقینـي ډول یـې وخـت او راوړونکي تاکل ګران دي. خو یوه خبره جوته ده او هغـه دا چې د لوی سکندر له حملې سره چې د هخامنشیانو بخت او تخت لـه منځه لاړل نو ورسره میخي خط هم پښتې راټولې کړې. بلـه دا چې کلـه دا میخـي خط پـه بابل، چالدو، ایلم او زوړ ایران کې د ادلون بدلون لـه مرحلو څخه تېرېده نو دغـه وخت ارامي لیکدود سر راپورتـه کړی و، چې ایرانیانو پـه دریـمـه پـېړۍ قبل مسیح کې خپل کړی و، خو دغه هم د سکندر د حملې په سوب پاتې شو او په ایران کې پهلوي لیکدود پیل شو. ایرانیانو، ارامي په دریمه پېړۍ کې خپل کړی و او لکه چې وړاندې یادون وشـو، د پښتنـو پـر خمکـه ددې د اتمې پېړۍ قبل مسیح ببلګې په لاس کې لرو. (په دې سرخوږي بـه چېرتـه بیـا وغـږېږو) اوس راځو د میخي او پښتو او پښتنو تړون ته چې دې لیکدود کې پښتو شته او که نه، او کـه چېرې وي نو بیا خو پښتو په لیکلي بڼه د دنیا رومبی لیکدود ته په بشپړ ډول رسېږي.

په میخـي کـې د پښتـو ذکـر ارواښاد لـوی عـالم عبدالحی حبیبي صیب له تولو نه مخکې کړی دی. که څه هم په پښتنو کې یې یو چا رد نه شو کولی، خو په پته خوله به یې دغه ارزښتناك کار له خانه پـه زور جوړ کړی کار ګڼلو. خو موږ دلته د حبیبي صیب لـه لیك او زیار سره سره د میخي لیکونو څه نورې نمونې وړاندې کوو، چې یا په کې پښتـو ده او یـا د پښتنو په خاوره کـې مونـدل شـوې ده. چې پـه دوارو صورتونـو کـې د میخي او پښتو او پښتنو تړون څرګند ېږي. زه اول دلتـه د دې لیك دود د وجې او ضرورت لپاره د پښتون عـالم یوه حواله راخلم. که څه هم زه له دغې حوالې سره پوره پوره ملګرتیا نه کوم. څکه چـې مـوږ د خپلـو ځینـې خصوصیاتو په سـوب یـوازې ایرانیـانو، نـه یـو خپـل کـړي، بلکـې ډېرو نـورو خلکـو لکـه اشـوریانو، یونانیانو، چینایانو، هندیانو، ترکانو، جرمنیانو او ان چې امریکایانو هم خپـل کـړي یـو او هـر یـو د خپلې فـایدې او ګټې د ترسره کولـو پـورې زمـوږ د ژبـې او

کلتور لمن کلکه نیولې او پرې غږېدلي دي. اخو خبره به دلته رانه بیا اوږده شي- نو دا هم کوم بل وخت ته پرېږدم)

دې لړ کې محترم عالم عبدالجلیل وجدي لیکلي "دا خبره پوره حقیقت لري، یوازې د خـارجي هـیوادو پوهان زموږ د ژبې او ادب د پېژندنې لپاره ضرورت نـه احساسوي بلکې ځینـې مـدارك څرګنـدوي چـې دغـه ضرورت لـه نن څخه دوه نیم زره کالـه دمخـه د ایـران هخامنشیانو احسـاس کړی و. هخامنشي پاچا د ارایا داریوش په خپل هغه ډبرلیك کې چې د خپل سلطنت ټبې کارنامې یې په کې کښلې دي د پښتنو د توجو جلبولو لپاره درې مسرې د هغه وخت په پښتو لیکلي دي..."

دا ویل ضروري ګڼم چـې هخامنشـي پـاچایـانو د پښتنو جلبولو او د دوی همکارۍ تـه زیـات ضـرورت درلـود او د ضـرورت دا احسـاس د هخامنشـیانو د سلسلې د موسس پاني لوی کورش د وخت نـه شروع شوی و.

د لیـدی نـامتو مـورخ خـانتوس لیکلي دي چـې کورش له میلاد نه دمخه په (۵۴۵) کال کې د اکیاتان په ښار کې له خپلو درباریانو سره په خبرو کې مخ د لمرخاته په لوري وګرځاوه، ویې ویل: هلتـه پیاوړي او تکړه خلك چې بلاځان یا بلوځان، پاتانان یاني پښتانه زابلیان او ساکان اوسېږي، دوی د دنیا لـه ډېرو تبو او تکړه خلکـو څخـه دي، زه غـواړم دوی د ځان تـابع یـا ملګري کړم، تر څو چې له دوی څخه د یونان په جګړه کې استفاده وکړم، دوی ډېر سخت سره خلـك دي، د دوی سیمه سخت ژمی لري خو د ژمي ساړه دوی لـه پښو نه شي غورځولی، که چېرې دوی زمـوږ دوستـان شي بیا نو یونانیان موږ نه شي مغلوبولی.

د ایران یـوې مجلـې سـپید و سـیاه د (۱۳۴۶) لمریز کال په خپلـه (۷۵۰) ګڼه کې لیکلي دي، چې د خانتوس له خولې د کورش دغه خبره نامتو ختیځ پوه سورګان په شوش کې د یو تاریخي سند په کشفولو سره تایید کړې ده. دا مجله لیکي، کورش "کورش بقول مورخین یوناني و مخصوصـا (ګزنفون)، در پائیز سال (۱۵۴۵) از فـارس بسـوی کارمانیـا، (کرمـان امروزی) رفت تا که از انجا بطرف بلوچسـتان کنوني و توران قدیم، افغانسـتان و سرزمین پتانسـتان (بقول مجله پښتونستان امروز) برود.

مجله زیاتوي چې کورش ایران ته د ببرته ستنېدو پـه وخـت کـې لـه ځان سـره د پښتنـو زر کورنـۍ ولېږدولې، چې له ایرانیانو سره د دوی په ازدواج سره د ایران نسل دومره تکړه او پیاوړی شي. چې لـه یونان سره جنګ وکـړی شـي. دا حقیقـت څرګنـدوي چـې هخامنشیانو د پښتنو مرستې ته ضرورت درلود، لـه همدغه امله یې د دوی له ژبې سره هم مینه لرله. څکـه خو یې د بیستون په ډبرلیك کې برخه ورکړه. (پښتو

خپرنې. ۳۵ کابل ۱۳۵۴)

د حبیبي صیب موندنه: حبیبي صیب چې د دې ژبې او کلتور لپاره کوم اوږده او درانه ګامونه اخیستي دي تر قیامته پورې به یې له عامو لوستونکو سره سره عالمان او نقادان هم پوروړي او احسان مند وي. هغوی لیکي:

په اریایي قدیمو کتابو ویدا- اوستا، مهابهارت او پرانو او پهلوي کتابو کې داسې کلمات او اثار مومو، چې د پښتو د زاړه ادب اصالت په خورا پخوانو زمانو کې رانبیي، تر دې خایه چې د زړې پارسو (Old Parsian) په ډبرلیکونو کې چې د ایران د هخامنشي پاچا لوی داریوش (۵۲۲- ۴۸۶ق م) څخه د بغستان (بیستون) پر غره کیندلې پاته دی یوه سندره داسې ده چې په ډېر لږ اوښته کټ مټ پښتو ده. داریوش هخامنشي حکمدار په خپل یوه ډبرلیك کې وایي، چې دري لومړی، مسری یې اوه سیلابه لري:

نې اریکه اهم	(نه یې اریکي وم)
نې دروجنه اهم	(نه یې دوره جن وم)
نې زوره گه ره اهم	(نه یې زور کرونی وم)
نې ادم نې می توما	(نه زه نه مو تومنه)

او یاري ادشام اوبري ایم (نه رشتیا له یاده یم) اوبزي یم.

(پښتو خپرنې کابل (۱۳۵۶ په حواله د کنت اوید پرشین ۱۹۲ د امریکا طبعه)

قاضي اثر: اروانباد قاضي عبدالحلیم اثر چې یو نوموړی محقق و، په دې لړ کې لیکي: څومره چې دنیا کې ژبې ګڼې دي، هغه هومره د لیك رسمونه ګڼ دي دا خبره چې بنیادمو اول کې کوم خط ایجاد کړی و، لا پوره په یقین سره سرته نه ده رسېدلې. قیاس یې دا دی چې د ټولو نه اولنی خط هغه دی چې هغې ته خط (اشکال تصویري) ویلی شي او د خاورې په کلالی نختو او مهرونو به لیکلی شو او دعراق په زړو کنډرو کې موندلې شوې دي.

بیا وروسته د بابل د سیماطبقي نوي خاندان خلکو د اوازونو او مخرجونو په لحاظ سره یو بل خط ایجاد کړ، هغې ته میخي خط ویلی شي. بیا وروسته دې میخي خط ته نوره ترقي ورکړل شوه او یونانیانو او د بابل اثوریانو ورته نوي نوي شکلونه ورکړل. د شمالي ایران د اثار قدیمه وو میخي خط د دې پرمختللې بېه وه.

د یونان د زوړ لاتیني خط نه د یورپ موجوده خطونه او بل خوا د زوړ رسم خط نه د مشرقي ملکونو لکه عرب، تیونس، مصر، سوډان مراکش، عراق، پارس، افغانستان، پاکستان او هندستان خطونه راوتلي دي. (پښتو ادب) ۳۸. په حوال د بابل در عهد قدیم ۶/۵)

پروښ شاهین-

پروښ شاهین که یو خوا څه لفظونه په میخي لیکدود کې موندلي دي. نو بل خوا یې ښه د غرض تکي، نومونه، دیوتاګانو، افسرانو، او خایونو نومونه ورسره یو ولسي داستان، اسطوره او داسې نور ډېر د کار شیان موندلي دي. خو دغه ډېر اوږد بحث دی. له دې وجې څه هم که ډېر ارزښت لري خو د پروښ شاهین دا دلته نه رااخلو چېرته بیا به وشي)

ډاکټر ګل جنان ظریف-

د ننګیالي خاورې یو ننګیالی فرزند محترم ډاکټر ګل جنان ظریف یو ډېر غیوره، ښه او باوري کتاب د پښتو میخي ډبرونه له پېښوره څخه چاپ کړی، چې په کې په هاغه میخي لیکونو کې د پښتو معلوملو کار شوی دی. چې د داریوش د باکستان (BAKISTAN) پښتو ډیپو نه د سویز (سویس) ډیپونه. نقش رستم ډیپونه، د پرسي پولیس ډیپونه د باکستان لند ډیپونه او د الوني ډیپونه دي. چې په رښتیا یو ډېر پیاوړی او په زړه پورې کار یې کړی دی. چې ترې دا په ښکاره ډول بربښي چې پښتو د دارا په ورځو کې د لیکلو ژبه وه. او سمه او پراخه لیکل کېده.

د بغدي اوښ-

په پخواني تجارت کې د اسونو، کچرو، خرو او غویانو لوی لاس و، خو تر ټولو لوی لاس ورکې د اوښانو و او په نړۍ کې د ښو اوښانو لپاره بخدي یا بلخ ډېر مشهور و. دغه دوه بوکامه اوښ به دده د زور، زغم او تر ډېره وخته پورې د اوبو نه غوښتلو په وجه هرچا خوښولو. د ایران په انخورګری کې د دارا په محل د دغه بختي اوښ یوه ډېره ښکلې څېره جوړه کړی شوې ده او په میخي خط ورباندې لیکنه شوې ده. دغه دلته ستاسو د کتنې لپاره شاملوو.



تول کاڼي-

په نړیوال تجارت کې د تول جوك، ارتیا رامینځ ته شوې وه. په دې لړ کې اشوریان د سرلوړي نوم لري، چې د هر قسمه جوك لپاره یې تول کاڼي په یو مېخ او کېچ ساز کړي وو ایرانیانو ددغې تقلید کړی او داریوش خپل تول کاڼي جوړ کړي وو، چې په پښتنه خاوره کې هم په چلن کې وو. کومې ته به یې چې کرشا یا کرشا (KARSHA) ویلو. دغه تول کاڼي په یو څو خایونو کې موندلی شوي دي. چې یو مشهور تول کاڼی ورکې د ګران هېواد افغانستان په بست (BUST) کې موندلی شوی دی. چې میخي لیك پرې موجود دی. (دا هم ستاسو د کتلو لپاره شاملوو). خو ددې کاڼي یو خانګړی خصوصیت دی او هغه دا چې دغه بره ذکر شوی تول میخي لیکونه. د افغان د قدرمنې خاورې څخه باهر موندلي شوي او دا تول کاڼي په دې درنه خاوره کې موندلی شوی دی.

شهزادګی: دا مهال په دې نه غږېږو چې شهزادګی د چا ده، او د چا دې شي که څه هم یوه ډېره اوږده مقاله مې پرې لیکلې ده.

په روانه روانه کې به دومره ووایو چې ممایزیشن (Miumazition) یا د مومیا کولو فن یوازې د مصر ایجاد نه و. دا د نړۍ په ډېرو ملکونو کې شوی دی. چې غوره بېلګې یې په لاس کې په تصویري او تحقیقي ډول لرو. بله دا چې لکه مخکې چې اشاري شوې دي د پښتنو خاوره تر قدیمه قدیمه داسې د پخوانیو هېوادونو لکه عراق، اشورو مصر، ترکیه، شام، سند او ایران سره په تجارتي، سیاسي، مذهبي او کلتوري ونډو کې شریکه وه. بل ته یې هم ډېر څه ورکړي وو او له بل نه یې هم ډېر څه اخیستي دي. نو که دا فن دلته په افغانستان کې هم په چلن کې و نو څه د حیرانتیا او ناشونې خبره نه ده. دغه شهزادګی چې د افغاني سیستان په سیمه کې ممیایي کړ شوې ده.

داسې د دغه نمونه شهزادګیو ډېرې خبرې د افغانستان د ګردېز د میرزکه (MURZAKA) په

پاتې په ۷۹ مخ کې

ډاکټر جاوید وردګ - کاناډا

د افغان ستونزو د اواري لار په ملي دودونو او ملي جرګو کې ده

درون او قدر ور استاد ښاغلی غوث خیبري،
تر کومه ځایه چې زه یې وینم او اورم، د "دعوت" ګڼ شمېر لوستونکي د نوموړي خېرونې لوستل، ستاسو پر لیکنو پیلوي، دمخه په هېواد کې مو هم د ملي ادب او فرهنګ په خلونه کې تر ځپله وسه ونډه اخیستې او په همدې توګه یو شمېر غوره سیاسي، ټولنیزې او تاریخي څېړونې او آثار ځپاره کړي دي، خو بیا هم که چېرې د "ګوربت" درنو لوستونکیو ته د ځان په اړه څه ووایاست خوښ به شم.

ډېره مننه کوم ډاکټر جاوید ستاسو له دې پېرزوینې نه چې زما له نوم سره مو د استاد د ستري کلمې ذکر هم کړی، لیکن زه پخپله ددې درنې کلمې په وړاندې ځان وړوکی احساسوم او لیاقت یې هم په ځان کې نه ګورم. ما چې د خپل څلوېښت کلن فرهنګي- ادبي او سیاسي ټولنیز خدمت په دوران کې یو ګڼ شمېر کتابونه او له دریو زرو نه زیاتې مقالې- تبصرې او تاریخي څېړنیزې لیکنې کړي او چاپ شوې دي لا هم ځان ته له یوه شاګرد نه پورته درجه نه شم ورکولای. له ډېرو اوږدو کلونو راهیسې په پښتنو روڼاندو، فرهنګیانو، لیکوالو، شاعرانو، ادیبانو او ان چې مورخانو کې دغه تعامل "لاتغیره" پاتې شوی او دی چې هېڅوك له هېچا نه کم نه دي، هر پښتون نابغه دی، په هرڅه باندې له ټولو ښه پوهېږي او پوهه یې هم له بل نه لږه یا ټیټه نه ده؛ یا په اصطلاح د هر فن مولا دی، ځکه خو د پخواني پاچا محمد ظاهر خان د پاچاهۍ په دوره کې د پښتو ژبې- پښتو ادب او تاریخ ډېرې غټې څټې او د هسکو شملو خاوندان لکه استاد مولانا قیام الدین خادم، استاد پوهاند عبدالحی حبیبي، استاد ګل پاچا الفت، استاد پوهاند صدیق الله رښتین، استاد عبدالروف بینوا، استاد غلام جیلاني جلالي او داسې سترو علمي ادبي هستیو ته چې د افغان ولس نوم یې اوچت ساتلی، د هغوی په ژوند کې د هغوی له نوم سره د استاد کلمه ونه لیکلی شوه، بلکې له مړینې وروسته او په هېواد کې د هر اړخیز بدلون تر راتلو پس د هغوی درناوي په همدې ستره کلمه وشو.

زه چې نن د هغو افغاني نومیالو د شاګردانو په کتار کې تر ټولو ناپوهه، د ډېرې لږې علمي اندوختې خاوند- د محدودو کتابونو او آثارو لیکونکی او د پښتني فرهنګ، تاریخ او سیاست په ډګر کې د لنډې مودې د خدمت ویاړ لرم، نو ځان هم د استاد د سترې کلمې حقدار نه بولم. زه دغه کار ستاسو له خوا یو درناوی ګڼلی شم او بس.

زما زیاتې لیکنې د هغوی له لیکنو څخه الهام او د هغوی په سیوري پسې روان شوی یم، هغوی هڅولی یم او اجازه یې راکړې وه چې خبرو ته یې غوږ ونیسم او څه ورته زده کړم، څه ولیکم او له خپرېدو وروسته ورباندې د هغوی نظر واورم. هغوی درنو عالمانو چې د عمر له مخې یې هم زه یو زده کوونکی ګڼلم، نو زما لاربنوونه یې په مینه کوله او زه اوس هم د هغوی روح ته د درناوي سر ټیټوم. دا خبره ټولو ته څرګنده ده چې د پوهاند او اکاډیمیسن- کاندید اکاډیمیسن کلمې او پوهنیزې درجې ډېرې وروسته راغلې، تاسو په خپله پوښتنه کې غوښتنه کړې ده چې زه د ځان په اړه څه ووایم. زه حیران یم چې دغه "څه ویل" له کوم ځای او څنګه راپیل کړم، خو یقین لرم چې زما د پلار نیکه پېژندګلوي به د دې پوښتنې په چوکاټ کې نه راځي.

زه د لوی او تاریخي ننګرهار د کامې ولسوالۍ په یوه پښتنه کورنۍ کې په ۱۳۱۲ لمریز هجري کال زېږېدلی یم. کلی مې د سنګر سرای په نوم یادېږي او اخون زادګان چې د شهید صدراعظم محمد موسی شفیق کورنۍ وه او لالا صاحب او لوی پوه مولوي محمد ابراهیم کاموی چې د محمد موسی شفیق پلار و زموږ روحاني مشران یادېدل. مشرې خور مې او ما دواړو د پاك قرآن لومړی سپاره له همدوی څخه لوستې ده.

استاد بینوا په "اوسني لیکوال" کتاب کې زما د زېږېدلو نېټه ۱۳۱۰ لمریز هجري ښودلې، لیکن سمه نه ده، که څه هم ما استاد ته یوه وړه تېروتنه هم لېږلې وه خو کتاب له چاپ نه راوتلی و.

نیکونه او ترونه مې ناویشلي هند ته تلل راتلل او د ټوکرانو (رخت) سوداګري یې کوله، خویه کچرو نه په موټرو او هغه وخت جلال آباد او کابل ته زموږ د کلي



خلکو د سیند له لارې تګ راتګ کاوه ځکه چې سړك د موټرو لپاره نه و جوړ شوی. د کامې لوی سیند زموږ کلي ته نژدې پروت دی. د مومندو آزاده سیمه زموږ سره ترلې پرته ده او لال پوره راڅخه د سیند په بله غاړه واقع ده. د مومندو خانانو د کامې د حکومت دفتر ته

نژدې او هم د نوآباد (سدې) په ډاګيزه سيمه کې ژوند کاوه.

● که د خپلو زده کړو، پوهنيز او فرهنګي ژوند په اړه رڼا واچوئ، د ډېرو خوانـــو ليکوالـــو او فرهنګيانو د ګټې او پاملرنې وړ به وګرځي.

لومړنی زده کړې مې د خپل کلي په ښوونځي کې کړې او سرښوونکی مو د پښتنو د لوی روحاني او مجاهد مراد علي صاحب (رح) لمسی و، چې غلام حيدر خان نومېده؛ وروسته د کابل په تجارت ليسه کې شامل شوم او وروستۍ زده کړه مې د هند پوهنتون په ډهلي کالج کې تر ايم. اې ورسوله. د دې زده کړې په وخت ما د افغانستان او هند د حکومتونو په موافقه د ډيلي په (آل انډيا راډيو) پښتو څانګه کې دنده سرته رسوله او د شپې له خوا مې سبق ويلو. په کالج کې مې د تاريخ استادان ډاکټر دونه او پروفيسر قريشي وو.

ليکوالي مې د پښتونستان د سياسي نهضت د اغېزو پايله بولم او په همدې دوره کې مې د خواني احساساتو غزونې وکړې. په دې مهال کې لا ما په کابل کې زده کړه کوله او د زده کړې نه سمدستي وروسته زما د تاريخي کيسو دوه ټولګې د کتابونو په بڼه چاپ او خپرې شوې چې دواړه په فارسي ژبه دي. يو کتاب د (لکه هاى خون) او بل د (طوفانها) په نوم. درېيم کتاب مې د (تفنګداران خيبر) تر سرخط لاندې خپور شو، چې دا هم په فارسي ژبه دی.

تاسې او لوستونکو ته به دا پوښتنه راپيدا شي چې په فارسي ولې؟ اوس يې لامل ښايم چې ولې:

لومړی خو دا چې د پښتنو د غافلو او ويدو واکمنو په دورو کې فارسي په غوڅه توګه حاکمه ژبه وه او هر څه په همدې ژبې ترسره کېدل. دويم دا چې کله ما په کابل کې زده کړه کوله نو د پښتو ښوونکی مو آغا ګل خان نومېدو. د سبق ورکولو په وخت به هغوی ماته ويل چې لومړی د کتاب له مخې د هغوی درس تکرار کړم او د هر شعر مصرع يا د مطلب کرښه په فارسي ژبه نورو ته شرحه کړم چې ما دا کار نه شو کولای، ځکه چې فارسي ژبه مې نه وه زده. يوه ورځ ښوونکي راته په غوسه وويل:

هلکه... فارسي ژبه بايد حتما زده کړې ځکه چې دلته خو ټولې زده کړې په فارسي دي او که نه نو ناکام به پاتې يې...

استاد راته رښتيا ويلي وو. د فارسي ژبې ښوونکی مو محمد يوسف خان بينش نومېده او سترګې به يې په ما ښخې وې. دا سړی چې يو تکړه شيعه واعظ و د کابل له چنداول له حوزې نه د ولسي جرګې لپاره استازی وټاکل شو.

فارسي مې داسې زده کړه چې کتابونه مې پرې وليکل او کتابونو مې جايزې هم وګټلې، ليکن په همدې وخت کې ما له هغو پښتنو پوهانو او استادانو سره پېژندګلوي پيدا کړه چې نومونه مې يې د مرکې په پيل کې راوړي دي. د هغوی خبرې زما د ليکوالۍ د ژوند مشال شوې او لومړنی پښتو کتاب مې د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپور شو. دغه کتاب يو تاريخي ناول دی چې (د اور لمبې) نومېږي او د هېواد نوميالي اديب او شاعر استاد ګل پاچا الفت چې د ټولنې مشر و، ورباندې يوه ښکلې سريزه هم ليکلې ده. همدا وخت فاضل استاد اکاډيميسن پوهاند رشاد د پښتو ټولنې د مرستيالۍ دنده په غاړه درلوده.

دا کتاب له خپرېدو وروسته د يوه روسي پوهان استاد (صولت شاه مهرګن اوف) له خوا په روسي ژبه له ژباړې سره په مسکو کې خپور شو. دغه کتاب يو کوچنی سرګذشت هم لري چې بيان يې ضروري دی.

پښتو ټولنې د استاد الفت په مشرتابه د (اور لمبې) کتاب لومړی په کابل مجله کې خپور کړ، چې مسوول چلوونکی يې (محمد دين ژواک) و او په مجله کې له خپرېدلو وروسته د استاد الفت په سريزه د کتاب په بڼه چاپ شو، ليکن کله چې د کتاب پښتې چاپېده نو د استاد الفت پر ځای (پوهاند رښتين) د ټولنې مشر وټاکل شو. پوهاند رښتين د کتاب پښتې لږه وځنډوله، ځکه چې غوښتل يې يو دوه کرښې د کتاب په اړه د پښتې په دننه مخ کې چاپ کړي نو دغه دوه کرښې يې محترم ژواک ته ورکړې چې په پښتۍ کې يې ونيسي. په هغو کرښو داسې ليکل شوي وو:

(ددې کتاب په کتنه او سمونه کې پوهاند رښتين ونډه اخيستې ده)

داسې ولې وشول ځکه چې کتاب خو د الفت صيب له خوا او د دوی په سريزه له چاپه وتلی و او سريزه يې هم وربandې ليکلې وه...؟

د سرګذشت پاتې برخه هم وګورئ او واورئ!

له دې نه څو ورځې يا هفتې مخکې- په هند کې د روهيله پښتنو په اړه د يوې تاريخي موضوع په هکله محترم پوهاند رښتين زما پر يوې ليکنه د کابل په هېواد ورځپاڼې کې يو څه ليکلي وو او ما بېرته د هغه ځواب ويلی و. د سوال او ځواب دغه لړۍ يوه يوه نيمه مياشت په ورځپاڼه کې روانه پاتې شوه او ددې په وجه ورځپاڼه لاس په لاس وګرځېده او د خلکو زياته دلچسپي ورسره پيدا شوه.

په دې وخت کې د ورځپاڼې مسوول چلوونکی د هېواد تکړه ژورناليست ښاغلی عبدالجليل وجدي و. د محترم پوهاند رښتين د ليکنو موضوع حتی د وخت صدراعظم شهيد محمد موسی شفيق هم په خير او علاقه مندۍ څارله ځکه په رسمي ميلمستيا کې چې صدراعظم په چهلستون ماڼۍ کې جوړه کړې وه، د ميلمنو په وړاندې چې په يوه بله کوټه کې پوهاند صيب هم ليدل کېده په خندا له ما نه پوښتنه وکړه، خيبري صيب...! له پوهاند صيب سره دې قلمي مناظره يا مناقشه کوم ځای ته ورسېده...؟

په دې وخت کې زه د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پښتو د پرمختيا رياست مرستيال وم. د هغو ليکنو پايله دا شوه چې ښاغلي وجدي د هېواد ورځپاڼې مسوول مدير مجبور شو د خپل يادداښت په خپرولو سره د هغه بحث لمنه ټوله کړه او هغه دوه کرښې د پوهاند صيب ليکنه د همغه سوال ځواب پايله وه.

په دولتي چوکاټ کې زما رسمي ماموريت په ۱۳۳۸ لمريز هجري کال کې پيل شو. د استاد بېنوا په وړانديز او د صدارت په منظورۍ په همدې کال کې د راډيو کابل د پنځلس ورځنۍ مجلې (پښتون غږ) د مسوول مدير په توګه وټاکل شوم او د پوهاند رښتين کتاب (د ژوند سندره) لومړی ما په مجله کې وخت په وخت خپور کړ. هغوی به په اونۍ کې يوه مقاله تر همدې نامه لاندې په راډيو کې لوستله او بيا به يې ماته راکوله چې په مجله کې يې خپره کړم او د همدې مقالو ټولګه (د ژوند سندره) په کتاب بدله شوه. زما هم يو کتاب (قهرمان مى ميرد) په مجله کې چاپ شو. له دې وروسته زه د کار بېلابېلو څانګو ته بدل شوم. د مطبوعاتو د مستقل رياست د کورنيو خپرونو د څارنې د مديريت په وخت کې مې د (هغه وژل) کتاب د کيسو ليکلو لومړۍ درجه جايزه وګټله. په دې کتاب کې د افغان- انګليس د لومړۍ جګړې پېښې کښل شوې دي او ټولې تاريخي ماهيت لري چې په داستاني ادبياتو ليکل شوې دي.

پښتو ټولنې د استاد الفت په مشرتابه د (اور لمبې) کتاب لومړی په کابل مجله کې خپور کړ، چې مسوول چلوونکی يې (محمد دين ژواک) و او په مجله کې له خپرېدلو وروسته د استاد الفت په سريزه د کتاب په بڼه چاپ شو، ليکن کله چې د کتاب پښتۍ چاپېده نو د استاد الفت پر ځای (پوهاند رښتين) د ټولنې مشر وټاکل شو. پوهاند رښتين د کتاب پښتۍ لږه وځنډوله، ځکه چې غوښتل يې يو دوه کرښې د کتاب په اړه د پښتۍ په دننه مخ کې چاپ کړي نو دغه دوه کرښې يې محترم ژواک ته ورکړې چې په پښتۍ کې يې ونيسي. په هغو کرښو داسې ليکل شوي وو:

(ددې کتاب په کتنه او سمونه کې پوهاند رښتين ونډه اخيستې ده)

کله چې محترم وجدي صاحب د هېواد ورځپاڼې چلوونکی و نو زما دوه تاريخي ناولونه د هغوی له خوا خپاره شول، چې لومړی يې (ابدالي توره) او دويم يې (پاکه وينه) ده. ابدالي توره په هند کې د ستر احمد شاه بابا او مرهټه وو په جګړو او پاکه وينه په هند کې د لودي پښتنو د يوې پښتنې مور له ژوند کيسه ده.

(ابدالي توره) د پښتو د پرمختيا د رياست له خوا چې زه يې مرستيال وم، د کتاب په بڼه هم چاپ او خپور شو، چې ښاغلي محمد ابراهيم خواخوږي د پښتو د پرمختيا د اداري مشر يې موافقه لاسليك کړې وه. د خدمت په همدې مهال زما بل کتاب چې د ډاکټر اسرار احمد آزاد د اردو کتاب لنډيز و د (سياسي دايره المعارف) په نوم د پښتو پرمختيا د رياست له خوا خپور شو. دا هغه وخت و چې د شهيد محمد داود خان د حکومت له خوا قومي او سيمه ييز تخلصونه منع شوي وو ځکه خو دا کتاب د غوث شهامت په نوم چاپ او خپور شو.

زه د فرهنګي او علمي خدمت په دې دوره کې د يو پلاوي په مشرۍ د پښتونخوا پېښور ته د حضرت خوشال خان ختك په علمي سيمينار کې د ګډون لپاره لاړم، چې د پېښور پوهنتون د (پښتون سټوډنټس فيډريشن) له خوا جوړ شوی و. په سيمينار کې زما د مقالې سرخط و: (خوشال خان ختك او نشناليزم). درونډ پښتون علي خان محسود ديونين مشر او ښاغلی افراسياب ختك يې مرستيال و. په دې پلاوي کې زما ملګري تکړه او په هېواد او پښتو مين شاعران شهيد امان الله سيلاب او نصرالله حافظ او تکړه ژورناليست غلام محی الدين ايوبي وو چې دواړو شاعرانو هم خپل شعرونه په سيمينار کې ولوستل او تود هرکلی يې وشو.

له سيمناره له بېرته راستنېدو سره سم د ولسمشر محمد داود خان په هدايت موږ ته تقديرنامې راکړل شوې. موږ له خان سره د يونين د غوښتنې له مخې يوه هنري ډله هم بيولې وه چې لاندې کسان په کې وو:

استاد اولمير، استاد محمد عمر، استاد زاخيل، طلا محمد، او محمد ولي چې دوی ته هم انعامونه ورکړل شول او د محمد داود خان په وړاندې زموږ د سفر پايله ډېره بريالۍ وه. د اطلاعاتو او کلتور وزير دکتور عبدالرحيم نوين و.

له دې نه مخکې مې په لاندې علمي سيمينارونو کې برخه اخيستې او څېړنيزې مقالې مې په کې اورونې دي:

- د خواجه عبدالله انصاري علمي نړيوال سيمينار: په دې سيمينار کې د ايران له خوا استاد بديع الزمان فروزانفر، د فرانسې له خوا پروفيسر دوبورکوي، چې د شاهي او عامه کتابتونو په خطي نسخو باندې يې يو کتاب هم چاپ او د مولانا جامي په اړه يې هم څېړنې خپرې شوې دي. د انګلستان له خوا پروفيسر ايوري، د هندوستان له خوا پروفيسر ډاکټر تاراچند او داسې نورو پوهانو ګډون درلود.

- د ابوريحان البيروني نړيوال سيمينار: د پښتو د پرمختيا رياست، د دغه سيمينار په مناسبت د (ابوريحان البيروني) په نوم کتاب چې ښاغلي عبدالاحد خان عارض په پښتو ژباړلی و چاپ او خپور کړ. په دې سيمينار کې شهيد پوهاند ډاکټر بهاء الدين مجروح فعاله ونډه درلوده او شهيد صدراعظم محمد موسی شفيق ورته زياته مالي مرسته برابره کړې وه او په غزني کې يو لوی باغ چې يو شمېر تاريخي قبرونه په کې پراته وو او د تاريخي ليکنو تر مخې د ابوريحان قبر هم په همدې جمله کې و د صدراعظم په امر وپېرودل شو.

- د بايزيد انصاري يا پير روښان سيمينار چې د سيمينار د مقالو ټولګه هم د پښتو د پرمختيا رياست له خوا چاپ او خپره شوه چې سريزه ورباندې ما ليکلې وه او په دې علمي سيمينار کې مې خپله څېړنيزه مقاله هم واوروله. د غونډې رياست د پوهاند استاد عبدالحی حبيبي په غاړه و او پوهاند اکاډيميسن رشاد په کې په خلاقانه ډول د خيرالبيان پوهنيزه شننه وکړه.

د پښتو پرمختيا له رياست نه زه د ننګرهار د اطلاعاتو او کلتور د آمر او د ورځپاڼې د مسول مدير په توګه تبديل شوم. د خپلې دورې په ورځپاڼه کې زما دغه لاندې کتابونه چې ټول تاريخي محتوا لري خپاره شول.

۱- آراکوزی پېغله او مقدوني سکندر، (تاريخي ناول)

۲- لوی پښتون شېرشاه سوري، (څېړنيز اثر)

۳- د تيرا جګړه، (څېړنيز اثر)

۴- د مرګ سندره، (څېړنيز اثر) چې د جنرال دنست آبري انګرېز د کتاب په رڼا کې کښل شوی دی. دا سرې د جګړې په رتبه د افغان انګليس په لومړۍ جګړه کې له نورو نارينه وو او ښځو انګرېزانو سره د وزير محمد اکبر خان غازي په لاس کې اسيران وو.

۵- پښتون شېر علي، دا هغه اپريدی پښتون دی، چې د هند د کالاپاني په جېل کې يې (د هند وايسرا لارډ ميو) د بنديانو د کتلو په مهال د چړې په ګوزارونو وواژه او د مرګ خبر يې څو ورځې يا هفتې د برتانوي هند حکومت پټ وساتلو.

دا موضوع هېڅ يو افغاني مورخ په خپلو ليکنو کې نه ده راوړې.

دوه کاله او څو مياشتې وروسته زه په کابل کې د جمهوريت ورځپاڼې د تدقيق مدير وټاکل شوم او د ورځپاڼې د پښتو سرمقالو او کانټريو دنده راوسپارل شوه. د ورځپاڼې مشر ډاکټر محمد آصف سهيل و. د سيد جمال الدين افغان د زېږېدلو په مناسبت د جمهوريت سرمقاله ما وليکله.

څو سيد جمال الدين ته مې د افغان پر ځای پښتون وليکلو. په همدې ټکي ماته جزا (کسر معاش) راکړی شوه، چې دا مې په فرهنګي او مطبوعاتي ژوند کې لومړنۍ جزا وه.

له جمهوريت ورځپاڼې څخه کندهار ته د اطلاعاتو او کلتور د آمر او د طلوع افغان د تاريخي ورځپاڼې د چلوونکي په توګه واستول شوم. دا هغه ورځپاڼه وه چې د هېواد نوميالو سياسي او فرهنګي شخصيتونو لکه بابا عبدالعزيز، علامه عبدالحی حبيبي او داسې نورو چلولې وه، دا دی اوس نوبت ما ته رارسېدلی و، ليکن د هغه وخت او دې وخت په سياسي، اقتصادي او ټولنيزو شرايطو او د ژوندانه په حالاتو کې د ځمکې او اسمان توپير و.

په کندهار کې مې په ورځپاڼه کې د خدمت پيل د (کندهار ناوې) د کتاب په خپرولو وکړ، چې ما ليکلی دی دا يو تاريخي ناول دی، چې د پېرنګي جنرال نات په ضد د اکرم خان نورزي د پښتنې مېرمن جګړه ييزه مبارزه ده. اکرم خان نورزی هغه اتل و چې انګرېزانو له نيولو وروسته په کندهار ښار کې په توپ والوزولو او د هغوی له وژل کېدلو وروسته د هغه ځای د ده پښتنې مېرمنې ډك کړ. دغه پېښه د قاضي عطاء الله خان په (د پښتنو تاريخ) کې راغلې او ليکلي يې دي چې نوموړې جنګيالۍ مېرمن به د جګړې په محاذ کې په سپين آس سپره ګرځېدله. مورخ په دې اړوند د پېښې انګليسي متن هم په خپل کتاب کې راوړی دی.

په کندهار کې مې د خدمت دوه کاله تېر شوي وو چې په هېواد کې کمونيستي کودتا وشوه او زه هم يو څو مياشتې وروسته زما د اداري د يوې ګوندۍ په شکايت د کندهار د خلقي والي (انجنير ظريف) له خوا بندي او د کندهار ښار ځارنتون (نظارت خانې) ته ولېږل شوم او پوره يوځلوېښت ورځې پس خوشې کړی شوم. ددې پېښې بشپړ تفصيل زما په خپور شوي کتاب (په افغانستان کې توپان) کې راغلی دی. دغه کتاب په پينځه سوه مخونو کې د افغانستان کلتوري ودې ټولنې له خوا د جرمني د کولن په ښار کې په ۱۹۹۹ ميلادي کال چاپ او خپور شوی دی. (د دربيمې شپې) په نوم کتاب مې پښتو ټولنې په کابل مجله کې لومړی خپور کړ، خو د کتاب په ډول د چاپ په وخت د دولتي چاپ خونې د مرکز کابل ته د راتلو وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت د بهرنيو خپرونو لوی مدير وټاکل شوم. د خدمت په دې دوره کې ما په هند کې ليکلی کتاب (د هند په تاريخ او مدنيت کې د افغانانو برخه) د جوايزو رياست ته ورکړ. د افغانستان علومو اکاډمۍ او خينو نورو فرهنګي موسسو او د پښتنو پوهانو په دې کتاب باندې تر نظر ښکاره کولو وروسته ذکر شوی کتاب د ابوريحان لومړۍ درجه علمي جايزه يوړه او کتاب هم په دولتي چاپ خونه

(مطبعه) کې د نشراتو ریاست له خوا چاپ او خپور شو.

دا کتاب هغه وخت چې زه په هند کې وم (۱۹۶۵- ۱۹۷۱) او د ورځې له خوا مې په آل انډیا راډیو کې کار کاوه او د شپې له خوا مې د ډهلي پوهنتون په ډیلي کالج کې سبق ویلو د پوهنځي د غني کتابتون ته په ګټه اخیستو کښلی او بشپړ کړی و.

همدغه ډول د (آزادي، سندره) نومې بل کتاب چې د ادبي تو ژباړه وه، د جایزې لپاره تر کاندیدېدلو وروسته د ادبیاتو په برخه کې لومړۍ جایزه وګټله. ما دغه کتاب د قرهونو او قبایلو وزارت چې وزیر یې ښاغلی سلیمان لایق و د خپرونو ریاست ته د چاپ لپاره وسپاره، خو د هغه وزارت د هزاره معین محمد نبي کارګر یو لړ درې کتابونه تر چاپ لاندې نیولي وو او دې پښتو کتاب ته د چاپېدلو نوبت ونه رسېد. زما یو بل کتاب (ناورین) چې د کډوالو افغانانو د ژوند انځور په کې کښل شوی و، د همدې وزارت د خپرونو ریاست ته استول شوی و خو هغه ته هم د فارسي کتابونو د زیاتوالي له امله د چاپ نوبت ونه رسېد او د رژیم تر سقوط وروسته هغه کتابونه په همغه وزارت کې پاتې شول.

زما بل کتاب چې (پردېس) سر خط یا عنوان لري او د لنډو کیسو ټولګه ده د چاپ او خپرونو د دولتي کمېټې له خوا چاپ او خپور شوی دی. (د ګوګامنډه لیوان) کتاب مې د افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا چاپ او خپور شوی دی چې مشر یې محمد اعظم رهنورد و.

شپږ اولادونه لرم چې دوه زامن او ځلور لوڼه دي. مشر زوی مې په هند کې لوړې زده کړې کړې او دا وخت د ملګرو ملتونو مامور دی، دوه لوڼو مې د کابل د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي نه ډیپلومې اخیستې او دوه نورو د ښوونې او روزنې او د ژبو او ادبیاتو له پوهنځیو ډیپلومې لاس ته راوړې دي. کشرى زوی مې موږ سره د کډوالۍ د ژوند په دوره کې د جرمني په هېواد کې زده کړه وکړه او دا وخت د جرمني د شتوتګارت ښار پورې تړلې یو وړوکي ښار کې له موږ سره یوځای ژوند کوي.

په جرمني کې مې لیکلی دویم کتاب (پښتانه- د فرهنګي ښکېلاک په ځنځیرونو کې) نومېږي او هیله لرم په امریکا کې د یو روښاندي په وه پښتون په همت چاپ او خپور شي. له دې خایه له خینو درنو پښتو خپرونو سره لکه دعوت قلمي مرسته کوم چې دا څو کاله یې دوام موندلی دی.

● له هېواده ډېر لرې مو د کډوالۍ شپې ورځې څنګه تېرې او څو کلونو ته رسېدلې؟

له هېواده لرې د کډوالۍ تریخ او دردوونکی ژوند ډېر په سختۍ او مایوسۍ تېرېږي. کله کله خو راته د ورځو، شپو، اوونیو، میاشتو او کلونو شمېره هم ورکه شي خو داسې فکر کوم چې دا مې په جرمني کې اتم یا نهم کال دی.

● زموږ په یو شمېر کډوالو خپرونو کې بېلابېلې لیکنې خپرېږي، خو هغسې چې د قلم د توریو دریخ یې په ملتپالنه کې سیده او ځرګند خوږ ولري او یا په بله وینا چې د مضر پام د بوالونه یې نړولي وي، که لږ دي او که ډېر"؟، خو یو له هغوی نه تاسو هم یئ، که د خپلې لیکوالۍ په اړه څه ووایاست، ډېر به په زړه پورې وي.

ګرانه ډاکټر صیب! ددې پوښتنې د یوې برخې ځواب مې مخکې ویلی دی او په لنډیز سره مې ښودلې دي. زه پخپله له کډوالو مطبوعاتو څخه یوازې د ګوتو په شمېر خپرونې ملي پېژنم څکه چې دغه خپرونې د افغانستان د تاریخ او د افغانستان د خلکو په ژوند پورې تړلې مسایل له ژبنې، توکمي، مذهبي او سیمه ییز تو پیره پرته خپروي او د تفتین، نفاق اچولو او تنګ نظرۍ مفکوره او عقیده مردوده او ناپاکه ګڼي. ملي ګټې تر هرڅه پورته بولي او په حرامو پیسو خپل ملت نه تخریبوي. پر افغان او افغانیت ایمان او کلکه عقیده لري او د حقایقو په لیکنه کې هم له مضر احتیاط نه ډډه کوي او دا ګناه او خطا بولي.

زما په نظر د تاریخي او سرلوړي افغانستان او افغان ننګیالي ولس په هکله چې هره لیکنه په حق او حقیقت ولاړه وي او د ملي ګټو د ساتنې موخه په کې خوندي شوې وي د خپرونې او د خپرونې د چلوونکي وقار او ملي حیثیت لوړوي.

عقیده لرم چې هره لیکنه د لیکوال د حیثیت او شخصیت د ښکاره کولو هنداره ده؛ په دې هنداره کې د لیکوال د روغ یا ناروغ ذهنیت پته هم لګېدلی شي. زه له تاریخي حقایقو سترګې پټول یا د هغو تحریف او مسخ کول ملي خیانت بولم او ناروغ ذهنیتونه د افغان ولس د یووالي د تخریب وسیله پېژنم او د افغانستان د دښمنانو په ګټه یې بولم. زه په خپلو لیکنو کې ټل دغه ذهنیتونه او مزدوري خپرونې په ګوته کوم او غندنه یې خپل فرض بولم.

هغوی چې د لوی خراسان، هزارستان او دې ته ورته غړونه پورته کوي یا د اوسني افغانستان د بنسټ ایښودونکي لوی احمد شاه بابا (رح) په شان کې ګستاخي کوي، او د افغانستان او آسیا د تاریخي خواګمن قوم (پښتون) خلاف خائینانه تبلیغات کوي او یا ورته په سپک نظر ګوري د ایران اجنټان او د ایراني مورخانو سید مهدي فرخ، محمود محمود، محمود افشار او د خرڅ شوي افغان نجیب مایل هروي ملګري بولم چې د افغان او افغانستان د تاریخي هویت مخالفت یې خپله دنده ګڼلې ده.

هر افغان لیکوال باید په حقیقت ویلو کې اخلاقي جرات ښکاره کړي او د مضر احتیاط نه په کلکه ډډه وکړي. تاریخ شاهد دی چې دښمنانو زموږ له اخلاقي کم جرئتی او چوپتیا نه ناوړه ګټه اخیستې ده او له پښتو ژبې سره ناانصافي هم زموږ د مضرې خاموشۍ پایله بلل کېږي.

● په تولیزه توګه د افغانستان روانه دوه ویشت کلنه غمیزه څنګه ارزوئ؟

ستاسې دا پوښتنه زیاته سیاسي بڼه لري او سیاست زما په اند زیات وخت له حقیقت سره په تضاد کې پاتې شوی دی.... زه د سیاست په هکله د امریکا د نومیالي لیکوال او سیاسي څېړونکي (سلیک هاریس) دا وینا سمه بولم چې وایي Politic is a play یانې سیاست یوه لوبه ده. څکه خو زه وایم چې تشه لوبه به څنګه د یو هېواد د ملي مسائلو په اړوندو کې غوڅ رول ولوبولی شي، په تېره بیا چې دغه مسایل ډېر پېچلي او کړکېچن هم وي. زموږ تیکونو سیاسي پوهه چندان نه درلوده او د کړکیچنو مسایلو د حل لپاره یې خپله ملي دودیزه لاره غوره کوله او نتیجه یې هم سمه راختله.

ملګري ملتونه د نړیوال سیاست مرکز دی، لیکن همدې مرکز د افغانستان د مسئلې په اړوند ډېرې غلتې تېروتنې کړې او همدا تېروتنې د افغانستان او افغان ولس د بربادۍ او تباهي موجب شوې دي. همدا نن د افغانانو د کورنۍ جګړې اوږدېدل د U.N د غلط سیاست څرګنده نتیجه ګڼل کېږي. دغه سیاست د افغانستان د خلکو د ژوند له واقعیت سره تضاد لري او زموږ د هېواد د غمیزې اوږدولو سبب شوی دی. ملګري ملتونه د ولسونو د ځانګړنو پېژندلو پوهه نه لري او د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو د ستونزو حل په یو واحد فارمول کې لټوي او دغه ډول کړنه هېڅکله یوه سمه او باوري پایله له ځان سره نه شي لرلی. تر دې دمه د ملګرو ملتونو سیاست د افغانانو د هېواد

په زیان تمام شوی دی.

زه د خپل هېواد د غمیزې حل په دې کې وینم چې افغانان د وخت د له لاسه ورکولو پرته لومړی دغه همت او جرات وکړي چې د خپل زعامت او د مشرتابه دنده د پردیو له لاسه واخلي او په مېړانه او زړورتیا سره د کور دننه پر خپل تغر کېني او د افغاني فرهنګ او تاریخ د اصولو په رڼا کې له خپل دود و دستور، نرخ او ځلي سره سم د خپلې درویشت کلنې غمیزې لپاره د حل لاره راوباسي.

د افغان- انګلیس د لومړۍ جګړې اود انګرېزانو په ضد د لوی پاڅون پرېکړه په کابل ښار کې د غازي عبدالله خان اڅکزي په کور کې وشوه. د پښتو او پښتونولۍ په قانون کې د ستونزو د حل لارې موندل کېدی شي، چې الفنسټون او اولاف کیرو ددې قانون زیاته یادونه او ستاینه کړې ده.

په پردیو هېوادونو کې د جرګو جوړېدل نه یوازې بې ګټې بلکې د پښتني عنعنې مخالف بولم. افغان ولس تل هغه څوك خپل مشر ټاکلی دی چې د لوړو ملي او اسلامي اخلاقو درلودونکی او د هېواد ناموس او د ولس د عزت او حرمت خیال ورسره ملګری و. د جرم، جنایت، وطن پلورنې، عیاشۍ او فحاشۍ، غدر او خیانت او د پردیو د لاسپوڅۍ نښې نښانې یې په وجود کې نه لیدل کېدلې.

په بهرنیو هېوادونو کې د افغانانو غونډې د یوې سیاسي لوبې او سیاسي سوداګرۍ بڼې لري او ملي رنګ او بڼه په کې نه ښکاري، ځکه خو یې زه په کومې ګټورې نتیجې باوري هم نه یم. غوره دا بولم چې دغه ډول غونډې دننه په هېواد کې د همغو افغانانو په ګډون جوړې کړی شي چې په خپل هېواد کې د پاتې کېدلو همت او جرات یې کړی او د مرګوني شرایطو درد یې زغملی دی. په کور کې دننه له واکمن او حاکم څواك سره د غونډو کول او د جرګو جوړول کوم زیان یا خطر له ځان سره نه لري، بلکې د مقابل لورې د ذهنیت روښانه کولو لپاره هم ګټور ثابتېدلی شي.

وسیله ده، لیکن دغه ډرامه او د نړدې اسلامي نظام د تینګېدلو څخه وېرې د افغانستان د خلکو ژوند او د افغان ولس مادي او معنوي شتمنې لوی خطر سره هم مخامخ کړې ده ځکه خو په کار دي چې په هوښیارۍ سره ددې ستر خطر مخه ونیول شي. زه فکر کوم له دیوال سره ډغرې وهل د خپل سر ماتول دي. موږ په افغاني او اسلامي اصولو دغه خطر په آسانۍ دفع کولی شو.

زه انګېرم چې اسامه یو سوچه مسلمان او د افغانانو د جهاد یو اتل دی، خو پر دې هم پوهېږم چې هغه به هېڅکله ددې طرفدار نه وي چې د هغوی کوربه ولس په یوه بې بنیاده بهانه او تش تور تباه او برباد شي او د افغان ننګیالي ملت د ستونزو پېټی نور هم درووند شي. نو باید له نوموړي سره په ښلا مشوره او د افغان ولس د ملي او دیني مشرانو په نظر اخیستلو د حل یوه لار راوویستل شي. یوازې طالب چارواکي دا کار نه شي کولی. اوس په کار دي چې د اسامه مسئله او دغه ډول د هېواد د اوږدې غمیزې د حل مسئله د خپل سرلوړي ولس سره په سلا مشوره اواره کړي. طالبانو ته په کار دي چې د هېواد د ستونزمنو او کړکېچنو مسائلو په حل کې د افغانستان خلك دخیل کړي او د ولس پرېکړو ته غاړه کېږدي په دې حالت کې به یې مسولیت هم د پخوا په نسبت زیات سپك شي او ولس به هم دغه خوښي او رضایت احساس کړي چې افغانانو ته د هېواد د کړکېچنو مسایلو په اوارولو کې حق ورکړی دی.

که څېرې واك زما وای نو ما وخت په وخت د هېواد د مسایلو د حل لپاره ملي او ولسي جرګې راغوښتې. د هېواد پاکو او سپېڅلو زامنو ته مې که هغه د هېواد دننه دي یا بهر رسمي بلنه ورکوله چې په دغو ملي او ولسي جرګو کې له افغاني عنعنې او اسلامي اصولو سره سمه برخه واخلي او د خپل هېواد او خلکو په وړاندې خپله ملي او اسلامي فریضه ادا او د دولت یا جمهوریت له اوږو نه د مسولیت بار سپك کړي.

ایراني او سعودي ریالونو او نورو لګښت یې ګڼم، چې هېڅکله ورڅخه کومه نتیجه چې د افغان ولس لپاره د منلو او قناعت وړ وي لاس ته نه شي راتلای، که پخواني پاچا د افغانستان د کړکېچ په اوارولو کې پاسیف رول نه لوبولی او سیاسي مضره محافظه کاري یې نه وای کړې نو د شوروي اتحاد د لښکرو له وتلو وروسته یې باید له ډاکټر نجیب الله سره د لیدنې بلنه نه وای رد کړې او په هماغه مهال کې یې باید د افغانستان د مسئلې په حل باندې زور اچولی وای. هغه وخت نسبت اوس ته ځوان هم و او کولی یې شول د امریکې، فرانسې، انګلستان، آلمان او نورو زیاتو هېوادونو او ملګرو ملتونو کلکه مرسته وغواړي او که پاکستان یا ایران مخالفت ښودلو نو موضوع یې په جدي توګه نړیوالې ټولنې ته وړاندې کولی شوه. مقصد دا چې د افغانستان د مسئلې حل ته یې په روم کې د خپلې ماڼۍ له کړکۍ څخه نه وای کتلي بلکې د عمل ډګر ته راوتلی وای.

د روم له قصر نه تش د اعلامیو په جاري کولو د افغانستان کړکېچنه مسئله نه شوه حل کېدلای. ددغسې مسایلو حل پوره جرات او زړورتیا غوښتله چې پخواني پاچا دغه دواړه څرګند نه کړل، په ګوره ګوره ویلو خوله نه شي خوږېدلی او د اضطراري لویې جرګې جوړېدل هم د اعلامیو په جاري کولو نه شوه جوړېدی، بلکې یو کلك او جدي اقدام ته یې اړتیا درلوده ځکه خو نتیجه دا شوه چې له څلورو پنځو کالو راهیسې پاچا او ملګري یې د لویې جرګې په جوړولو بریالي نه شول او اوس خو ډېر ناوخته دی او د پاچا فزیکي حالت هم د پخوا په پرتله ډېر کمزوری شوی.

هغوی چې پرون لویه جرګه ردوله، نن هم وړاندې د زړه له کومې ایمان او عقیده نه لري، بلکې د پاچا له وجود نه سیاسي ګټه اخلي. هغوی چې د حل وعقد جرګه جوړه او د رباني نامشروعه واکمنې یې وغځوله د افغانستان خلکو په لته ووهله او تورمخي یې یوازې د هغه د جوړوونکو په برخه شوه.

په روم کې د پخواني پاچا د جوړو شویو غونډو ګډون کوونکو هم د افغانستان د خلکو منتخب استازي نه بلکې د جناب پاچا او د ځینو خودغرضو د خپلې خوښې کسان وو، ځکه خو هغو غونډو هم کوم ځانګړی وزن نه درلود او د افغانانو له خوا یې هېڅ هرکلی ونه شو، چې په دې اړوند د هېواد یو ملي شخصیت او بادیانته استاد خلیل الله هاشمیان په (آئینه افغانستان) کې ډېره ښه رڼا اچولې او د خپل ولس په وړاندې یې خپل دین ادا کړی دی.

● طالبان د اسامه د ستونزې د حل لپاره ځینې کتنې لري، چې نړیوالو ته یې یوه هم د منلو وړ نه ده او زموږ د بې وزله او په وینو سور ولس غمیزه یې پسې لا کړکېچنه کړې، ایا اسامه هسې یوه پلمه ده او که نورې خبرې هم شته، که څېرې د طالبانو له پلوه د نوموړې ستونزې د حل واک ستاسو وای، نو دریځ به مو څه وای؟

دا خبره یو حقیقت دی چې نړیوال په افغانستان کې د یو پیاوړي اسلامي نظام د تینګېدلو نه د سختې وېرې احساس کوي او د اسامه بن لادن د لاس ته راوړلو ډرامه ددې احساس د پټ ساتلو لپاره یوه

● خیبري صیب، تاسې یې ګورو چې پر لویه جرګه، لویه جګړه روانه ده، هغه هم له هېواد نه بهر او ډېر چیغه وهونکي یې هماغه دي چې پرون یې د لویې جرګې نوم هم نه شو زغملی او د حل وعقد شورا یې شعار و، خو نن یې په ډېره سپین سترګۍ پخواني پاچا مخکې کړی په دې هکله ستاسو څه نظر دی، منفي اړخونه یې کوم دي، کوم مثبت ټکي هم لري؟

زه په بهرنیو هېوادونو کې د جرګو جوړېدل نه تاییدوم، بلکې دغه ډول جرګې تش یو تشریفاتي کار بولم او د بې ځایه پیسو، ډالرو، پوندونو، مارکونو،

● (White Paper) یا سپینه پاڼه، د روم او قبرس غونډو او په همدې توګه یو شمېر ډله ییزو او ځانګړو تخریبي هڅو سرلیو بندیزونو سره څه

اړه او تړاو لري، راتلونکې غمېزې به یې زموږ پر ستومانه ولس څه ډول وي؟

د زلمي خلیل زاد White Paper، د روم، قبرس، تهران او نورو ځایونو غونډې او هم د ډاکټر عبدالغفور روان فرهادي او نورو غونډې کسانو هلې ځلې او منډې ترړې ټولې عبث او بې نتیجې بولم، ځکه د افغانستان عام ولس خو په ځای پرېږده، د افغان روڼاندو، پوهانو ډاکټرانو، انجینرانو، استادانو او روحانیونو بشپړ او د زړه له کومې ملاتړ هم ورسره نه شته، بلکې دا هر څه د دوی له نظره مردود ګڼل شوي دي، دوی اوس یوازې افغاني ماسک په مخ غوړولی لیکن افغاني احساس او سپېڅلې جذبه، پاک افغاني زړه او روح یې په بدن کې نه شته. سیاسي دلایل او سوداګري د هغوی پېښه ګرزېدلې او د خپل ولس مېنځ ته د ورتللو جرات هم نه لري. هغه ولس چې د سیاست په چاره حلال شوی او د سیاسي لوبو قرباني شوی دی. ډاکټر عبدالله او ولي مسعود خو د هغه حکومت استازیتوب په غاړه لري چې د افغانستان راتلونکي پښتلیک به دداغه حکومت توره دوره د وحشت او بربریت، تعصب، داړه ماری او د افغان ولس د مادي او معنوي شتمنو د لوټ کېدلو او د کابل تاریخي ښار د کنډواله کېدلو دورې په نوم په خپلو پاڼو کې ثبت کړي. د استاد رباني او د روسیې د اوسني مشر تر منځ د دوستۍ یو سند له ناروې څخه خپرېدونکې جریدې (دعوت) په خپل دویم مخ کې خپور کړی.

افغانستان پاک زړو او شریفو خلکو ولیدل او واورېدل چې استاد رباني د یو مسلمان عالم په توګه د هغې روسیې په لمنه کې ولوېد او د څواک د نیولو لپاره یې له هغې مرسته وغوښتله او کلکه دوستي یې ورسره پیل کړه، هغې روسیې چې یو نیم ملیون افغانان وژلي او په زرګونه کلي، بانډې، جوماتونه او ښوونځي یې له خاورو سره برابر کړي دي. په یقین سره د نوموړي پروفیسر دغه ناپاکه دوستي د افغانانو له نظره مردوده، له شرمه ډکه ده او حتی بل جرم او جنایت ګڼل چې په مناسب وخت کې به یې ولس د محاکمې غوښتنه وکړي. دې شرمناکې کړنې د استاد رباني او شریکانو له څېرې څخه د افغانیت مصنوعي ماسك لرې کړ.

په افغان ولس باندې د ناروا بندیزونو په کار کې هم د روان فرهادي، ډاکټر عبدالله او نورو لاس د هېچا له پام نه پټ نه دی پاتې شوی.

● دوې میاشتې له مخه په لره پښتونخوا کې د ښاغلي افضل خان لالا په مشرۍ یوه درنه غونډه جوړه شوې وه، چې تاسو یې هم وربللې وئ او ګډون مو په کې وکړ، که چېرې په دې اړه خپلې کتنې او په همدې توګه د ورته ناستو او سیمینارونو د ګټو او نیمګړتیاوو په برخه کې یو څه رڼا واچوئ، بده به نه وي.

هو! ما ته د ۱۹۹۹ میلادي کال د نومبر په لومړیو ورځو کې د پوه او دروند پښتون افضل خان لالا له خوا چې د پښتونخوا قامي پارټۍ مشر دی یو بلنلیک رارسېدلی و، چې د دوی له خوا د (افغان- پښتون نماینده جرګه) په نوم جوړه شوې غونډه کې ګډون وکړم. دغه غونډه یا جرګه د نومبر په ۱۴ نېټه په پېښور کې پرانیستل شوه او ګڼ شمېر روڼاندو، پوهانو، هېوادپالو، تکړه لیکوالو او شاعرانو، د پښتونخوا او افغانستان د سیاسي ګوندونو مشرانو او قبایلي روڼاندو په کې برخه اخیستې وه.

د غونډې یا جرګې ټول جریان کټ مټ د نورو تېرو ورته غونډو په څېر و او کوم خاص بدلون او نوښت په کې نه لیدل کېده. احساساتي او جذباتي وېناوې، په لوړ او محکم آواز چې د پښتنو ځانګړتیا ده، ځینې غوښتنې او مطالبې لکه په پښتونخوا کې د پښتنو لپاره د سیاسي فرهنګي او پوهنیزو حقوقو غوښتنه، په پښتونخوا کې د پښتو ژبې د رسمي کېدلو او د حکومت په چارچلند کې ورته د ونډې ورکولو غوښتنه، د پښتونخوا په مرکز پېښور ښار کې د پښتو ټولنې (افغان اکاډمۍ) جوړېدل او هغې ته د پښتو ژبې د یو علمي مرکز حیثیت ورکول، د افغانستان اسلامي امارت ته ځینې توصیې او لارښوونې او د ځینو بدلونونو راوستل، ټول او ټول د هیلو په ډول د غونډې د ویناکوونکو د وېناوو اصلي ټکي وو. د افغانستان د روان کړکیچ سوله ییز حل ته هم ځینې څرګندې اشارې وشوې، خو دا ټولې تشې خبرې وې. وینا کوونکو ته د لاسونو پړکول چې نن سبا د ګډون کوونکو یو عادت ګرزېدلی دی یوه عادي موضوع وه. دې جرګې ته ورته غونډې ما پخوا هم لیدلې وې، لیکن په هغو کې ښځو ته هم د ګډون حق ورکړ شوی و، خو په اوسنۍ غونډه کې ما حتی یوه پښتنه مور او خور ونه لیده، چې د پښتنو ورونو او زامنو ترڅنګ ناسته وې. په جرګه کې دغه مهمه غوښتنه هم پورته شوه چې د صوبه سرحد یا (N.W.F.P نارت ویسټ فرنټیر پراونس) نوم دې پښتونخوا شي. که څه هم دا کومه نوې خبره نه وه او په ۱۹۹۹ کال په صوبایي او مرکزي اسامبلیو کې ورباندې تاوده بحثونه او ښې تاندې خبرې شوې وې، لیکن کومه نتیجه یې نه وه ورکړې. هغه وخت نواز شریف صدراعظم و او ددې جرګې د غونډې په وخت خو حکومت د پوځیانو په لاس کې دی.

هغه وخت چې په افغانستان کې د شهید محمد داود خان جمهوریت و او په پاکستان کې د ضیاء الحق او بوټو واکمني وه، نو زموږ حکومت ته د رارسېدلې بلنې او د مقاماتو د تجویز او لارښوونې له مخې په پېښور کې د خوشال خان خټک په علمي سیمینار کې چې مخکې مې یې یادونه وکړه ګډون وکړ او د غونډې په تالار کې ما ګڼ

شمېر پوهې خوېندې او مېندې ناستې ولیدلې چې د سیمینار د برخه اخیستونکو وېناګانې یې په پوره مینه او څېرتیا سره اورېدلې لاکن په اوسنۍ غونډه کې د پښتو مېرمنو ځای تش و.

د دې جوړې شوې درنې جرګې وېناګانو یوازې د غونډې په تالار کې انګازې وکړې او په بهر کې د کومې اغېزې پته ما ته ونه لګېده. ما د پېښور پښتو ورځپاڼې لکه سهار او وحدت هم ولیدلې، لیکن په هغو کې مې هم د پښتون- افغان د نماینده جرګه ګی په اړوند کومې ځانګړې خپرونې ونه لیدې او داسې سوچ راپیدا شو چې ددې غونډې هرڅه هم دپخوا غونډې "تېر په هېر" شول.

تاسې به "د افغانستان د خپلواکۍ او نجات تاریخ" چې لیکوال یې خدای بښلی جرنیل غازي یارمحمد خان وزیري دی او د افغانستان د کلتوري خدمتونو اداري له خوا خپور شوی، لوستی وي، ده په څېر ځینې ملي شخصیتونه چې په رښتیني توګه یې زموږ د وياړلي هېواد ننګ و ناموس ساتلی، د یو شمېر تاریخ لیکوالو د یو لړ غرضونو له مخې په خپلو کتابچو کې په شعوري توګه له ور یادونې ډډه کړې او یا یې ناسم معرفي کړي، په دې اړه د ویلو څه لرئ؟

باید عرض وکړم چې د غازي یار محمد خان وزیري ښکلی کتاب ما تر اوسه د وخت د نه موندلو په

سبب نه دي لوستي، خو د دغه مېړه پښتون د وياړلو کارنامو په اړه مې ځينې خبرې اورېدلې دي. په پېښور کې ماته ياد شوي کتاب زما پوه او فاضل دوست حبيب الله رفيع راکړ چې ځينې نور ګټور کتابونه هم ورسره ملګري وو.

له هغوی نه چې د افغانانو له کارنامو څخه انکار کوي او د پښتون له نوم سره حساسيت لري څنګه بايد دغه توقع ترې وکړی شي، چې د پښتون قام سترو حماسو او تاريخي خدمتونو ته په ښه سترګه وګوري او هغو ته دې په خپله ليکنه کې ځای ورکړي. غبار او فرهنګ لا څه چې د سراج التواريخ ليکونکي فيض محمد کاتب هزاره هم د هغو کسانو په جمله کې دی چې د افغانانو په حق کې يې لويه جفا کړې ده او تاريخي حقايق يې تحريف او مسخ کړي دي. دلته به په دې اړه يوه لنډه شرحه وليکم و، چې مطلب روښانه شي او هم د ليکوالو له څېرې نه د افغانيت دروغجن ماسک لرې شوی وي.

ښاغلي ښاغلي (فيض محمد کاتب هزاره) د افغانستان يو نوميالی مورخ او د هزاره څېړونکي (حسين نايل) په قول دويم ابوالفضل بيهقي بولي. غبار او فرهنګ دواړو د همده له تاريخ نه په خپلو ليکلو کتابونو کې زياته ګټه اخيستې او اقتباسونه يې ترې کړي دي، خو کاتب د خپل تاريخ (سراج التواريخ) په لومړي مخ کې خان (مغول) معرفي کړی دی. د افغانستان دې مغول مورخ دغه لاندې آثار ليکلي دي:

۱- سراج التواريخ.
۲- فيض از فيوضات.
۳- نثراء نامه، افغان.
۴- تذکر الانقلاب.
۵- امان الانشاء.
۶- تحفه الحبيب.
۷- امان التواريخ او نور...

لېکن په ټولو کې د پښتون قوم چې کاتب په خپلو دغو ټولو آثارو کې د (افغان) په نوم ياد کړی دی ددې قام سپکاوی او هم تاريخي پېښې په صداقت او ايمانداری، نه دي کښلي. د ساري په توګه په (فيض از فيوضات) کې پښتنو ته دومره توهين شوی چې پښتون دښمن ايراني مورخ په خپل کتاب (تاريخ سياسي افغانستان) کې له فيض از فيوضات څخه ځينې اخيستنې کړي دي او مغول فيض محمد کاتب د خپل همدغه اثر قلمي نسخه ايراني مورخ سيد مهدي فرخ ته ورکړې ده، چې هغه يې په ايران کې چاپ او خپور کړي او دا پخپله ددې حقيقت ثبوت دی چې هزاره مورخ د پښتنو په هکله همغه نظر او عقيده درلوده، چې ايرانيان يې لري. همدغه يو دليل هم کافي دی چې د ذهني ناروغانو او پردي پالو په لاس ليکل شوي تاريخونه که هغه غبار کښلي دي يا فرهنګ، کاتب او يا پوهاند جلال الدين صديقي ناباوره او بې اعتباره وګڼل شي.

د کابل پوهنتون پخواني استاد جلال الدين صديقي چې د پښتنو په اړه يې تعصب، تنګ نظري او دښمني له حده زياته وه د همدې ناوړه احساس په رڼا کې يې د افغانانو په ضد د (نظام قبيله سالاري در افغانستان) کتاب په ګستنتر باندې چاپ او خپور کړ چې د افغانانو د کرکې په نتيجه کې د پوهنتون د محصلانو له خوا په اور وسوزول شو. پوهاند صديقي په وروستيو ورځو کې د (هزاره ها- تاريخ- زبان و فرهنګ) تر سرخط لاندې يوه څېړنيزه مقاله په ايران کې د خپرېدونکې مجلې سراج (۱۸- ۱۷۴ مخ) کې خپره کړې ده او د تاريخي سندونو تر مخې يې هزاره ګان مغول معرفي کړي دي. لېکن د خواشينۍ ځای دا دی چې دغه ډول پردي پالو د دښمنۍ په روحيه د افغانستان پېښليکونه ليکلي دي.

د فارسي ژبې حاکميت په پښتو باندې ددغه ډول ستم او ناروا او مهمه او يوازينۍ وسيله وه چې ددې فرهنګي ښکېلاک اصلي مسوليت هم په خپله د پښتنو واکمنو په غاړه دی. (په دې موضوع زما نوی کتاب "پښتانه- د فرهنګي ښکېلاک په زنځيرونو کې" نوره رڼا اچولې ده.

ښاغلی ډاکټر جاويد! د لسمې پوښتنې په ځواب کې ما په لنډيز سره دغه حقيقت څرګند کړ چې د افغان ولس لپاره ليکل شوي تاريخونه څکه د اعتماد او باور وړ نه دي، چې ليکونکو يې د پښتنو په نسبت تعصب درلود او د تياره او رانده ذهنيت درلودونکي وو او که چېرته د ګوربت مجلې لمن تنګه نه وای نو ما به د فيض محمد کاتب هزاره د سراج التواريخ د مولف کتاب (فيض از فيوضات) څخه د هغه د پښتون دښمنۍ ځينې بېلګې وړاندې کړې وای. د همدې سرې د سراج التواريخ نه غبار او فرهنګ او پوهاند صديقي او نورو زياته ګټه اخيستې او خپل آثار يې ليکلي او خپاره کړي دي.

زه دا خبره يو حقيقت بولم چې وايي: "تعصب د عقل سترګې ړندوي" او چا چې له پښتنو سره تعصب درلود، نو خامخا يې په ليکنه کې هغه کارولی او اوړه يې له شګو ډک شوي دي. که چېرته ايرانيانو، انګرېزانو، روسانو له افغانانو سره تعصب لرلو نو د ګيلې ځای هم نه دی، څکه چې پردي او د افغان ولس تاريخي دښمنان وو، لېکن د خپل کور دننه چې د پښتنو په تاريخ غوبل ګډ کړی دی د هر افغان د ژورې خواشينۍ لامل کېږي.

د افغانستان غير پښتانه تاريخ ليکونکي د تاريخ ليکنې په وخت د پښتنو په هکله د همغه احساس او تعصب په کوڅه کې تېر شوي چې ايرانيان په کې تېر شوي دي. د پښتون قوم په اړوند تاريخي پېښې هغوی هم تحريف کړي او دوی هم. د ساري په توګه د افغان- انګليس د لومړۍ جګړې د افغان اتل وزير محمد اکبر خان غازي په اتلولۍ ايراني مورخانو هم سترګې پټې کړي او دې نوميالي پښتون ته يې په سپکه کتلي او غبار، فرهنګ، کاتب او پوهاند صديقي هم ددغه لوی قهرمان په اړه حقايق تحريف کړي دي. هغه انځور چې د وزير محمد اکبرخان غازي معاصر شاعر حميد کشميري چې د لومړۍ جګړې عيني شاهد پاتې شوی او د غازي وزير له مړينې درې کاله وروسته هم ژوندی و، په خپل قلم د افغان اتل او انګرېز مکناټن د خبرو او بيا د وژل کېدلو څخه ويستلې دی د غبار او فرهنګ د کمزورو او غرضي ويناوو نه زيات روښانه او حقيقت ته نژدې دی.

غبار په (افغانستان در مسير تاريخ) کې د زياتو مطلبونو او تاريخي پېښو لپاره چې ليکلي يې دي سند او ماخذ نه دی ښودلی، څکه خو ويل کېدلی شي چې هغه خپله له خانه جوړې کړي او دده د خپل ذهن څخه راوتلې دي. د (افغانستان در مسير تاريخ) کې د غبار ماخذونه يا ډېر لږ او محدود دي او د کتاب د پنډوالي او د څېرکو د زياتوالي ځواب نه شي ويلی. دده په پرتله د مورخ سيد قاسم رښتيا په وړوکي کتاب (افغانستان در قرن ۱۹) کې زيات ماخذونه ليدل کېږي دا څکه چې په تاريخ ليکنه کې ماخذ لومړنی او بنسټيزه اړتيا پېژندل کېږي. د کاتب هزاره په کتاب (فيض از فيوضات) کې خو د افغان اتل او ستر مجاهد وزير محمد اکبر خان غازي ډېر څرګند سپکاوی شوی او افغان دښمن ايراني مورخ هغه په (تاريخ سياسي افغانستان) کې هم راوړی دی.

غبار د افغانستان له کمونيستي ګوند سره نژدې اړيکي لرل او فرهنګ د هېواد پلورونکي ببرک کارمل ډېر خوږ او نژدې ملګری او دوست و، څکه خو دواړه د يو پياوړي افغاني احساس له لرلو نه بې برخې پاتې شوي وو. په (افغانستان در مسير تاريخ) کې د غبار له خوا د سيوسياليستي ترمونو کارول دده د پښتون ضد عقيدې يو څرګند ثبوت ګڼل کېږي څکه چې پښتانه له سوسياليزم او کمونيزم دواړو سره مخالف پاتې شوي دي.

● په داسې حال کې چې زموږ د لرغوني هېواد د تاريخ ليکنې پر بهير هم د ګڼ شمېر بهرنيو، په تېره بيا ګاونډيو هېوادو مورخينو او هم د غير مسلکي کورنيو ليکوالو غوبل روان دی، لو رښتينی افغان ولس ستاسې په ګډون له منليو پوهانو د افغانستان د يوه لوی معياري تاريخ د کښلو بېړنۍ تمه لري، څکه له يوې خوا عمر لنډ او وخت په تېرېدو دی او له بلې خوا وروستي حالات يې خپله ليدلي، حس کړي او د پخوانيو حالاتو په اړه يې پراخه مطالعه کړې، آيا

تاسي په دې اړه له څېړونکو سره د زړه خواله کړې؟ يا يې په پلان کې لرئ او يا په دې اړه کوم خانګړی وړانديز لرئ؟

زه پخپله ساسي ددې فکر ملګرتيا کوم او د ارزښت وړ يې بولم. چې په يو لوړ معياري کچ د افغانستان پېښليك د پوهانو په پښتنې همت او سپېڅلي افغاني احساس او نوې پوهه وليکل شي او په دې کار کې د افغانستان د تاريخ د کلاسيکو ماخذونو تر څنګ د بهرنيو هېوادونو د مؤرخانو له ګنو آثارو څخه هم ګټه واخيستل شي. بايي دغه ډول نوی تاريخ ډېر توکونه ولري لکه مولوي ذکاء الله چې په اردو ژبه د هند تاريخ ليکلی او خپور کړی دی. زه د تاريخ د يو زده کوونکي په توګه د خپلو پوهانو او استادانو لپاره د توفيق او برې هيله من يم، ليکن دغه کار زياتې ستونزې هم لري څکه چې دا به د ... يې غټې علمي پروژې بڼه ولري او کافي پانګې ته به اړتيا وي.

دويمه د پام وړ خبره دا ده چې د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې خواره واره مېشته پوهان به څنګه د کومو مادي او اقتصادي امکاناتو له مخې او د کومو اجازو په وسيله د ليدلو کتلو، غونډو جوړولو او د کار د پلان په طرحه کولو بريالي شي؟

د دومره ستر او ارزښتناك کار لپاره د ډېرو امکاناتو برابرول اساسي غوښتنه ده. غټ لګښت غواړي او زيات وخت ته هم ضرورت لري. زه فکر نه کوم چې دغه لګښت او دومره وخت دې زموږ له درنو پوهانو سره وي. په دې باندې هم پوره باور نه لرم چې ګني دوی دې د کډوالۍ د ترخې دورې په وخت کې کومه وړه پانګه هم برابره کړې وي، نو په دغسې تنګو شرايطو کې به ډېره ګرانه وي چې د افغانستان د نوي بشپړ معياري پېښليك کښلو ته دې لاس واچول شي که څه هم زموږ پوهان دغسې يو ارمان هم په زړه کې ولري.

د پورتنيو ګرانتياوو او هراړخيزو ستونزو په پام کې ساتلو د کوم خانګړي وړانديز هڅو سوال هم نه شي راپيدا کېدی.

● تاسو نه يوازې د هېواد په کچه په مطبوعاتو کې د قدر وړ کارونه کړي، بلکې خينې نورې مهمې دولتي دندې مو هم سرته رسولې دي او بڼې تجربې لرئ، نو تاسې د يو واحد، خپلواك او سرلوړي افغانستان لپاره چې هېڅ يو غليم "يې" که کورنی وي او که بهرنی، ونه شي کولی چې د تروريستانو جنت وبولي او يا په بل نامه يې تورن کړي، نو په اوسنيو حالاتو کې زموږ د هېواد بريدونه څنګه ارزوئ او څه ډول بويه وي، د ډيورند کرښې په اړه مو دريځ څه دی او د افغانستان واکمنو ته په زړه کې نور څه لرئ، چې سبا خدای مه کړه ناوخته شوې نه وي؟

دغه پوښتنه ببل ببل اړخونه لري، چې اوږده شرحه او تفصيل غواړي ليکن زه به يې د مجبوريت له مخې لنډ خواب ووايم. د مطلب په پيل کې بايد عرض وکړم چې زه د يوه واحد، خپلواك او سرلوړي افغانستان لپاره چې غليم ورته د پورته کتلو جرات ونه لري، د افغانستان د خلکو چې ډېره کې يې پښتانه دي يووالی، اتحاد او اتفاق بولم. دغه يووالی هم د ډېره کيو ژبې (پښتو) ته خپل حق ورکول د پخوا په پرتله زيات غښتلی کولی شي. زه دا يوه ستره بې انصافي بولم چې د هېواد د ډېره کيو ژبه دې د دوی په خپل هېواد کې محکومه او تر ستم لاندې ژبه اوسي، چې همدغه بې عدالتي د افغانستان د خلکو يووالي ته هم زيان رسولی دی. پښتنو واکمنو دې تکي ته په پام نه اړولو سره د پښتنو او تاريخي افغانستان د پياوړتيا مخه ونيوله او تکرار به يې بله تېروتنه وي، د ډيورند د کرښې په هکله خو دوست او دښمن دواړو ويلي چې يوه فرضي او غير منطقي کرښه ده. دښمنان انګرېزان وو چې دغه کرښه يې په امير عبدالرحمن خان باندې د ډېرو سختو شرايطو په شته والي کې په زور ومنله.

زموږ د ګران هېواد يو مورخ استاد کهزاد ډېر کلونه مخکې د برتانيې د يو لوړ سياسي شخصيت (سرفرايزرتتلر) د ليکلي کتاب (افغانستان) په اړوند په خپله تاريخي څېړنه کې دغه کرښې اقتباس کړې وې:

"د ډيورند کرښه په ريښتيا سره د روغې جوړې يو وچ سمبول او د انګليس د بې منطقي د سياست څرګندوی دی، چې په خپل شاوخوا کې يې ډېرې مسئلې ناحل پرېښودلې. د ډيورند کرښه د خوبيو پر ځای عيبونه زيات لري او دا تنوګرافي، (خلك پېژندنه) له پلوه او د پوځي او جغرافيايي له نظره ډېره غير منطقي ده"

همدغه انګرېز سياست پوه وړاندې ليکي: "امير له سره د کرښې د تطبيق او د کرښې د تېرېدلو په اصلي مفهوم او معنی نه دی پوهېدلی. تش د نقشې له مخې يې هغه کرښه ليدلې ده او ددې مانا دا ده چې امير د هغه ډېر جزئيات نه دي منلي او د ډيورند کرښه تر ننه پورې ناټاکلې او نامکمله پاتې ده". د انګرېز سرفرايزر تتلر (افغانستان) نومی کتاب په ۱۹۵۰م کال په لندن کې خپور شوی دی.

نن سبا د پاکستان حکومت هم ددې غير منطقي کرښې په هکله د ژور تشويش احساس کوي، څکه خو د پاکستان د کورنيو چارو وزير معين حيدر له طالب چارواکو سره د ليدنې په وخت د ډيورند د کرښې په اړه خينې يادونې وکړې.

د افغانستان د اسلامي امارت چارواکو ته مې له نن نه څلور کاله مخکې په تاروې کې د خپرېدونکې جريدې (دعوت) له لارې خپل عرايض په يو مضمون کې چې سرخط يې و "افغاني اسلام که جهاني اسلام" وړاندې کړي وو. ما عرض کړی و چې:

افغانستان د يو لرغوني اسلامي هېواد په توګه د اسلامي نړۍ يوه برخه ده او بايد د همدې نړۍ له هېوادونو سره خپله ورورولي په عمل کې ثابته کړي. له دوی سره غوره اړيکې وساتي. د هغوی نه هراړخيزې سلا مشورې واخلي او د هغوی نه د حکومت چلولو طريقې زده کړي له هغوی څخه هر ډول مرستې ترلاسه کړي او له هغوی څخه د پوهې لاس ته راوړنې له لارې د هېواد اقتصادي، پوهنيزې، کرنيزې او دغه ډول نورې ستونزې اوارې کړي لکه څنګه چې پاکستان پخپله دغه کار کوي.

د افغانستان مېړني خلك د اسلام له پيدايښت څخه تر ننه پورې سوچه او سپېڅلي مسلمانان پاتې شوي او اسلام يې همغه اسلام دی چې د ميرويس نيکه او احمد شاه بابا و. د هېواد د اتلو ملي مشرانو، ديني عالمانو او روحانيونو او ټولو مليونو افغانانو و، نو د بل ډول اسلام هېڅ اړتيا نه شته. په نړۍ کې اټکل ۵۳ اسلامي هېوادونه دي، ليکن بهرني غير اسلامي نړۍ ورسره دومره مخالفت او ضديت نه ښکاره کوي. لکه د افغانستان له اسلامي امارت سره چې يې ښکاره کوي. دغه مخالفت او ضديت د افغانستان د جنګ ځپلي او زهير ولس په زيان تمام شوی او لويه تباهي يې راولاړه کړې ده. اسلامي امارت په هوښيارۍ سره او پرته د وخت د له لاسه ورکولو بايد د راغلې تباهۍ مخه ونيسي او د تجريدي حالت نه ځان وباسي. پخپلو سياسي کړنو او حکمت عملي کې منطقي او د منلو وړ بدلون راولي او په دې برخه کې د خپل مسوليت د رفع کولو لپاره تر هر څه لومړی په خپله په وطن مينو او نيکنامو افغانانو باندې که په هېواد کې دننه يا د باندې بشپړ ډاډ او باور ښکاره کړي د ستونزو د

حل لپاره له اسلامي اصولو سره سره د افغاني عنعنې او دود دستور نه هم ګټه واخلي. په دې لاره کې په مېړانه او زړورتيا ګام پورته کړي. د پاک زړو افغانانو جرګې راوغواړي او د ستونزو د حل لاره ورڅخه وغواړي. تر څو د دوی خپل مسوليت رفع شوی وي. همدغه جرګې کولی شي د اسلامي امارت د چارواکو د باور په رڼا کې د هېواد او هېوادوالو ستونزو ته د حل لاره هم پيدا کړي او جګړه مار څواکونو ته د ملامتيا ګوته ونيسي.

طالب چارواکي بايد په خپل ولس کې خپل هغه محبوبيت بېرته راژوندی کړي چې د خپل تحريک د پاڅون په لومړيو ورځو کې يې درلود. د امن او سولې او اسلامي او افغاني اخلاقو سره ژوند د هر افغان لپاره يو ايدآل ژوند دی او د هېواد حاکم قدرت درواژې د ټولو افغانانو په مخ خلاصې کړي. حاکم څواک بايد د خپل مسووليت بار له خپل ولس سره وويشي، څکه چې په يوازې ځان د دغه دروند بار وړل يو ګران او ناشونی کار دی. پوه او په هېواد مين افغانان کولی شي په ايمانداري سره په دې اړوند خپله ذمه واري سرته ورسوي. نن ورځ هر افغان که د هېواد دننه دی او که د باندې ددې پوښتنې ځواب نه شي موندلی چې ولې د پنځو کالو په تېرېدلو سره بيا هم د د طالبانو امارت د نړۍ د ۵۳ اسلامي هېوادونو له خوا په رسميت نه دی منل شوی او د دغو هېوادونو سياسي نمايندګۍ په کابل کې نه شته. ولې د اسلامي هېوادونو مجموعه په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د اسلامي امارت په غړيتوب رای نه ورکوي؟ د نړۍ اسلامي هېوادونه د افغانستان له مسلمان اتل ولس څخه ناراضه دي او که له طالب چارواکو؟ د نړۍ ټول اسلامي هېوادونه د پوهې، سياست، اقتصاد، کرنې، صنعت او پرمختللې تکنالوژۍ په ډګرونو کې له افغانستان څخه مخکې دي. هغه هېوادونه په نړيوال کچ اسلامي ستر پوهنتونونه او د اسلامي پوهنو (علومو) بين المللي مرکزونه لري چې ډېر پياوړي او زبده ديني عالمان د دکتورا تر درجې پورې په هغو مرکزونو او پوهنتونونو کې دندې ترسره کوي هغوی ولې د خپلو خلکو لپاره د ډېرې پرېښودلو په اړه شرعي فتوا نه جاري کوي او يا د کوتک په زور خلک لمانځه ته مجبوروي؟

هغوی ولې پخپلو هېوادونو کې د طالبانو غوندې اسلامي قوانين نه جاري کوي او د ښځو د تعليم او کار کولو په برخه کې د د دوی په څېر يو سخت دريخ نه غوره کوي؟

په هغو هېوادونو کې خو د اسلامي اصولو د چوکاټ دننه راديو و تلويزيون خپرونې کوي او مطبوعات اجازه لري ډول ډول عکسونه په خپلو پاڼو کې چاپ کړي، ليکن په دې نه پوهېږم چې ولې د هغو هېوادونو اسلامي او ديني عالمان دغه عمل حرام او ګناه نه بولي؟؟

زه چې په ۱۳۷۱ لمريز هجري کې کلهوال شوم او هېواد ته راته پاتې شو، نو د مصر عربي جمهوريت ته لاړم. د قاهرې ښار په تلويزيون کې مې د جامع الاظهر د نړيوال کچ پوهنتون رئيس وليد، چې د اسلام د سپېڅلي دين په هکله يې وينا کوله، خو ډېره يې په مخ نه وه. په وروستيو ورځو کې مې د اسلامي هېوادونو تول مشران په همغه تلويزيون کې وليدل چې يوه هم ډېره نه درلوده د سعودي عربستان د پاچا ملک فهد عکسونه مې په ورځپاڼو کې وليدل او د تلويزيون کامرې مې هم وليدلې چې د ملک فهد مخې ته ولاړې وې، ليکن نوموړي هيڅ عکس العمل نه ښکاره کاوه. له هغه ځای نه جرمني ته کډه شوم او دا ۹ کاله همدلته پاتې شوی يم. ماته اوس کله کله دا سودا راپيدا شي چې البته په سعودي عربستان يا نورو اسلامي هېوادونو کې به ديني او اسلامي پوهان نه وي چې په اسلامي اصولو دومره وپوهېږي لکه څومره چې محترم طالب چارواکي پوهېږي.

زه داسې فکر کوم چې د افغانستان د اسلامي امارت د تجريد او يوازې پاتې کېدلو بنيادي وجه همدغه د اسلامي قانون د تطبيق او عملي کولو طريقه ده. که چېرې اسلامي امارت د اسلامي هېوادونو نژدې دوست او ملګری پاتې شوی وای نو امريکا او لويديځو ملکونو هم له اسلامي امارت سره د ناړامي سلوک نه شو کولی. اسلامي امارت د ۵۳ اسلامي هېوادونو له خوا په کلکه حمايت کېده او ۲۲ مليونه افغانان په اوسنيو کړاوونو نه اخته کېدل. آيا دا به د افغان ولس او اسلامي امارت په ګټه نه وي چې همدا نن طالب چارواکي په خپله لاره نوی نظر وکړي او نور وخت له لاسه ورنه کړي؟؟؟

ددې مقصد د سرته

رسېدو لپاره بايد موږ د الله تعالی (ج) په دربار کې د دعا لاسونه پورته کړو.

ښاغلی ډاکټر جاويدا د مرکې د اوږدوالي له کبله مې دا خبره هېره شوه چې عرض وکړم له ګران هېواد څخه تر راوتلو او مهاجر کېدلو مخکې څو کاله د راديو افغانستان د (پښتو او بلوچو) د ۸ ساعته خپرونې لوی مدير وم او هره ورځ مې دوه تبصرې او يو تاريخي ادبي مضمون په خپل پروګرام کې د خپرېدلو لپاره ليکل. په تاريخي مضمون کې مې د پښتون قوم اتل بچيان (لونې او زامن)، د هغوی له کارنامو سره اورېدونکو ته پېژندل د (پښتنو او بلوچو خپرونه) پخوا د (پښتونستان د خپرنې) په نوم يادېده، چې د کارمل د واکمن کېدلو تر وروسته يې نوم بدل شو. دوه کاله وروسته ګوندي رژيم، د خپرونې وخت له ۸ ساعتونو څخه په ورځ کې دوه ساعتونو ته راکم کړ.

● **تاسو ته "ګوربت" په اروپا کې د استازي له خوا يې استول کېږي، دا وروستی دوې ګڼې مو چې ولوستې، څنګه يې تللې او د لا ښه کېدو لپاره يې کومې لارښوونې هم لرئ؟**

ما چې د ګوربت د ښکلې مجلې دوه ګڼې ليدلې دي نو دا راته د هر پښتون لپاره يوه ايدآل او په زړه پورې مجله ښکاره شوې ده، د ښکلې صحافت او پياوړو قلمي همکارانو په درلودلو سره يقيناً د جلا وطن افغاني مطبوعاتو د غوره ملي خپرونو په کتار کې خپل ځانګړی ځای لري. خو بايد عرض وکړم چې تر اوسه لا ماته په اروپا کې د مجلې د استازي له خوا کومه ګڼه نه ده رارسېدلې. د يوې خپرونې په هکله قضاوت د خپرونې د محتوا له مخې کېږي او د هغې موخې او مقصد له مخې چې ښست يې په ملي ګټو اېښود شوی وي. د تعصب، وطن پلورونکو او د پرديو د اجنټانو د خائينانه فعاليت په ضد يې بېرغ پورته کړی وي. زه فکر کوم هره خپرونه د زيارکښو مسلکي کارکوونکو لايقو قلمي همکارانو او ملي دريځ په درلودلو سره کولی شي د يوې ګڼې نه بلې ګڼې ته د پرمختګ لاره ووهي او ګوربت د هغو خپرونو له جملې څخه يوه ده. زه يې د زياتو برياوو هيله من يم.

● **درون خيبري صيب، دا چې زموږ ګټو او اوږدو پوښتنو ته مو په ډېر ورين تندي، په زړه پورې او ډېر ګټور ځوابونه ولورول، ډېره ډېره منه او کور مو ودان.**

د سرو سپایانو بورو میندو!

ها(۱) چې په وینو یې لړلې دي د غرو لاښوله — ها چې د وینو فوارې یې وې تازه زخمـــونه
هــــا چې نامرادو ارمانو یې بهولې اوښکې — ها چې حسرت د یې کسیو به چیچل غاښونـه
ها چــــې بـــې وینې قبولې له آهونو سره — ها چې له درده تاویدل لکه زخمي ملـرونه

ها چـــــې له تندې څخه یې ستونې له سکرولو ډک وو
هـــا چـــې نارو یې د وای وای خیرل د ګټو زړونه
هـــا چـــــې پر وخت د زنکدن یې یادول "پدرګه"(۲)
ها چې له ساه سرې (۳) لړ خولو ختل د "مات" رغونه(۴)

ها چې کارګانو یې راکښلې وو د سترګو ګالې — ها چې لیوالـو یې پر غوښو اخیستل خـــوندونه
ها چې بانبې یې اربودوې (۵) د سرو په مغزو — ها چې کـارېانو یې ژوول لکـــه ګڼې هـدونه
چې یې کوبړی سوې د درو د لرمانو سوړې — چې یې سینې سوې د کمرو د منګورو غارونه(۶)

زه دا منم دا بـــرند خوانان مـــو وو، د سترګو کسې
زه دا منـــــم دا شاه زلمي مـــو وو، د زړو ســــرونه
زه دا منم چې د دوی مرګ‌کړې ستاسې هیلې شنډې
زه دا منم چـــــې مـــونـــکور سول د بختو لختونه

زه دا مــنم چې پـرلې مو په خـــزان بدل سوه — زه دا مـــنم چې امیدونه مو سوه لاښ باغونه
زه دا منم چــــې امـېلوله مـو د عیش وشلېدل — زه دا منم چې مو په سالندو سوه بدل سروزونه
زه دا منم چې د غم تکو مو کورونه ګروپ کړل — د ولړ بریښناوو مـــو دروسوځل پاخه کېتونه

زه دا مـــنم د دوی یـــادونه مو ماغزه درسوځي
د دوی عکســـونه مو بر زړو ایږدي د اور داغونه
پر بارخــوګانو به مو جــوړې وې د اوښکو لارې
د دوی ګرانښت مو درچیخې په کـــور سره سځونه

هـــغه یادونه چې درځي د پښتولنځوا له لورې — زه دا منـــم یادې دا ستاسې پر مـرو اورونه
تاسې چې اروئ زمـــوږ د ملک د توریالو خبرې — زه دا منم لیونې کـــسې هـم پاڅي څپموونه
خو دا ویـــــنا واورئ د سرو سپایانو بورومیندو! — ستاسې پر مینه درختلې نه دي زموږ پوځونه

موږ درغلې نه یو خوینډو! ګورې ستاسې ملک ته
مــــوږ پـــه سکالولو نه دي سوي د روس ښارونه
موږ په بمو درهـــــوارکړې نه دي ستاسې کلي
موږ په ټانکو نه دي رنګ کـــړي د ماسکو کورونه

موږ درپېلې نه دي ستاسې ماشومان په ساتکو — موږ اچـــولي نه دي ســـبو له د انسان لاښونه
د خــپل وطن د خپلواکۍ د حفاظت په ګناه — مــــوږ له دي کـــړي د ځوانانو د سرو لوونه
موږ ځرولي پـــــه وینتو نه دي د چا لورسرې — موږ لاندې کړې لر ټانکو نه دي ژوندي تنونه

مـــــوږ تـــړولي په توپو نه دي د چا ګلاوې
موږ سوځولي په ناپالمو نه دي شنه ځنګلونه

مـــــوږ معبدو ته د چـــــا اور وراچـــولی نه دی — مـــــګر زامنو ستـــاسې کړې دې دا ټول کـــارونه
ستاسې زامنو غورځولي زموږ خوانـــــان دي اور ته — ستاسې زامنو دي داغلي زمـــــوږ د میندو زړونه
ستاسې زامنوزموږدیرې راهیدریرې کړې افسوس — په وینو رنګ یې کړل د ګران افغانستان دښتونـه
ستاسې زامنو رادانګلي دي پخـــپله مـــرګ ته — خوینډو! لش نه دي له زمریو، ددې مینې غرونه
ستاسې زامن وو خورا لړې د افـــــغان وینو تـــه — د دوی دې لندو مو ببلتون کړ د ناســـــوږ ټپونه

مـــــوږ ګرزولي لـــــه دي زرندې د زلمو په وینو
موږ خو له اوښکو د زوی مرو نه کړه جوړ رودونه

ستاسې به شمار وي په زرو د جنګ خپلو میندو — زموږ جنګ خپلي میندې دي د زرېرخای لکونه
مــــــلامت نه دي افغانان د سرو سپایانو په مرګ — دي مــــــلامت د "بریژنیف" د ملک ګیری پلانونه

(۱) ها = هغه، لکه دا- دغه (۲) Padruyu په روسي ژبه معشوقې ته وایي. (۳) سرې = سره یې. (۴) Mat په روسي ژبه مور ته وایي. (۵) اربوده= دیری مرې- دیر ماړه.
(۶) منګور = مار (۷) د روسانو په یوه علامیه کې لیکل سوی وو، د افغانانو په جنګ کې زموږ پنځلس زره سپایان وژل شوي دي.

جنګ

دا ګلونه رنګ په رنګ
د لالا او د لونګ
سره برسنن د پسرلي
سره لاسونه سور پالنګ
توري زلفې توري سترګې
توره شپه د پیکرو شرنګ
سره ګکی باسته ورنونه
بادشاهي تخت د اورنګ
د درځو د تاز خبرې
د دم د رباب ترنګ
د شرانده سیند په غاړه
یا د یار د در ملنګ
ستا تر څنګ شپېته ګلوله
د هغې تر څنګ بو درنګ
زه مجنون د استاد مینې
راشه لږ زما تر څنګ
شکرانه کړه انګلي دي
ستا د سرو شوندو قلنګ
دا اول خل دې چې وینم
زه د تورو سترګو جنګ
د بنایست شمعه کړه بله
چې پرې وسوزي پتنګ
که خبر د زور او زر وي
بیا خنجر پاېللي جنګ

عبدالرحمن جنګ

خلیل

لونګین پرتم

زما په لاس جوړ شوي
د کانو ګټو بتان
د زړګي خوله ډکولای نه شي
هغه چې نوم یې هم په خوله نه راځي
هغه چې خیال کې مې هم نه ځایېږي
د زړه تیاره کنډواله
د هغه یاد ځوندي کولای نه شي

د سوز او ساز د تاوه ډکې لمبې
هغه چې زه یې په ګلزار یادوم
په کې د تا د نظر نخښې بنکاري
خکه وردانګم ګلې.

پوروړي زمانه

راغله مېلمنه خو د زړه کور کې کورنه شوله
شنه شوله د زړه به کروندد کې مې راشنه شوله

یاد ته د ښکلا دې هر یو رګ مې سندریزه شو
ستا ثنا صفت زما به ژبه ترانه شوله

ستا د انګلیسي ښکلا غرور هم له خېبره دی
ناوې د غزل د حمزه غېږ کې پښتنه شوله

وخت خدای خبر څو سوه کلونه له ما مخکې دی
زه یې شوم قرضدار که پوروړې زمانه شوله

مېنې وچکالې دې له بارخو سرخې زېښلې دي
دا مې د جنون لر څنګه بله اندېښنه شوله

شیخه تلازم که د دنیاوې له عقبی سره
هلته مې هم برخه کې ښکلا او مېخانه شوله

شوندې شوندې زېښې ژبه بل شان استغفار کوي
خدایه له ما شوې ګناه بیا څومره درنه شوله

واخله د ورمو رمنځ وربل د نظر صاف کړه
دا د حقیار هیله ستا به در کې نذرانه شوله

محمد حسن "حقیار

هېواد

اې درنې خاورې اې مورې
دغه کله ستا مقصد و
چې یې وینو دلته موږ نن
ستا وجود دېر ضرورې و
خو ددې لپاره نه چې
هم د خپلې غېږ بچې دی
ستا په بدې ورځ پسې شي
د خان فکر خان له خپل کړي
ستا خدمت هېر کړي له سره
ستا بچې دغه ټول ورونه
د یو بل لپاره خنډ شي
کله دغه ستا مقصد و
دا چې ورک په خان خاني دی
ستا په وېش هم دی خوشاله
لا به وینو الوان غواړي
دغه ستا د غېږ روزلی
دا د توی بد رنګه وجود دی
لوی باداړ زیښي کړي
دا چې ستا دی خپښا نه دی
ستا وجود ته مو دعا ده
ستا وحدت سلامت غواړو
تر قیامته تر ابده
اې درنې خاورې، اې مورې
علي کمېل قزلباش

○

چې وفا یې له چا نه مونده په خمکه
و اسمان و ته روان شو عیسی خکه

په زرګونو راته لاف کړ اوس یو نه شته
اشنایي له هر چا بنه ده بې خنکه

د هغو له خولې کړې خبرې اوروم
چې به ما ورته کاته کوله په کرکه

د راحت په وخت چې تل تر تا خارېږي
په سختۍ کې وېزارېږي له ابکه

ما وې واړه په احسان زما بندي دي
همګي یې زیست روزګار و له کوتکه

د معنی په سترګو ګوره که دانا یې
په ظاهر جامه کې بنه برېښي لتکه

مروت، یارې ترې مه غواړه خوشاله
هر سړی چې اوبه وخښي له اتکه

خوشابابا (رح)

اروابناد ډاکتر وکیل ته

غزل

د اسحق ننګیال پر خمکه

د شپو تور ځادر خور دی سپین سهار له ما نـه وړي
جــې خمْ یږي لو منزله هغـه لاز لـه مـا نـه وړي

د زړه بـــه کرونـده مې چا اغوږ کړلي دي
خزان یې رابـرې ابـې شــین ګلـزار لـه مانـه وړي

د شپو غله بـــــیا لوېدلي زما د کلي په دموو
سپوږمۍ او ســتوري دواړه ټول کـتـار لـه مانـه وړي

د خیال ښکلو ســانجو کې چې زه وکـرم ګلونـه
د غم خړ بر ســیلاب یې بـه تلـوار لـه مـا نـه وړي

وطن ښکلي باغونه او باغچې چې یې سمسور وي
نصیب مو څومره کم دی ها مګـیار لـه مـا لـه وړي

عابده وردګ

د مهجورانو اخترونه

زه چــې ګورمـــه د نـــورو اختروله
د مهجور ولـس اختـــر بــه څه اختر وي
دا به خپله خوښه نه دي ټول به زور دي
بـــه ولس مې د غمو هسې بـاران دی
ټول صـــورت مې ولولي او جـذبت شي
به دا هسې وخت چې قام سلګۍ سلګۍ دی
زمـــــانـــې که لږ فرصت وماته راکـړ
کــه مې قام جېړې به یوه دېره جرګه شو
بـیا بـــه ګورې چې به خرګګ په غلیم زه
بـیا بـــه هلــه جوړوو د اختر جشن

زړه مې اور شي او له سترګو خې رودونــه
چا نمـانځلي پـه پردي وطـن جشنونه
لـه هـېواد جــې شـړل شــوي ولــونه
لکـه اوري پـه وطـن مـــې ســره بمونـه
چې راباد شي خپل وطن خپـل اخترونـه
غـداران رالــــه جـېـرې د زړه زخمونــه
کـه موږو شـول دا خـواره واره فکرونــه
یـوه لار شـــول کــه د زړونـــو ګودرونــه
توري خاورې کړم د ژوند خــواره خوندونـه
پـه هـېواد کـې بـه نمـانځو بیا اخترونـه

بیا به ګورې چې د ګل په شان تازه شي
بې وطنه دا غربت وهــــلي زړونـــه

نوربالی خاخي، تل

عصمت قانع

ګور کیندونکی

د لیکوال په هکله:

نور الهدی شاه د سیندي ازادي ښځونکي غورځنګ د ځوان قشر ایډیال لیکوال و، د ۱۹۶۰ع کال په مارچ کې په جیکب اباد کې وزېږېد او د ۱۹۸۵ع کال په اپرېل کې د کراچۍ په ښار کې ترور شو.

د ځوانیمرګ ډېر لږ اثار چاپ شوي، دا لاندې کیسه یې د خپلو خلکو د ناپایه تراژیدیو شهکاري تصویر دی.

ژباړن دده دغه کیسه له سیندي ژبې پښتو کړې ده.

د تېرېدونکي ماښام تور سیوری لاپسې تیاره کېده، شپې هر څه په خپله خاموشه او کراره لمن کې سره راونغاړل. د ترورېدو وزرونه د لویې او پراخې هدیرې پر هره ځنډه باندې وغوړېدل. ګورکیندونکي له خپل ستومان روح سره یو ځای د هدیرې په بر سر کې د کیکر ونې ته ډډه لګولې وه. داسې معلومېده لکه چې د خپل رنځور سرنوشت تولې نبکمرغي یې تېره ورځ په خپله بېلچه او کولنګ باندې په هدیره کې ښخې کړې وي.

د هغه څنګ ته د هغه کولنګ هم د ستومانۍ او ستړیا د یوه مرموز سمبول په توګه ونې ته ځګ ولاړ و، چې دده په قبرونه پرې کیندل. یا خو لږ تر لږه د ده سترګو ته یې د ستړیا او ستومانۍ جوله انځوروله. دی هغه وخت دې هدیرې ته راغلی و چې مازې یې ماڼ تور شوې وو او اوس چې د سر او ږیرې وېښتان یې له نیمايي څخه زیات سپین وو، نو هم ګورکیندونکی و د خاورې پر لمن د پایېدونکو انسانانو د ابدي ژوندانه لپاره د کینډونکو ګورونو او قبرونو وظیفه ده ... رونو نیکونو او غورنیکونو څخه په میراث پاتې وه.

مرګونه او قبرونه دده د ژوند د تېرولو یوازینۍ لاره وه او ده له همدې لارې د خپل ژوندانه د دوام او ... ښت هڅه کوله.

دا دوې ورځ... خو هېڅوک هم نه مړه کېدل. هو، له دوو ورځو راهیسې دده تر تبي لاندې اور نه و بل شوی.

لوږه د مرګ په څېر پسې راروانه وه، په دې دوو ورځو کې هغه د یوه بایلوونکي قمارباز او جوارګر په توګه خپلې خالي او جونګړې ته راروانېده.

هو، په دې دوو ورځو کې د هغه له لوخو او لرګو جوړه جونګړه هم غمګینه او بې نوره وه، د بچو په سترګو کې یې لوږې سیوری کړی و د مېرمنې په څېره کې یې د لوږې د غم دردونو خپل انځور ځای کړی و. په دې دوو ورځو کې مرګ نه و خوځېدلی په ټول دیار کې هېچا هم د ژوند دروند بار له اوږو نه و غورځولی خو لوږه د ده په بچیانو پسې راخوځېدلې وه.

هغه په فکر کې و، په اندېښنه کې و، په کوم ځای کې چې بې شمېره خلکو له ژوند سره خپلې اړیکې شلولې، هلته له تېرو دوو ورځو راهیسې هېچا هم د ژوند دروند بار له اوږو نه وو غورځولې، په دې ټول دیار کې پله هدیره هم نه شته په دې خلکو څه وشول چې نه مري. له تېرو دوو ورځو راهیسې چې هغه خالي لاس کور ته راتللو نو د بچو سترګې یې پسې لګه بې تېلو ډیوې داسې بلېدلې.

کشر زوی یې تر نیمايي شپې پورې د لوږې لـه لاسه ژړلي وو او بیا په ژړا کې خوب ورغلی و. مېرمنې یې د زوی په ارامولو کې اخر ژړلي وو او اوس هم په سلګو وه.

هغه فکرونو او اندېښنو پسې اخیستې و. لوږې

يې ار و پار ترې خطا کړي وو. په نمجنو سترګو يې هديره سر تر پايه وکتله. غاړه يې لږه اوچته کړه، لاړې ته يې وکتل چې مبادا کومه جنازه به راشي او قبر به ورته وکيندي.

يوم او کولنګ يې دواړه پراوړه راپورته کړل او په کاواکو قدمونو د کور پر لور راروان شو. له هديرې راووت نو يو خل بيا يې تر شا وکتل، ټوله هديره يې تر نظر تېره کړه داسې يې وانګېرله لکه ټول مړه چې راپورته شوي وي او له خپلو سپينو کفنونو سره د هديرې لر او بر سرته منډې وهي، سر يې پړې وګرځېد له سترګو يې د ليدلو قوت منډه وکړه، توره تياره ورته رامخ ته شوه او خاې پرخاې کېناست، بېرته را ولاړ شو او په ګړنديو قدمونو يې د کور لاره په مخه واخيسته، چې تر نيمايي لاړې راغی، نو بېرته يې سوچ وکړ، کېدای شي چې په همدې وخت کې چا هديرې ته جنازه راوړې وي.

خو بېرته يې د کور لاره په مخه واخيسته، له ځان سره يې وويل چې که جنازه راغله نو د نورکله په شان به يې له کوره راوباسي.

چې کورته راورسېد په رېږدېدلو لاسونو يې د ټاټ پرده پورته کړه او د جونګړې انګړ ته ورننووت. د انګړ په مينځ کې يې دوو زامنو په تشلو لوښو کولې.

د پلار په ليدو دواړه راپاڅېدل، خو کله چې يې د پلار څېرې ته وکتل نو پوه شول چې ابا بيا تش لاس راغلی دی او لکه چې هديرې بيا کوم نوی مېلمه نه دی موندلی.

ښځې يې له يوې ژور اسويلي وروسته وويل.

هغه ورو کې خو په ژړا ژړا کې ويده شو ډوډۍ يې غوښته.

چې د مېرمنې خبرې يې خلاصې شوې، نو مشر زوی يې ورته وويل اباجانه زه هم ډېر وږی يم. منځوی زوی يې په غبږ کې ورولوېد "اباجانه نن هم څوک نه و مړ" ګور کيندونکي هېڅ ځواب ورنه کړ.

منځوي زوی يې بيا ورته وويل: اباجانه چې څوک مړ شي نو زموږ په نغري کې به اور بلېږي او ډوډۍ به پخېږي؟ پلار يې په رېږدېدلي اواز ورته وويل، هو بچيه! هو بچيه!

ماشوم زوی يې دواړه لاسونه د دوعا په دود لپه کړل، اسمان ته يې وکتل. "يه خدايه ته څوک مړه کړې چې ادې مې په نغري کې اور بل کړي او زموږ په کور کې ډوډۍ پخه شي." ګور کيندونکي لږ څه په لوړ اواز امين ووايه.

دا دوې ورځې ګورکيندونکی هم له الله څخه سوالونه کول چې هديرې ته جنازه راشي خو د تقدير دا خوښه وه چې هېڅ هم ونه شي

دواړو زامنو يې په دې هيله چې کېدای شي سبا څوک مړه شي، نو زموږ د کور تر تبي لاندې به اور بل شي ويده شول، خو خالي خېټه خوب هم نه مني. لټ

پر لټ اوښتل. ګور کيندونکي او مېرمن يې ويښ ناست وو، سرونه يې ځړولي وو، له څه شېبې وروسته يې ښځې ورته وويل:

سړيه بل کار نه پيدا کېږي چې دې سپېره کار ته دې ملا تړلې ده؟

ګورکيندونکي ځواب ورکړ: بل نو څه کار وکړم، بل کار خو مې زده نه دی. د ګورکيندونکي په اواز کې د کايناتو ټولې نهيلې راونغاړل شوې.

ښځې يې ورته وويل: نو دا څه سپېره کار دی؟ که نن څوک مړه شي سبا نه مري. که سبا مړه شي بله ورځ نه مري. د وريجو او اوړو په څېر د مړګونو هم قحطي ده، خدای دې دا ډاکتران تر اوه تبځې مخکې لاندې کړي، څوک مرګ ته هم نه پرېږدي. د قبر کيندونکي د ښځې په اواز کې له ژونديو انسانانو څخه د کرکې څپې له ورايه معلومېدې اواز به يې کله پورته شو او کله به بيا ټيټ شو.

قبرکن منطق ته پناه يوړه.

بختورې ته نه پوهېږې د انسان چې کله په مرګ کې نصيب وشي نو مري. بې نېټې مرګ نه شته، که مرګ په نېټه نه وای نو موږ به اوس د لوږې له لاسه مړه وو.

ګورکيندونکي خو په ظاهره په لوړه حوصله د خپلې مېرمنې د قناعت حاصلولو کوشش کاوه، خو په زړه کې هغه د رېګ د يوې غونډۍ په څېر د باد تندو څپو هاخوا دېخوا سره شيندلو.

ښځې يې بيا په ژړغونې اواز خبرې پيل کړې:

"ما خو د پير مبارک نذر اېښی دی چې که څوک مړه شول، نو نذر به ورکوم، خو پير مبارک هم څوک نه وژني، تر څو به مې اولادونه وږي وي"

په دېرشو روپو کې يوه روپۍ نذر ورکوم.

د ګورکيندوکي د مېرمن له وچو کسيو څخه د اوښکو چينې راوخوټېدې، د خپلې لوپټې په پلو يې اوښکې پاکې کړې، چې مېرمن يې ژړانده وليده نو ژر يې لالټين ته ورپوف کړل د څراغ کمزورې رڼا ټوله شوه او هغه يوځل بيا په خپل شلېدلي کټ کې له دردونو سوچونو سره پر خيرن بالښت سر کېښود.

سهار چې لمر څېره وهله هغه بيا له خپل بېل او کولنګ سره هديرې ته روان شو، په ټوله لاره کې يې غوږونو د مرګ د ژړاګانو لېوالتيا ښودله.

اخوا دېخوا يې کتل، چې مبادا کومه جنازه به وګوري، خو ژوند له خپلو ټولو رنګونو سره رنګين و. په لاره يې له ځان سره سوچ وکړ که نن هم هديرې ته جنازه رانغله نو غلا به کوي خو د خپلو بچو اوښکې به نه ګوري. ټوله ورځ په هديره کې د جنازې په انتظار و، خو هديرې ته جوپه جوپه خلک راتلل د خپلو عزيزانو قبرونو ته به يې لاسونه لپه کول، پر قبرونو به يې ګلان شيندل چا به د قبرونو سرته ژړل او څوک به د قرانې ايتونو په لوستلو مصروف وو.

ګورکيندونکي به ټوله ورځ همداسې صحنې او منظرې ليدلې.

د تېر شوي پرون په څېر نن هم د هغه له خوښيو څخه بې برخې تېر شو خدای خبر سبايه لمر راوخېږي که نه، وسوسو انديښنو او فکرونو په مخه کړی و ناڅاپه د پرون ورځې يوه خاطره ورياده شوه.

پرون يو ځوان د نوي او تازه قبر سرته ولاړ و او په ژړېدلي اواز يې ويل مرګه کاشکې ته هم مړ شې. د مرګ لپاره دغه ښېرا پر ګورکيندونکي خورا بده لګېدلې وه همدا ښېرا نن ګړی پر ګړی وريادېدله.

په زړه کې شك ورولوېد. له ځان سره يې وويل: څه لرې خونه ده که د هغه ځوان ښېرا قبوله شوې وي او مرګ خدای پاك بېخي وژلی وي.

په دې ښار کې چې به هره ورځ څوك مړه کېدل نو د ده تر تبي لاندې به هم اور بلېدلو او د ده بچو به سپوره ډوډۍ په خيرن شکور کې ليدله، خو نن ټول ښار ژوندی و او هېڅوك هم نه مړه کېدل خو ده کورنۍ او عيال د لوږې له لاسه د مرګ خولې ته ورنژدې کېدل هو همداسې وه بېخي همداسې.

اې مرګه کاشکې ته هم مړ شې. دځوان دا ښېرا د ده پر مغزو لکه لوڅه تازيانه داسې لګېدله يو ځل بيا لمر ولوېد او يو ځل بيا شپې خپله کراره لمن پر هديره وغوړوله هغه له خپلو سوچونو څخه په دارکې و. زيات ډارېدلو نن خو دريمه ورځ وه چې بچي يې وږي وو نهار او نهور وو له ځان سره لګيا و، د لېونې په څېر يې په ګوتو خبرې کولې.

څرنګه ولاړشم- کور ته څرنګه ولاړشم؟ د وږو بچو سترګو ته څنګه وګورم؟ څرنګه د خپلې مېرمنې پر څېره باندې خپرې هديرې ته وګورم زما د مېرمنې پر څېره خو د ژوند لپاره د نيکمرغۍ د ټولو هيلو قبرونه جوړ شوي دي او اوس يوې هديرې ته ورته ده.

هغه خپلو سوالونو ته ځوابونه نه شو لټولای د شپې دولس بجې شوې هغه په هديره کې ناست و خو هديرې ته هېڅوك هم رانغلل.

د سبا ورځې لپاره يې تابيا کوله له ځان سره يې غوټه کړه سبا که مزدوري پيدا نه شوه، نو غلا به کوي او حتمي به غلا کوي د راتلونکي ورځې لپاره يې مختلف سوچونه او ترکيبونه سنجول، ژوند د هغه لپاره د کايناتو تر ټولو لويه تراژيدي او غميزه وه. د هغه د روح او تن هرې ذرې پر دغه غميزه باندې ساندې ويلې او دغو ساندو د هغه له سترګو د راجلا کېدونکو څاڅکو په خلا کې ځان ښودلو.

له هديرې څخه د کور په لور روان و، په کوڅو کې سکوت او ارامي وه. له لرې يې يوه توره تياره تر سترګو شوه تياره دده په لور رانژدې کېده. د برېښنا په څېر يې يو فکر په مغزو کې وځغاست.

ګورکيندونکيه – راشه دکولنګ په يوه ګوزار دا روان بنيادم ختم کړه! سبا به يې هديرې ته جنازه

درشي او پوره دېرش روپۍ به وګټي. له خان سره يې د سوچ لړۍ وغځوله. نو که داسې وشي مېرمن به مې په خوندخوند تر تبۍ لاندې اور بل کړي، بچو ته به مې ډوډۍ پخه کړي او بچيان به مې چې له دريو ورځو راهيسې وږي دي په څومره خوندور شخوند به ډوډۍ وخوري. ياره دابه ښه وي.

له خان سره ورو موسکۍ غونډې شو خو د راروان بنيادم د وژلو تصور ډېر خوفناك او له ډاره ډك غونډې و هغه خو په ژوند کې کله غلا هم نه وه کړې خو د بچو اوازونو يې ژر په غوږو کې ګونګسې پيل کړ: اباجانه نن هم تش لاس راغلی يې؟ څوك نه وو مړه چې زموږ په نغري کې اور بل شي.

د روان بنيادم په لور په ګړنديو قدمونو ور روان شو د کولنګ په يوه ګوزار يې بنيادم پر ځمکه راڅملاوه او بيا يې دوه درې ګوزاره نور پرې وکړل. سختې وېرې او ډار په مخه واخيست د بدن له مساماتو يې بې دريغه خولې راووتې کميس يې د خولو په وجه لوند خيشت په ملا پورې ونښت په کاواکو قدمونو يې د هديرې په لور تګ پيل کړ، لينګي يې رېږدېدل؛ خو قدمونه يې په نامنظم والي او کړوالي کې هم ګړندي وو.

کله چې هديرې ته ورسېد نو خپل هغه کولنګ چې قتل يې پرې کړی و او په وينو سور و د هديرې تر څنګ په کارېز کې پرېمينځلو. وروسته بيا د يوې لويې ونې ډډ ته کېناست. سترګې يې پټې کړې د خپلو بچيانو انځورونه يې تر سترګو وګرځېدل په فکرونو کې ډوب و؛ فکر يې وکړ چې اوس به جنازه راشي ما ته به د ګور کيندلو امر وشي ګور به وکيندم دېرش روپۍ به راکړي.

کله چې دا دېرش روپۍ کورته يوسم نو اوړه او غوړي به پرې واخلو تر تبۍ لاندې به هو اور بل شي بچيان به مې په څومره بېړه د تيغنې تودې ډوډۍ وخوري.

هو- يوه روپۍ خو به مې مېرمن د پير مبارك په نذرانه کې ورکړي، بس پوره يوه اونۍ به د ۲۹ روپو د اوړو او غوړو سودا د کور کفايت وکړي؛ له ښځې به جرم پټ کړم، تر اوسه مې له مېرمنې څخه هېڅ شی هم نه دي پټ کړي، خو دا ځل به مې له مېرمنې څخه جرم پټ کړم. زما د جرم پته خو تراوسه پورې بې له خدايه هېچا ته هم نه شته.

خو پر سوچونو يې ډار غالب و، ډار او وهم يې پر افکارو باندې غلبه کړې وه او بيا يې سوچ وکړ؛ که مې جرم ښکاره شو او ونيول شوم، نو زندۍ به شم اولادونه به مې څه کوي توبه خدايه توبه.

شپه تېره شوه لمر راوخوت د ده سترګو د هديرې لويه لاره څارله يوه ډله خلك رابنکاره شول د خلکو پر اوږو جنازه وه خو جنازه د يوه ماشوم وه د هېچا په سترګو کې هم اوښکې نه وې، هېچا هم له جنازې سره نه ژړل د هېچا په څېره کې هم د غم نښې او نښانې نه وې هغه غم چې د يوه نږدې عزيز په مړينه د نږدې قريبانو پر څېرو باندې څادر غوړوي.

خلك له جنازې سره مازې د دود او دستور له مخې راغلي وو، قبر کيندونکي هم کولنګ او بېل واخيستل او د ګور په کيندلو يې پيل وکړ. لاسونه يې رېږدېدل او له بدن څخه يې غير نارمل حرکات تر سره کېدل هغه ته په زړه کې ورتېر شول، چې که اوس دا د ماشوم مړی لاس راپورته شو او چيغه يې کړه چې دغه دی زما قاتل! نو زه به څه کوم. له جنازې سره راغلو خلکو د جنازې تر لمانځه وروسته په خپلو کې په خبرو پيل وکړ.

يوه سړي بل ته وويل: خدازده د کوم عاصي او ګنهګار ماشوم به وي، دښمنانو يې په څومره بې رحمۍ سره وژلی دی.

بل وويل څومره ښکلی ماشوم و، د کاڼي به هم زړه پرې سوی و، دا کوم ډېر زړي قتل کړ خدای دې سزا ورکړي.

يوه بل بيا لږ څه سوړ اسويلی وکيښ.

څومره وړوکی ماشوم دی هسې له پښتو جګه دی ګني تر يوولسو کالو به نه وي زيات د چا له دې وړوکي ماشوم سره دښمني وه؟

توبه خدايه توبه.

زموږ خلك هم بې رحمه دي په مور او پلار پسې يې ونه ګرځېدل، کېدای شي مور او پلار يې د همدې منطقې د شاوخوا سيمو وي. کاشکي مړ نه وای سپارلی يعنې خاورو ته مو نه وای سپارلی او په دې شاوخوا جوماتونو کې مو اعلانونه پسې کړي وای. يوه بل بيا وويل: د پوليسو له خوا هم چندان دلچسپي ښکاره نه شوه ښه ده چې ژر يې خاورو ته وسپارو.

ګورکيندونکي دا ټولې خبرې اورېدې خو قبر يې هم کيندلو لږ شېبه وروسته قبر تيار شو. په سپين کفن کې نغښتی ماشوم يې چې قبر ته ورکوز کړ، نو د کفن ډېر خايونه يې په وينو لاندې خيشته وو.

ګورکيندونکي چې ماشوم په قبر کې کېښود او د ماشوم مخ يې لږ ښکاره کړ. نو څه ګوري چې ماشوم يې خپل زوی منو دی، امان الله چې ده له نازه منو بللو. په ډېره ژوره تياره کې ډوب شو. لينګي يې ورېږدېدل، تر خوله يې ځګونه راووتل او په قبر کې ونړېد.

خلکو ژر له قبره راوکيښ، ژبه يې بنده شوه حواس يې ټول ترې پردي شول، ماشوم د هغه زوی و. منو و.

هو. هماغه منو چې لاس يې پورته کړل خدايه نن خو څوك مړه کړې، چې زموږ تر تبۍ لاندې اور بل شي.

واخ!

منو خو مې په خپل لاس ووژلو.

او چوپ شو

هغه په توره شپه کې په خپلو لاسونو لوټ شو.

ګورکيندونکي خان په خپله لوټ کړ.

اوس خو يې پر خپل غم ماتم هم نه شو کولای.

هغه رېږدېدلو.

د هغه زړه د هغه د تن په وينو او وازګوکې خوټېده.

د هغه د زړه ښار د کربلا ميدان و.

غاړه يې کړه نيولې وه د لوټېدلو احساس يې د زړه په تل کې خوندي کړی و او د خپلو ګناهونو صليب يې پر خپلو اوږو پورته کړی و.

د خلکو له ډلې يو تن د ده په لاس کې د لسو لسو روپو درې لوټونه کېښودل او بيا ټول خلك خپلو کورونو ته لاړل، هغه يوازې پاتې شو داسې يوازې لکه بې نومه او بې کتيبې قبر. زړه يې غوښتل چې په قبر ننوزي او د ژوند پر مخ باندې لاړې تف کړي. مرګ ته غېږه ورکړي او بيا ژوند ته په لوړ اواز او قهر لړلې فرياد باندې پېغور ورکړي.

ژونده ته څومره ظالم وې تا څومره ظلم راسره وکړ، خو بالاخره له قيده دې خلاص شوم.

بېرته د کور په لور راروان شو د سترګو ليمه يې وچ شوي وو. په سوځلو سترګو يې د قبر خواته وکتل او بيا خدازده په زړه کې يې څه ورتېر شول چې کولنګ او بېلچه يې لېرې وغورځول اوله هديرې راووت.

کله چې کور ته ورسېد مېرمن يې په انګړ کې له مابنامه ورته انتظار وه، د مېرمنې سترګې يې له اوښکو ډکې وې د بورې او ترېدلې هوسۍ په څېر يې مخې ته ودرېده وای مخ مې تور شو لکه چې منو تا ته نه دی درغلی؟

د شپې يې ژړل، ويل يې په ابا پسې مې خم چې پيسې يې پيدا کړې دي که نه؟

هر څومره چې مې ورته وويل توره شپه ده ورك به شي ويې نه منله.

لکه چې تاته نه دی درغلی؟

هغه د مېرمنې په وړاندې چوپ ولاړ و داسې چوپ لکه مړګ.

مېرمنې يې په ژړانده اواز ورته وويل.

سړيه نه خبرې ولې نه کوې؟ ته غږ ولې نه کوې؟ ووايه منو چېرته دی!

مېرمنې يې خاوند ته ګرېوان ونيو، لکه د خپل منو د وينو پور چې ترې غواړي.

سړيه تاته وايم دا چوپ ولې يې؟ زما په منو خو څه نه دي شوي؟

سړيه تاته وايم ولې چوپ يې؟

د ګور کيندونکي زړه په زوره حرکت وکړ او بيا دغه ګړندی حرکت د تل لپاره ودرېد!

●

زمری، استرالیا

په ایرو کې پلونه

جنرال صیب ته درې څلور سوه لکه افغانۍ ډېرې زیاتې ښکارېدې، ځکه خو به یې هره شپه د افغانیو د پنډې ځای بدلاوه، کله به یې تر کټ لاندې کله به یې د الماری شا ته، لنډه دا چې میاشت پس په کور کې داسې ځای نه و پاتې چې د جنرال صیب د افغانیو پنډه پرې نه وه لګېدلې.

جنرال صیب تر ټولو زیات پر خپلو ورونو شکمن و، ځکه چې هغوی ورته په تکرار تکرار ویلې وو چې درې څلور سوه لکه افغانۍ دومره شی نه دي، دغه شل د هرش زره کلداري ترې جوړېږي او په دومره پیسو یوه پنجابي مېښه هم نه شي رانیولی، خو جنرال صیب چې ددې پیسو لپاره کلونه کلونه د ګلبدین ډز و ډوز ته ځان ټینګ کړی و، د هرو ورو ورو خلکو ته یې دوه لاسې سلامونه کړي وو، د طالبانو دښمنۍ یې په سر سترګو منلې وه، کلی - کور یې په ځان درولي وو، د دې خبرې منل ورته ګران وو چې دا دومره لویه پنډه چې څه یې نه شي ورلای دومره لږ ارزښت ولري، ځکه خو یې خپلو ورونو ته د شک په سترګه کتل او د دوی نه پټ یې له خپلو دوستانو سره مزې غږولې وو چې ګوندې کوم تجارت پرې روان کړي او له دوی څخه یو هم اعتبارګل اپریدی و، اعتبارګل اپریدی د جنرال صیب کور ته تګ راتګ پیل کړ، خو جنرال صیب په سر کې ورته ویلي وو چې ورونو ته به مې په دې بابله الف ب نه کوې، ځکه چې د هغوی نیتونه ما ته ښه نه دي. اعتبارګل او جنرال صیب خبره پخه کړه، چې د کارخانو مارکیټ مخې ته به د تیکو دوکان پرانیزي، چې ښه ګټور کار دی او په کارخانو مارکیټ کې یې بازار ښه ګرم دی. خو جنرال صیب یو ځل بیا و نه پوهېد، جنرال صیب له تیکو څخه مطلب د کپړو یا رخت دوکان و، خو د اعتبار ګل په ژبه تیکې غوښې یا پاکستاني کباب و.

د جنرال صیب دا لومړۍ تېروتنه نه وه، په کابل کې چې به کله د ګلبدین ډزو ارګ ولړزاوه، نو استاد صیب به ورو غوندې جنرال صیب ته مخ ور واړاوه او په پسته ژبه یې ورته وویل "شما ره هم کدام جای روان میکنم" د استاد د دې خبرې نه مطلب هرات، یا مزار و چې د کابل په نسبت په کې ارامي وه، خو جنرال صیب بیا په بله خوش فهمۍ کې ګیر و او د سفارتونو کونجارې به یې په خوب لیدلې. خیر خبره مو د اعتبار ګل اپریدي او جنرال صیب د تیکو او دوکان کوله. اعتبارګل اپریدي جنرال صیب ته د نورو خبرو په ترڅ کې دا هم وویل چې د تیکو د دوکان کار لږ ګران غوندې دی، ځان ورته په مزه مزه ټرېن (Train) کوه او د دوکان نیمه برخه لس زره روپۍ یې ترې واخیستې، اوس نو د جنرال صیب په خپلو ورونو بدګوماني په یقین بدله شوه، ځکه چې که د افغانیو پیسو ارزښت دومره ټیټ وای نو څنګه به په لس زره روپۍ د تیکو په دوکان کې په نیمه شریکېدو.

د اعتبار ګل اپریدي خبره د جنرال صیب په غوږ کې وه، ځکه خو یې یو څو تانونه رخت (کپړه) او یو ګز واخیست او ټوله ورځ به په کور کې د رخت په ګزولو لګیا و او د کور واړه زاړه به یې په ځان پورې خندول ځکه چې جنرال صیب د خپل بزنس خبره په کور کې هم چا ته نه وه کړې. جنرال صیب د رخت ګزولو په لویه بوخت و چې د اعتبارګل اپریدي تلیفون زنګ وواهه او جنرال صیب ته یې وویل چې سبا دوکان پرانیزي په لسو بجو ځان دوکان ته را ورسوه.

د جنرال صیب درې څلور خله د شپې سترګه خلاصه شوه، خو چې ګړۍ ته به یې وکتل نو یوه- څلور یا پنځه بجې به وې. د سهار سترګې ته دومره لېواله و لکه ماشومان چې د اختر د سهار انتظار کوي، خو بیا هم د جنرال صیب لس بجې راورسېدې او جنرال صیب وارخطا ګز په لاس دوکان ته ورننوت. اعتبارګل یې و نه پېژانده؛ ځکه چې هغه خوله او مخ په برګ دسمال پټ کړي وو او کړایي ته یې پکی واهه. جنرال صیب پرې چغې کړې دا زما د اعتبارګل دوکان دی، دا موږ په شریکه د تیکو لپاره نیولی.

همدا وخت اعتبارګل ورو دسمال له مخ نه لرې کړ، جنرال صیب ته یې وویل: لېونی شوې څه، په ګز باندې څه کوې، شابه پلېټونه سمبال کړه.

ډاکټر درویزه اڅکزی، جرمني

د شکرې ناروغي

د بورې د لږوالي اغېزې:

د بورې هغه ناروغ چې:

- ډېر دوا درمل خوري اويا دوا درمل پر تاکلي وخت ونه خوري او
- يا د پرهېز تر اندازې لږ ډوډۍ خوري او
- يا تر اندازې ډېر سپورټ وکړي او
- يا د بورې د مخنيوي د دوا درمل پر ځاى نور درمل خوري، چې د بورې د دوا تاثير ډېروي، نو هغه وخت د بورې د ناروغ په وينو کې د بورې اندازه تر شپېته ملي ګرامه بوره په سلو ملي ليتره وينه کې کمېږي.

د بورې د لږوالي تاثير سم له لاسه (ناببره) نه معلومېږي، بلکې په لاندې ډول يې سړى اغېزې احساسولاى شي:

- ډېره لوږه.
- عصبي ناروغي، خلق تنګي، او ترېخوالى.
- د کمزورتيا احساس کوي.
- هېرجن کېږي (حافظه يې کمېږي).
- سړي خولې يې پر بدن راځي.
- سر درد ورته پيدا کېږي.
- نس درد ورته پيدا کېږي.
- اشتها يې له منځه ځي.
- د سترګو ليد يې کمېږي.
- په منظم ډول پر لار نه شي تلاى.
- سر يې پر له ګرځي (د سرګرځې احساس ورته پيدا کېږي). لاسونه يې رېږدي، ډېرې خولې کوي.
- بې هوښي ورته پيدا کېږي.

کله چې داسې حالت پر چا باندې راغى، نو سم له لاسه بايد خوږ شى وخوري او يا بوره لرونکې اوبه وڅښي. هغه څوک چې د بورې په ناروغۍ اخته وي، بايد تل له ځان سره خوږې په جېب کې وګرځوي په خاصه توګه هغه څوک چې د اينزولين پيچکارۍ لګوي.

د بورې ډېروالى کوم وخت مېنځ ته راځي؟

بېله دې چې له ډاکټر سره سلا او مشوره وکړي دوا درمل خوړل پرېږدي.

پرهېز ونه کړي او منعه شوي شيان وخوري.

چې سړي ته ناببره بله ناروغي پيدا شي او يا يې بدن تبې شي. په داسې حالاتو کې په وينه کې د بورې اندازه دومره ډېرېږي چې اخر سړى بېهوښۍ ته رسوي. په داسې وخت کې بايد سړى سم له لاسه ډاکټر ته لاړ شي.

د بورې د ناروغۍ نښانې په لاندې ډول دي:

- ډېرې بولې کوي.
- ډېر تږى کېږي.
- سر درد ورته پيدا کېږي.
- خېټه (معده) يې تېزابي کېږي (د خېټې تېزاب يې ډېرېږي)، زړه يې اېشي.
- د ساه کښلو تېزوالى يې ډېرېږي (ژر ژر ساه کاږي).
- د زړه حرکت يې ډېرېږي.
- د بدن پوست يې وچېږي، د بدن پوست يې سور رنګه غوړه کوي، بدن يې خارښت کوي او د پوست حساسيت ورته پيدا کېږي.
- سر يې پر له ګرځي.

په داسې حالاتو کې تر هغو چې ډاکټر راځي ښه به دا وي چې کرار پرېوځي، آرام وکړي او تود چاى او يا کافي وڅښي.

ورځني پرهېز:

ډېر خلک داسې فکر کوي چې يوازې هغه کسان چې د بورې په ناروغۍ اخته وي، بايد پرهېز وکړي، يعنې لږ مالګه او بې بورې خواړه وخوري په داسې حال کې چې دغسې خواړه خوړل د روغو کسانو لپاره هم ګټه لري. د بورې د ناروغ خواړه بايد په منظم ډول وي، هره ورځ بېلابېل خواړه وخوړل شي.

اوس نو موږ د پرهېز کولو لپاره څو ټکو ته اشاره کوو:

- هغه څوک چې د بورې په ناروغۍ اخته وي، نو هغه بايد له هغو خوږو څخه چې بوره يې ډېره وي او يا هغه خواړه چې د هغو په پخولو کې له بورې څخه کار اخيستل شوى وي، ډډه او پرهېز وکړي او هېڅکله يې ونه خوري. سربېره پر عادي بورې بايد د انګورو د بورې او ګبين له خوړلو نه هم کلک مخنيوى وکړي. د دې لپاره چې خواړه د بورې ناروغه وخوړلاى شي نو بايد چې د بورې پرځاى (زيوس شتوف Substoff) وخوري.
- د پرهېز د پلان له مخه بايد خواړه وخوړل شي، د مثال په توګه د ټاکلې اندازې ډوډۍ د مهال وېش واحد (= Broteinheit Be)، چې موږ ورته يو ټوټه ډوډۍ وايو دى.
- د خوږو ټاکلې اندازه بايد تل تر نظر لاندې ونيسي، يعنې دا چې په خوړلو کې يې بې پروايي ونه کړي.
- د دې لپاره چې د بورې د اندازې د ډېروالي او کموالي مخنيوى وشي، نو ښه به دا وي چې د درو وختونو ډوډۍ پر پينځو او يا شپږو وختو وخوړل شي.
- د بورې د ناروغ د پرهېز په پلان کې د لاندينيو دريو مهمو ګروپونو لکه کولن هيدرات (بوره)، د هګۍ سپين (پروټين) او غوړيو اندازه ټاکل شوې ده. له هر ګروپ څخه ډول ډول خواړه بايد وخوړل شي. په خوږو کې بايد دا پورته درې سره شيان برخه ولري.

Substoff هغو موادو ته وايي چې خوږ خوند کوي، مګر بوره نه لري او يا له بورې څخه نوى جوړ شوى وي.

- غوښې او ماهيان کېدلاى شي چې په لږو غوړو کې سره شي، پاخه شي او يا کباب شي. دا ځکه چې په دې ډول سره تيار شوو خوړو کې د غوړو اندازه لږ وي
- د غوړو خوړل د بورې پر ناروغۍ مستقيم تاثير نه لري. مګر غوړي ډېره انرژي لري او ډېره انرژي سړى چاغوي او چاغوالى بيا د بورې پر ناروغ بد اغېز کوي.
- ورځني خواړه بايد هغه مواد ولري چې هغه د هګۍ په سپينو (پروټينو) کې شته لکه بې غوړو غوښې، بې غوړو ماهيان، مستې، چکيده او لږ غوړ لرونکې پنېر. پروټين په عمومي ډول سره نه حسابېږي.
- خوږو ته په بشپړه اندازه سره مرچ، مالګه او نور مواد چې خوږو ته ښه خوند او بوى ورکوي ور اچولاى شي. يوازې هغه څوک چې د وينو فشار يې لوړ وي هغه بايد له مالګې سره احتياط وکړي.

په لنډيو کې د پښتني ښځو تصوير

زرغونه رحيمي وردګ، پېښور

د- ځينې اړخونه:

عشق او مينه په تېره بيا په پښتني ټولنه کې د نجلۍ او هلك لپاره ډېر د شرم او بدنامۍ عمل دی او د دې عمل په نتيجه کې د دوی د کورنيو او بلخصوص د نجلۍ د کورنۍ لپاره سخت سپکاوی او د هغې کورنۍ ته په سپکه سترګه کتل او بې احترامي ده او د دې لويې ګناه په نتيجه کې د دوی جزاء مرګ دی. که چېرې کومه خوانه پېغله له يوه خوان هلك سره مينه پيدا کړي، نو دا به حتما په پټه کې وي او يا به د احوال وړلو راوړلو لپاره کوم ربيار نيسي او هغه ربيار به د اعتماد وړ څوك وي، چې د دوی دغه راز پټ وساتي، دغه ربيار به يا يوه زړه بوډۍ وي اويا کومه وړه نجلۍ يا هلك، چې د دوی پيغامونه سره يوسي لکه چې په يوه لنډۍ کې په دې اړه وايي:

ما تر کمکوټيې ربيار خار کړی
د جانان يوه خبره دوه ځلې راته کوينه

په عشق او مينه کې بدنامي او خطر تر هلك نه پېغلې ته زيات متوجه دی، خير سره له دې ټولو خطرونو او بدناميو نجلۍ تر هلك ډېره زړوره او سرتېره ده او په ډېره زړورتيا سره خپل مين مينې ته رابولي او تشويقوي يې لکه په دې لاندې لنډۍ کې:

له توري ځنګ مه کړه لاليه
خوانان پر سرو تورو ورځي نجونې ګټينه

او يا هم د ديدن لپاره خپل مين ته داسې وايي او زړه ورکوي:

ديدن کوه مه ايسارېږه
که چا پرې مړ کړې خوانان تل په تورو مرينه

او کله له خپل سره هم د ديدن لپاره تېرېږي او خپل مين ته داسې خطاب کوي او وايي:

راځه چې باغ ته سره لاړ شو
يا به مين شو يا به غبرګې چړې خورونه

ناوړه عشق او مينه د اسلام د مقدس دين له خوا هم د پښتني دود تر څنګ د نجلۍ او هلك ترمنځ منع ده، خو کله چې د مينې زور وربانديې راشي نو له خپل مذهب نه هم د مينې په مقابل تېرېږي او د خپل مين لپاره په داسې ناروا عمل لاس پورې کوي، لکه په دې لاندې لنډۍ کې له ورانه برېښي:

يارمې هندو زه مسلمانه
د يار لپاره درمسال جارو کومه

په دې لاندې لنډۍ کې داسې برېښي، چې که نجلۍ هر څه کوي، لکه خان سينګارول، د ځينو جوړول او داسې نور:

په خوشالۍ راځه جانانه
زه تورې ځنې ستا لپاره جوړومه

اويا هم ټول خپل ښکلي شيان داسې: يار له قربانۍ لپاره بولي:

ټول به له خپل ياره قربان کړم
هم تورې سترګې بل شين خال او سره لاسونه

کله چې پېغله د خپل مين بې زړه توب او د ډار علامه ويني نو سملاسي داسې خطاب ورته کوي:

په سترګو ړوند شې راته ګوره
په تش کاته به دې څوك نه حلالوينه

په پښتني ټولنه کې چې کله يوه نجلۍ پېغله شي، نو دا حق نه لري چې له کوره ووځي او يا په ازاده توګه له کوم هلك يا په اصطلاح له خپل مين سره وګوري، نو يوازې د دې د راوتلو وخت د مازيګر اوبو راوړلو دی، چې له کوره راوځي او که موقع ورته برابره شي. نو د خپل مين د ليدلو يا نينه ورکولو وخت هم همدغه وخت دی او بس چې په دې دوو لاندې لنډيو کې څرګندېږي:

ته دې ګودر غاړه بانه کړه
زه به منګی په لپه ورو ورو ډکومه

اويا:

په ګودر نينه راته کېږده
چې مازيګر اوبو ته ئلم وابه يې خلمه

او کله کله د خپل مين وفاداري په لنډيو کې داسې ترسيموي:

زه به ترې ولې نه ځارېږم
زما پر سر يې جېل ځانې ليدلې دينه

او هم د ځانکدن په وخت کې د خپل روح وفاداري د خپل مين لپاره داسې بيانوي:

زنه مې مه تره صورکې
روح مې معطل دی د جانان په رخصت ځينه

په ځينو لنډيو کې د خپلې مينې پاکي او صداقت او ايمانداري داسې ترسيموي او هغه څوك

چې په مینه کې له دوکې او فریب نه کار اخلي داسې یې سپکوي او وایي:

مینه د زړه لیدل د سترګو
لاس اچول د کم اصلو خلکو وینه

کله کله داسې هم شوي چې د خپلې مینې په مقصد نه ده رسېدلې او محبوب ورسره بې وفايي کړې او د دې دنیا مینې ورته تر نظر بې وفا راغلې دي، نو یې ځانته داسې زړه ورکړی:

مینه د خدای د رسول ښه ده
دا نورې مینې بې وفا تېرې به شینه

او داهم ځو لنډۍ چې د ښځې د مینې او محبت اندازه ښکاره کوي:

سبا زه وروګوځې ته راشه
د خیرات غږ کړه چې دې مور په دیدن کړمه
نژدې نه درځم وارېږم
د لرې، لرې تماشې به دې کومه
په خوله توبې توبې وباسم
په تا مین زړګی توبه نه قبلوینه
ته دې اختر په سبا راشه
زه به درو ځم تورې سترګې سره لاسونه
پاس په کمره ولاړه ګله
نصیب د چایې اوبه زه درڅېژومه
د پسرلي د ګل په شانته
داسې مې زړه دریسې پانې پانې شونه

هـ - نفس تمرد:

څرنګه چې موږ ته معلوم دي، د پښتني ښځې ژوند تقریبا ټول ارخونه له نا امېدۍ او ارمان سره مخامخ دی او ټولې هیلې او ارزوګانې یې له ناکامۍ سره لاس او ګرېوان دي، خو دغه په ظاهر ضعیف او د ځینو خبره عاجزه (ښځه) په حقیقت کې د لویې او قوي ارادې خاونده او ځینې وخت داسې هم کوي چې له خپلو خواهشاتو نه هم سرکشي کوي، مثلا که چېرې په داسې حالت کې وي چې د مرګ ماسلان یې په سر پورې ولاړ وي او د دار په سر وي، بیا هم که چېرې محبوب یې مخامخ ورته ولاړ وي، نو لکه منصور (حلاج) غوندې به وخاندي او له نفسانې خواهشاتو نه به تمرد وکړي لکه چې وايي:

چې مخامخ راته ولاړ شې
لکه منصور په سر د دار به وخاندمه

کله که د ځانکدن په وخت کې خپل مین ته رسېدلې وي بیا هم د دې پر ځای چې د ناامېدۍ اوښکې یې په سترګو کې راشي نو بیا هم نفس تمرد کوي او د مرګ سلګۍ هم په خندا وهي لکه چې وایي:

سا مې د یار په غېږ کې ځېژي
خکه سلګۍ مې په خندا خولې ته راځینه

او کله د خپل مین له لیدو سره که په ژړا هم وي، نو د هغه لپاره به وخاندي او له خپل خواهش نه به تېره شي د خپل یار زړه نه بدوي، په لاندې لنډۍ کې دغه انځور ډېر ښه ځرګندېږي:

سترګې مې ډکې له ژړا وي
چې یار مې راغی ورته ښه له خندا شومه

که چېرې د غم فشار ورباندې بېخي ډېر شي، نو بیا هم ځان له لاسه نه ورکوي او په ډېر ورین تندي هغه زغمي او داسې په دې لنډۍ کې ځرګندېږي:

ټول مې زړه په سر راټول شوی
میراث شي غمه په خندا دې تېرومه

او دغسې د ځینو حالاتو نمونې په لاندې لنډیو کې هم ځرګندېږي:

خندا په غم کې کله کېږي
ما ته له ډېره غمه خندا راځینه
زما زړګی دریسې وچاود
که ته جفا کړې زه وفا درسره کړمه
سبا به دا مهال اختر وي
زما زړګی ته به د غم جرګې راځینه
تر هغه به نوی سر ونه کړم
که د هوا مرغان کې واچوې تالونه
دښمن ته ښه شم په خندا شم
دوست ته د غم ژړا کوم چې غرقه شومه
د ورځې تورې سترګې ګرځم
د شپې پرې وینې تویوم د یار له غمه

و- جبري:

جبیره یا ناغه- کله کله هم داسې عمل تېرې ځېژي او دا پښتنه ښځه دې ته مجبورېږي چې د جبران لپاره (ښېګ) عمل وکړي. او د هغه عمل په بدل کې ناغه ورکړي او یا داسې ګناه تېرې وځېژي نو د هغې ګناه د کفارې لپاره مجبوره ده چې غاړه خلاصه کړي او دغه حالت په اکثر لنډیو کې د دغې پښتنې خوږ ژبې شاعرې له خوا په موزون کلام کې داسې ځرګندېږي:

مرور مه څه بېرته راشه
که ملامته یم ناغه به درکومه

دلته په دې پورته لنډۍ کې ځان د ناغه ورکولو یا جبیرې ورکولو لپاره مجبور بولي او له خپلې ملامتۍ څخه انکار نه کوي او نه غواړي چې خاوند یې مرور ترې لاړ شي:

یار مې روان دی نه ستنېږي
زه ننواتې ورته ځم چې ستون یې کړمه

او کله هم د دې ناغې ورکولو لپاره له خپل سر نه هم تېرېږي، لکه په دې لاندې لنډۍ کې دغه موضوع ښه برېښي:

سربه د خدای په رضا کېږدم
که مرور اشنا پخلا راسره شینه

او کله د دې عمل د اجراء کولو لپاره له خپلو مذهبي مقدساتو نه هم کار اخلي او دې موضوع ته ډېر اهمیت ورکوي لکه په دې لاندې لنډۍ کې:

سرمې سر تور قران په غېږ کې
د وفادار یار ننواتې له ورځمه

دلته په پورته لنډۍ کې د سر سرتورول هم د پښتنو په رسومو کې یو داسې عمل دی چې په ډېرو جزوي مسایلو کې دا عمل سرته نه رسېږي.

که کومه ګناه تېرې وځېژي چې په هغه کې د خدای او رسول رضا نه وي او مذهبي اوامرو نه پرته صورت نیولی وي نو د دې عمل جبیره په لنډۍ کې داسې مطرح کېږي:

د ګناه پېټی مې پر سر دی
لاس پر سینه د مینې سردار ته ځمه

او هغه لنډۍ چې د جبیرې ورکولو اویا نه ورکولو عوامل په کې ځرګندېږي، څو مثالونه یې دا دي:

عالمه لیرې شئ له مخې
ویښتلی ما دی په دیدن یې رغومه
مرور یار مې که پخلا شي
زه به په سرو شونډو زارۍ ورته کومه
ما له د مینې وعده راکړه
په شکرانه کې به خولګۍ زه درکومه
جانان له ما نه مرور دی
د اسمان ستورې په جرګه ورته لېږمه
د ګلو ډک ورېل پرې تېت کړه
که شیرین یار په ځانکدن وي روغ به شینه.



ګرانو لوستونکیو! هیله ده راتلونکې ګڼې ته هغه لنډۍ او متلونه راولېږئ چې پیل یې په الف سره شوی وي.

له تېرو دوو کلونو راهیسې زموږ هېواد وچکالي ځپې. موږ په دې ګڼه کې له لوستونکیو څخه د هغو لنډیو او ملتونو رالېږلو هیله کړې وه چې په هغو کې اوبه، باران، واوره، فصلونه، کښتونه او نور یاد شوي. نو راځئ اوس د ګوربت د مینه والو متلونه او لنډۍ ولولئ:

په څاڅکي څاڅکي ډند جوړېږي.

په تېرو اوبو پسې چا ببل نه دی وړی.

نقیب الله حلیمي، چك، اریان.

***

چې اوبه وي تیسمم ته څه حاجت دی.

کوهی مه کینه و چا ته چې و به کیندل شي تا ته

که اوبه هر څومره لوړې شي تر پله لاندې بهېږي.

ژرنده که د پلار ده هم په وار ده.

حساب الله او کمکی حمد الله، د وردګ له چك څخه.

***

د وطن خاوره مور ده.

خوانان یاست د سپرلي ګلان یاست

چې څه کړې هغه بنه کړې.

هر چا ته خپل وطن کشمیر دی.

ته د غرو وې زه دې هم د غرو کړم.

مور یې بوره کړه، د پښین په ورخ اوري په شپه شین.

څوك چې د وطن سره مینه نه لري ایمان یې ضعیف دی.

بارن په سره خوله وشو، درمند یې د سرې غوړګی یوړ.

د بل تر پاچاهی، د خپل وطن شپني بنه ده.

تر نان ګدا خای ګدا ډېر خوار دی.

محمد ابراهیم سپېڅلی، کوټه.

***

څه چې کرې هغه به رېبې

په یوه ګل نه پسرلی کېږي

وحید الله بریمن، ننګرهار

***

له بارانه لاړ، ناوې ته کېناست.

له بارانه بنادي حرامه.

سکینه، کابل

***

کــه اباسین راغلی نه وی

پــه ګنګر خړو کې به چا موندل تیکونه

راغـــلی مه وی اباسینه

پــه نیمه شپه دې نوښار لوټې لوټې کنه

اباسین بیا په څپو راغی
هره څپه یې ورانوي د پګړۍ ولونه
اباسین راغی غاړې غاړې
په سر یې راوړل کشمیري د خیال شالونه
اباسین څپې څپې دی
هره څپه یې ورانوي د پګړۍ ولونه

***

محمد نسیم کوچی، شمشتو

مساپري سخته خواري ده
باران به اوري څوك به ځای نه درکوینه
باران دې وي سیلۍ دې نه وي
سیلۍ ناترسه ورانوي پاخه کورونه
بارانه ورو ورو پرې وربېږه
په مساپر جانان مې نه شته دالانونه
زړه مې دا ستا خبرې غواړي
لکه د للمې فصل غواړي بارانونه
اسمانه ښه باران پرې وکړه
یار مې د للمې کر کوي چې زرغون شینه
ګلونه ډېر دي خدای دې ډېر کړي
زما د یار په شانته ګل به چېرته وینه
په لویو غرو د خدای نظر وي
په سر یې واورې وروي لاندې ګلونه
پام کوه خان ته غره نه شې
که ته چنار یې زه د صبر ونه یمه
د یار دیدن چې په کې نه وي
د سرو ګلونو باغ وي وران دې شینه
سپرلی به بیا په وطن راشي
پېغلې به د تومبې په زلفو کې ګلونه
باغوانه ته مې در پرېږده
نه دې منې خورم نه دې څانګې ماتومه
بورا به خدای په ګلو موړ کړي
باغوانه ستا نیمګړی نیت مې ژړوینه
خاونده ښه ډېر باران پرې وکړه
چې د وطن دښتې مېرې ابادې شینه
باران د ځمکې ابادي ده
شږینه یاره زه په تا اباده یمه
بیا به نرۍ جامې و نه کړمه
باران لمده کړم اشنا تول وليدمه
خان یې زړو جامو کې جوړ کړ
لکه په وران کلي کې باغ د ګلو وینه

خدایه هغه تاجر تباه کړې
چې د کونړ نښتر وهي پیسې ګټینه
افغان به هلته غیرتي وي
چې لمنځ او نښتر په خپل کونړ کې وساتینه
ن. ج اوریاخېل، کچه کړۍ، پېښور

***

ما د ګودر د غاړې ګل کړې
چې مال مې خوري نجلکۍ مې بوینه
مازیګر ګودر ته راشه
زه به تر تولو نجونو وروسته ناسته یمه
منګی یې تول په اوبو ډوپ کړ
د یارانې منګی په لپو ډکوینه
مازیګر اوبو ته مه ځه
لیلا د بازا په شان غوټې کړي زړونه وړنه
اسدالله شهاب، وردګ، چك، اربان.

**

مینه راشه ځان اوبه کړه
په سپین بدن مې اوبه ډنډ ولاړې دینه
مدام د غم باران اورېږي
د خوشالۍ باران خو نه اوري مینه
محمد اعظم اصغري، کابل

***

باران د غم په شېبو راغی
د ببلستانه رلی ته ډېر فکر کومه
باران د ځمکې ابادي ده
زما په حال باندې اسمان ژړا کوینه
سکینه، کابل

***

باران د غم په شېبو اوري
د ببلستانه په رلی ډېر فکر کومه
باران دې اوري ما دې مړ کړي
په خندا راشم په ژړا بېرته ځمه
باران یې مه بولئ عالمه
زما په حال باندې اسمان ژړا کوینه
باران وربړي غولۍ ډك شو
قدم زما په قدم ږده راځه دننه

محمد خالد، هالېند

د ګوربت سندریزه والي

اجمل اند، پېښور

د ښاغلي اجمل اند مقاله د ګوربت فرهنګي ټولنې د دوېيم کال د پيل په وياړ غونډه کې اورول شوې وه.

د درانه استاد صميم صيب د خبرو په لړ کې مې اورېدلي دي چې "پښتو خپرونې د څومره والي له مخې په موږ ګو اوښتې نو بايد څرنګوالي ته پاملرنه وشي"

رښتيا هم که تېر شوي کال ته خير شو نو په لسګونو دوه مياشتنۍ، مياشتنۍ، پنځلس ورځنۍ، اونيزې او ورځنۍ خپرونې له چاپه راووتلې او که خلک يې راسره ومني نو تېر شوی کال زموږ په ادبياتو کې د مجلو کال ګڼلای شو. خو که سړی دا خپرونې په خير له نظره تېرې کړي او د څرنګوالي له مخې يې وارزوي نو پوهېږي چې "لاهو منزل ته ډېر منزل پاتې دی"

يو وخت داسې هم و چې افغاني خپرونې د ړندې سترګې اوښکې وې، خو له نېکه مرغه په دې وروستيو کې مجلې هم د شعري ټولګو غوندې ډېرې او بې پوښتنې د څېرمې له چاپه راووتې خو دا چې دا بې شمېره خپرونې تر کومه بريده زموږ په څېر د يوې جګړه ځپلې ټولنې غوښتنې د ۲۱مې پېړۍ په درشل کې خوابولای شي معلومه نه ده.

يوازې په پېښور کې د هيلې، سپېدې، ګندهارا، ګوربت، تعاون، صدف، روزنه، مستقبل، وطن، پيغام، افغانان، اراده، محاذ، شين انقلاب، صلح، نجات، دعوت، ورځ، سبا ستوري، الفت، سباوون، باختر، صبا، سربېره نورې بې شمېره خپرونې له چاپه راوځي، چې د ټولو نومونه لړ کول به له حوصلې نه وتلی کار وي. سمه ده چې د څومره والي له مخې په دومره ډېرو خپرونو د سړي سترګې ډکېږي خو څرنګوالی به يې بيا هم تر پوښتنې لاندې وي.

په يادو شوو خپرونو کې داسې خپرونې هم شته چې بېخي په يادونه هم نه ارزي او يوازې د څو داسې کسانو له خوا چاپېږي چې له اره د يوې خپرونې د چلېدو وړتيا نه لري، خو چېرې يې د پيسو زېرمه موندلې نو د خپل نوم، شهرت او ځينو نورو موخو لپاره يې د ځينو خپرونو په چاپ لاس پورې کړی. بنايي دا خپرونې تاسو هم لوستې وي او ويلې به مو وي چې د داسې يوې خپرونې له چاپ څخه نه چاپ د ټولنيزو، فرهنګي او اقتصادي لاملونو له مخې ګټور دی.

دا خپرونې د دې پرځای چې لوستونکو ته کوم خانګړی پيغام او ګټه ورسوي، خلک د خپلو خپرونو له لوستلو زړه توري کوي، دا خپرونې يوازې د نوم لپاره خپرېږي او تل له يو لمن نيمګړتياوو ډکې وي.

ژبه خو يې پرېږده، د هغې خو ګرد سره په کيسه کې هم نه دي. ان ما داسې مجلې هم ولېدې چې په ځېله لومړنۍ ګڼه کې يې د ګڼ شمېر لوستونکو او مينه والو ليکونه ترلاسه کړي او په دغه لومړنۍ ګڼه کې يې خپاره کړي وو. ځينو خو يې د حمل او ثور په ګڼه کې د همدې کال د چنګابن د مياشتې د يو خدای بښلي د مړينې خبر او د ادارې د خواخوږۍ پيغام خپور کړی. او که څو کاله وروسته يې څوک لولي نو هرومرو به د مجلې چلوونکي د نجوم په پوهه سمبال ګڼي

خو دا ټولې خپرونې بيا داسې نه وې، په دې کې داسې خپرونې هم وې چې په رښتيني مانا يې زموږ د افغاني، ملي، فرهنګ استازې خپرونې ګڼلای شو. چې د څو تنو ژمنو فرهنګيانو له خوا د يوه سپېڅلي ارمان او موخې ته د رسېدو په خاطر خپرېږي. دغه خپرونې د يو پاک احساس او درد له مخې خپرېدې او ډېرې ښې پايلې يې لاس ته راوړلې چې له همدې ډلې نه يوه هم ګوربت مجله ده.

ګوربت دوه مياشتنۍ خپرونې د ۱۳۷۸ لمريز کال د تلې له مياشتې راهيسې پر خپرونو پيل کړی دی او دا دی خپل يو خپرنی کال يې په پوره مېړانه تر سره کړ. ګوربت کله لږ ځنډېدلې او کله په خپل وخت. خو په پرله پسې ډول چاپ شوې ده. او تر اوسه پورې يې خپلې شپږ ګڼې لوستونکو ته وړاندې کړې دي.

که د درانه استاد صميم دقيقه څېړنه پرې د ګړه ليکنې پښتو په برخه کې ډېرې ليوکې ونه کړي نو سړی په داده زړه ويلی شي چې ګوربتوالو د ګړه ليکنې خيال ساتلی دی.

د ګوربت پانې ګوربتوالو تر ډېره له يکنواختۍ څخه ساتلي او همدا لامل دی چې په مطالبو کې يې نوښت ډېر دی. کليشه يي او شعاري ليکنې په کې ډېرې کمې او ځای يې ډېرو ښو معياري او اړينو ليکونو نيولی دی. هسې خو سړی فکر کوي چې ګوربت به ښايي د ډېرو کسانو له خوا پرمخ بيول کېږي، خو زه چې ګورم له ښاغلي حفيظ الله غبتلي او احمد ويس وردګ نه پرته يې نور د منځو ترړو کسان بېخي کم دي او يا خو بېخي نه شته، د همدې دوه ځوانانو د ستړيا او ستوماني برکت دی چې دې مجلې په پوره برې سره خپل يو خپرنی کال ترسره کړ، ګوربت د خپل تېر خپرني کال په بهير کې هر ډول د اړتيا وړ مواد خپلو لوستونکو ته وړاندې کړي دي. دغې مجلې په خپله هره ګڼه کې پرګنو ادبي سياسي او هنري مطالبو سربېره په

داخل او بهر کې د عامو افغانانو ستونزې تر مسئولینو رسولې. دا چې تېر کال په هېواد کې د ډېرې بدمرغۍ او سختۍ وچکالۍ کال و، نو ګوربت په دې برخه کې هم خپل رسالت په پوره ایمانداری تر سره کړی او وخت پر وخت یې د عامو وګړو ستونزې د مسئولینو تر غوږونو رسولې دي.

د مرکو په برخه کې هم دغه مجله بېله ځانګړتیا لري، دوی په خپل تېر خپرني کال کې خپلو لوستونکو ته له ځینو افغاني شخصیتونو سره ډېرې په زړه پورې مرکې وړاندې کړې. چې له دې جملې څخه د ښاغلي مولوي صاحب خالص، درانه پوهاند رشاد، استاد محمد اصف صمیم او ډاکټر عبدالوکیل درنې مرکې یادولای شو.

په داسې حال کې چې زموږ د اوس مهال په خپرونو کې د کوچنیانو برخه ډېره لږه او په نشت حساب ده، د کمکیانو ګوربت په خپل وار د کوچنیانو لپاره ډېر په زړه پورې او د اړتیا وړ مواد خپاره کړي دي. چې له دې جملې څخه ملي ترانې، د هېواد د سترو شخصیتونو پېژندنه او د هېواد د ځینو سیمو په اړه معلومات یادولای شو.

د روغتیا په برخه کې هم د ګوربت روغتیاپال وخت پروخت عامو لوستونکو ته د اړتیا وړ مشورې ورکړې دي، یو بل نوی کار چې ګوربت پیل کړی د ولسي توکو راټولونه او خوان نسل ته د هغوی رسونه ده، ګوربت د "سیند په کوزه کې" تر سرلیک لاندې تر اوسه پورې په لسګونو لنډۍ او متلونه راټول کړي او لوستونکو ته یې وړاندې کړي دي.

د نړۍ په زړه پورې معلومات، خوبږوهنه، ګوړ او پخلنځی، مهرنې دې چې یادېږي یې هغه لړۍ دي چې نورو تراوسه دېخوا ته بېخي لږه پاملرنه کړې او یا یې بیخي نه ده کړې.

دې مجلې په خپله هره ګڼه کې د شکور ګلونو په نامه یوه ستدریزه ډالۍ خپلو لوستونکو ته وړاندې کړې، چې زه غواړم پر همدې برخه یو څه وغږېږم:

ګوربت د خپلې هرې ګڼې دوه پاڼې د شکور ګلونو په نامه د شعرونو لپاره ځانګړې کړې دي. د کمکیانو په برخه کې هم ځینې ملي ترانې او د کمکیانو شعرونه خپرېږي، همدارنګه کله ناکله دګوربت په وروستیو پاڼو کې هم یو نیم شعر تر سترګو کېږي.

که سړی د دې مجلې د شعرونو لړۍ وګوري نو ویلی شي چې د ګوربت پر وزرونو ناستو ګوربتوالو د نورو برخو په پرتله دې برخې ته پوره پاملرنه نه ده کړې او د شعر دا ظریف او لطیف شکور یې کله ناکله له کاڼو او خځلو ځنې ډک کړی دی.

که څه هم ځینې معیاري او کره شعرونه به یې هم کله ناکله خپاره کړي وي، خو لږ دي او ډېر یې تش هغه هم مبتذل او له شعریته لوېدلي الفاظ دي. غوښتل مې له همدې ځایه پر هغه تشو موزونو خبرو او د شعر په نامه پسر خپرو شویو میرونو وغږېږم چې ګوربت وخت پر وخت د شعر په نامه خپاره کړي، خو د دود پرخای کولو په خاطر به لومړی د ځینو هغو ښو شعرونو بېلګې راواخلم چې په ریښتینې مانا یې زموږ د اوس مهالي شاعرۍ بېلګې ګڼلای شو. بیا به نو پر هغو وغږېږو چې ان لاتراوسه د ساده نظم تر پولې هم نه دي رسېدلي د شعریت او هنر خبره خو په کې پر ځای پرېږده.

که سړی د دې مجلې د شعرونو لړۍ وګوري نو ویلی شي چې د ګوربت پر وزرونو ناستو ګوربتوالو د نورو برخو په پرتله دې برخې ته پوره پاملرنه نه ده کړې او د شعر دا ظریف او لطیف شکور یې کله ناکله له کاڼو او خځلو ځنې ډک کړی دی.

ګوربت په خپله لومړۍ ګڼه کې یو ښکلی نظم چاپ کړی، چې که له یوې خوا د درانه ګوهر صیب د شعرونو یوه خوږه بېلګه ده، نو له بلې خوا په ګوربت کې له خپرو شویو ښو شعرونو څخه هم ده.

نه وو ستوري، نه وه ځمکه
نه تیاره وه نه رڼا وه
نه مکان و، نه زمان و
یو هستي وه هغه ستا وه
انځورګر غونډې دې ګوتې
ستر انځور ته تښتبدلی
د تخلیق قلم دې واخیست
او انځور ته کېوتلې
څاڅکي څاڅکي څڅاوه دې
رنګ په رنګ ورګډاوه دې
او په زړه کې غوټه کړې
خپل انځور زرغوناوه دې
د قلم څڅولي څاڅکي
دې شوه ستوري څه لمرونه
او څه خړې پړې ځمکې
غرونه دښتې او سیندونه
پوهېدې چې دا انځور دې
قدردان د هنر غواړي
څوک بې واکه بې زبانه
یو خپلواک ژبور غواړي
نو چې زه دې راوستلم
زه پخپله انځورګر وم
ستا هنر چې مې ستایلو
نو په حیرت د خپل هنر وم
ما هم واخیسته قلم خپل،
خپل انځور ته کېوتمه
ستا د ستر انځور په څېر یې
لاتراوسه جوړومه

په همدې ګڼه کې یوه څلوریځه هم د سړې سترګې خوږوي، چې خپلې دعا ته په سندریزه ژبه امین غواړي:

وخته تصویر کې مې دا ژوند ونغاړه
په حقیقت کې مې احساس ستړی شو
خـــدایه دعا ته مې امین پیدا کړه
هم مازیګر او هم مې لاس ستړي شو

په همدې ګڼه کې "سیوري" هم یو هنري سیوری دی، چې د مجلې په وروستیو پاڼو کې چاپ شوی دی:

درته ګورمه حیران شم لکه سیوری
پته خوله درته روان شم لکه سیوری
ستا د نوم په لټه وځم له خپل ځانه
لالهانده سرګردان شم لکه سیوری

په دریمه ګڼه کې یو غزل چاپ شوی چې د اوس مهالي شاعرۍ استازی غزل یې بللای شو

دا زړه مسې راته وایي مازیګر غونډې ترې واوړه
یو لاس په اوچت غر کړه او د لمر غونډې ترې واوړه
پرېږده چې ترې راڅاڅي د خوانۍ ښکلي وختونه
دا ستوري په لاس تېل وهه سحر غونډې ترې واوړه
چې ستا د اوښکو قدر په تور پوشو شپږو پلورې
مصباح څرېکه د زړه شه د پرهر غونډې ترې واوړه

د څلورمې ګڼې په وروستیو پاڼو کې یو لنډ غزل خپور شوی، چې ښاغلی شاعر په کې خپل زړه خدایزده د کومې بلا په رغوی کې ایښی دی:
نور بس که ډک دی ډک دی والله چوي مې زړګی

دا ښکلي ظالمــان دي رانــه روي مې زړګی
زنګېږي به د ښکلو د لېمو د اور پــه تـاو
چــې اېښي د بلا د لاس په رغوي مې زړګی

په همدې ګڼه کې يو خوږ غـزل هـم د "کليـوال ښايست" تر سرليك لاندې خپور شوی چې ځانګړی وزن او اهنګ لري:

د زړه پــه کښت يې د نفرت بدرنګه فصل شين دی
چــې نفرت وچ شي مينه شنه کړي باران ځېرې ځېرې
چې مې د ژوند د شيرين خوب زرين تعبير دی خدايه
له مانه ورك دی له ماتللی جانان ځېرې ځــــېرې

په پينځمه ګڼه کې "دعا" يوه لـه هغـه دعـاګانو ده چې په سندريزه ژبه يې د خپل زړه کعبې تـه لـه خدايـه يو په عشق پوه امام غوښتی:

لا دې مجبوره شــي غـلام دې نـه شــي
پښتـون مغـل دې شي بهرام دې نه شي
کعبــه د زړونـو کـې زمــوږه خدايــه
په عشق چې پوه نه وي امام دې نـه شي
بـد لـه مينـې نـه منکـر نـه دي خـو
څه داسې شيې دي چې بدنام دې نه شي

په شپږمه ګڼه کې يو خوږ غزل خپور شـوی، خـو خدای خبر ولې پرې د چاپ پر مهال لـه پاسـه ديـوې خرما داسې تور انځور ورتپلی شوی، چې لوستل يې يو څه ناشوني دي: خو ما ترې په مټې خوارۍ دغـه څو بيتونه ولوستل:

د سرود جنازه وځي دسندرو له ښارګوټي
فــطرت زموږ د چم د لاله زاره کډه وړي
کچکول مو کړه چا ته ژوند چې ژوند به په کې راکړي
هـــر چا راته ويل چې ژوند له ښاره کډه وړي
د جبرتسلسل مې د ژوند هر پل کې راشين شو
اختيار چې ددې کلي له بازاره کډه وړي

خو لکه څنګه چې مو مخکې يادونه وکړه ګوربت په خپلو شعري پاڼو کې داسې شعرونه هم راټول کړي، چې د ځينو خو يې لا وزن هم نـه دی جـوړ. سـړی نـه پوهېږي چې په ګوربت کې ولې تر ټولو ښه شعرونه نه چاپېږي! په داسې حال کې چې د ګوربت په دومره ډېرو پاڼو کې يوازې دوه پاڼې شعرته ځانګړې شوې، زه ډېر څه نه وايم، يوازې د خپلو خبرو د اثبات لپاره لـه دغـو شعرونو څخه که څه هم لوستل به يې ستړي کوونکي وي څو بېلګې راوړم.

لومړی هغه شعرونه چې تراوسه يې وزن جوړول هم يوعالم کار غواړي د شعريت او هنر خبره خو په پوله کېږده.

په لومړۍ ګڼه کې د يوه غزل مطلع او مقطع لولو. چې نه يې وزن جوړ دی او نه قافيه:

رقيـــــبه! ولې ورانوې دا شين کور زموږه
زخمي زخمي دی په مرميو هر ټټر زمـــوږه
نـــوري فـــرياد کـــول ګنا ده د ظـــالم له لاسه
چې په ميخو باندې سوری شو تن او سر زموږه

په همدې ګڼه د يوه بل غزل دا دوه بيتونه:

د ګوربتو يمه ځالـــــه په ما نه شي بلوسيدای څوك
زه د خپل بچي زانګويم ماکې نه شي زنګېدای څوك
داســې وايـــــــم زه جـــونګړه د غازي امان الله يم
اتـــــلواله د ولــــس مې کله ځېرته شي کوای څوك

پورتني دوه بيتونه نه يوازې دا چې د وزن او قافيې درك يې نه شته شعريت هم په کې نه ښکاري.

په څلورمه ګڼه يوه څلوريــځه هـم همـدې تـه ورتـه ستونزه لري:

ستا په مينه کې هرګل ته شو نظر زما
تازه نه شولو پرې خيال د سترې سر زما
رانـــــه څه شوې اې زما د ژوند ارمانه
ستا بېلتون راته تريخ کړی دی سفر زما

يا يو بل غزل چې له سر تر پايه بـې وزنه دی او ګوربت په خپله څلـــورمه ګڼه کې خپور کړی:

اشنا چې مــــې ليدلو د اوښکو په درياب کې
نور څه نـــه وه خو جرګې د ننواتو مې ليدلې
خوب خـــو ياره نه وي کرامت د پاك مينې
هيلې د وصال صبر او امتحان کې مې ليدلې

په پينځمـه ګڼه کې د يـوه عـابد د يـو غـزل دا څو بيتونه يې يوه بله بېلګه:

شور ماشور د پتنګانو او بورا راځي غوټۍ پسې
سنګين بوی ترې ولاړېږي تش ديدن دخپل ماليارغواړي
دا ګانې بوټي خو نړي دي په مينه څه پوهېږي
توله خاوره د فطرت ده پوره توکل دلوی بادرا غواړي

که زه داسې نورې بېلګې راوړم چې دې تـه ورتـه ستونزه ولري ښايي تاسو هم ستړي شئ او زه هم. خو لاندې څو بېلګې چې وزن خو يې يوڅه خاورې ايسرې ګډوي خو هنر او شعريت په کې په ډېره بين نه ښکاري، راځلم.

په دويمه ګڼه کې يو غزل خپور شوی، چې شاعر د غزل تر پايه په دې نه دی توانېدلی چې خپل غزل د هنر تر پولې نژدې کړي.

ستا مشالونو که د تيارو د ظلم نه کړو بهر
بيا خو سالار دقافلو او لښکر نه يې ته
که هيڅې وار د اغيار يې نه کړې سم په سينه
د افغانيت په تن پوښلی زغر او سپر نه يې ته

په همدې ګڼه کې داسې شعارې او ورځنۍ خبرې هم تر سترګو کېږي:

افغان پيسې ګټي کيسو کې نه دی
د ننګ غيرت په معاملو کې نه دی
برېت يې خړيلي ښځه نوك غوندې شو
نور په هوجرو او په شملو کې نه دی

په دريمه ګڼه کې د غزل لاندې دوه بيتونه:

د غمو شپې زموږ د وصل شمس قمر ژړوي
د زړه زخمونه مو ناسور شوه او ځيګر ژړوي
د غم نکريزې يې کړې پنه د سرو اوښکو په غم
د شهيد نارې لاسره شفق زړه کې شمر ژړوي

يا د يو شاعر دا شعر چې خپل ځان ګرځنده څلی بولي:

زه د زمانې د غيرت څلی يم
ګرځمه د هسکو دنګو غرو په سر

اويا په پنځمه ګڼه د يو ښاغلي دا شعرونه:

غازي يې مسخره شو د شهيد پته يې نه شته
اوس ځوړند د غيرت هغه سرونه دي او زه يم
بازان تړهنه په تېښته د کارغانو دبدبه ده
سپرلی يې نه ښکارېږي خزانونه دي او زه يم

لږ لنډه يې وايم چې ګوربتوالو په خپل تېر خپرني کال کې د شعرونو په ټاکنه کې چې د ژبې يوه لويـه شتمني ده له پوره غور څخه کار نه دی اخيستی. دوی د ګوټو په شمېر څو داسې بېلګې خپرې کړې چې د ريښتيني هنر استازي يې ګڼلای شو.

هسې هم په دې وروستيو کې زمـوږ پـه فرهنګي کړيو کې دا خبره ډېره کېږي چې شعر ښځې ډېر شو او ځينې خو لا دا هم وايي چې دومره پاملرنه ورته نه ده په کار. نو که د دې خبرو مانا دا وي چې تشې خبرې اويا موزون الفاظ دې د شعر په نامه خپاره او ومنل شي، نو بيا خو سمه ده اوکه نه نو لا تراوسه مو تر شعرونو ميرونه ډېر دي.

زه په پای کې دګوربت زلميو او هڅاندو چلوونکيو ښاغلي حفيظ الله غښتلي او احمد ويس وردګ تـه د ګوربت پـه ځېر د يـوې ښې مجلې د چلولو لـه املـه مبارکي وايم، په ګوربت کې ددغو دوه زلميانو هڅې د پوره ستاينې وړ دي، خو د شکور ګلونو په برخه کې يې په راټلونکي کې پوره پاملرنه غواړم، چې پـه دغـه ظريف شکور کې ريښتيا هم ګلونه راټول کړي. او خپلې خبرې په ګوربت کې د نيازمند د خپاره شوي يو خواږه غزل په دغو څو بيتونو رالنډوم:

دا سپينې زانې چې اوترې ليکې ليکې راغلې
زما د خړ وطن تور سرې ليکې ليکې راغلې
موږ په ملا ماتې ژوند د بل د اوږو پېټی وړی
دا څو شپې ورځې زوروري ليکې ليکې راغلې
خدايه! څه تندر تندر ښکلې مسابرې شولې
هر چا ته لاس نيسي سوالګرې ليکې ليکې راغلې

د ګوربت الوتل د هسک په لور

پروین ملال، کراچۍ

د آغلې پروین ملال او ښاغلي اجمل اند مقالې د ګوربت فرهنګي ټولنې د دویم کال د پیل په ویاړ غونډه کې اورول شوې وې.
اداره

ګوربت د لومړنیو ګڼو په سینګار شوو پاڼو کې لوستونکو ته دا امیدونه وروراندې کړل چې په خپل ځان کې به د دوی لپاره یو څه ولري او دغه څه یې د یوه سپېڅلي پیغام په بڼه کې د ناپېیلتوب له څرګندونې سره راوخلول.
هو! ګوربت خپل ناپېیلتوب د پښتنو د لوی صوفي او ستر شاعر عبدالرحمن بابا د کلام په شان "مستقیم" وګڼه او داسې یې راڅرګند کړل چې د معنویت الوتل به یې د هسک په لور مخامخ وي.

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان رابانديږ راشي که بهار

د راوروسته ګڼو په سپینو پاڼو کې یې دغه کړنلار ثبت کړه او یوازې یا تش تور په تورو خالونو سینګار نه شوه، بلکې هاند یې وکړ چې د افغان مسلمان ملت په وړاندې داسې دنده سرته ورسوي چې د ژورنالیزم او پوخ ادب تداعي د افغانستان د تاریخ په دې مرحلو او یا په وروسته مرحلو کې له ځانه سره ولري.
ګوربت د جمال او کمال دواړو عظمت ساتلی، ورته په خیر یې کتلي او په خپلو رنګینو وزرونو د ښایستونو خوا ته هم الوتنې کوي. چېرې چې ښکلا وي هغه راټولوي او د هغه خواږه او پرتمونه زموږ په وړاندې ږدي، چې ورته غور وکړو او د خپلو ذهنونو مرموزو دهلیزونو ته یې راوبولو
که چېرې یوازې د (اوس هم "ویښ خلمی" یم) او "ته یې چې وایې دا په زړه و زما" "د لرغوني پښتو د نظم لومړنۍ بېلګه" ولولو. نو د پرتمونو او ښایستونو په بازار کې به مو د پوهې او علم له رانیولو سره خپله خولۍ راډکه کړې وي.
یو بل ویاړ:
ګوربت د خپلو رنګینو وزرونو په ښکو کې دومره تنوع او ابتکار لري چې له ژورنالیستیک او ادبي پلوه تر نورو یو څه وړاندې ځي او بل ویاړ یې دا چې: زموږ د ګران او خوږ وطن د ډېر خوږېدلي او کړېدلي قشر یعني زموږ د میندو او خویندو نمایندګي په کې ډېر په خلاص مټ او روڼ تندي منل شوې ده. که غور وشي نو په هره ګڼه کې یې ضرور د دوه یا درې خویندو لیکلي توري د پاڼو ښکلا زیاتوي، په داسې وخت کې چې د عصر د لویو تراژیدیو په ګردونو کې په پټېدو ښکاري چې دا به یوازې ګوربت او داسې څو د ګوتو له شمېر نه هم لږ نشریې وي چې د خپلو پاڼو په کرښو کې د څو خویندو نومونه په ادب او نورو ځانګو کې ابدي کوي لکه د دې لنډۍ په شان.

که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

د ګوربت سیند په کوزه کې، ګلونه په شکورونو کې، لالونه په بدخشان کې او داسې نورې ډېرې ښکلاوې رانغاړې نور څه ویل به ته په دې دروند محفل کې پرېږدو دومره ضرور د ویلو دي.

ــــــتا د ښایست ګلونه ډېر دي
خولۍ مې تنګه زه به کوم یو ټولمه
په درنښت

د پښتني فرهنګ د ودې او پراختيا ټولنې

يوه يادونه او يوه غوښتنه

د ګوربت درنې مجلې په پرله پسې ګڼو کې د کره پښتو او پښتو نويو لغتونو د جوړولو او بابولو په باب پوهان او د فرهنګ د لارې لارويان خپلې نظريې ليکي:

ما چې تر کومه ځايه دا بحثونه تعقيب کړي دي، ځينې ښاغلي د نويو لغتونو د جوړولو پلويان دي او ځينې يې سخت مخالفت کوي، دواړې ډلې خان ته خپل دلايل هم لري.

زما خپله رايه دا ده چې موږ دا خپله رواجي پښتو کله خپلو افغانانو ته ور زده کړه! چې اوس لا جنجالي پښتو ور دمخه کوو.

دلته بايد دا خبره هېره نه شي چې ځينې نوي جوړ شوي لغتونه ډېر ښکلي، لنډ او عام فهمه دي، چې اورېدل او لوستل يې سړي ته خوند ورکوي، خو په ځينو ليکنو کې ښاغلي ليکوالو داسې لغات راوړي وي او يا يې په داسې ژبه خپله ليکنه ترتيب کړې وي چې يو پاراګراف يې سړی ولولي نو د سړي سر ورته په درد شي او د کتاب يا مجلې پرېښودلو ته به اړ شي.

يوه ورځ مې له ښاغلي هېوادمل صاحب سره هم په دې باب خبرې کولې، ده راته وويل چې زه خپله په ژبنيو مسايلو کې ګوتې نه وهم، خو دومره وايم چې په هر کار کې افراط خبره خرابوي، ده د خپلو خبرو په ترځ کې په دې ارتباط يوه کيسه هم راته وکړه، ده وويل په ۱۳۵۰ - ۱۳۵۲ کلونو کې زه د کابل پوهنتون د ورځې مجلې مهتمم وم، د مجلې هره ګڼه چې به له چاپه راووته، نو تر ټولو دمخه به مې يوه نسخه مرحوم لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي ته په خپله وروړه، دوه درې ورځې وروسته به بيا ورتلم، دوی به نو دا وخت مجله لوستې وه، له طباعتي تېروتنو نيولې د مجلې د مطالبو په باب به يې خپل نظر راته وايه. يو ځل مې چې مجله ورووړه، درې ورځې وروسته له عادت سره سم بيا ورغلم، زه لا ناست نه وم، چې استاد د خپلې کتابخانې په الماری کې لټون پيل کړ او که مې کتل چې د ورځې مجلې هغه تازه ګڼه چې دمخه ما ورته ورکړې وه راويسته، په تنبه کړی ځای يې پرانيست، د يوې مقالې عنوان يې راوښود او وې وويل:

"دا عنوان ولوله" ما د استاد له امر سره سم د مقالې عنوان ولوست: "د ټولنيز نجون الواک" دوی بيا راته وويل: په معنی يې پوهېږې؟

ما ځواب ورکړ: هو.

استاد وويل: ما هم پر پوه کړه.

ما وويل: د اجتماعي تحول تيوري.

استاد مخ راستون کړ، ښه... ښه، نو د اجتماعي تحول تيوري ته تاسې د ټولنيزو نجون الواک واياست. چېرې چې مجله استوئ، نو په کار دي چې د مجلې مدير او يا ته ورته ورشې، چې دا عنوان ورمعنی کړې. حبيبي چې د پښتو معلم دی، هغه نه پر پوهېږي نو عادي لوستونکي به څنګه پر پوه شي؟ نو دا د کوم ځای پښتو شوه، چې موږ نه پر پوهېږو؟

زه په خپله هم په دې برخه کې د افراطي عمل طرفدار نه يم. نو په دې هکله د ښاغليو پوهانو او ليکوالو څخه په درناوي سره هيله کېږي چې دغه بحث ته دوام ورکړي او خپل نظريات ګوربت ته ولېږي.

زه د ګوربت له درنې مجلې نه غوښتنه لرم، چې په دې اړه د نظريو خپرولو ته دوام ورکړي، او د بېلا بېلو پوهانو نظريات نشر کاندي.

کله چې ټول نظريات راغونډ شي، د پښتني فرهنګ د ودې او پراختيا ټولنه حاضر ده چې د پوهانو او فرهنګيانو دا مقالې په يوه مجموعه کې چاپ کړي، دا مجموعه به د اينده بحثونو لپاره يو اساس شي، علمي مراجع به د همدغو مقالو پر بنسټ خپل بحثونه سره تنظيم کړي.

په درناوي

محمد آصف وردګ

د پښتني فرهنګ د ودې او پراختيا ټولنه

د کمکیانو ګوربت

ګرانو کوچنیانو دا ستاسې پاڼې دي دا به لولئ،
زده کوئ به یې او د خپلې خوښې لیکل به را لېږئ!

ګرانو او خوږو کمکیانو!

تاسې کله رسامي کړې، که مو کړې وي، ګوربت ته یې ولېږئ، چې د چا ښه رسامي وه یا یې ښه لیکنه، ټوکه او نور معلومات را ولېږل، سوغات به ور ولېږو. یو ښه سوغات چې ستاسې خوښ وي.

د ګوربت ګرانو لوستونکو کمکیانو! او تنکیو خوانانو!

زه یو څلورویشت کلن افغان یم، ما د ښوونځي په وخت کې خپل زیات وخت خراب کړی، مطالعه مې نه ده کړې او هېڅ د دې فکر راسره نه و چې په راتلونکي کې به زه هم څه مسوولیت لرم یا به زه څه کار کوم. ما ورزش او لوبې هم نه کولې، بس هسې مې وخت خراب کړی زما ډېر همزولي زما په خبر وو، هغوی هم پرته له دې چې خپل خان ته پام وکړي چې زه څوک یم او څه باید وکړم، خپل وخت یې په هسې خوشې خبرو خراب وه.
زه تاسې ته په ډېره مینه وایم چې له وخت نه ډېره لوبه استفاده وکړئ، مطالعه وکړئ او د مطالعې او درس تر څنګ کوښښ وکړئ چې یو څه کار-کسب زده کړئ.
له بده مرغه اوس هم زموږ زیات تنکي خوانان خپل وخت په داسې شیانو خرابوي چې موږ پرې خپل وخت خراب کړی او اوس ډېر افسوس کوم، زه اوس ډېر ارمان کوم، لاسونه مروړم خو هېڅ لاس ته نه راځي.

ګرانو کمکیانو!

پوهېږې چې افغانان په ډېرو سختو شرایطو کې ژوند کوي، اوسنیو کمکیانو او تنکیو خوانانو ته په راتلونکي کې ستر بارونه ور په غاړه دي، نو همدا اوس له وخت نه ګټه پورته کړئ.

ستاسې ورور
احمد شاه
کابل - میرویس میدان

لمونځ

د لمانځه رکعتونه

ګرانو کمکیانو!

پوهېږئ چې په ورځ کې څو واره لمونځ فرض دی؟ او هر لمونځ څو رکعته دی؟

هو ګرانو کوچنیانو! په ورځ کې پینځه وخته لمونځ فرض دی او د هر یوه وخت د لمانځه رکعتونه په دې ډول دي

د ګهیځ لمونځ

د ګهیځ لمونځ ټول څلور رکعته دی، چې اول دوه رکعتونه یې موکد سنت دي او دوه نور یې فرض دي

د ماسپښین لمونځ

د ماسپښین لمونځ ټول لس رکعته دی، لومړی څلور رکعته په یوه نیت او یوه سلام یو ځای سنت دي. بیا څلور رکعته په یوه نیت او یو سلام فرض دي. او بیا دوه رکعته موکد سنت دي.

د مازیګر لمونځ

څلور رکعته دی، څلور واره په یوه نیت او یوه سلام فرض دی.

د ماښام لمونځ

لومړی درې رکعته فرض دي، بیا دوه رکعته موکد سنت دي.

د ماسخوتن لمونځ

لومړی څلور رکعته فرض، بیا دوه رکعته موکد سنت بیا درې رکعته واجب دي.

***

ملي سرود

ګرانو کمکیانو!

په تېرو ګڼو کې به مو ملي ترانې او ملي سندرې لوستې وي، یادې کړې به مو وي او اوس به یې کله کله له ځانونو سره زمزمه کوئ او هغه کمکیان چې له وطنه لرې مساپر دي هغوی به پرې د وطن مینه ماتوي.

راځئ ګرانو کوچنیانو، په دې ګڼه کې خپل ملي سرود ولولئ او یاد یې کړئ، دغه ملي سرود د شهید داودخان په جمهوریت کې جوړ شوی، راځئ دغه ملي سرود ولولو او یاد یې کړو.

څو چې دا ځمکه اسمان وي
څو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژوند په دې جهان وي
څو چې پاتې یو افغان وي

تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت

تل دې وي جمهوریت
تل دې وي ملي وحدت

تل دې وي افغان ملت- جمهوریت
تل دې وي افغان ملت - جمهوریت
ملي وحدت - ملي وحدت

نازو انا

ګرانو کمکیانو!

په تېرو ګڼو کې خو بـه مـو د خپلـو ملـي مشـرانو پـه اړه څه لوستي وي خامخا بـه مـو څه ترې یاد کړي وي، که بیا هم څه پوښتنه لرئ نو ګوربت تــه یــې ولیکئ.

خــــو اوس راځئ پـه دې ګڼه کې له خپلـو ملـي مشرانو څخه یو بل وپېژنئ. هو رښتیا په دې ګڼه کې د خپلـې یوې اتلې مشرې چې په نـازو انـا مشهور ده یـــو څه ولولئ.

نازو انا زموږ د ملي مشر میرویس نیکه مور او د سلطان ملخـي توخي لور وه. سلطان ملخـي توخـي د غرځیـو واکمـن و، چـې واکمني یې د هند د مغولـو او د ایران د صفویـانو لـه خـوا پـه رسمیت پېژندل شوې وه.

سلطان ملخي توخي د خپلې لور نـارو پـه روزلـو کـې زیـات کوښښ وکړ او نازو د وخت له پوهانو څخه مروج علوم ولوستل.

نازو د خپل پلار تر مرګ وروسته له خپـل ورور حـاجي عـادل سره د کور او سیمې ساتنې او د قوم خدمت ته ملا وتړله. نـازو د نورو پښتنو مېرمنو په څېر مېلمه پالونکې وه، تل به یې له مساپـرو سره مرستې کولـې، نـو ځکـه لـه مساپـرو او مسکینانو سـره پـه ښېګڼه، کولو ډېره مشهوره وه او نوم یې لـه خیبـره تـر کوهسـتانه خپور شو. همدا وخت د ښالـم خان هوتک په نکاح شـوه. چـې بیا خدای(ج) څلور زامن ورکړل، چې مشر یـې زمـوږ ملـي مشر میرویس نیکه و.

نازو انا یوه صالحه، نېک عمله او عـابده ښځه وه، لـه علـم او ادب سره یې هم مینه لرله. په پټه خزانه کې یې یوه ربـاعي هـم راغلې ده.

د ځمکې پر مخ

د ځمکې پر مخ د وچې اوه ټوټې دي، هره یـوه ټوټه یې د لویې وچې یا براعظم په نامـه یـادېږي او هره یوه لویه وچه بېلا بېل نومونه لري، چې پـه دې ډول یې درته ښیـو: ۱- آسیا، ۲- افریقا، ۳- شـمالي امریکا، ۴- جنوبـي امریکـا، ۵- انتاریکـا، ٦- اروپـا، ۷- استرالیا. ځینـې کسـان دغـه وچـې شپږ هـم ګڼي، شمالي او جنوبي امریکـا یـوازې د امریکـا پـه نامـه بولي.

ګرانو کوچنیانو!

تاسې په کومه لویه وچه کې ژوند کوئ او خپـل هېواد مو د دغې وچې په کومه برخه کې پروت دی او په څه نامه یاد شوی؟

هڅه وکړئ چې دغه برو پوښتنو ته پخپله ځواب ووایئ.

اسیا او اروپا د ځمکـې د ګردي تـوپ پـر مخ د وچې یوه لویه ټوټه ده چې تر منځ یې اوبه نه شته، خو د غرونو یوې اوږدې سلسلې چې د یورال غرونه نومېږي دغه دوه وچې سره جلا کړې دي.

د ځمکې هغې ټوټې چې تر براعظم کوچنۍ دي د ټاپو (جزیرې) په نامه یادېږي.

ګرانو کمکیانو!

پورته یادو شویو پوښتنو ته مو ځواب وو‌ایه که نه، که نه دا دی موږ به یې درته ووایو:

تاسې کېدای شي په بـېلا بېلـو وچـو کـې ژونـد کوئ، یانې کېدای شي په امریکا، استرالیا، اروپـا یـا کومه بله وچه کې وئ، خو ډېر افغانان په اسیا کـې ژوند کوي او خپل هېواد مو د دغې وچې (آسیا) پـه منځنۍ برخه کې پـروت دی چې د اسیا د زړه پـه نامه یادېږي.

کمپیوټر

ګرانو کمکیانو!

د کمپیوټر نوم خو به مو خامخا اورېدلی وي او حتی ځینو خو به لیدلی او کار هم پرې کړی وي. ښه. ښه ګرانو کمکیانو تاسې غواړئ چې له کمپیوټر سره اشنا شئ او زده یې کړئ؟

هو ولې به نه غواړئ، خامخا به غواړئ چې کمپیوټر وپېژنئ، زده یې کړئ، خپلې لوبې او کار پرې وکړئ.

ښه نو چې داسې ده موږ ستاسې ګلالیو کمکیانو لپاره دغه پانه خانګړې کړې چې کمپیوټر وپېژنئ زده یې کړئ او بیا نو خپل سات پرې تېر کړئ او خپل کارونو پرې وکړئ. رښتیا دغه ټول کار به د ګوربت اداري ته نه ورپرېږدئ چې دغو پانو ته څه ولیکي، بلکې تاسې به هم د کمکیانو ګوربت بیا په خانګري ډول د کمپیوټر پاڼي ته یو څه لیکئ.

ښه نو راځئ چې په دې ګڼه کې د کمپیوټر په اړه لږ او لنډ وغږېږو او بیا به په راتلونکې کې ستاسې له غوښتنو سره سم ګام پر ګام مخ پر وړاندې ځو.

تاسې خو پوهېږئ چې د حساب ماشین پخپله یو کوچنی کمپیوټر دی، په ځینو راډیوګانو، ځینو ټیپونو، ځینو موټرو او داسې نورو شیانو کې هم کمپیوټر لګول شوي او کمپیوټري راډیو او کمپیوټري ټیپ ورته وایي.

ځینې کوچنیان به داسې فکر کوي چې کمپیوټر یوازې د لیکلو لپاره استعمالېږي. نه داسې نه ده، کمپیوټر په الوتکو، ټانکونو، وسلو کې هم استعمالېږي.

اوس خو په ټولو کارخانو کې کمپیوټرونه لګول شوي او ځینې ډاکټران هم خپل ناروغان د کمپیوټر په وسیله ګوري او معاینه کوي یې.

ښه ګرانو کوچنیانو! کمپیوټر چې یو داسې ستر شی دی چې د ژوند په هره برخه کې په کار راځي نو راځئ چې موږ یې زده کړو ته متې راونغاړو او ان شاء الله همداسې ګلالي کوچنیان به وي چې بیا به پخپله کمپیوټر جوړوي او په دې برخه کې به ډېر کارونه کوي.

د هر چا لپاره په کار دي چې لږ و ډېر په کمپیوټر وپوهېږي، هغه که ډاکټر دی که انجنیري دی، که تجار دی، که بزګر دی او که څه بل کار کوي.

ښه دا خو شوې د کمپیوټر په اړه یو څو خبرې، راځئ په دې ګڼه کې به یوازې د کمپیوټر دوه ډرې شکلونه وپېژنئ.

دا د کمپیوټر شکل دی چې یوه ته یې دیسک ټاپ او بل ته یې لپ ټاپ کمپیوټر وایي

په بله ګڼه کې به د کمپیوټر په اړه نور لومړني معلومات تر لاسه کړئ چې یو کمپیوټر له څه ډول شیانو څخه جوړ شوی او څنګه یو کمپیوټر خپل کار کوي.

د کمکیانو قاموس

Children Dictionary

ګرانو ماشومانو!

کله، تاسې په کله کله د سبق ویلو او مطالعې په وخت له ستونزو سره مخ کېږئ! تاسې په دې وخت کې څه کوئ؟

که تر څنګ مو داسې څوک نه وي چې د مشکل د حل کولو لپاره مرسته ترې وغواړئ، نو هغه ځای په نښه کړئ او خپلې مطالعې ته دوام ورکړئ، بیا د یو داسې چا یا کتاب په لټه کې شئ چې ستاسې ستونزه له منځه یوسي او بیا له سره هغه برخه ولولئ.

د خپلو ستونزو په اړه له ګوربت نه هم مرسته غوښتی شئ، ګوربت په خپل بنګو کې ستاسې لپاره د یوه قاموس (Dictionary) جوړولو نیت کړی، چې دا دی یوه برخه به یې په دې ګڼه کې پیل کړو:

آریایان : هغه وګړي دي چې په زرګونو کلونه دمخه د کسپین بحیرې او د هندوکش غرونو تر منځ اوسېدل، آریایان زموږ او د نړۍ د ځینو نورو خلکو نیکه ګان دي.

آق کپرک: مزار شرف ته نژدې یو کلی دی، زموږ په هېواد کې د ډېرې دورې انسانانو دې کلي ته نژدې ژوند کاوه.

الپکه : د اوښ په څېر یو حیوان دی چې د پېرو په لوړ غرونو کې ژوند کوي.

سکندر : د پخوانې یونان نامتو پاچا و چې ډېر خایونه یې نیولي وو.

اقلیم : د یوې سیمې معمولي اب و هوا ده. د مختلفو ځایونو آب و هوا یو له بله توپیر لري.

بابلیان : هغه خلک وو چې په پخوانیو زمانو کې یې د دجلې او فرات رودونو ته نژدې ژوند کاوه.

بحر : د ځمکې پر مخ د اوبو لویو لویو ټوټو ځخه یوې برخې ته بحر وایي.

د بحر سطح : د بحر د اوبو مخ چې له هغه څخه د ځمکې د مخ لوړوالی او ژوروالی اندازه کېږي.

کیسی

ګرانو کمکیانو!

دا دی د هغو همزلو نومونه مو ولولئ چې د ګوربت کیسیو ته یې سم ځوابونه ویلي او د ډالۍ وړ ګڼل شوي:

فرید احمد له شمشتو څخه، امان الله له میرانشاه څخه، غاټول د کابل له ده افغانان څخه او ګل غوټۍ له ننګرهار څخه.

دوی ګوربت ته څه لیکلي، دا دی تاسې یې هم سم ځوابونه ولولئ: ۱-هندوانه. ۲-د څرخ پرې. ۳- الفبا توري، ۴- نوم. ۵- څلور.

راځئ اوس د راتلونکې ګڼې لپاره د دغو لاندینیو کیسیو ځوابونه ووایئ:

۱- دا څه شی دی چې یوه پښه او یوه سترګه لري.

۲- دا څه شی دی چې هر څه خوري خو په اخره کې خپله مړ کېږي.

۳- لومړی لرګی و، بیا یو لوی حیوان ترې جوړ شو.

۴- دا به څه شی وي چې یوه ګوژړۍ ده چې دوه رنګه اوبه لري؟

۵- دا څه شي دي چې روان وي په دوه پښو خي - خو ودرېږي په څلورو پښو.

ګرانو کمکیانو!

دا مو اورېدلي چې:

* د نړۍ تر ټولو غټ ژوبڼ په لندن کې دی.
* په نړۍ کې تر ټولو غټ ښوونځی په نیویارک کې دی.
* په اسلامي نړۍ کې تر ټولو لوی سیند په مصر کې دی.
* په اسلامي نړۍ کې تر ټولو وړوکی هېواد یمن دی.
* په نړۍ کې تر ټولو زیاته زلزله په جاپان کې کېږي.
* د نړۍ تر ټولو ښایسته بندر د استرالیا په سېډني کې دی.

سمیع الحق سمیع، پېښور

ترتیبوونکی: لمر

د کوچنیانو ادبیاتو:

د ایزوپ نکل:

هغه بته چې د سرو زرو هګۍ یې اچولې

ګرانو کوچنیانو!

دا دی دلته د ایزوپ له نکلونو څخه یو بل خوندور نکل لولئ د دې نکل په پای کې بیا له تاسې پوښتنې





شوې، د هغو سم ځواب به وموسئ او ګوربت ته به یې راولېږئ.

اوس د خپلو هغو همزولو نومونه ولولئ چې ګوربت ته یې د تېرې ګڼې د ګیسې سم ځواب (C) یې رالېږلی دی. ثریا، پسېښور، وحیدالله، د ننګرهار د ایمل خان لېسې زده کوونکی. بریالی له کابل او احسان الله د غزني له ښار څخه.

یو بزګر د خپلې بتې خالي ته ورغی چې وګوري کومه هګۍ یې اچولې ده او که نه؟ دی ډېر زیات حیران

شو چې په خاله کې یې د سرو زرو هګۍ پرته وه. ده دغه هګۍ ورسره واخیستله او په بیړه یې خپل کور ته خان ورساوه او زر یې هګۍ مایني ته وښودله. تر دې وروسته به هره ورځ بتې د سرو زرو هګۍ اچوله. بزګر ډېر خوشاله و. په لنډه موده کې دی شتمن سړی شو. خو ورسره زیات حرصناک او لالچي هم شو.

ده ته دا فکر پیدا شو چې که بته ووژني نو ټولې هګۍ به یې په لاس ورشي. نو یې بته غریبه حلاله کړه. هغه وخت چې نس یې ور څیرې کړ هلته هېڅ شی نه وو.

د دې نکل درس څه دی؟

a - دا یو ښه فکر دی چې د خپلو حیواناتو ښه خیال وساتئ.

b - که ته ډېر حرصناک یا لالچي شې کېدای شي هر څه له لاسه ورکړې.

c - دا ښه نه دی چې سړی ډېر شتمن شي.

افغانستان

وردګ

وردګ د افغانستان په مرکزي سیمه کې پروت ولایت دی چې ۹۰۲۳ کیلو متره مربع مساحت لري، په ۱۳۵۹ ل کال کې یې د وګړیو شمېر ۲۹۴۱۲۵ تنه ښودل شوی و.

دغه ولایت د اداري جوړښت له مخې په څلورو ولسوالیو او دریو علاقه داریو وېشل شوي او په دې ډول دي:

الف- ولسوالي:

۱- چک. ۲- سید آباد ۳- د بهسودو لومړی برخه. ۴- د بهسودو مرکزي برخه.

ب- علاقه داري:

۱- جلریز ۲- دایمیرداد. ۳- نرخ. میدانښار د دغه ولایت مرکز دی.

وردګ سړه هوا لري، په ژمي کې واوره په کې اوري، د سید آبد په تنګي او د چک په خوات سیمه کې دوه سیندونه په کې بهېږي چې شاوخوا ځمکې پرې خړوبېږي.

ددغه ولایت ډېر خلک په بنوالي، بزګرۍ او مالدارۍ بوخت دي. په دغو ورو ستیو دوو لسیزو کې په دغه ولایت کې د مېوو ډېر باغونه جوړ شول چې اوس یې مڼې، زردالو او ګیلاس ډېر مشهور دي او همدا مېوې په زیاته کچه تولیدوي.

دغه ولایت په چک ولسوالۍ کې یو برېښناکوټ هم لري چې پخوا به یې کابل ښار ته برېښنا ورکوله، خو په دغو وروستیو جګړو کې لکه څنګه چې ټول هېواد ته زیات درانه تاوانونه واوښتل نو دغه برېښناکوټ هم زیانمن شو او کابل ته یې برېښنا لېږدول له وسه ووتل.

په دغه ولایت کې تاریخي خابونه هم شته خو لا د فني کسانو له خوا نه دي پلټل شوي، بلکې د سیمې د خلکو له خواچې کلـه کیندنـې شوي نـو تـاریخي او لرغوني آثار یې په لاس راوړي دي.

د افغانستان د ټولو سیمو په څېر دغه ولایت هم د دنګو غرونو په وسیله چاپېرل شوی چې ډېر مشهور غر یې د ګوربت په نامه یادېږي.

د وردګ ولایت ختیځ ته د کابل او لوګر، سویل (جنوب) ته غزني، لوېدیز او شمال لوېدیز ته بامیان او شمال ته د پروان ولایتونـه پراته دي.

د کوچنيانو لپاره
رښتيا خبرې

ليکوال: انور الحق روفي
ژباړن: محمد آصف صميم

الله جل جلاله

بچو!

تاسې به د کيسو د اورېدو شوقمن ياستئ او هره ورځ به مو نوې نوې کيسې اورېدلې او لوستې وي؛ خو ګورئ! کيسې زياتره دروغ او کمې رښتيا وي.

اوس تاسې ووايئ چې دروغ به دي که رښتيا؟ تاسې به ووايئ چې رښتيا خبرې ښې دي.

ښه!

نو غوږ شئ!

تاسې به کله کله فکر کړى وي چې دا دنيا چا جوړه کړې ده؟ او په دې دنيا کې چې څومره څناور، څومره سيندونه، ونې او غرونه دي دا چا پيدا کړي دي؟ زموږ او ستاسې د استوګنې او اوسېدو لپاره دا پلنه ځمکه چا غوړولې ده؟ بيا په دې ځمکه کې دا ډول ډول غلې، رنګا رنګ مېوې، رنګ په رنګ ګلونه، خوندورې مېوې او ډول ډول سابه چا زرغون کړي دي؟

دا د انسان پيداښت دى؟ نه! موږ به درته ووايو او که تاسې پخپله لږ څير شئ، نو پوه به شئ چې دا د انسان پيداښت نه دى.

ښه! چې د انسان پيداښت نه دى، نو دا کار د چا دى؟

دا د هغه الله تعالى کار دى چې ټوله نړۍ يې پيدا کړې ده، دا ځمکه هماغه(ج) غوړولې ده، له ځمکې نه غلې، مېوې، ګلونه او سابه هماغه(ج) شنه کړي دي، د شنه اسمان چت يې جوړ کړى او له ډول او ښکلا لپاره يې په کې ځلنده ستورى ايښي دي، لمر او سپوږمۍ يې هم جوړه کړې ده، پر ځمکه يې لوړ غرونه درولي دي، بيا يې له دې غرونو نه د اوبو چينې او سيندونه روان کړي دي.

که خداى زموږ لپاره د څښلو د اوبو چاره نه واى کړې، موږ له اوبو پرته څنګه ژوندي پاتې کېداى شو؟ فصلونه او کروندې مو وچېدلې، څناور له تندې مړه کېدل، هماغه(ج) موږ ته د اوبو چينې او سيندونه روان کړي او له وريځو نه هم اوبه وروي دا خو به تاسې منئ چې تاسې انسانان يئ؟ اوس دا ووايئ چې انسانان چا پيدا کړي دي؟

د انسانانو پيدا کوونکى هم هماغه الله(ج) دى چې دا ټوله نړۍ يې جوړه کړې ده، الله تعالى پر انسانانو ډول ډول ښېښې کړې دي، د کار لپاره يې ورته لاسونه ورکړي، د تګ لپاره يې پښې، د اورېدو لپاره غوږونه، د خوراک لپاره خوله، د خبرو لپاره ژبه، د بويولو لپاره پوزه او د ليدو لپاره يې سترګې ورکړې دي.

که د الله(ج) دا راکړې ښېښې راسره نه واى کارونه به مو څنګه کېدل؟

بې لاسونو به مو کار څنګه کاوه؟

بې غوږو به مو څنګه اورېداى؟

بې سترګو به مو څنګه ليداى؟

بې پښو به مو څنګه تللاى؟

بې پوزې به مو څنګه بويولاى.

الله(ج) انسانانو ته دا ټولې ښېښې او تر دې زيات نور هم ډېر څه ورکړي دي، چې دوه په کې ډېر ارزښتمن او ستر دي، يو علم (پوهه) او بل عقل.

علم او عقل دواړه داسې لوى نعمتونه دي چې انسانان ترې ډېره ګټه اخلي، په علم او عقل سره انسان پر ټوله نړۍ واک چلوي، لوى لوى، زورور څناور پرې لاندې باسي. په سمندرونو کې پرې اوکوټونه او بېړۍ چلوي، په هوا کې پرې الوتکې الوځوي او د ګاډي او موټرو نه راډيو، ټيليفون او تلويزيون پرې جوړوي.

که له انسان سره دا غوره نعمتونه نه واى پر ټوله نړۍ به يې واک څنګه چلاوه.

زورور څناور به يې څنګه لاندې ايستل؟ په سمندرونو کې به يې اوکوټونه او بېړۍ څنګه چلولې؟ په هوا کې به يې الوتکې طيارې څنګه الوځولې؟ اورګاډي، موټر، راډيو ټيليفون او تلويزيون به يې څنګه جوړاوه؟

د نړۍ په اړه ګټورې معلومات

په یوه اوونۍ کې ۵۲۳ سرلیکه کتابونه چاپ شول

په ایران کې "د کتاب کور" په نوم ادارې د ۱۳۷۹ل کال د لیندۍ پر ۴مه اعلان وکړ چې په تېره اوونۍ کې ۵۲۴ سرلیکه کتابونه چاپ شول، دغه کتابونه د دوه ملیونه ۷۸۳ زره او دوه سوه ټوکو په شمېر خپاره شوي چې په منځني ډول یې د هر سرلیك کتاب شمېر پینځه زره ۳۱۱ ټوکه کېږي.

له دغو خپرونو شویو کتابونو څخه ۴۶۲ سرلیکه کتابونه (۸۸ په سلو کې) تالیف شوي او ۲۲ سرلیکه کتابونه (۱۲٪) ژباړې دي.

له دغو خپرونو شویو کتابونو څخه ۱۱۸ سرلیکه دیني، ۹۴ ادبیات، ۷۴سرلیکه طبیعي او ریاضات، د ژبې په اړه ۶۸ سرلیکه، ۵۰ سرلیکه علمي، د ټولنیزې پوهنې په اړه ۴۳ سرلیکه، د هنر په اړه ۲۵ سرلیکه، د تاریخ او جغرافیې په اړه ۲۵ سرلیکه، د فلسفې په اړه ۱۳ سرلیکه او کلیات ۱۲ سرلیکه دي.

له دغو یادو شویو کتابونو څخه ۲۳۸ سرلیکه (۴۵٪) لومړی خل او ۲۸۶ (۵۵٪) دوباره چاپ شوي دي.

ایمل، ایران - تهران.

***

لوړ خروبی

د نړۍ تر ټولو لوړ خروبی (ابشار) په وینزویلا کې دی، چې لوړوالی یې ۸۰۷ متره دی.

په نړۍ کې د ټولو هېوادونو شمېر په ۱۹۹۳م کال کې ۱۶۶ ښودل شوی چې ۴۹ هېوادونه په افریقا، ۴۴ په اسیا، ۴۳ په اروپا، ۲۸ په امریکا او ۲ په استرالیا پراته دي.

عالمزوی، کابل

***

په نړۍ کې لویه هوایي اډه د سعودي عربستان په ریاض کې ده.
په دینا کې تر ټولو زیات اخبار په روس کې چاپېږي.
د دنیا زیاتې جزیزې په اندونېشیا کې دي.
د برېښنا ګروپ د لومړي خل لپاره د امریکا توماس اېډسن روښانه کړ.
کامره په لومړي خل په ۱۶۶۵م کال کې جوړه شوې ده.

ن ج اوریاخېل کچه ګړی، پېښور

***

د افل برج د نړۍ له شهکارونو څخه دی، چې د فرانسې په پاریس ښار کې دی او د "سن" د سیند په غاړه جوړ شوی دی چې ۳۰ متره لوړوالی لري.

حمید ناصري، کابل.

****

په ۱۹۳۴م کال د سپتمبر پر ۲۵مه افغانستان د ملګرو ملتونو غړی شو.
په ۱۹۴۶ل کال د کابل پوهنتون ډېره کېښودل شوه، تر دې مخکې د طب پوهنځی او د سیاسي علومو پوهنځی جوړ شوي وو.
د ۱۹۵۵م کال د جولای پر ۱۴مه نېټه افغانستان د نړیوال وجهي صندوق غړی شو.

خوشال، کابل

***

په کلمه طیبه کې په هیڅ لفظ باندې ټکی نه شته.
مسز چې لکشمي پنډت د ملګرو ملتونو لومړنۍ ښځینه مشره وه.
تلویزیون په ۱۹۲۶م کال جان اهل بایرډ اختراع کړ.
رادار په ۱۹۴۰ مکال رابرټ واټس اختراع کړ.
انسان په یوه دقیقه کې ۱۵۰ الفاظ ویلی شي.
د انسان بدن له ۶۵۰ غړیو څخه جوړ شوی،
د غوسې او قهر په وخت ۷۲ غړي او د خندا پر مهال ۱۴ غړي په کار بوخت وي.

سمیع الحق سمیع، پېښور

***

لومړنی کیمیاپوه جابر بن حیات دی.
د نړۍ تر ټولو غټې مجسمې د بامیان د بودا مجسمې وې چې سږ کال په فبروري کې د طالبانو له خوا ړنګې شوې.
د ۱۹۲۴م کال د سپتمبر پر ۲۵مه نېټه افغانستان د ملګرو ملتونو غړی شو.
۱۹۴۶ کال د کابل پوهنتون د بنسټ ډېره کېښودل شوه، تر دې مخکې د طب او د سیاسي علومو پوهنځي جوړ شوي وو.
افغانستان د ۱۹۵۵ کال د جولای پر ۱۲ نېټه د نړیوال وجهي صندوق د غړي په توګه ومنل شو.

محمد اکبر نیازی، کندهار

کوچ او پخلنځی

فریده مهناز، پېښور

املیت

د اړتیا وړ توکي:
هګۍ: ۴دانې   کچالو: ۳دانې   رومي بانجان: ۱ دانه
کنور چکن کیوب (یخني)، اوبه او غوړي د اړتیا وړ

هګۍ ښې سره ګډې کړئ کچالو نري غوڅ کړئ، پیاز میده کړئ، په لږه اندازه غوړیو کې د کچالو نري ټوټې او پیاز په اور کېږدئ په بل دېګ کې یوه نیمه پیاله اوبه واچوئ ګرمه شوې کنورچکن یخني چې په ډبې کې وي ورواچوئ په څمڅه یې ښه وښوروئ کله چې یخني تیاره شي کچالو او پیاز په څمڅه ښه میده کړئ، غوڅ شوي رومي بانجان هم ورواچوئ نو کنور چکن یخني هم ورواچوئ ښه یې سره ګډ کړئ هګۍ او ډنیا هم ورواچوئ چې د یوې دوه‌ې ښه غوړه کړي، بیا یې په هوار لوښي کې په لږ شان غوړیو کې پوخ کړئ کله یې چې یو مخ پوخ شي نو د دېګۍ په سر یې په احتیاط پر بل مخ واړوئ چې بل مخ یې هم پوخ شي نو ستاسې ناشتا املیت تیار دي.

مالګین سیمیان

د اړتیا وړ توکي:
اوړه: دوه ګیلاسه. هګۍ، غوړي، پولي، مالګه، تور مرچکي د ضرورت وړ.
اوړه پولي مالګه ګډ کړئ، هګۍ په کې واچوئ، په ګرمو اوبو یې لامده کړئ، اوړه باید نه ډېر کلک وي او نه نرم. اوړه زغاله کړئ، د ماشین د یوې دوه او دریو درجو نه یې وباسئ، د یوې لوېشتې په اندازه یې غوڅ کړئ، بیا د مکروني تر خانه یې وباسئ دواړه طرفه یې تاو کړئ، کله چې ټول اوړه برابر شي په یو لوښي کې غوړي واچوئ، هغه اوړه په کې سره کړئ، غوړي چې مالګین شي د غوړیو نه مو راوېستل لږ مالګه پرې واچوئ.

شامي کباب

د اړتیا وړ توکي:
غوښه، کچالو، هګۍ، پیاز، مرچ، مالګه، مساله.

غوښې ته بخار ورکړئ، کچالو هم په اوبو کې واېشوئ، چې نرم شي، ټول مواد سره مخلوط کړئ تر څو د اوړو ښه غوړه کړي، غوړي سره کړئ د هغې موادو نه په خپل زړه پورې شکل جوړ کړئ بیا یې په غوړیو کې سره کړئ، له سلاد سره یې په لوښي کې کېږدئ اوس نو ستاسې کباب تیار دی.

پای پنیر

د کارولو وړ توکي:
اوړه: ۱۲۰ ګرامه، کوچ: ۲۰۰ ګرامه، هګۍ: ۲دانې، شیدې: نیم ګیلاس، اوبه، مالګه، مرچ، پولي د ضرورت وړ.

کوچ په یو لوښي کې واچوئ، په اور یې کېږدئ. کله چې ولې شي لوښی له اور نه لرې کړئ، پنیر په اوبو کې واچوئ، مالګه یوه کاچوغه پولي. اوړه په کې واچوئ، ښه یې ګډ کړئ، د هګۍ زېړ په کې واچوئ که اوړه کلک وو لږ اوبه په کې واچوئ ښه یې ګډ کړئ، په ګرم ځای کې یې د دوو ساعتو لپاره کېږدئ. بیا نو قالب ښه ورته غوړ کړئ، اوړه په اشکړ نري کړئ. په قالب کې یې واچوئ. د هګیو زېړ د یوې کاچوغې اوړو مالګې مرچ پنیر کریم سره ګډ کړئ. ګډ شوي مواد په هغه اوړو چې دمخه مو په قالب کې اچولي وو هوار کړئ او پاتې پنیر په مخ ورکېږدئ قالب په داش کې کېږدئ وروسته له ۴۵ دقیقو نه به پوخ شي اوس نو ستاسو پنیر پوخ دی.

د شلغمو قورمه

پیاز په غوړیو کې سور کړئ غوښه په کې واچوئ، چې غوښه او پیاز سره شول، شلغمې هم په کې واچوئ د بانجانو له اوبو سره یې ګډ کړئ، په غوړیو راغلي زنجبیل اوړه مالګه لږ بوره په کې واچوئ اوبه د غوښې د پخېدو په اندازه واچوئ چې پخه شوه په غوړو راغله ستاسو قورمه تیاره ده.

درنو څوبندو که چېرې ستاسې چاړه زنګ شوې وي، کولای شئ چې د پیازو په اوړده ریښه یې پاک کړئ.

هغه عکسونه او تصاویر چې په قیمتي رنګونو جوړ شوي دي، لمر ته مخامخ مه خړوئ، ځکه لمر د هغو رنګه او جنسیت خرابوي.

سابه او ترکاري ټل په پتاس (پرمنګنات Permanganate) مینځئ. که د پرمنګناس محلول له تاسې سره نه وي کولای شئ چې ترکاري د ۲۰ دقیقو لپاره په اوبو کې چې مالګه په کې حل شوې وي پرېږدئ بیا نو یې په اوبو پرېمینځئ او استفاده ترې وکړئ.

که تاسو غواړئ چې پنیر تازه پاتې شي هغه په یوه ډیله ټوټه کې چې نم ولري تاو کړئ وروسته یې په اوبو کې چې مالګه په کې حل شوې وي کېږدئ.

د وریجو پخولو پر مهال دا په پام کې ونیسئ چې کله مو وریجې پاکې پرېمینځلې، نو لږ څه مالګه په اوبو کې ورسره واچوئ تر څو په پخولو کې ستاسو وریجې اوږدې اوږدې شي. که غواړئ چې وچه شوې ډوډۍ بیا نرمه شي هغه په یو کاغذي پاکټ کې واچوئ او په ګرم داش کې یې کېږدئ ستاسو ډوډۍ بېرته نرمېږي. ●

سید محی الدین هاشمي

د "ژوندلیک" لیکنې اصول او لارې

"ژوندلیک" لیکنه د اوسنیو نثري لیکنو څانګه لیکنی ډول (ژانر- فورم) دی او په لیکوالۍ کې خانګړی ادبي، علمي او معلوماتي ارزښت لري، چې په کې د یو چا د ژوند پېښې (له پیدایښته تر مړینې) د ځانګړي او ټولنیز ژوند بېلابېل حالتونه، ارخونه د کمال او زوال پړاوونه او نور کیفیتونه په لنډ و ډېر تفصیل سره رااخیستل کېږي.

ژوند پېښې یا ژوندلیک لیکنه په عامه توګه دوه ډوله دود ده. یو ډول دا چې پخپله د لیکوال له خوا ولیکل شي او بل دا چې د یوه شخص یا څو اشخاصو له خوا ولیکل شي. په انګرېزي ژبې او ادب کې لومړي ډول ته "اتوبیوګرافي" او دویم ته "بیوګرافي" وایي.

د یادونې وړ ده چې لومړي ډول ژوند پېښې لیکنه، یعنې پخپله د ځان په باب لیکنه ډېر ستونزور کار دی، ځکه په دې ډول لیکنه کې زیاتره دا احتمال موجود وي چې پر لیکوال د ځان غوښتنې احساس برلاسی شي، خپل هرڅه ورته ښه او غوره وبرېښي او له واقعیت نه لرې قضاوت وکړي او ځینو ته بیا شکسته نفسي اجازه ورنه کړي چې د ځان په باب غوړې وکړي او دغسې ډېرې ښېګڼې او د ژوند واقعیتونه د خلکو له نظره پټ پاتې شي. نو په لنډه وینا ویلای شو، لکه څنګه چې د ځان پېژندل مشکل کار دی، دغسې د ځان په باب وینا او قضاوت هم سخت او ډېر غور غواړي.

په هر صورت د ژوند پېښو یا ژوندلیکونو لیکنه چې له پورته یادو شویو ډولونو څخه په هره بڼه وي، پر خپل ځای ډېر ارزښت او اهمیت لري، کاشکې زموږ د تېرو نسلونو ټولو پوهانو، ادیبانو او نورو هنروالو، سیاسي او تاریخي شخصیتونو چې زموږ د هېواد په علمي، سیاسي او فرهنګي بډاینه کې یې لوړه یا ډېره ونډه لرلې ده، په خپل وخت خپلې ژوند پېښې لیکلې وای او یا د هغوی نورو معاصرینو دا کار کړی وای، اوس به موږ کولی شول چې د هغو په لوستنې او مطالعې سره د هغوی د ارزښتناک ژوند له بهیر او جریان څخه پوره خبر او د هغوی د بریې په رمزونو او رازونو به پوره پوهېدلی او د هغوی د ژوند کړنلاره به مو د خپل ژوند د لارې څراغ ګرځولی وای. خو له بده مرغه چې اوس موږ د هغو له جملې څخه د ډېرو لږو د ژوند پېښو په باب هغه هم تر ډېره حده نیمګړي معلومات په واک کې لرو. چې یا یې د هغو له آثارو څخه او یا یې د هغو د معاصرینو او راوروسته دورو د لیکوالو په آثارو کې له ضمني یادونو څخه ترلاسه کوو.

اوس له یوې خوا د نومیالیو اشخاصو د ژوند پېښو په اهمیت باندې د پوهېدنې او له بلې خوا د ډله ییزو رسنیو او مطبوعاتو د بېلابېلو ډولونو (اخبار، مجله، کتاب، راډیو، تلویزیون او...) په رامینځ ته کېدو او عامېدو سره دغه ستونزه په نسبي توګه د له منځه تللو په حال کې ده. د پوهې، سیاست، ادب او د هنر د نورو څانګو د نومیالیو شخصیتونو ژوند پېښې په اسانۍ سره تهیه او خپرولې شو، له هېرېدلو څخه یې ژغورلی او دغسې یې خپلو اوسنیو او راتلونکو نسلونو ته رسولی شو. چې برياوې یې د خپل ژوند سرمشق وګرځوي.

د هغو نومیالیو ژوند پېښې چې ژوندي او زموږ معاصرین دي، کولی شو په لومړي قدم کې له هغوی سره د مرکو او یا د هغوی له خپرو شویو آثارو او افکارو څخه د مطالعې او یا د هغوی د خپلوانو، دوستانو او نژدې مصاحبینو څخه د هغو په باب په بېلابېلو لارو د معلوماتو د راټولولو په نتیجه کې بشپړې کړو. خو د هغو نومیالیو د ژوند پېښو تهیه او ترتیب چې کلونه کلونه د مخه تېر شوي، بیا هومره اسانه کار نه دی، یو څېړنیز کار ته اړتیا لري باید چې د څېړنې د علمي میتود په رڼا کې تر سره شي.

یو لیکوال خپلې ژوند پېښې لیکي او که د نورو، د لیکنې پر وخت یې باید په عامه توګه دا لاندې ټکي په پام کې ونیسي:

۱- نوم او تخلص. ۲- د زوکړې او مړینې نېټې او د هستوګنځي پېژندنه. ۳- د کورنۍ د افرادو او نژدې خپلوانو نومونه (پلار- مور- مېرمن او اولادونه). ۴- د ژوند شرایط (د کورنۍ اقتصادي او ټولنیزه وضعه). ۵- استادان او هغه کسان چې د ده په ښوونه او روزنه کې یې اغېز او نفوذ لرلی دی. ۶- جسمي، روحي او اخلاقي ځانګړنې. ۷- د زده کړې سوابق او علمي، ادبي، فرهنګي، هنري درجې. ۸- هغه نومیالي علمي، ادبي او سیاسي څېرې چې د نوموړي د شاګردۍ ویاړ یې لرلی دی. ۹- هغه عوامل او انګېزې چې دده په بریالیتوب او پرمختګ کې یې ښستیزه اغېزه لرلې ده. ۱۰- هغه پېښې او حوادث چې د نوموړي د علمي، او ټولنیز شخصیت په جوړښت کې یې ارزښتناک او د پاملرنې وړ نقش لرلی دی. ۱۱- هغه انګېزې چې د نوموړي عقیدې، مفکورې او ژوند لاز په بدلون کې یې رغنده اغېزې لرلې دي. ۱۲- هغه اغېزې او برياوې چې نوموړي ته له نورو علمي او ادبي شخصیتونو سره له ناستې ولاړې، راشه درشه څخه حاصلې شوي دي. ۱۳- د نورو د آثارو او افکارو د اغېز منلو حد او اندازه. ۱۴- هغه دندې او مسوولیتونه چې په بېلابېلو برخو کې یې لرلې دي. ۱۵- مشغولتیاوې او محرومیتونه چې د ژوندانه په بهیر کې او یا هدفونو ته د رسېدو په لارو کې له کومو آزموینو سره مخامخ، څه ډول یې د هغو په وړاندې مقابله کړې او له خنډونو او خنډونو څنګه وتلی دی. ۱۶- په کومو کومو برخو کې یې څېړنې او هلې ځلې درلودې. ۱۷- کوم چاپ او ناچاپ آثار لري (تر ممکنه حده دې د هغو علمي او ادبي معیار هم وښودل شي او د هغه په منځ پانګه (محتوی) دې هم لنډې توضیحي خبرې وشي).

کېدای شي پر دې پورتنیو یادو شویو ټکیو سربېره ځینې نور لوی او واړه ټکي هم وي چې د ژوندلیک لیکنې په معیاریتوب او کره توب کې ارزښتمنه ونډه ترسره کړای شي، خو دا هغه عامې لاربنوونې دي چې په ژوندلیک لیکنه کې ورته پاملرنه ښستیز ارزښت او اهمیت لري.

ماخذونه:

۱- محمد مصري، ګلزار سخن یا هنر نویسندګي، موسسه انتشارات یاران، ایرن، ۱۳۷۱هـ ش کال.

۲- رفیع، حبیب الله: زرینې ځانګې، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقي مرکز، ۱۳۶۰هـ ش کال.

۳- د لیکوال خانګړي یادښتونه.

د الهیاتو او فلسفه

سیف الرحمن اشنا، کابل

په مجموع کې د فلسفي ټولې موضوعګانې چې د حقیقت په لټه کې دي، ډېرې ژورې دي او عادي انسانان خو لا پرځای پرېږده په خپله نوابغ او فیلسوفان هم د افکارو په داسې سمندر کې لاهو دي چې پیل او پای یې څرګند نه دي. د انساند پېژندنې او "نیچر" یا طبیعت پېژندنې په برخه کې ځینې پرمختګونه شوي دي، مګر د الهیاتو په فلسفه کې دومره زیات پرمختګ نه دئ شوی، خان عبدالغني خان چې فلسفي شاعر دی، د یو شعر څو بیتونه یې په دې ډول دي:

په مکه کې مې بیا نه موند، په بتوهات کې رانه ورك شو،

خدای په خپل ځان کې پیدا کړ چې مې مخ د جانان ښکل کړ

دا چې غني په کوم ډول په خپل خان کې موندلی او د ده اصلي هدف به څه وي دا به پخپله هغه ته څرګنده وي، خو کوم مهم ټکي ته چې ده اشاره کړې ده هغه خپل خان دی او دا مشهوره خبره ده چې څوك خپل خان ونه پېژني هغه خدای(ج) نه شي پېژندلی، که چېرې انسان د خپل خان په مطالعه بوخت شي هغه دنیاګانې چې دی یې تصور کوي، پخپله په خپل بدن کې احساسولی شي دا ځکه چې یو پوه په دې باور دی چې "د جهان ټول موجودات ګډه وجه لري، نو ځکه د پېژندلو وړ دي."

له جهان سره زمونږ هغه مشترکه وجه چې زمونږ په خپل وجود کې د پېژندلو وړ ده، هغه دا ده چې زمونږ د وجود ساختمان د هغو موادو مجموعه ده چې زمونږ له وجود نه بهر موجود دي، خوراکي مواد چې له ځمکې څخه ترلاسه کېږي او زمونږ وجود له هغو څخه تغذیه کېږي دا خو یو ساده حقیقت دی، له بلې خوا که چېرې اوبه او هوا نه وي په تېره بیا د هوا د نشتوالي په صورت کې امکان لري د یو ذیروح ژوند په پنځو دقیقو کې پای ته ورسېږي. د انسان طبیعي اړیکې له نورو موجوداتو سره دومره لرې دي، چې تر اوسه هیڅ یوه وسیله هغه ځای ته د ورتګ توان نه لري، مثلاً د انسان بدن د "ډي" ویتامین زیاته انرژي له لمر نه ترلاسه کوي، که چېرې لمر نه وي سترګې به هیڅ نه وینې. کله چې سړی په سترګو روند وي نو څرنګه کېدای شي د ژوند چارې پرمخ بوځي، دغه راز د ټولو خوراکي موادو د ودې او پایښت لپاره چې انسان ترې استفاده کوي د لمر موجودیت حتمي دی، هر هغه څه چې موږ یې په پینځو حواسو احساسوو ټول زمونږ له وجود نه بهر کې موجود دي. د تمیز قوه د عقل په نامه یادېږي چې لکه د اواز په شان په سترګو نه لیدل کېږي، خو آثار یې څرګند دي، نو دا تر ټولو منطقي دلیل دی چې خلقت او په هغه کې منظم قوانین چې افلاتون یې د "صور" یا "مثل" په نامه یادوي، د خدای(ج) د وجود په زړه پورې آثار دي چې د قدرتونو په نامه یادېږي، او یو پوه ویلي وو "زمونږ وجود د جهان د دومره ستر ماشین د پېژندلو لپاره جوړ شوی نه دی.

رابه شو د اړیکو موضوع ته، څرنګه چې یو موجود له بل نه انرژي، خوراك، خلقت او پایښت ترلاسه کوي، په همدې توګه لمر هم د یوې حلزوني سحابي یا وریځې زېږنده دی، چې د دغې سحابي ترشا د ارتباط او خلقت د لړۍ نور لایتناهي پړاوونه موجود دي او دا ټول هغه څه دي چې په پای کې بې له شکه د خدای(ج) د موجودیت عقلي دلایل او شواهد دي، دا دومره ستر موجودات په خپله انسان د خپل وجود په هینداره کې لیدلی شي، دلته به لږ څه د لمر او شمس منظومې د حیرانوونکو خصوصیاتو په باب لنډې څرګندونې رانقل کړو:

"ځمکې ته له ټولو نه ډېر نږدې ستوری چې د میاشتې په نامه یادېږي یوازې ۳۸۴۰۰۰ کیلومتره له ځمکې لرې دی او د شمسي منظومې د ټولو نه ډېر لرې ستوری نپتون څلور ملیارده - څلور سوه - شپېته میلیونه کیلومتره له ځمکې سره فاصله لري، دغه دوه ستوري زمونږ د جهان اوږدوالی او پراختیا راته ثابتوي، په داسې حال کې د دغې فاصلې مجموعه د جهان په پراخ ډګر کې له یوې کوچنۍ نقطې یا ټکي پرته بل څه نه دي. له دغې فاصلې یا واټن وروسته داسې "کړو" ته رسېږو چې په هغو کې فاصله نه په کیلومتر بلکې په نوري کال یا پارسك محاسبه کېږي، هر پارسك ۳/۲۵ نوري کلونه دي او سل پارسکه له درې سوه پنځه ویشت نوري کلونو سره برابر دي.

دا خو زیاتو کسانو ته معلومه ده چې د نور سرعت یا ګړندیتوب په یوه ثانیه کې درې سوه زره کیلومتره دی، یو وخت داسې هم و چې د ځمکې د کرې ټول مواد له لمر سره شریك وو. دا موضوع بیا بېل داستان دی. د دغو ملیاردونو ستورو مجموعه په داسې حالت کې دي چې که چېرې په کیلومتر محاسبه شي زمونږ ارقام په سختۍ سره د دې وس لري چې هغه بیان کړي. د دغو ستورو مجموعه په داسې حالت کې ده چې هر یو یې په ملیاردونو کیلومتره یو له بل نه لرې دي، له دغو مجموعو څخه یوه زمونږ کهکشان دی چې د پوهانو د وینا له مخې د هغو قطر ۳۰۰۰۰۰ نوري کلونه دي، په دغه کهکشان کې هم د نورو کهکشانونو په څېر نامعلومه شمېر چې نږدې یو ملیون دی وریځې "سحابي" او د ستورو مجموعه موجوده ده چې دغه ټول له خپل ځان سره کهکشانونه په ثانیه کې د ۶۵۰ کیلومترو په چټکتیا د اسمان د ګنبدې نامعلوم طرف ته چې د "کاپرمیکورن" سحابي په لاره کې دی په حرکت کې دی. دا فضایي بحثونه او جهانونه ډېر په زړه پورې او پراخه دي چې د دې لیکنې موضوع نه ده، زما هدف له ارتباطاتو څخه دی چې د ټولو موجوداتو تر منځ موجود دی او دا لړۍ تر هغې دوام لري چې اصلي منشا یې له "کل" څخه احساس او تصور کېږي، له دې نه زیات د بشر پوهه لا وړاندې نه ده تللې.

یو فیلسوف خپله عقیده داسې څرګندوي: "عمومي او عیني اندېښنې د انسان د زیاتو اشتباګانو

د هوښیارۍ څلي یې ونړول

ح. غ

افغانستان یو لرغونی هیواد دی، د بشر د تاریخ ډېرې نښې د دغه هیواد په تېلا پېلو خاپونو کې

د هوښیارۍ څلي د طالب واکمنو د ټانک تر برید لاندې

موندل شوي او په موزیمونو کې ساتل شوي دي. چې زیاته برخه یې په کابل موزیم کې ساتل شوې وه. خو له بده مرغه دغه ټولې نښې نښانې د کورنۍ جګړې او بیا وروسته یې څېنې د طالبانو د مشر امر له مخې چې ویل یې بتان د شرک نښه ده، له منځه یوړل شوې.

د ۲۰۰۱ میلادي کال د فبرورۍ پر ۲۶مه نېټه د دوشنبې پر ورځ د طالبانو مشر ملا محمد عمر اخوند په ناخاپي ډول د هغو دوو لویو بتانو په ګډون چې د بامیان په وادي کې ولاړ وو د ټولو بتانو د ماتولو امر وکړ، چې ډېرو افغانو او نړیوالو یې د مخالفت غبرګون پرې څرګند کړ، خو دغو ټولو غبرګونو څه نتیجه ور نه کړه او د بامیانو د دوو لویو بتانو په ګډون یې د افغانستان د موزیمونو هغه ټولې نښې له منځه یوړې چې بشر د تاریخ څرګندې لګېدای شو او انسانانو ته د عبرت درس و او د لوی خدای د قدرتونو له نښانو څخه وې.

بامیان زموږ د هیواد په منځنۍ برخه کې پروت دی، دغه ولایت د بامیان وادي په نامه یادېږي، بامیان هم د افغانستان د ډېرو سیمو په څېر د غرونو په وسیله چاپېر شوی دی.

بامیان وادي یوه لرغونې سیمه ده، په دغه سیمه کې د مذهب او تمدن د پرمختیا ډېرې نښې لیدل شوې دي، دغه وادي د هغو دوو لویو بتانو له مخې چې پخوا به هر کال په لکونو افغانانو او بهرنیانو سیل ته ورتلل ډېره مشهوره وه، چې له دې لارې د افغانستان ملي خزانې ته زیاته ګټه رسېده او ډېرو خلکو ته کار پیدا کېده.

د بامیان وادي د دغو دوو لویو بتانو په اړه څېړونکي بېلا بېلې نظریې لري، چې ټول په زړه پورې دي، څېنې وايي:

له نن څخه اټکل ۲۴۰۰ کاله پخوا په هندوستان کې یو ښه او پرهېزګار سړي ژوند کاوه، دغه سړي له ټولو ژوندیو شیانو سره مینه لرله، تل به یې خلکو ته ښې ښې خبرې کولې او ښو ښو کارونو ته به یې بلل، له همدې کبله دغه سړی د خلکو تر منځ ډېر مشهور شو، خلکو به دغه سړي ته بودا وایه، بودا یوه هندي کلمه ده چې د هوښیارۍ مانا ورکوي.

دا چې بودا خلک ښو کارونو ته بلل، نو ډېر یې ډېر پیروان وموندل، خو کله چې بودا مړ شو، خلکو د ده درناوی کاوه او د نوم پاتې کېدو لپاره یې عبادتځي جوړ کړل او په همدغه خایونو کې به یې د ده یاد تازه کاوه او په ډېرو خایونو کې د بودا مجسمې د دې لپاره جوړې شوې چې نوم یې تل پاتې شي او د ښو کارونو پیروان یې ډېر لاړې نه شي.

په بامیان کې هم هغه وخت د یوه چینی ګرځندوی د وینا له مخې چې په ۳ پېړۍ کې د بامیان له وادي تېر شوی دا سې څرګندېږي چې د ده تر ورتګه مخکې زرو تنو پرهېزګارانو په بامیان وادي کې ژوند کاوه، کېدای شي د هوښیار (بودا) مجسمه هم د همدغو پرهېزګارانو له خوا جوړه شوې وي.

د هوښیارۍ څلي د واکمنو د توپونو تر برید لاندې

د تاریخ په اوږدو کې د هوښیارۍ دغو دوو څلیو ته چې یوه (نارینه) یې ۵۳ متره او بل (ښځینه) یې ۳۸ متره لوړوالی درلود، بدبینانو کاږه کتلي او وخت پر

وخت یې زیان ور اړولی، چې د بامیان ښار هم ورسره زیانمن شوی. بامیان یو وخت ستر ښار و چې د ضحاک ښار په نامه یادېده او د سوداګرو کاروانونه یه له دغه ښار څخه لمختیخ نه د لوېدیز په لور تلل او راتلل چې همدغه ښار په سلګونو کلونو خپل عظمت ساتلی و، خو کله چې په ۶۰۱ هـ ل کال د چنګیز لښکرو زموږ په هېواد یرغل وکړ او د خپل لمسي په مشرۍ یې د خپلو لښکرو یوه برخه بامیان ته واستوله د چنګیز لمسي د ضحاک ښار کلابند کړ، د کلابندۍ

د کابل موزیم له لوټ شویو آثارو څخه

پر وخت د چنګیز لمسی ووژل شو، چنګیز د خپل لمسي د مرګ په اوریدو ډېر په قهر شو، پخپله بامیان ته راغی او خپلو لښکرو ته بې امر وکړ چې ښار له بېخه ونړوي. همدا وخت یې د دغه ځای ټول خلک ووژل، لا په ژانګو کې یې ماشومان هم پرېنښودل. په دې ډول د تمدن دغه ښار وران شو چې اوس یوازې د ضحاک ښار د کلاګانو کوچنۍ تیتې نښانې په بامیان کې تر سترګو کېږي. د چنګیز په دغه برید کې د هوښیارۍ څلي هم خوندي پاتې نه شول، چنګیز دغو څلیو ته له خپلې وسې سره سم زیان ورساوه.

د هوښیارانو او هوښیارۍ دغه څلي تل ناراضه وو، دغو څلیو ته یو بل ستر زیان هغه وخت ورواښت چې پر دغه وادي په ۱۹۹۲ کال د وحدت حزب توپکیان واکمن شول او د پردیو په اشاره یې دغه څلي د توپونو تر بریدونو لاندې ونیول. خو دغو څلیو ته تر ټولو ستر ګواښ هغه وخت وشو چې د طالبانو مشر وویل موږ ټول بتان ماتوو، د همدغه امر له مخې دغه مجسمې تر برید لاندې راغلې او په دې ډول د بامیان وادي د بودا د مجسمو په ورانولو د بشر د تاریخ لویې نښې له منځه یوړل شوې چې اوس مهال یې په نړۍ کې د مسلمانو لپاره د مذهب په نامه ستونزنې راولاړې کړې.

څېړونکي وایي چې د بتانو د ماتولو امر د هغو کسانو په لمسون او هڅونه شوی چې هغوی تر دې مخکې د افغانستان موزیمونه لوټ کړي او پلورلي وو، دوی په ظاهري ډول داسې وانګېرله چې ځانونه مو د تاریخ له بدنامۍ څخه خلاص کړل.

څېړونکي دا هم وایي چې د پردیو په اشاره دا کار شوی او په دې ډول یې وکړای شول چې په هندوستان کې د مسلمانانو او هندوانو تر منځ کورنۍ اړودوړ را وزېږوي، خو په دې کې بریالي نه شول. څېړونکي زیاتوي چې د دغه اور د لمبو د زیاتولو لپاره یې پر طالبانو بل دا کار وکړ چې وواییې د بتانو د ماتولو د ختمېدو لپاره ۱۰۰ غوایان د قربانۍ په توګه حلال کړي، خو په دې ډول یې هم و نه شو کړای چې په هندوستان کې مذهبي کړکیچ راوزېږوي.

د طالبانو د ناخاپي امر په اورېدو افغانانو او نړیوالو هڅه وکړه چې طالبان دې ته وهڅوي چې پر خپل امر بیا کتنه وکړي، په دې لړ کې د مارچ پر دویمه نېټه د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي وېنډرل فرټ کابل ته بیرنی سفر وکړ چې طالبان د دغه امر نه عملي کولو ته وهڅوي، خو څه کوچ یې ترې تر لاسه نه کړل. که څه هم دغه څلي د طالبانو د توپونو تر ګوزارونو لاندې وو، خو افغانانو او نړیوالو هڅه کوله چې دغه بریدونو ودروي، په دې لړ کې په همدې ورځ په اسلام آباد کې د یونان، جاپان او د جنوبي اسیا د ځینو نورو هېوادونو له خوا یو پرېس کنفرانس ورکړل شو چې پر طالب واکمنو یې سختې نیوکې وکړې او غوښتنه یې وکړه چې طالبان باید بتان مات نه کړي.

د یکشنبې په ورځ د مارچ پر ۴مه د یونیسکو مشر پیرلاګرانس کندهار ته سفر وکړ، خو دی هم نهیلی راستون شو، که څه هم په دې لړ کې د احتجاجونو لړۍ تر ډېره وغځېده خو بیا یې هم هیڅ نتیجه ورنه کړه.

په هېواد کې دننه د عام ولس عکس العمل هم شدید و، خو د وېرې له امله یې په ښکاره څه نه شو ویلای. د فبروري له ۲۸ - د مارچ تر ۱۰مې پورې ننګرهار، کابل خوست ته د راپور لیکلو پر وخت زیاتو خلکو په پټه خوله خپله خواشیني څرګندوله او داسې تبصرې یې کولې.

دا څوارلس سوه کاله له راشده خلیفه ګانو څخه نیولې تر میرویس نیکه او احمد شاه بابا پورې چې په اسلام کې ورته خیرن قرون وایي او د هند نیمې وچې ته یې د اسلام ورانګې خورې کړې او د هغه ځای مسلمانان یې له یوې سترې فاجعې څخه وژغورل، هغوی ولې دا بتان مات نه کړل چې اوس یې دوی ماتوي، ایا د هغوی په ایمان او اسلام کې خلل و.

دوی ویل حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت محمد(ص) خو هغه بتان مات کړي چې د هغو عبادت کېده او سلطان محمود غزنوي یو بت مات کړی هغه یې هم تر کابله پورې روغ راوړی او په هغه سیمه کې یې د قیمتي ډبرو د لاسته راوړلو لپاره مات کړ چې اوس ورته بتخاک وایي.

عام ولس چې اقتصادي بحران یې ملاوې ور ماتې کړي دي په مجلسونو، د جوماتونو په پښتاوي کې له سهاره تر بېګاه پورې د همدغو بتانو د ماتولو په مخالفت کې بحث کاوه، دوی ویل چې که خبره د عبادت وي نو د لمر، سپوږمۍ، ستوریو عبادت هم شوی له هغو سره به طالبان څه کوي، هندوان د غوا او غوایي عبادت او درناوي هم کوي نو هغه دې هم له منځه یوسي

عام ولس پر طالب واکمنو بد ګومانه شوی او تل دا وایي چې د نورې اسلامي نړۍ ملایان او پوهان یو څه وایي خو د افغانستان واکمن بل څه. عام ولس خپلې ستونزې هم یوه یوه شمېرې او د بتانو له خبرو سره یې یو ځای کوي.

څېړونکي او سیاسي پوهان وایي چې دغه ورانۍ د بهرنیو لاسوهونکیو په اشاره تر سره شوې، په دې لړ کې د پښتونخوا عوامي ګوند مرستیال ښاغلي رحیم مندوخېل پر اسلام آباد ګوته کېښوده چې دغه بتان د دوی په لار ښوونه وران شول.

د دغو بتانو د ورانولو له امله د مسلمانانو مذهبي مقدساتو ته سپکاوی هم وشو، په هندوستان کې یوه قران کریم ته اور واچوه یوه جومات ته د غوښو ګله غوښه وغورځول شوه، (العیاذ بالله) په نیپال کې ۵۰۰ مسلمانانو شهیدان کړل.

د کابل موزیم له ماتو شویو او لوټ شویو څخه

د همدغو پېښو د راولاړېدو د مخنیوي لپاره د اسلامي نړۍ یوه عالم یوسف القرضاوي وویل مسلمانان باید د هغو کارونو له کولو ډډه وکړي چې فتنه ترې ولاړېږي، نو ښکه موږ له طالبانو څخه هیله لرو چې د بتانو له ماتولو لاس پر سر شي.

له هغو ټولو هڅو سره چې د اسلامي نړۍ د مذهبي پوهانو، افغانانو او نورو نړیوالو له خوا تر سره شوې، هیڅ نتیجه ورنه کړه، طالبانو د بامیانو د بودا د مجسمو په ګډون یې په هېواد کې هغه ټولې مجسمې ونړولې چې په موزیمونو کې له چور او تالان څخه خوندي پاتې شوې وې.

مېړنې دي چې یادېږي

علامه سید جمال الدین افغان

سید جمال الدین افغان د نړۍ له هغو سترو شخصیتونو څخه دی چې شخصیت یې بولاړې د یوې کورنۍ، کلي او سیمې په کوچنۍ دایره کې نه ځایېږي، بلکې د پوهې رڼا یې ټولې نړۍ ته خوره ده او ټوله نړۍ لکه لمر نه استفاده کوي. سید جمال الدین افغان د اسلامي نړۍ د بیدارولو یو مفکتین او د بشر د حقوقو مبارز و. دی د ژوند تر وروستیو په خپله مبارزه کې نه ستړی شو او نه څمکه وزنه کوچنۍ شوه.

سید جمال الدین افغان په افغانستان کې زیږېدلی، همدلته یې زده کړې کړې، همدلته یې مبارزه کړې او له همدې ځایه یې د خپلې مبارزې وړانګې ټولې نړۍ ته خورې کړې او په خپلو دغو زرینو وړانګو یې ویده خلک له درانه خوبه را پاڅولي دي.

سید جمال الدین افغان د کونړ د اسد آباد په شېرګر کلي کې له سید صفدر کره په ۱۲۵۴ هـ ق (۱۸۳۸ م) کال زیږېدلی، لومړنۍ زده کړې یې په خپل کلي کې د هغه وخت له دود سره سمې تر سره کړې، همدا وخت یې له ابن علي څخه هم زده کړه کوله.

افغان سید لا یو کلن و چې انګریزي ښکېلاکګر پر افغانستان یرغل وکړ او تر ټیم لك زیات پوځیان یې پر دغه خاوره راماړش کړل، د یرغلګر پر ضد د سید جمال الدین افغان د مبارزې احساس له همدغه کوچنوالي څخه د ده د ضمیر په بټۍ کې پخېده.

د افغان سید د کورنۍ سیاسي او روحاني اغېز د دې لامل شو چې د وخت د حکومت له خوا له کونړ څخه کابل ته تبعید شي. د ۱۸۴۴ کال په شاوخوا کې یې پلار له کورنۍ سره کابل ته لاړ او علته مېشت شو، دوه کاله یې لا دلته نه وو تېر کړي چې بیا هم ورته د واکمنو تندې ګوتنځي شو او د همدغو سیاسي لاملونو له مخې د افغان سید کورنۍ بیا کډه پر سر له کابله د ایران همدان ښار ته وکوچېده او افغان سید د ایران په بېلا بېلو ځایونو کې پر زده کړو بوخت شو. په همواد کې دننه یې په ډېر لږ وخت کې تفسیر، حدیث، فقه، اصول، کلام، منطق، حکمت ولوستل او د دغو علومو تر څنګ یې د نورې پوهې د تراتسه کولو ځنځیر پسې وغځاوه.

پر سید جمال الدین افغان د ایرانیانو دا دعوا چې افغان علامه ایراني دی له همدې ځایه راولاړېږي او د زیاتو څېړونکیو په اند ایران ته د افغان سید د کورنۍ هجرت د همدې لامل شو چې ایرانیان دعوا وکړي چې ګنې سید جمال الدین ایراني دی. خو بخبله سید جمال الدین تل له ځان سره د افغان کلمه لیکلې ده.

په ۱۸۵۵ ال کال هندوستان ته لاړ او په ۱۸۵۶ کال په شل کلنۍ مکې معظمې او استانبول ته لاړ په همدغې کال بېرته ایران او بیا کابل ته راغی او په کلارې جومات کې په تحصیل بوخت شو.

سید جمال الدین افغان له ځیل هېواد سره ډېره مینه لرله، غوښتل یې چې د پرمختګ پر زینو خپل خلك او هېواد د پرمختیا لوړ تخت ته وخېژوي، په ۱۸۶۰ کال کابل ته راغی له امیر دوست محمد خان سره یې ولیدل او د هغه په پوځ کې یې د څېړونکي دنده په غاړه واخیسته.

کله چې بیا امیر شېرعلي خان پادشاه شو، نو نوي امیر ته یې د خپلو تجربو، لیدنو کتنو او پوهې له

مخې چې تر دغه مهال یې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې لیدلې وو. د اصلاحاتو او پرمختګ یو پروګرام وړاندې کړ. په دغه پروګرام کې اداري اصلاحات، د چاپ ماشینونه راوړل، مطبعې جوړول، د ورځپاڼو، مجلو او کتابونو چاپول، د پستې ټکټونو چاپول او خپرول، د ښوونځیو او روغتونونو جوړول او د پوځي چارول عصري کول شامل وو.

خو امیر شېرعلي خان د کورني اړ دوړ له مخې ونه توانېد چې دغه پروګرام عملي کړي او دې خپله د هغو یو لړ ستونزو له مخې له قدرت نه ګوښه شو.

سید جمال الدین افغان ته دا مطرح نه وه چې څوک واکمن او پادشاه دی. له ده سره د وطن د ترقۍ غم و. غوښتل یې چې هېواد سمسور او خلک یې ارام ژوند وکړي. دغه مهال په افغانستان کې کورنۍ اړودوړ روان و. د امیر دوست محمد خان تر مرګه وروسته د ده زوی امیر شېرعلي خان پادشاه شو. د امیر شېرعلي خان او ورونو تر منځ یې ناندۍ رامنځ ته شوې. امیر شېرعلي خان له واک څخه لرې او پر ځای یې یو خل محمد افضل خان او بیا هم محمد اعظم خان واکمن شول. سید جمال الدین د اصلاحاتو خپل پروګرام دغو دواړو واکمنو ته هم وړاندې کړ. خو کله چې بیا د دویم خل لپاره امیر شېرعلي خان د واک ملوتې تر لاسه کړل، نو پر سید جمال الدین افغان بد ګومانه شو. افغان سید هم زړه توری شو او بیا یې د حج په پلمه د تل لپاره افغانستان پرېښود.

څنګه چې سید جمال الدین د خپل ژوند زیاته برخه مبارزې ته ځانګړې کړې وه، نو تل له یو ځای څخه بل ځای ته د خپلې مبارزې د اغېزمنتیا لپاره تللی. په بېلا بېلو وختونو کې یې یو خل او څو خله هرات، فراه، کندهار، غزني، کابل، بمبیي، استانبول، مصر، کلکتې، لندن، امریکا، پاریس، ایټالیا، ویس، اصفهان، تهران، طوس، بغداد، مسکو، پیټرز بورګ، مونیخ او نور ځایونو ته سفرونه کړي او د خپلې مبارزې لپاره یې شپه او ورځ پر ځان یوه کړې وه.

د نورې نړۍ د هېوادونو واکمنو د افغان سید له فکر او پوهې زیاته ګټه پورته کړه، مشورې یې ترې واخیستې او په خپلو حکومتونو کې یې شامل کړ. نو څکه په ۱۸۷۰ م کال په استانبول کې د معارف د مجلس غړی شو. په ۱۸۷ کال د مصر قاهرې ته لاړ او هلته د زده کړې او ښوونې په چارو بوخت شو.

په ۱۸۸۳ کال یې پلار سید صفدر د ایران په همدان کې په حق ورسېد. په ۱۸۸۴ م کال د فرانسې پاریس ته لاړ او هلته یې په جمادی الاول (۱۳۰۱ هـ ق کال) د عروة الوثقی مجلې په خپرولو پیل وکړ او تر ۱۸ ګڼو یې چاپ کړه چې بیا وروسته د هغه ځای د واکمنو له خوا بنده کړای شوه.

عروة الوثقی د اسلامي نړۍ د وېښولو او بیدارولو په برخه کې غوغ زول ولوباوه. په زړه پورې مطالب یې خپاره کړه. په استعمارګرو او یرغلګرو یې لاړ و ګودر ورك کړل. نو ښکېلاکګرو د عروة الوثقی له بندولو پرته بله هیڅ لاړ و نه موندله.

په ۱۸۹۱ کال لندن ته لاړ او هلته یې د ضیاء الخافقین په نامه جریده چاپ کړه.

سید جمال الدین افغان له دغو مجلو سربېره د افغانستان او افغانانو په اړه هم د تتمة البیان فی التاریخ الافغان په نامه یو کتاب لیکلی.

سید جمال الدین افغان په پښتو، دري، عربي، ترکي، انګلیسي، فرانسوي او روسي ژبو لیکل او لوستل کولای شول او په همدغو ژبو یې د دغو ژبو ویونکیو لپاره د هغې سپېڅلې بلنې دنده تر سره کړې چې لوی خدای (ج) ورته (موعظه حسنه) ویلې.

بالاخره د نړۍ دغه نامتو شخصیت او مبارز د ۱۸۹۷ کال د مارچ په ۹ مه د سه شنبې پر ورځ د ترکیې په استانبول ښار کې له دغې نړۍ سترګې پټې کړې او د شیخلر په هدیره کې په امانت ډول خاورو ته وسپارل شو.

د افغانستان د حکومت په غوښتنه د ۱۳۲۳ ل کال د مرغومي پر ۱۰ مه یې تابوت افغانستان ته راوړل او د کابل پوهنتون په سیمه کې یې خاورو ته وسپاره.

***

سید محمد قاسم

سید محمد قاسم د سید غلام محمد زوی او د سید ملا محمد لمسی دی، چې په ۱۲۶۷ ل کال د لغمان په چارباغ کې زېږېدلی. لومړنۍ زده کړې یې په خپل کاله کې چې یوه پوهه پالونکې کورنۍ وه وکړې. نېکه یې سید ملا محمد په لغمان کې د هغه وخت له دود سره سم یو لوی ښوونځی درلود، وایي چې د هېواد له ګوټ ګوټ نه به زده کوونکي د زده کړې لپاره ورته راتلل. سید محمد قاسم هم په همدغه ښوونځي کې لومړنۍ زده کړې وکړې.

وروسته چې کله سید غلام محمد پاچا د امیر عبدالرحمن خان په غوښتنه کابل ته راغی سید محمد قاسم دا وخت لس کلن و. نورې زده کړې یې همدلته له خپل پلار نه چې په شاهي مدرسه کې مدرس و، وکړې.

ښاغلي سید مسعود پوهنیار د خپل پلار سید محمد قاسم په اړه لیکي:

سید محمد قاسم طالب العلم بسیار ذکی مستعد و پرکار بود، در کمترین فرصت علوم متداوله عربي را فرا ګرفت، چنانچه سیزده ساله بود که شرح ملاجامی را ختم کرده، علم کلام و احادیث را با اصول فقه و منطق که در جمله علوم عربي بود تحصل کرد. هندسه، ریاضات، الجبر مثلثات را با علم طب و جغرافیه (اوقلیدس) که دیګر ملاها کم می خواندند نیز فرا ګرفت حتی علم موسیقی، رمل و جفر را در نزد پدر خواند.

همدا وخت دیني عالمانو د موسیقۍ هنر د زده کړې لپاره ځانګړې زده کوله چې میر محمد هم پرته له دې چې پر دغه هنر د حرمت مهر ولګوي له خپل پلاره یې د علم د دغه هنر په ګینه ځان وپسوله.

میر سید محمد قاسم د منطق، طب او ریاضات تر زده کړې وروسته په شاهي مدرسه کې د محرر په توګه په دنده وګومارل شو

د سید محمد قاسم پلار سید غلام محمد پاچا په پېښور کې وخت تېر کړی و او هلته یې له مطبوعاتو او د نړۍ له حالاتو سره اشنایي پیدا شوې وه، همدا وخت افغانستان ته "حبل المتین" چې په هند کې د جلال الدین او نورو ایراني فراریانو له خوا خپرېده دوه ګڼې افغانستان ته راتلې، یوه بله جریده د "صور اسرافیل" په نامه په ایران کې چاپېده. دا هم دوه ګڼې افغانستان ته یوه پادشاه حبیب الله په نامه او بله د سردار عبدالقدوس خان په نامه راتلې. څنګه چې سید محمد

قاسم له شاهي دربار سره نژدې اړیکې لرل نو همدا دوه خپرونې ده ته هم د مطالعې لپاره ورکول کېدې، دغوخپرونو له ده او د ده له ملګرو سره چې علامه محمود طرزي یې په راس کې و، د مشرطه شاهي نظام د جوړولو نظریه را وټوکوله.

میر سید محمد قاسم د مشروطیت غورځنګ فعال غړی و، چې د مشروطیت غورځنګ د موخو بنسټیز ټکي دا وو.

د اسلامي اصولو او د قران عظیم د تقدس اطاعت او د اسلامي احکامو منل.

د ملي حقوقو لاس ته راوړولو او د مشروطه رژیم جوړولو لپاره پرله پسې هلې ځلې، حکومت باید د ملت د استازیو له خوا جوړ شي، ملي حاکمیت او د قانون د حکم تامینول.

د معارف د ښوونځیو جوړول او خلکو بیداري، د وسایلو او مطبوعاتو تعمیم.

د ازادو انتخاباتو او د خلکو د استازیو له خوا د ملي شورا مجلس جوړول.

د ښارونو، سړکونو، د اوبو او برېښنا د سرچینو جوړول او نورې یې خپلې موخې وې.

په مشروطیت غورځنګ کې ځینو داسې کسانو ځای نیولی و چې د غورځنګ په ضد یې حکومت ته تبلیغاتي څارګري (جاسوسي) کوله. په ۱۹۰۹ م کال کې د دغه غورځنګ ځیني کسان بندیان شول او په دغو کسانو کې سید محمد قاسم هم د شېرپور جېل ته ولېږل شو، چې تر دوه کالو او درېو میاشتو بند تېرولو وروسته په ۱۹۱۱م کال له زندان څخه د دې له مخې راخلاص شو چې امیر حبیب الله د ده پلار ته زیات درناوی لاره.

میر صاحب چې کله له زندان څخه را خلاص شو، نو په حبیبیه ښوونځي کې د ښوونکي په توګه وټاکل شو، کله چې په ۱۹۱۹ کال کې اعلیحضرت امان الله خان پادشاه شو، د عصري تشکیلاتو له مخې یې وزارتونه جوړ کړل، عبدالحبیب خان د ښوونې وزیر شو او میر سید قاسم د تدریساتو رئیس وټاکل شو. کله چې بیا سردار سلیمان خان د معارف وزیر وټاکل شو، ښوونې او روزنې چارو ته زیاته پاملرنه وشوه، په ټول هېواد کې یې لومړني ښوونځي جوړ کړل، چې په دغه کې د میر صاحب زیار د یادولو وړ دی، دی په پخپله کلیو ته لاړ او ملایان به یې دې ته هڅول چې په خپلو سیمو کې د ښوونځیو جوړولو ته اجازه ورکړي.

• پر سید محمد قاسم لږ مهال وروسته د ښوونې وزارت مستشار وټاکل شو، بیا په ۱۹۲۳کال د امان افغان ښوونکی وټاکل شو، بیا وروسته شاهي دار التحریر ته تبدیل شو او د سرمنشي د کفیل په توګه یې دنده پر مخ بېوله.

کله چې په ۱۳۰۸ لمر کال د سقاو زوی اردو پیل کړ او کابل یې ونیو، نو سید محمد قاسم یې د جبل د توروتمبو شا ته واچاوه او کله چې محمد نادرخان د سقاو زوی له منځه یوور نو میر صاحب هم له جبل نه را خلاص شو.

کله چې غازي محمد نادرخان پر مخت کېناست، نو د اصلاحاتو او ترقي په نامه یې یو مجلس جوړ کړ، چې دی پخپله د دې مجلس رئیس و او میر سید محمد قاسم یې مرستیال وټاکه. میاشت وروسته دغه مجلس لغو او میر صاحب یې د معارف وزارت معین وټاکه.

په ۱۹۳۰ ل کال یې د پښتو د زده کړې لومړنی کورس د ښوونې په وزارت کې جوړ کړ، خو کله چې په ۱۳۱۲ کال د لړم پر ۱۲مه غازي محمد نادرخان د دلکشا په ماڼۍ کې د ښوونځې د یوه زده کوونکي له خوا شهید کړای شو، نو میر صاحب په دغه پېښه کې د ګګړتیا په تور اوه کاله بندي شو، کله چې ۱۳۱۹ کاله له بندیخانې څخه راخلاص شو بیا په ۱۳۲۷ کال کې د شاه محمود خان په کابینه کې د عدل وزیر وټاکل شو، خو د حکومت تر بدلېدو وروسته تقاعد شو.

سید محمد قاسم خان په افغانستان کې د مشروطیت غورځنګ له مخکښانو څخه و، په زړورتیا یې مبارزه کړې او په مبارزه کې یې د ژوند لوړ و ځوړ لیدلي او د مشروطیت د غورځنګ دغه فعال غړی د نوي کالو په عمر د ۱۴۵۷ ل کال د کب پر ۲۲مه نېټه له دغې نړۍ سترګې پټې کړې.

پر ګور یې نور.

***

عبدالملک عبدالرحیمزی

عبدالملك د عبدالرحیم خان زوی په ۱۹۱۴ل کال د لوګر په کومران کې زېږېدلی، لومړنی زده کړې یې په پوځي لوجستیك ښانګه کې په ترکیه کې ترسره کړې. عبدالرحیمزي چې په ملك خان باندې شهرت درلود، سره له دې چې له خپلو سیالانو سره یې انانیت او غرور ښود، خو یو متدین، زیات کارکوونکی او د پراخې حوصلې څښتن و، له مراجعینو سره یې ښه سلوك کاوه او غوښتنلیکونه به یې ډېر ژر تر لاسه کول. د همده په اړه سردار محمد داود خان ویلي وو: "هغه یو الماس دی او پخپله خوښ یم چې دغه الماس مې موندلی".

عبدالملك عبدالرحیمزي په ترکیه کې تر لوړو زده کړو وروسته د لږ وخت لپاره د دفاع وزارت د لوازماتو مرستیال او وروسته یې بیا رئیس شو، او په ۱۹۵۵ کال یې د محمد داود په کابینه کې د مالیې وزارت دندې پر مخ بېولې.

کله چې سردار محمد داود خپل انکشافي پلان اعلان کړ، نو عبدالرحیمزي د دغه انکشافي پروګرام د پلې کولو لپاره ملا وتړله، مالیه یې لوړه کړه او پر عایداتو یې مالیات وټاکل، هرې خوا ته یې د مالیې راټولولو لپاره هڅې پیل کړې او آن د ارګ او دربار لګښت یې هم تر حساب لاندې راوستل.

کله چې په ۱۹۵۴ داکتر عبدالروف حیدر د اقتصادي چارو له وزارت څخه استعفاء وکړه عبدالرحیمزي د دې وزارت چارې هم پر مخ بېولې، د اقتصادي مرستو د جلبولو لپا رهیې په ۱۹۵۶ل کال امریکا ته سفر وکړ، چې بریالی سفر و او ښې پایلې یې تر لاسه کړې، خو له بده مرغه د دغه بریالي سفر څخه تر راستنېدو وروسته سم لاسي په ۱۹۵۷ م کال د یوې توطیې له مخې زنداني شو.

ښاغلی سید مسعود پوهنیار د عبدالرحیمزي په اړه لیکي:

د ملك خان د حبس په باره کې له خپرو شویو اوازو څخه یوه دا هم وه چې ملك له شاهي کورنۍ څخه غوښتنه وکړه چې د شاه محمود خان شتمني چې په بهرنیو بانکونو کې ذخیره شوې بېرته دې هېواد ته راوړل شي او د اقتصادي پلان په پروژه کې دې ولګول شي، چې دغه مسئله د شاهي کورنۍ د کړاو لامل شوه

او هغه یې محبوس کړ.

زه چې کله په ۱۹۸۷ل کال لندن ته لاړم، سردار محمد عزیز نعیم مې ولید، د خبرو په لړ کې ملك خان هم یاد شو، پوښتنه مې ترې وکړه چې د هغه په اړه څه اطلاع لرې او د ملك د حبس ریښتیني مسله څه وه؟ سردار وویل: یوه ورځ ما هم له خپل تره (سردار محمد

داود) څخه پوښتنه وکړه چې د ملك خان د زندان کولو لامل څه و؟

کاکا مې په خواب کې راته وویل زه هم په دې اړه دومره نه پوهېږم خو کله چې په (۱۹۵۶-۱۹۵۷) کال کې د امریکا له سفر څخه راستون شو، یوه ورځ دې خسر (پخواني پادشاه) راته وویل چې ملك خان محبوس کړئ.

خو زیات څېړونکي دا وایي چې عبدالملك عبدالرحیمزي په روسانو بد لگېده. دی وطندوست متدین انسان و، د هېواد د چارو په اړه یې د دراننه مسوولیت احساس کاوه. د خپل وزارت په ډېر لږ وخت کې یې له غربي هېوادونو څخه ډېرې مرستې تر لاسه کړې په خانگړي ډول له امریکا څخه چې بوازې د کابل پوهنتون لپاره د یوه میلیون او شپږ سوه زره ډالرو مرسته تر لاسه کړه.

له نړیوالو سره د اقتصادي اړیکو جوړولو دغې لړۍ روسان وارخطا کړل او د جنرال عبدالملك عبدالرحیمزي لپاره یې یوه دسیسه جوړه کړه او کله چې له امریکا نه راستون شو، د کودتا په تور یې د زندان د پنجرو شا ته واچاوه.

سره له دې چې عبدالملك عبدالرحیمزي د سردار محمد داود خان ډېر نږدې ملگری و، خو بیا هم ۲۳ کاله پرله پسې په زندان کې وساتل شو.

په دغو ۲۳ کلونو کې د عبدالملك عبدالرحیمزي هېڅ پوښتنه و نه کړه، په همدغه زمانې واټن کې په ده باندې د کوم جرم نښې هم زبات نه شوې، عبدالرحیمزي له پاچا نه غوښتنه وکړه چې زما جرم ثابت کړئ او بیا مې د خلکو پر وړاندې محاکمه کړئ. حکومت هڅه وکړه چې عبدالرحیمزي بښنه وغواړي چې بیا یې له زندان څخه خوشې کړي، خو ده وویل: بښنه خو یو مجرم غواړي، زه مجرم نه یم، زما دې جرم ثابت شي او د خلکو په وړاندې مې محاکمه کړئ.

کله چې عبدالملك عبدالرحیمزي بندي شو، نو بیا د ده کورنۍ هم وځورول شوه، د ملك خان ورور عبدالرحمن عبدالرحیمزي چې د سپین غر شرکت رئیس و، شرکت یې منحل او شتمني یې ضبط کړه. بل ورور یې عبدالله عبدالرحیمزي چې په فاریاب کې د څارندویۍ قوماندان و بندي کړ.

عبدالملك عبدالرحیمزي په زندان کې د شرې جامې اغوستې او د یادښتونو په لیکلو به بوخت و، زیات وخت یې د قرآن کریم پر تلاوت تېراوه او په وروستیو وختونو کې یې ۱۸ سیپارې حفظ کړې وې.

د پخواني پاچا د دیموکراسۍ په لسیزه کې د عبدالملك عبدالرحیمزي ډېرې لیکنې په (افغان ملت) جریده کې خپرېدې.

د عبدالملك عبدالرحیمزي د کوټا په تور چې څه کسان نیول شوي وو، هغه ټول خوشې کړای شول، خو ملك خان په بند کې وساتل شو. د دیموکراسۍ په لسیزه کې د ډاکټر محمد یوسف د حکومت پر مهال د پاچا له خوا د عبدالرحیمزي د خوشې کولو فرمان صادر شو، خو عبدالرحیمزي و نه منله. له محبس څخه را و نه واته او غوښتنه یې وکړه چې جرم مې ثابت کړئ او محاکمه مې کړئ.

خو حکومت چې جرم نه شو ثابتولی او د ده غوښتنه یې نه شوه پر ځای کولی نو په زندان کې پاتې شو، کله چې په ۱۳۵۲ل کال سردار محمد داود خان د جمهوري ریاست واگې په لاس کې واخیستل، ده هم د جنرال عبدالرحیمزي د خوشې کولو فرمان صادر کړ، خو ملك خان بیا هم دا فرمان رد کړ او هغه پخوانی غوښتنه یې تکرار کړه.

د کمونستانو په وخت کې هم له زندان څخه را خوشې نه کړای شو، له اړې د بشر د حقوقو او عفوې نړیوالې ټولنې مداخله وکړه او ملك خان یې له زندان څخه را خوشې کړ.

په دې ډول د افغانستان دښمنانو وتوانېدل چې یو باشخصیته، پوه، وطندوست او پر خپل ملت مین سړی د حکومت له چارو لرې د زندان تر پنجرو هاخوا وساتي، چې وطن او خلك یې تېرې د فکر له رڼا نه استفاده و نه شي کړای.

کله چې عبدالملك عبدالرحیمزي له زندان څخه راخلاص شو، دا وخت روسانو پر افغانستان یرغل کړی و، ملك خان د مرگ تر وروستیو پورې د روسانو د یرغل پر ضد هلې ځلې وکړې.

ویل کېږي د ده له همدغو هلو ځلو نه روسان په وېره کې شول نو مسموم یې کړ او له دغې نړۍ یې سترگې پټې کړې.

یاد یې تل په گور یې نور.

***

شهید شفیق

محمد موسی شفیق د هېواد هغه ځلنده شخصیت او ملي څېره ده چې ټولنې هلې ځلې یې د یوې ملي او اسلامي ټولنې د جوړولو لپاره روانې وې او د افغانستان د پرمختیا او سمسورۍ لپاره یې مبارزه کوله.

شفیق یو هر اړخیز شخصیت و، دی استاد و، شاعر و، لیکوال و، سیاستپوه او دیپلومات و او په همدغو ډگرونو کې یې د هېواد او هېوادوالو چوپړ کړی، د استادۍ، شاعرۍ او لیکوالۍ په ډگر کې یې موږ ته داسې نښې (آثار) پرېښې چې د ده د شخصیت او لوړو هیلو څرک ترې ښه لگېدای شي.

محمد موسی شفیق د مولوي محمد ابراهیم کاموي زوی د ننگرهار د کامې اوسېدونکی دی. د شفیق پلار مولوي کاموي د وخت روڼ فکره لوی عالم و، د انگرېزانو پر خلاف یې په جهاد کې فعاله برخه واخیسته او په لوړو دولتي پوستونو یې کار کړی دی.

محمد موسی په ۱۳۰۸ل کال د غبرگولي پر پینځمه نېټه په کابل کې زېږېدلی، لومړنۍ زده کړې یې د کامې او کابل په ابتدایي ښوونځیو کې وکړې، بیا د ننگرهار په نجم المدارس کې شامل شو. وروسته د کابل عربي دارالعلوم ته لاړ، له دغه دارالعلوم څخه یې د دولسم ټولگي برلیك تر لاسه کړ او مولوي ترې فارغ شو.

رسمي دنده یې له دارالعلوم څخه تر فراغت وروسته په شاهي دارالتحریر کې پیل شوه، څه مهال وروسته بیا د لوړو زده کړو لپاره مصر ته لاړ، هلته یې له الازهر پوهنتون څخه لیسانس تر لاسه کړ، همدلته یې په عربي چارو کې ماسترۍ تر لاسه کړه، د زده کړې لړۍ یې پسې وغځوله امریکا ته لاړ هلته یې په کولمبیا پوهنتون کې د مقایسوي حقوقو په څانگه کې د ماسترۍ برلیك تر لاسه کړ.

شفیق په "اوسني لیکوال" کې د خان په اړه وایي: زما پلار د هغه اوږده او حساس ماموریت له کبله چې د افغانستان په اوسني او پخواني دور کې یې سرته رسولی د افغانستان په تاریخ کې د یوه معین دور

نماینده ګي کوي زه په خپل خان کې د هغوی د مثبتو او ګټورو نظریاتو تاثر ګورم. له هغه نه وروسته په اجتماعي ژوند کې د خینو پښتنو نومیالیو ادیبانو زما په تربیه کې برخه اخیستې او په دارالعلوم کې د مولانا غلام نبي کاموي اغېز زما پر فکر باندې د خانګړې یادونې وړ دی.

په مصر کې مې له ښاغلي داوي نه ډېره مستقیمه علمي استفاده کړې او د قاهرې ثقافتي محیط له رسمي تحصیل پرته زما د فکر پر وسعت زیات تاثیر وکړ. د امریکې سفر او استوګنې د غربي ژوند له طرز سره اشنا کړم او بالاخره د دې مختلفو موثراتو د تفاعل په نتیجه کې له ما سره هم یو شمېر ثابت نظریات د ژوندانه په باب پیدا شول چې زه ورته خپله لار وایم او ډېر دوستان لرم چې موافقه وسره نه لري. زما فعالیت د حقوقو او قوانینو په ساحه کې دی. وظیفه مې د عدلیې وزارت د قوانینو لوی مدیر اداره او د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د خاصو بین المللي او مقایسوي حقوقو تدریس دی. جرایدو او مجلو ته هم مقالې لیکم. پخوا مې هم کله ناکله شعر وایه اوس هم د شعر شیطان راباندې کله ناکله پېښه کوي."

د شفیق نړۍ لید چې څومره پراخ دی، همدومره یې "خپله لار" د ژور ملي احساس له مخې اواره ده او که په دغه لار زموږ اوسني واکمن سفر وکړي، نو ډېر ژر به خپلو موخو ته چې ورسېږي.

شفیق چې تر زده کړو وروسته له امریکا نه راستون شو، د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې یې د خانګړو بین المللي او مقایسوي حقوقو ښوونه کوله او دغې دندې ته یې د نورو دندو تر څنګه تر ډېره وخته دوام ورکړ او کله چې د بهرنیو چارو وزیر شو، نو بیا یې هم په پوهنتون کې د تدریس لړۍ پرې نه کړه او په ۱۳۴۴ل کال یې د پوهنتون لپاره تدریسي کتاب ولیکه. په عدل وزارت کې یې هېواد ته چوپړ وکړ، په ۱۳۳۸ ل کال د ادبیاتو پوهنځي د ورمې مجلې کتونکی غړی، په ۱۳۴۱ ل کال د حقوقو پوهنځي خپرونې "حقوق" کتونکی غړی او د عدل وزارت د قوانینو لوی مدیر و.

په ۱۹۶۴م کال د ډاکټر عبدالظاهر په کابینه کې د بهرنیو چارو د وزیر مشاور وټاکل شو. تر دې مخکې په مصر کې سفیر و. په ۱۹۶۵ل کال په نومبر کې د میوندوال په کابینه کې د بهرنیو چارو وزیر وټاکل شو. شفیق ګام پر ګام په دولتي چارو کې مخ پر وړاندې لاړ. په دې ډول د کار په ساحه کې له هر څه سره ښه بلد و. څکه نو په خپلو چارو کې ډېر بریالی و.

شفیق د دیموکراسۍ د اساسي قانون په جوړولو کې فعاله برخه واخیسته، دېرې ورته د اساسي قانون د پلار لقب ورکړی.

په ۱۳۵۱ل کال شفیق د صدراعظم په توګه وټاکل شو او د کابینې په جوړولو یې لاس پورې کړ او له ولسي جرګې یې په دوو ورځو کې د باور رایه واخیسته. خو پخواني صدراعظمانو به دغه کار ایله په لسو دوولسو ورځو کې کولی شو.

اروابناد صباح الدین کشککي د شفیق په اړه لیکي: "پادشاه ګفت که در طول چهل سال سلطنتش او در جستجوی شخصیتی بود تا بحیث صدراعظم ایفای وظیفه نماید و صرف حالا او متیقن است که شخص واقعاً مناسبی را برای این عهده دریافته است.

شفیق یو داسې لومړنی وزیر و چې سلطنتي کورنۍ ته یې اجازه نه ورکوله په دولتي چارو کې لاسوهنه وکړي او په دې برخه کې یې غوڅ دریځ درلود.

شفیق یو زیات کار کوونکی شخصیت و، تر ناخته به یې کار کاوه. خپله ټولنه یې په ملي احساس سمباله غوښته. دی زړور سړی و او خپلې ټولې چارې یې په زړورتیا سره پر مخ بیولې. شفیق د چنګاښ په ۲۶مه کودتا کې دوه نیم کاله د جېل ترخه وګالل. جنرال رحمت الله ساپی په خپل کتاب "افغانستان څنګه تباه شو؟" په ۲۸ او ۲۹ مخ کې د شفیق د زړورتیا په اړه لیکي: "د شپې جګړن عبدالوکیل ساپی راغی او زموږ د ټولو د مسلك او رتبو علایم یې د سینو او اوږو نه ټول کړل او موږ یې په کتار کې د صدارت عظمی ماڼۍ ته راوستو، یو تعداد ملکري چې په بل ځای کې ټول وو هغوی یې هم راوستل او ټول یې د صدارت د ماڼۍ په پورتني منزل کې په کوټو تقسیم کړو. په اول منزل کې عسکري قطعه یانې محافظین وو، وزیر دفاع خان محمد د کاغذ او د قلم درخواست وکړ چې محمد داود خان ته تسلیمي ورکړي او د همکارۍ او خدمت لپاره خپل چمتوالی وښیي. شفیق چې سر په روجایي کې پېچلی او پروت و په ډېر عصبانیت راپورته شو او وې ویل چې وزیر صاحب تر اوسه لا ستا د سر قوماندان احوال معلوم نه دی حالات ټول مجهول دي، معلومه نه ده چې څه کېږي او ته خو باید په هېڅ صورت تسلیمي ور نه کړې...

...په اتلمه شپه موږ دولس پاته کسان یې د قلعه کرنیل په حویلیو کې دوه دوه کسان تقسیم کړو او موږ څلور کسان شفیق، جنرال عبدالولي خان، جنرال کتوازی او زه یې د قلعه جدید په نامه کوټه کې تقسیم کړو، زموږ د دوازې قفل یو او د شفیق دوه وو (دې عمل ته د کابل د سرچوك په اصطلاح پوك ګري او اصلي وایي) هدف د روحي فشار تولید و، زما فکر شفیق ته خراب و. ما فکر کاوه چې هغه یو ملکي دی، شاید د تکلیفونو تحمل و نه لري خو په پای کې زموږ د ټولو نه تکړه وخوت. د ده د دروازې په ټك ټك څوك پوه نه شول او د شپږو میاشتو نه وروسته د قران مجید د نولسو پارو قاري شو."

وایي چې له بنده تر راخلاصېدو وروسته به جمهور رئیس محمد داود خان وخت پر وخت ورسره لیدل او د خپلو پروګرامونو په اړه به یې مشورې ورسره کولې.

شفیق د غوايي د اوومې نېټې کودتاکوونکیو سملاسي ونیو او د ثور د ۲۴/۲۳ نېټه په شپه یې په شهادت ورساوه. ښاغلی صباح الدین کشککي په دې اړه لیکي: "شفیق از جمله نخستین اشخاصی بود که به تعقیب کودتای اپریل ۱۹۷۸ توقیف شد او را با سایر محبوسین عالیرتبه سابقه در زیر زمینی عمارت وزارت دفاع ملي تقریبا یکهفته محبوس کرده بودند در حوالی ساعت ۱۰ شب ۲۴/۲۳ همین ماه او را با یکتعداد دیګر محبوسین از عمارت بیرون بردند. خلیل الله که بعداً در رژیم کارمل به رتبه جنرال ارتقا یافت و مقام معاون وزارت دفاع را احراز کرد در هنګامیکه مانند سایر اعضای برجسته فراکسیون پرچم از طرف خلقی ها محبوس بود نزد محبوسین اعتراف کرده بود که او شفیق را در میدان هوایی کابل با تفنګچه هلاك ساخت. ګلوله را در سر او فیر و از ته بدنش خارج کردم."

یاد یې تل اروا یې خوشاله

ښاغلی شهرت ننګیال د شهید شفیق په اړه لیکي: د مرحوم محمد موسی شفیق د زده کړې، مبارزې، ماموریت او خدمت بشپړه دی د هېواد د ریښتیني خدمتګار، مبارز لیکوال، خوږژبي شاعر، سترګور ادیب، منلي سیاسیوه، پیاوړي قانونپوه، نوښتګر او وتلي ډیپلومات په توګه راپېژني. ده خپل علمي سفر هېواد او خلکو ته د سترو خدمتونو او لوړ مرام په لرلو پیل او د وروستي منزل په تکل یې تر لرې لرې غځولی دی.

***

محمد داود خان

محمد داود خان د افغانستان له هغو مېړنیو څخه دی چې د نامه په یادون یې د سړي ذهن ته د ملي غرور هغه څېره لاړ مومي چې د کامرانۍ په لاړ کې یې ککړې وخوړه. شهید محمد داود خان پر هېواد او ملت یو مین شخصیت و، د هېواد د ملي یووالي لپاره یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې. که په ښه غور سره خپل تاریخ مطالعه کړو، نو د شهید محمد داود کرکټر به په بشپړه توګه وپېژندلای شو. چې ده د هېواد پرمختیا او د خپل ولس د سوکالۍ لپاره څومره کارونه کړي او څومره هیلې یې لرلې.

محمد داود د سردار محمد عزیز خان زوی په کابل کې د ۱۲۸۷ل کال د چنګاښ پر میاشت زېږېدلی. لومړنی زده کړې یې د کابل په حبیبیې لېسه کې سرته رسولې او پر ۱۳۰۰ ل کال د نورو زده کړو لپاره فرانسې ته لاړ، چې له سقاوي اړو دوړ نه د نجات تر وخته هملته پر زده کړو بوخت و. د شهید محمدنادر خان د حکومت پر وخت د څه مهال لپاره د بهرنیو چارو په وزارت کې پر چارو بوخت شو. پر ۱۳۱۰ ل کال په "پیاده تعلیمګاه" کې شامل شو او پر بریالیتوب یې دغه دوره پای ته ورسوله.

شهید محمد داود خان په لوی ننګرهار کې د دویم

فرقه مشر په رتبه د قوماندانۍ دنده تر سره کړې او څه مهال یې د همدغې سیمې د اعلی حاکم او عسکري قوماندان دنده هم تر سره کړې ده. پر ۱۳۱۴ ل کال یې د فرقه مشرۍ په لومړۍ رتبه د کندهار او فراه نائب الحکومه او عسکري قوماندان دنده تر سره کړې. همدغه مهال یې په کندهار مطبعه کې د علامه عبدالحی حبیبي په زیار د لوی پښتون خوشال بابا "ملغرې" چاپ کړې.

محمد داود خان د ۱۳۱۷ ل کال د لیندۍ پر شلمه د لوی ننګرهار د تنظیمیه رئیس او عمومي قوماندان په توګه وټاکل شو، بیا یې ورپسې د مرکزي قول اردو د حربیه ښوونځي او مرکزي قواوو او حربي ښوونځیو قوماندانۍ دندې هم تر سره کړې او پر ۱۳۲۵ ل کال د دفاع وزیر (حربیه وزیر) په توګه په دنده وګومارل شو. په ۱۹۴۹ او ۱۹۵۰ م کالونو کې یې د کورنیو چارو وزارت چارې پر مخ بیولې.

پر ۱۳۲۶ ل کال یې په بون، پاریس او بروکسل کې د افغانستان د استازي او سفیر په توګه هم دنده ترسره کړې، چې یو کال وروسته بېرته د دفاع د وزیر په توګه وټاکل شو.

محمد داود خان پر ۱۳۳۲ ل کال د صدراعظم په توګه د کابینې د جوړولو لپاره وټاکل شو او لس کاله یې دغې دندې ته د غوره او ښو کارونو په تر سره کولو دوام ورکړ، چې د خپلو کارونو د ښه پرمختګ لپاره یې پینځه کلن پلان ترتیب کړ او په همدغو پینځه کلنو پلانونو کې یې د هېواد آبادۍ، پرمختیا او سمسورتیا لپاره چټک ګامونه واخیستل. ښوونځي، روغتونونه، سړکونه، فابریکې، هوایي ډګرونه، پلونه، بندونه، ویالې، زرعتي او نور بېلا بېل پرمختیایي او انکشافي کارونه په همدغه دوره کې تر سره شول، چې د افغانستان د آبادۍ او سمسورتیا یوه چټکه پیلامه ورته وبلل شو. محمد داود خان د ۱۳۴۱ ل کال په کب کې د صدارت له دندې استعفا وکړه او د ۱۳۵۲ ل کال د چنګاښ تر میاشتې پر کور وزګار کېناست.

محمد داود د ۱۳۵۲ ل کال د چنګاښ پر ۲۶مه د هېواد د تاریخ پاڼه واړوله او جمهوري نظام یې اعلان کړ. چې همدغه وخت یې پر جمهوري ریاست سربېره د صدراعظم، د ملي دفاع وزیر او د بهرنیو چارو وزیر دندې هم پر مخ بیولې.

په اوسني افغانستان کې چې پرمختیایي او عمراني کارونه تر سره شوي دا ټول د شهید سردار محمد داود خان په لارښوونه او هڅو تر سره شوي دي. په تېره بیا په جمهوري نظام کې د افغانستان د آبادۍ، پرمختیا او د افغانانو د سوکالۍ لپاره ډېر ستر او چټک ګامونه واخیستل شول. ښوونه او روزنه، اقتصاد، تجارت او انکشافي پروژو ته ډېره ستره پاملرنه وشوه، له بهرنیو هېوادونو سره سوداګرۍ او د آبادۍ دوه ارخیز تړونونه لاسلیک شول. د لویې جرګې او د یو انتخابي جمهوري نظام د جوړولو لپاره ګام پورته شو.

د افغانستان د ابادۍ، پرمختیا او د افغانانو د سوکالۍ لپاره یې بهرنیو هېوادونو ته سفرونه پیل کړل. له بېلابېلو هېوادونو سره یې د سوداګرۍ، اقتصاد او فرهنګي اړیکو تړونونه لاسلیک کړل. چې په دغه سفر کې روسیې ته هم لاړ. صمد غوث په "The Fall of Afghanistan" [د افغانستان سقوط] نومي کتاب کې د مسکو د سفر په اړه لیکلي:

"برژنیف وویل: په افغانستان کې په دوه اړخیزه کارونو، د ملګرو ملتونو په نورو ګڼ شمېر اړخیزو پروژو کې د ناټو د غړیو هېوادونو د کارپوهانو شمېر ډېر زیات شوی. په تېر وخت کې به افغانستان لږ تر لږه دومره کول چې په شمالي سیمو کې به یې د ناټو د غړیو هېوادونو کارپوهان نه بلل، خو اوس دې لور ته پاملرنه نه کوي. شوروي اتحاد دا کار ښه نه ګڼي، افغانستان باید د شوروي اتحاد له کارپوهانو پرته نور څوک هلته پرنږدي او..."

د برېژنیف د دغو خبرو په اوریدو د محمد داود خان تندې تریو شو، له قهر په ډک غږ یې وویل: "موږ به هېڅکله تاسې ته اجازه درنه کړو چې موږ ته حکم راکړئ، چې خپل هېواد څنګه وساتو او څوک په افغانستان کې استخدام کړو، دا چې د افغانستان لپاره رابلل شوي بهرني کارپوهان موږ څه ډول او چېرته ساتو دا زموږ حق دی. که موږ په دې تګلاره وروسته هم پاتې شو پروا نه کوي، خو په خپلو پرېکړو کې بل چا ته د لاسوهنو حق نه ورکوو. له دې وینا نه پس محمد داود یو دم پاسېد. ورسره ټول افغانان هم پاڅېدل..."

د محمد داود خان د دغو خبرو په اوریدو پر روسي واکمن لړزه راغله او سملاسي یې ښښنه ترې وغوښته.

محمد داود خان د هېواد په پرمختیا کې چټک ګامونه پورته کړل، غوره پلانونه یې جوړ کړل، خو له بده مرغه د غویي په کرغېړني کودتا سره پر هېواد او ولس دغه مین سرتېرې خپله ککړې وخوړه او له همدغې ورځې وروسته پر افغان ولس توره شپه راغله.

محمد داود خان د ۱۳۵۷ ل کال د غویي پر اوومه شهید کړای شو. له ده نه وغوښتل شول چې تسلیم شي، خو ده په لوړ غږ ورته وویل: محمد داود د داسې موږ شیدې نه دي رودلې چې د تسلیمۍ سر چا ته ټیټ کړي. او له دې خبرې سره یې په مقابل لوري د خپلې ورسره وسلې ججوره تشه کړه.

پر ګور یې نور.

"داود خان د کې جي بي په لومو کې" د محمد داود خان په اړه په ۵ او ۸ مخ کې داسې لیکلي: د هېڅ شي معتاد نه و، کار پسې ستړی، په رسمیاتو کې ښې لحاظه، په اداره کې قاطعه او پاك و، بې سر-سرداران یې لاړې نه راوستل. د عسکرۍ او مکلفیت د دورې تابع یې کړه.

په دې کتاب کې د داود خان وړاندې راغي: "امریکایانو دی داسې تشخیص کړی دی: "داود فرد شدید ملي گراست که در جستجو کمك از هر کجا که در دسترسش باشد خواهد رفت او ادعا میکند که یك غیر متعهد و بیطرف است. ولي تصمیم او در مدرنیزه کردن افغانستان در زمان که او نخست وزیر بود به اتکا شدید به شوروی برای کمك کردن منتهی شد،

دلایل رو آوردن ناګهانی به شوروی، کمکهای نظامی امریکا به پاکستان و حمایت اندك امریکا از افغانستان ذکر کرد" (اسناد لانه جاسوسی ۱۴ مخ، ۲ ټوك).

د محمد داود خان په اړه زما دغه یادښت د هیلي مجلې په پرله پسې شلمه ګڼه کې خپور شوی، له لږ زیاتونې د محمد داود خان دشهادت د څلورویشتم تلین په مناسبت دلته بیا خپور کړ.

زه او ته چې هم احوال د زړونو سره نه وايو

له ترکیې څخه ممتاز د مینې او خلوص له سلامونو وروسته لیکي:

زه د هیواده د باندې په ترکیه کې په زده کړه مشغول یم. زه هم غواړم چې د کوربت لوړې مجلې ته خپل مضمونونه د چاپ د پاره ولیږم. هیله لرم چې په دې کښې مرسته وکړئ.

ښاغلی ممتاز،

سلامونه او نیکې هیلې مو ومنه. هیله ده چې همداسې په هیواد او خلکو مین ځلنك بسه د راتلونکي افغانستان په سمسورۍ او سرلوړۍ کې فعاله برخه واخلئ. د کوربت چې څه له وسه کېږي له ځوانانو به یې و نه سپموي. ستاسې د روغتیا او همکارۍ په هیله.

***

له چارسدې څخه سرحد رایټرز ایسوسی ایشن (ټولنه) د یوه اوږده لیك په ترڅ کې په اردو ژبه له کوربته د مالي مرستې غوښتنه کړې او په یوه برخه کې لیکي:

هم بھر پور یقین سے ہی باور ہیں کے آپ اس ادبی کام میں ہمارے ھاتھوں میں ھاتھ دینگے اورھم کو کافی تعداد میں اپنی طرف سے ادبی عطیه ارسال فرمائینگے...

د سرحد رایټرز ایسوسی ایشن چلوونکي!

سلام مو ومنئ، موږ د خپلې تګلار او امکاناتو له مخې نه شو کولای چې ستاسې هیلې پر ځای کړو، هیله ده زموږ بښنه ومنئ. بریالي اوسئ.

**

له کابل څخه محمد اعظم اصغري تر سلامونو وروسته کاږي:

خو زه یوه نیوکه لرم هغه دا چې زما نوم محمد اعظم اصغري دی، په یوه ځای کې په صحیح قسم باندې لیکل شوی اما په نورو ځایونو کې په بل قسم باندې یعنې محمد علم اصغري اما زما اصلي نوم محمد اعظم اصغري دی.

ښاغلی اصغري صاحب، پېرزوینې او سلامونه مو ومنه. نیوکه دې په لیسو، خو دا به ډېره ښه وې چې که د لیکلو پر وخت خپل نوم او پته په ځرګندو توریو ولیکئ چې لوستل کېږي. اکثر مینه وال همداسې کوي چې لیك په بیړه لیکي بیا په تېره خپل نوم او پتې ته چې ورسېږي نو لا وارخطا شي او هسې کرښې راوکاږي چې د لوستو پر وخت زیات کړاو غواړي.

***

له کوټې څخه ښاغلی صدیق الله مبین له خوږو احساساتو او په مینه کې نغښتیو سلامونو وروسته لیکي:

د استاد شپون صاحب مرکه هم ښه وه، خو د شپون صاحب یو څو خبرو موږ حیران کړو. څکه چې شپون صاحب اوس د یو مشر حیثیت لري هم د ځېرې، هم د عمر او هم د خپلې پوهې او تجربې په خاطر. خو د شپون صاحب څینو خبرو موږ په دې حیران کړو چې هغه بالکل د یو نوي ځوان د نفس او ذهن سره اړه درلوده. خدای پاك دې شپون صاحب ته اوږد عمر ورکړي. امین

ګرانه مبین صاحبه!

سلامونه مو ومنه. له مینې او نظر څرګندولو دې ډېره منښه. که د ښاغلي استاد شپون صاحب د مرکې هغه ټکي دې هم په ګوته کړي وای، ښه به وه. خو موږ باید په دې باور ولرو چې د فکر او اند ازادي د هیواد په پرمختیا او د خلکو د شعور په لوړوالي کې غوښ رول لري.

***

د کوټې له پښتون اباد څخه ښاغلی محمد ابراهیم سپېڅلی تر سلامونو وروسته لیکي:

باور وکړئ! دومره ښه مضامین خصوصاً د شپون صاحب مرکه په کې جلا خوند کاوه...

***

له مصر نه ښاغلی امان الله غروال تر سلامونو وروسته لیکي:

کله به چې کوربت لاس ته راغلو نو د شپې ورځې به ورسره ناست وم، خبرې به مې ورسره کولې. کله به مې چې د زړه تنده ورباندې ماته شوه، نو بیا به مې نورو خلکو ته ښودلو. څکه چې داسې په زړه پورې مضامین یې لرل چې یو به مې ولوست او چې بل به مې و نه لوست بیا به مې هم زړه نه صبرېده. خو محترموا زه اوس ډېر لېرې شوی یم نه شم کولی چې د کوربت په ښکلو ځیله تنده ماته کړم او زړه ګورته ډېر ناکراره دی چې کوربت به اوس بیا د وطن بچیانو ته څه پیغام لري، که تاسې زما او د کوربت تر منځ د دیدن زمینه مساعده کړئ ډېر به خوښ شم

ښاغلی امان الله غروال صاحب، موږ به د خپلو امکاناتو هېنداره کې هڅه وکړو چې د خپلو مینه والو تنده په هر ځای کې ماته کړو.

***

همدا ډول د جنوبي پښتونخوا د کوټې پوهنتون څخه د پښتو لیکچرر ښاغلي علي کمیل قزلباس، له اسلام اباد څخه قاري عنایت الله، د چارسدې له چینې نه ښاغلی سیف الله خان، د اسلامیاتو پوهنځي او لغت عربي د دریم کال محصل ښاغلي عبدالحکیم اول، د سند له جیکب اباد څخه د سیف الدین افغان لیکونه او له کراچۍ څخه د ښاغلي ننګیال له نامعلوم ځای څخه د ښاغلي خاځي او یو شمېر نورو برېښنالیکونه هم را رسېدلي چې ټولو ته له ښو هیلو سره سلامونه وایو.

له پخو خښتو او ګچ څخه د مال به له حرامو ومومي، که په هوا یې له خامو خښتو ابنوده، په دیني کارونو کې به یې همت لوړ شي

که خوب ووینی چې د دېوال بنسټ یې له پخو خښتو څخه و، د دنیا په کاروبار به مغرور شي که وداني یې له خامو خښتو جوړه کړه له ټولو خلکو به ګټه تر لاسه کړي. حضرت صادق وایي چې که خوب یې ولید چې کلا یې جوړوله له دښمن څخه به په امن شي.

که خوب ووینی چې لوړه ماڼۍ یې جوړوله د دنیا په کارولو به بوخت شي، که سرای یې جوړ کړ او په کې کیناست نفقه به یې ډېره شي او د جوماتونو جوړول په بنه او ګټور کار د خلکو راټولول دي، که منار یې جوړاوه مانه یې په خیرات او خیرات کې د نوم ګټل دي، که باغ یې کېښود تعبیر یې پاك لمنی او پرهیزګاره ښځه ده.

که د قبر کیندل یې پیل کړل د اخرت په چارو به بوخت شي، که ګومبزه یې جوړوله قدرت او لوړوالی به پیدا کړي، د بادولو ورځ ده چې که وداني یې پوره جوړه کړه د دنیا او اخرت کارونه به یې سرته ورسېږي او که وداني نیمګړې ترې پاتې شوه، نو کارونه به یې نیمګړي ترې پاتي شي

بیزو:

بیزو په خوب کې لیدل فریبناکه او لعنتي دښمني ده، که په بیزو سپور رام او رام او طابع یې وه، پر دښمن به غالب شي او که د بیزو سره یې جګړه وکړه او پرې غالب شو، ناروغ به شي او له هغې ناروغۍ څخه به روغ نه شي یا به داسې معیوب شي چې تر اخره به هغسې وي. کرماني وایي که بیزوګی یې مړه کړه دښمن ته به په قهر شي، که غوښه یې ورخوړله په عیب یا ناروغۍ به اخته شي.

که چا خوب ولید چې څوك ده ته بیزو ورکړي نو له کوم چا سره به یې دښمني جوته او ښکاره کړي.

جابر وایي که بیزو یې مړه کړه نو ناروغ او بېرته به روغ شي، که بیزو یې پر اس سپره ولیده یهودي به یې له ښځې سره بد مجامعت وکړي او بیزګی په خوب لیدل مفسده اوجادوګره ښځه ده، که کور ته یې ورغله کوډې به پرې وشي او که خبرې یې ورسره وکړې نو ښځه به یې خبرې ورسره اورېدې او ژبه به ورسره وکړي. که بیزګی خوله ورباندې ولګوله یا به ناروغ شي یا به یې له اولادونو څخه بدې خبرې واوري که ویې لیدل چې بیزو څه شی ورکړل یا یې څه وخوړل مال به یې په خپله کورنۍ ووېشي.

بیرغ:

په خوب کې بیرغ لیدل د هوښیار، امام، زاهد، قدرتمن او سخي سړي په مانا دی. که چا خوب ولید چې بیرغ یې درلود له پورتنیو خلکو څخه به ګټه تر لاسه کړي. که خوب ووینی چې بیرغ یې ولوېده او ضایع شو تعبیر یې هم خلاف د دې دی، کرماني وایي بیرغ په خوب لیدل سفر دی، که چا بیرغ ورکړ، لوړوالی او مرتبه به ومومي په خانګړې ډول که بیرغ سپین یا شین وو، جابر وایي که خوب ووینی چې لوی او سپین بیرغ یې درلود، له باقدرته سړي سره به لیده کاته وکړي او ګټه به ترې تر لاسه کړي، که تور بیرغ یې په خوب ولید، نو مانا یې دا ده چې قاضي یا خطیب به شي، حضرت صادق وایي چې بیرغ لیدل په څلور ډوله تعبیر لري. لومړی مشرتوب، دویم سفر، دریم لوړوالی او لویوالی، څلورم د حال ښه والی

بیهوښي:

که څوك په خوب کې خان داسې بې هوښه ووینی چې عقل ترې پردې شي، یو کار به تر سره کړي چې په هغه کې به اریان او سرګردان شي، خو د کار پای به یې ښه وي. حضرت صادق په خوب کې بیهوښي پر دوه ډوله تعبیر کړې، لومړی د کار سخت والی، دویم حیرانتیا، سرګرداني او بیچاره ګي

بادرنګ:

ابن سیرین وایي چې په خوب کې بادرنګ په خپل وخت د ښو خبرو اورېدل دي یا به ښځه مینه ورسره پیدا کړي او که بادرنګ یې وخوړل له هغه څخه به یې مراد پوره شي. کرماني وایي چې بادرنګ خوړل په کار پښېماني او په خپل وخت یې خوړل د غم او خپګان مانا لري همدارنګه یې خوړل د ناروغۍ په تعبیر دي، حضرت صادق په خوب کې بادرنګ په درې ډوله تعبیر کړی، لومړی په کار پښېماني، دویم خوشالي، دریم له دوستانو څخه ګټه په تېره چې په خپل وخت وي

پرستن:

په خوب کې د پرستن لیدل د ښځې په مانا ده، که خوب یې ولید چې نوې پرستن یې وپېرله، نو واده به وکړي. که پرستن یې خیرنه وه مانا یې زېږوره ښځه ده.

جابر مغربي وایي که خوب یې ولید چې شته پرستنه یې لرله. نو له دینداري ښځې سره به کوژده وکړي او که سپینه وه نو ښځه به مالداره وي. که پرستن سره وه ښځه به یې سندرې ویونکې او ګډا خوښوونکې وي. که توره وه ښځه به یې عالمه او پوهه وي، که ژېړه وه ښځه به یې مریضغارې وي، که رنګارنګ وه، ښځه به یې فریبکاره وي. حضرت صادق وایي په خوب کې پرستن لیدل درې ډوله تعبیر لري، لومړی عالمه او پوهه ښځه، دویم خوانه ونځه او دریم لوړوالی او عزت.

افغان

افغان، افغانان وژني له بوې مخې لېوان شول
دا ټول د یو بل ویني تویېولو ته حیران شول
بابا چې و ننګ کړی په افغان غلیم حیران و
افغان نن خاوره خرڅه کړې بیدار دښمنان شول
افغان چې خپل وطن ورانوي دا څنګه افغان شو
چې وژني افغانان د لرې څه مسلمانانه شول؟
د هر بې قامه لاس چې د افغان ګرېوان ته اوږد شو
نو هره خوا ته مو د کونډې یتیمان ټول په ګریان شول
د خــــالد په ننګیالي قام څه تېرېږي څه توپان شو
هرې خوا ته افغانان مري د نقیب خیالات پرېشان شول

نقیب‌الله خاخي، خاخي

یو یادښت او یوه هیله!

ګوربت د ځوانانو او نوي نسل د ملي احساس راویښولو او تخنولو لپاره خپل وزرونه غوړوي، له ځوانانو هیله لري چې د هېواد په آبادۍ او سمسورۍ کې بشپړه برخه واخلي، ګوربت د نوي ځوان افغان نسل په خدمت کې دی.

ګوربت د هغو مقالو، لیکنو او مرکو له خپرولو ښښنه غواړي چې د افغانانو پیاوړي ملي یووالي ته په کې د درغ پیدا کولو هڅه او اشاره شوې وي.

سالم انتقاد چې په ښه نیت شوي وي- خلك د رغاونې لار ته رابولي، خو که ښه انتقاد وي او په بد نیت شوي وي، د دې پر ځای چې ښه اغېز وکړي ستونزې ته لا غوټه اچوي.

ګوربت د نوي افغان نسل د روزلو لپاره وزرونه غوړوي او د داسې لیکنو له خپرونو څخه ښښنه غواړي چې د نوي نسل ملي احساس زیانمنوي.

ژباړن: وردګ

خوبپوهنه

په خوب کې د بسترې تعبیر د ښځې په مانا دی، ښه والی او بدوالی یې هم تر ښځې پورې اړه لري، که بستره یې راونیوله یا یې بدله کړه یا له یوې بسترې څخه بلې ته لاړ، نوې واده به وکړي او لومړۍ ښځه به طلاقه کړي. که د بسترې ډول یا رنګ یې بدل شوی وي، د ښځې کړو وړو د بدلیدلو مانا لري، که بستره یې ویلوزله یا یې تولة کړه ښځه به یې تری ورکه شي، یا به یې طلاقه کړي او یا هم کېدای شي یو له دوی څخه ومري. که په خوب کې ځان په ناځرګنده بستره کې وویني نو تعبیر یې د بسترې د بیې په اندازه د تاوان امکان دی او که خپله بستره یې پر نامعلوم تخت غوړولې او پرې ناست و لوړوالی او مرتبه به پیدا کړي.

جابر مغربي وایي چې په خوب کې بستره قدرت او اسودګي ده. او که خپله بستره یې د بیاندې وغوړخوله او بېرته یې راوړه مانا یې د ښځې رجعي (ګرځېدونکي) طلاق دی. که په دریو یا څلورو بسترو کې یې ځان ولیده د هغو مره ښځو هیله به لري او یا هم دا چې وینځې به راونیسي. که یې خپله بستره په کاله یا ژور ځای کې ولیده چې د را ایستلو توان یې نه درلود، ښځه به یې ناروغه شي او خدای به یې بېرته ښه کړي. که په هواره نرمه بستره کې یې ځان ویده ولیده، نو تعبیر دا دی چې هغه کال به د ده لپاره ګټور او بختور وي.

که بستره یې له پشم څخه وه که ولیده ښځه به یې توانمنده وي. که بستره یې شکېدلې یا سوځېدلې ولیده د مرګ د نږدې والي مانا لري او همدارنګه د زامنو د بې دینۍ په تعبیر هم ده.

که خوب یې ولید چې ورښمینه بستره یې د څښتنا په بستره بدله کړه بدکاره ښځه به پرهېزدې او د ښځې غوښتونکی به شي. که موږک یې بستره سورۍ کړې وه، څوک به یې له ښو کړو وړو څخه په بدو ته واوړي ته واوړي او بد کاره به یې کړي.

که خپله بستره یې په هوا غوړنده ولیدله، بستره به یې په لوړ ځای هواره او ښه دنده به ومومي. که بستره یې له هوا څخه ځمکې ته راپرېوته ښځه به یې ناروغه شي خو بېرته به یې څښتن تعالی جوړه کړي.

دانیال وایي د شنې بسترې مانا د ښځې د بیدارۍ ده. که سره وي تعبیر یې د ښځې بداخلاقي ده. او که زړه بستره یې نوې شوه، ښځه به یې بداخلاقي پرېږدي او نیک اخلاقه به شي.

که بستره یې زړه شوه ښځه به یې بداخلاقه شي، که شنه بستره یې سره شوه، ښځه به یې د ښو پر ځای بد غوره کړي که سره بستره یې شنه شوه مانا یې هم سرچپه ده.

که سره بستره یې سپینه یا ژړه شوه ښځه به یې له ګناهونو توبه وباسي او مرګونې به ناروغه شي که په نوې بستره کې پروت او بالښتونه ایښي وو واده به وکړي.

له بسترې سره بالښتونه د غلامانو په تعبیر دي، که بستره یې په نامعلوم ځای کې ولیده ځمکه به وپېري و به یې کړي، یا به په میراث ځمکه تر لاسه کړي.

که ځان یې په بستره پروتی ولیده، راحت او اسانی به ووینې، که بستره یې په هوا وه او پرې پروت و، د مېرمن په مرسته به د لوړوالي مرتبې ته ورسي، که په بستره کې یې اور ولګېده او وسوځېده ښځه به یې مړه شي یا به یې طلاقه کړي.

په خوب کې بستره په څلور تعبیره ده: لومړی ښځه، دویم مینځه، درېیم قدرت، څلورم ژوند، ګټه او د ځان ارامي.

ښه:

ښه په خوب کې د ښمنۍ د تر لاسه کولو په تعبیر ده، د هغه ښمن په اندازه په ځانګړې توګه چې په خپل کور یا ملکیت کې یې ووینې که وینې لیدل چې د هرې ښې یې په په کوڅه یا کور کې راټولې شوي چیغې او اوازونه یې کول تعبیر یې په هغه ځای کې غم او خپګان دی.

که خوب یې ولید چې ښو خبرې ورسره وکړې یو د یوې قدرتمنې ښځې په واسطه به سفر وکړي، مال، ګټه او عزت به ومومي.

کرماني وایي چې ښه په خوب کې له خپلې کورنۍ څخه لوی مالدار او د غلامانو څښتن سړی دی که وینې لیدل چې د ښې له بدن څخه یې څه تر لاسه کړل د پورتني سړي په خبر به د هغه نه مال تر لاسه کړي.

حضرت صادق وایي چې سپینه ښه شته یا یا قدرتنه ښځه ده او توره د وینځې په مانا ده او که مړه یې کړه غوښه یې وخوړه د ښځې میراث به تر لاسه کړي.

ښست:

که چا په خوب ولیدل چې د ودانۍ ښست یې اېښود، نو تعبیر دا دی چې له عامو او خاصو څخه به د ښست په اندازه ګټه تر لاسه کړي. که ښست یې په معلوم ځای کې اېښود مانا یې به د نیایي چارو او اخروي کارونو کې سستوالی دی که په خپله ځمکه کې یې اېښود نو د حلال مال څښتن به شي، که ښست یې

د الهیاتو...

سرچينه ده، هېڅکله ستا فزيکي فلسفي د دې وس نه دی موندلی، چې يو حقيقت کشف کړي او په فلسفه کې يې ګډوډ او بې مفهومه مطلبونه داخل کړي دي، چې کله مطالب د کلمو له قالب نه راوباسو د مسخرې وړ يو شی به وي. ماته ووايه کله چې د يو بې شعوره څواك په باب چې په ټول طبيعت کې خپور شوی لـه تاسو سره خبرې کوي ايا ستا په روح کې يې کوم حقيقت روښانه کړي دي.

کولای شي مبهم مطالب د عمومي څواك يا لازم حرکت په کلمو کې تاسوته ووايي خو په حقيقت کې يو کلی شی يې نه دی ويلی.

د حرکت موضوع له يو ځای نه بل ځای ته د يو جسم لـه ليرېدولو پرتـه بـل شی نـه دی، البته هېڅ يـو حرکت لـه تـګ لارې يـا اوړدوالـي يـا غزېدو پرتـه وجود نـه لري، ځکه يـو بې روحه جسم نـه شي کـولای پـه ټولو لارو کې حرکت وکړي.

په کومه لار او په کوم حس سره ماده کولای شي حرکت وکړي؟ ايـا ټولې بې روحه مـادې په يوه بڼه حرکت کوي او هر اتوم به په خپـل ځان پورې ځانګړی يو حرکت ولري.

د لومړي تصور له مخې بشپړ جهان بايد د يوې نامرئي يا نه ليدونکي ډيرې "تودې" پـه بڼه جوړ شي، خو د دويم نظر له مخې لازم نـه دی لـه يو سيال او خپـور شوي عنصر څخه زيات وي، هغـه هم پـه هغـه صورت کې ده چې د ټـل لپـاره سره يو ځای شي.

په دې اصل سره د مـادې دغـه ګډ حرکت بـه کومې خواته وي، ايا ښي لوري تـه دی يـا پورته يا ښکته خواته دی.

که چېرې د مادې هر ماليکول ځانګړی تګ لاره لري، پـه دغـو جلا جلا جهتونو کې د هغـو علتونه بايد دتغيير يا بدلون وړ وي:

که چېرې د مـادې هـر اتـوم اويـا مـاليکول يوازې په خپـل مرکز کې څرخيدلی، هېڅکلـه څه شی له هغې څخه نه وتل او اړيکيز يا رابطه يي حرکت يې نه رامنځ ته کاوه او بيا ايا دا دوراني حرکت بايد يوه خواته وي.

که چېرې مـادې تـه د جاذبې لـه املـه حرکت ورکړو په دې مثال دی چې بې مفهومه کلمې مو ويلي دي او بـايد هغې تـه يـو ځـانګړی حرکـت ورکړو او په لنډه توګه بـايد يـو سبب فـرض کړو چې هغه مشخص کړي.

هرڅومره چې زه اختصاصي څواکونـه زيـات کړم بايد په مقابل کې يې نوي سببونه جوړ کړم، بې له دې چې وکولای شم د هغـه د حرکت لپـاره يو عامل تر لاسه کړم. سربېره پردې چې نـه شم کـولای د عنـاصرو د فعـاليت لپـاره يـو قـانون ترلاسه کړم ان د دغـو لاملونو تر منځ مبارزه هم زما لپـاره بې مفهومـه ده، د جـهان ډګر دومـره پراخه دی چې د هېچا لپاره د درك وړ نه دی.

پوهېږم چې د جهان ميکانيزم نـه شي کولای د انسان د استعداد لپاره د درك وړ وي خو کله چې انسان غـواړي هغـه تفسير کـړي بـايد څه ووايي چې خلك يې واوري.

که چېرې ماده حرکت کوي يوه اراده موږ ته راپه ګوتـه کوي، مـاده د ځينو قوانينو لـه مخې موږ ته هوش او احساس راپېژني، دا دويم قانون زمـا ايمـان دی. عمـل کـول، مقايسـه کـول، انتخابول يـو عملونـه يـو فکـور يـا فکر لرونکی موجود دی بيا نو دا موجود هسې لري ايا د هغه وجود په کوم ځای کې حس کوي، ايا کولای شي دا څواب راکړي؟

خير وايـي پـه اسمانونو کې څرخېږي پـه ستورو کې چې موږ ته رڼا راکوي خو نه په خپله ستاسو په وجود کې بلکې په يوه ميږو کې چې څرکوي، پـه الوتونکی کې چې الوزي، پـه يـوه ډبروکې چې راپرابږي، په هغې پاڼه کې چې باد يې وړي.

زه د دنيا د قانون او نظم له مخې سره لـه دې چې له هغو څخه څه نـه درك کـوم، د هغـوی پـای وينم. ځکه د دغه نظم د پوهېدو لپاره د هغو تر مينځ د هغو برخې يـو تـر بلـه مقايسـه کـوم، د هغوی فعاليت او د هر يوه اړيکې چې وپېژنم نـه پوهېږم د څه لپاره جهان موجود دی، خو پوهېږم په څه ډول يې بڼه بدله کړي او خبر يم چې کوم اړيکي جهان له يو بل سره يوځای کوي."

دغـه فيلسـوف پـه دې تـوګه د حقيقـت د پېژندلو په خاطر خپله لار تعقيبوي، پـه پـای کې د ډېرو ژورو دلايلو پـه استناد د خـدای(ج) پـه موجوديت قنـاعت کـوي او پـه ډېره منطقـي او روښانـه توګه دا ثباتوي چې دا جهان يـو داسـې صـانع لـري چې ټول شکونه پـه فلسـفي ژورو نظريـاتو سره لـه نظر نـه وباسـي، د دغـې لارې موندل په خپله د انسان پـه وجود کـې شتـه نـو څکه ځينې مفکرين او خـدای پېژندونکي وايـي چې خدای مې په خپل وجود کې وموند.

میخي لیکدود او ...

خاورينو ډبرو کې تن هم کېږي. د چورتالان په ورځو کې دا ډبرې کنستلي شوې هم وه. چې د سرو زرو ډېر مېرونـه، کـالي او زيورات او لـوښي تـرې ترلاسه شوي وو. خو په قول د سليم بنګش د ټولو نه لوی او نايابه څيز په کې يوه خرمن وه. چې پـه کې دوه عکسونه چې يو د سړي او بـل د ښځې و. جوړ شوي وو او ميخي ليك پرې ليك و. قيمت يې ورنـه لس زره ډالـره غوښت. کـه څه هم خرڅ شوی و بيا واپس شو خو بيا يې څه درك ونه لګېد، چې چېرته ورسېد.

خبره يوازې د شهزادګۍ د ممیايي کولـو نـه ده. ددې صندوق چې په کوم برج کې پروت و هغه ټول برج مميايي کړی شوی و، بله دا چې دا بـه هم کتـل وي چې په زړه پښتو کې د ممي فی کيشـن (MIMIFICATION) يانې د ممي کولـو لپـاره څه لفظ او نوم شته او که نه؟ او ايا دغه نوم اوس هم کـارولی شي او کـه نـه د سنسکريت هير کـړی شوی دی. دا وخت مـوږ پـه شـهزادګۍ پـورې نـه نښلو. دا مـهال زمـوږ غرض لـه هغـه ميخـي ليـك سره دی، چې د شهزادګۍ په جثـه ليك دی. دغـه لا عالمانو ته اړتيا لري او موږ ورته هم په تمه يـو چې څه ترې جوړېږي. خو دومره خو اوس هم وايو چې د شهزادګۍ نوم رودابه يو پـاك پښتـو لفظ او نـوم دی، چې اوس هم په پښتنو کې دود دی.

يه پښتنو! هرڅه درسره وو، شتمن وئ، په کور پوره وئ، يوازې د کوټك مېړنی نه وئ. د خلاند او بهاند قلم څښتنان وئ هنرونه زېږوونکي وئ. هرڅه درنه نورو هېوادونو ته تللي يا خپله لاړ شئ يا موږ ولېږئ چې د يورپ، امريکې او جرمنې نه پرته د چيـن، جاپـان، تبت، کوريـا، نيپـال، سـری لنکـا، برمـا، ويتنام، عراق، مصر او ايران د خـاورو نـه درله ستاسو هغه خپل ورك شوي مال بېرتـه راوړو. پوره څلورزريزې د لوړ سره د قلم خـاوندان پـاتې شوي يئ خو لکه کومې بې غورې چې د يو پنځه سوه کالو راسې يې په مخه کړي يئ نـو کـهدی شي چې جمـال الديـن افغـاني مـو هـم د لاسـه سـره د "افغاني" وترووړلي شي.

منه او ګور ودانی

یاد به دې زه کړم بناد به دې خدای کا

PROPERTY OF ACKU

* زموږ د ستړې غمیزې عمر څلوریشتم کال ته واوښت، چې دا څلور ویشت کاله د ورانی لړی روانه ده. خو له نیکه مرغه د ملي درد او احساس خاوندان لاس تر زنې نه دي ناست، متې یې را بډ وهلي دي، وخت پر وخت یې د هیواد په ابادی او سمسوری کې برخه اخیستې، د فرهنګ او کلتور په غوړیدا کې یې خولې تویې کړي، چې تاریخ به یې تل په یاد لري.

د پښتني کلتور د ودې او پراختیا ټولنې مشر ښاغلی محمد اصف وردګ د همدغسې ملي درد خاوند دی چې د خپلې ټولنې له خوا یې لسو زیات کتابونه په خپل شخصي لګښت چاپ کړي، له نورو فرهنګي ټولنو سره یې مالي مرسته کړې.

ښاغلي محمد اصف وردګ له ګوربت فرهنګي ټولنې سره وخت پر وخت مرسته کړې، په بحراني وختونو کې یې لاس ورکړی، د روان کال په ثور کې یې له ګوربت فرهنګي ټولنې سره شل زره روپۍ مالي مرسته وکړه چې منه یې پر ځان پور بولو.

* وفا خیریه ټولنې د افغانستان په بیاودانی کې تر خپلې وسې پوره برخه اخیستې، کابل پوهنتون ته یې د برېښنا سهولتونه برابر کړي، د وردګ د چک برېښناکوټ په بیا جوړولو کې یې غوره کار کړی او په دې ډول یې د نورو خیریه کارونو لړی پسې غځیدلې ده.

وفا خیریې ټولنې ګوربت فرهنګي ټولنه هم له یاده نه ده ایستلې او د روان کال د ثور په وروستی لسیزه کې یې له ګوربت سره شل زره روپۍ مالي مرسته وکړه. په دې ډول د وفا خیریې ټولنې د هیواد د ابادی او سمسور تر څنګ د فرهنګ په غوړیدا کې هم بشپړه برخه واخیسته؛ د وفا خیریې ټولنې له خوا په کابل کې د "ذهني روغتیا" او "محیط" په نامه دوه مجلې هم چاپیږي.

= په همدې ډول د دغو ښاغلیو ګډون ونډه ګوربت ته رسیدلې دي:

* له اغلې نجیبې رویا وردګ څخه ډېره منه کوو چې له امریکا نه یې ۵۰ امریکایي ډالر ګوربت ته د ګډون ونډې لپاره رالیږلي.

* له ښاغلي انجنیر غلام رسول کوهستاني څخه ډېره منه کوو چې ۱۰۰ الماني مارکه یې ګوربت ته د ګډون ونډې لپاره لیږلي دي.

* له ښاغلي ډګروال احمد شریف ویښ څخه یوه نړۍ منه کوو چې له هالینډه یې ۱۰۰ ګیلډنه د ګوربت ګډون ونډه لیږلې ده.

* له ښاغلي ډاکټر اسد قرشي څخه هم یوه نړۍ منه کوو چې ۱۰۰ هالینډي ګیلډنه یې ګوربت ته د ګډون ونډه لیږلې ده.

له ښاغلي نقیب الله ځاځي څخه یوه نړۍ منه کوو چې له ګوربت سره یې ۱۵۰۰ روپۍ مالي مرسته کړې.

***

The Gorbat
Bimonthly
Cultural Organization

ګوربت

د ګوربت فرهنګي ټولنې دوه میاشتنۍ خپرونه

Vol.2, Issu# 3 & 4 Serial # 9-10, 2001 Febreuray-May

زه یو دم د ستا له غمه بې غم نه یم
بې غم ستا له ذکره فکره یو دم نه یم
هر زیارت لره چې ځمه مراد مې ته یې
زه زائر د بتخانې د حرم نه یم
ستا د در په تورو خاورو باندې خوښ یم
بې تا خوښ په تماشا د ارم نه یم
چې د ستا په تماشا یم خبر شوی
نور خبر په تماشا د عالم نه یم
بې د ستا له زیبا مخه و بل مخ ته
منتظر د یوې سترګې تر سپم نه یم
که د ستا د ښکلي مخ عاشقان ډېر دي
زه په واړو کې اول یم دویم نه یم
که له غمه دې و نه مرم هاله وایه
چې یا دیو یم یا دواب یم آدم نه یم
زړه مې ستا په غمزه غوځ دی غزا وشوه
که په لاسو په پښو روغ یمه ګرم نه یم
سم قامت لکه الف یم په راستی کې
لکه غشی زه فساد لره سم نه یم
خم د زلفو یم محراب د کږو وروځو
زه د مار و د لړم په څیر خم نه یم
کم و بیش که مې له لاسه واقع کیږي
یم سړی شکم لرم بې شکم نه یم
زه رحمان د بېلتانه له غمه ژاړم
واقعه ده ډېره ګرانه هیڅ ګرم نه یم

عبدالرحمن بابا رح

ګوربت دوه میاشتنۍ خپرونه
عکاسي : اداره
انځورګر : ص. صالح
کمپیوټر : افغان کمپوزنګ سنټر
ټایپ : نجیب الله وصال.
ډیزاین : اداره.
پسټنګ : جلال ګرافېکس
د پښتۍ اوډن : الحفیظ سکېن پراسس

د پښتۍ لومړی مخ:

* د جلوزو کېمپ یوه دردوونکې صحنه چې مظلوم انسانان په اورنۍ ګرمۍ کې کبابېږي.
* په بامیان کې د بودا نارینه (لوی انځور) او ښځینه (کوچنی انځور) مجسمې چې د افغانستان د لرغونې فرهنګ یوه نښه وه.
* د همدغو دوه مجسمو د له منځه وړلو هڅې او حالتونه.
* علامه سید جمال الدین، میر سید محمد قاسم، عبدالملک عبدالرحیمزی، شهید محمد موسی شفیق، شهید محمد داود خان

د پښتۍ څلورم مخ

دپښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې د خپرو شویو کتابونو امېل:

١ـ د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه: (پښتو او دري) پوهنوال روستار تره کی، پښتو ژباړن محمد اسمعیل یون.
٢ـ بنو یا زموږ افغاني سرحد: اېس، اېس تاربرن، پښتو ژباړن، الحاج شېر محمد کریمي.
٣ـ د وړمو بهیر: (د پښتو ښځینه لیکوالو تذکره) مېرمن آرین یون.
۴ـ پښتانه: پوهاند ډاکټر حبیب الله تږی.
۵ـ هوسۍ: (منظومه) عبدالفور لېوال.
۶ـ په افغانستان کې د ښځو د ښوونې او روزنې تاریخي بهیر، محققه ساهره شریف.
٧ـ د پښتو ژبې د ودې اړتیا او لارې چارې: (د پښتنو پوهانو او لیکوالو د لیکنو ټولګه).
٨ـ د لرغونۍ شاعرۍ ګړنې: محمد آصف صمیم.
٩ـ د زړونو او دماغونو ماینونه: عبدالجلیل وجدي.
١٠ـ ملي زاویه: حبیب الله رفیع.
١١ـ د افغانستان پېښلیک: (له افغانستان څخه د وروستي روسي عسکر له وتلو د ډاکټر نجیب الله تر اعدامېدلو پورې د افغانستان کرونولوژي)، حاجي ولي محمد
١٢ـ وصیتنامه: (خپل زوی اشرف خان ته د خوشال بابا وصیت)
١٣ـ ملي ستم، ملیت او خراسان: ډاکټر رحمت ربي زیرکیار.

دغه کتابونه پر پښتۍ له لیکل شویو پتو تر لاسه کولای شئ.

د پښتنې فرهنګ د ودې او پراختيا ټولنې
دغه اثار خپاره کړي
پته:
M. Asef. Wardag
Bendhütter Str 3
41066 Monchengladbach
Germany
Tel: 021 61 650 650
Flat # 226
Gul Haji Plaza
Arbab Road
Peshawar Pakistan
Tel: 841749
د ورمو بهير
هوسۍ
د لرغونې شاعرۍ کړۍ
پښتنانه
وصيتنامه
د افغانستان پېښليک